# افغانستان، ناپیلتوب

# او ستر ځواکونه




دکتور محمد امین واکمن

# افغانستان، ناپیلتوب

# او

# ستر ځواکونه

PROPERTY OF ACKU
12209

لیکوال:

محمد امین واکمن

ژباړن:

سرمحقق نصرالله سوبمن منګل

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00012209 2

# د کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم : افغانستان، ناپېيلتوب او ستر څواکونه
لیکوال: : محمد امین واکمن
ژباړن : سرمحقق نصرالله سوبمن منګل
چاپشمېر : ۱۰۰۰ ټوکه
کمپوزر : ذبیح الله "شفق"
دچاپ نېټه : ۱۳۸۲ل/۲۰۰۳م
بیه : (۱۵۰) افغانۍ یا (۱۵) ډالره

چاپ او کمپوزر ځای

دانش کتابتون، قصه خوانی بازار، پېښور
Tel/Fax:2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com


ACKU

بسم الله الرحمن الرحيم

ACKU

دا کتاب خپل پلار او مور ته، چې
ماته يې د صداقت، صميميت او
هېواد ته د خدمت درس راکړی،
اهدا کوم.

PROPERTY OF ARIC

# فهرست


| ګڼه | سرليك | مخګڼه |
| --- | --- | --- |
| ۱ | د مترجم سریزه | ۱ |
| ۲ | سریزه | ۳ |


## لومړی فصل


| ګڼه | سرليك | مخګڼه |
| --- | --- | --- |
| ۳ | د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ | ۱۲ |
| ۴ | تاریخي سابقه | ۱۵ |
| ۵ | داخلي چاپېریال د ناپېیلتوب افغاني عنعنه | ۳۰ |
| ۶ | د افغاني بهرنۍ پالیسۍ هدفونه | ۴۰ |
| ۷ | د ملي خپلواکۍ غوښتل | ۴۳ |
| ۸ | د نوي بېلانس هڅونه | ۴۴ |
| ۹ | بېطرفه کړنلاره | ۴۸ |
| ۱۰ | مېشته بې طرفي | ۵۲ |


## دويم فصل


| ګڼه | سرليك | مخګڼه |
| --- | --- | --- |
| ۱۱ | د افغانستان بهرنی سیاست او د ناپېیلتوب دغورځنګ | ۵۷ |
| ۱۲ | د ناپېیلتوب تدریجي وده | ۵۹ |
| ۱۳ | د بې طرفۍ اوناپېیلتوب مفهوم | ۶۱ |
| ۱۴ | د ناپېیلتوب دتعریف په لور | ۶۵ |
| ۱۵ | د کولمبو غونډه | ۷۲ |
| ۱۶ | د بوګور کنفرانس | ۷۳ |
| ۱۷ | د باندونګ کنفرانس | ۷۶ |
| ۱۸ | د پاکستان نظامي تړونه | ۸۳ |


ACKU

## دریم فصل


۱۹. افغانستان او ستر ځواکونه ---------- ۹۵
۲۰. افغان شوروي اړیکې ---------- ۹۹
۲۱. له افغانستان سره اقتصادي ---------- ۱۰۴
۲۲. پوځي مرستې ---------- ۱۱۰
۲۳. افغان امریکا اړیکې ---------- ۱۱۲
۲۴. د امریکا اقتصادي مرسته ---------- ۱۲۳
۲۵. د افغانستان غبرګون ---------- ۱۲۶


## څلورم فصل


۲۶. په ناپېیلیو کنفرانسونو کې د افغانستان نقش ---------- ۱۳۴
۲۷. د ناپېیلتوب کنفرانس په قاهره کې ---------- ۱۴۱
۲۸. په الجزیره کې د ناپېیلیو هېوادو کنفرانس ---------- ۱۵۹
۲۹. په کولمبو کې د ناپېیلیو هېوادو کنفرانس ---------- ۱۶۹


## پېنځم فصل


۳۰. دافغانستان بهرنۍ پالیسي ---------- ۱۸۰
۳۱. د ۱۹۷۸د اپریل د میاشتې کودتا ---------- ۱۸۷
۳۲. د خارجي پالیسۍ ماهیت ---------- ۱۹۷
۳۳. د شوروي په لور کوږوالی ---------- ۱۹۹
۳۴. د هاوانا دمشرانو په غونډه کې ---------- ۲۱۰
۳۵. د امین د رژیم ظهور ---------- ۲۱۶
۳۶. د شوروي مداخله ---------- ۲۲۲


## شپږم فصل


۳۷. د افغانستان او روسیې ترمنځ تړون ---------- ۲۵۱

# د مترجم سریزه

ددې اثـر څخـه وړانـدې مـې د محـترم ورور، لیکـوال او سیاسـتپوه دکتـور محمـد امیـن واکمـن د "افغانسـتان د څلـور لارې پـر سـر" اثـر وژبـاړه او څه وخت وړانـدې چـاپ او خپـور شـو. دا دی د بناغلي واکمـن دا دویـم اثـر "افغانسـتان، نـاپېلتـوب او سـتر ځواکونـه" مې هـم د فرهنګي غنـا او د ځوان نسـل د علمـي سـطحې د توسعې لپـاره ژباړلی او هیلـه مـن یم، چې د کتـاب د لیکوال او د مترجم دواړو فرهنګپـال دیـن بـه پکې الله پـاك مجـرا کـړي. دا هـېواد او دګټویـاړلي باعظمتـه هـېواد بچیـان د څه باندې دوو لسـیزو د تباه کـن جنګ پـه نتیجـه کې د پوهې څخـه بـې برخې دي او دا پـه هـر یـوه بـا احساسـه او تعلیـم لرونکـي شـخص فـرض ده، چې د تـالیف او ترجمـې لـه لارې د ګران افغانسـتان، دا د زاړه بېسـاري تـاریخ او تمـدن لرونکـي ملـك پـه فرهنګي بډاینه کې ونـډه واخلي.

تر هغـه ځایـه، چې مـا د ژبـاړې پـه تـرڅ کې د واکمـن صـاحب دا دوه اثرونـه ارزیـابي کـړل، نـو واقعـاً چې زیـات زحمـت یې

ایستلی او د ګڼ شمېر منابعو په لوستلو سره يې د ګټورو اثارو په توګه په انګريزي ژبه تاليف کړی دی.

ځرنګه، چې دا دوه کتابونه د محترم استاد يون صاحب له خوا ماته د ژباړې لپاره حواله شول، نو زه دده زيات احسانمن يم، چې د داسې ګټورو کتابونو د ژباړې فرصت يې راته ميسر کړ. زما ډېر غټه آرزو دا ده، چې د هېواد عالي فرهنګ ته د ځېړنې، تاليف او ترجمې له لارې خپل قلمي پور ادا کړی شم.

هغو کسانو، چې زما د مخکنۍ ژباړې په کمپوز، چاپ او اشاعت کې ونډه اخيستې. د لايزال خدای څخه ورته د داسې فرهنګي خدمتونو له امله دنيوي او اخروي اجر غواړم.

**سرمحقق نصرالله سوبمن منګل**
د افغانستان د علومو اکاډمۍ
د بشري علومو مرستيال

# سریزه

د نـاپښیلتـوب غورځنـګ (ن. غ) د دریمـې نـړۍ د هېوادونـو د بهرنـۍ پالیسـۍ د یـوې پراخـه منل شـوې برخـې پـه تـوګه ډګر تـه راوتلـی دی. څه دپاسـه سـل هېوادونـه د نـاپښیلتـوب غورځنـګ اصولـو تـه وفـاداره دي. ددې غورځنـګ پرلـه پسـې بریـاوې دا ثـابتوي، چې لـه هغـې څخـه پـه ګټې اخیسـتلو سـره د پرمختیـایي هېوادونـو پـه بقـا، سیاسـي او اقتصـادي پیاوړتیـا کـې پـه یـود داسـې مـهال پرمختـګ راغلـی، چې هـر سـترځواک (زبـر طـاقت) هڅه کوي لـه بـل زبـرځواک (Super Power) سـره پـه دغـو هېوادونـو کې د خپل نفوذ د سـاحې د پراخولـو پـه برخـه کـې لـه یـو بـل سـره سیالي وکـړي.

افغانسـتان پـه کلکـه تـوګه د نـاپښلتـوب د اصـل آزموینـه ترسـره کـړې ده. د نـاپښیلتـوب د اصولـو سـره پـه همـاهنګ ډول مـخ پـه وړاندې تللی او هغـه نورمونـه یکې پـه پـام کـې نیـول شـوي، چې د

(ن. غ) بنسټ جوړوي. حتی د ناپېیلتوب غورځنګ تر جوړېدو دمخه په ۱۹۵۰ مو کلونو کې د سترو طاقتونو (زبرځواکونو) د سیالۍ په منځ کې ناپېیلی قوت شمېرل شوی دی.

افغانستان د دویمې نړیوالې جګړې څخه مخکې او وروسته د زبرځواکونو د سیالۍ یو ډګر ګرځېدلی دی. د جګړې څخه دمخه یانې د اتلسمې پېړۍ څخه د دویمې نړیوالې جګړې تر پیل پورې دا سیالي د انګرېزانو او روسانو ترمنځ وه. خو تر جګړې وروسته دا سیالي د شوروي اتحاد او د امریکا د متحده ایالتونو ترمنځ کېدله. سره ددې هم افغانستان په نسبي توګه د ساحې د وړوکوالي، سخت کلتوري محافظه کارۍ او د ملت پالنې د پخې روحیې سره سره تل د خپل ناپېیلتوب حالت ساتلی دی. د ناپېیلتوب اصولو ته وفاداري د افغانستان ولس خپلواکۍ د ساتنې او د خاورې تمامیت له پاره ګټور تمام شول او کولی شي. خپل ملي پروګرامونه پرته له دې، چې ملي ګټې یې تر پښو لاندې شي، پرمخ بوزي.

د ناپېیلتوب اصولو ته د یوه کلك وفادار ملت په توګه د افغانستان د مثال څېړنه له دې امله په زړه پورې ده چې د زبرځواکو د یرغل د خطرونو سره سره بیا هم د یوه ډېر لږ پرمختللي ملك په څېر په دې لار کې کلك ګامونه اخلي. دا څېړنه دا پوهه هم جوتوي، چې د افغانستان په شان یو کوچنی هېواد چې په وچه چاپېر او لږې طبیعي منابع لري، څنګه کولی شي په بري سره خپل ناپېیلتوب وساتي

افغانستان په تېره زمانه کې کله چې د روسيې او انګرېزانو کلکه سيالي روانه وه، خپلې مثبتې بېطرفۍ ته يې دوام ورکړی و. په اتلسمه پېړۍ کې يانې هغه مهال چې د ملي روغوالي په لور يې پرمختګ درلود، برتانويانو په هند کې امپرياليستي پاليسي چلوله او روسيې هڅه کوله، چې منځنۍ آسيا تر نظامي نفوذ لاندې راولي.

دا پرمختياوې (د افغانستان مثبته بېطرفي. مترجم) له دې امله ګټورې وې، چې د هغه زماني دوو لوی طاقتونو (روسيه او بريتانيا. مترجم) له يو بل سره د مخامخ کېدو او ټکر څخه وژغوري او افغانستان د هغو ترمنځ د يوه حايل په توګه دا دواړه سيال قوتونه سره جلا کړي. دغو دواړو سيالو قواوو په آسيا کې د خپلو امپراتوريو د پياوړتيا او پراختيا لپاره له يو بل سره ډغرې وهلې. انګرېزانو د خپل شمال لويديځ سرحد د دفاع په منظور په افغانستان فشار راوړی و او د همدې مقصد لپاره يې درې ځله په افغانستان جګړه وتپله. ترڅو په دې توګه افغانستان تر نفوذ لاندې راولي.

روسيې هم هڅه کوله، چې افغانستان د خپل نفوذ په ساحه کې وساتي. خو افغانستان د انګرېز او رسويې د دې سيالۍ په لاړ کې خپله کلکه بېطرفي وساتله او د خپلې خاورې د تماميت د ساتنې په منظور يې له دې سيالۍ څخه ډېره ګټه اوچته کړه.

د شلمې پېړۍ په پيل سره روسيې او بريتيانا دواړو د افغانستان بېطرفانه دريځ تايد کړ او د لومړۍ نړيوالې جګړې

وروســـته دوارو هـــېوادو او يـــا دوارو ســـترو طـــاقتونو پـــه افغانســتان كــې د نــه مداخلــې ډاډ وركــړ. كــابل د خپلــې مثبتــې بېطرفانــه پاليســى پــه چلولــو كــې ډيــر زيــات كلـك هـوډ كـړى و، ان پـه دويمـه نړيوالـه جګړه كـې يـې هـم دا كلـك او جـدي بيطرفانـه موقـف وسـاته.

د دويمې نړيوالې جـګړې پـه نتيجـه سـوړ جنـګ رامنـځ تـه شـو او د سـيالى اړيكــو او بــڼې چــې پخــوا د بريتيانيـــا او شـــوروي ترمنـــځ وې، خپـــل ځاى د امريكـــا متحـــدو ايـــالتونو او شـــوروي سـيالى تـه پـرېښود. د سـترو قوتونـو (زبرځواكونـو) ترمنـځ سـيالي اوس د زبرځواكونـو د سـيالى بـه نامـه پـېژنـدل شـوې ده. د آسـيا او افريقـا نـوي خپلـواك شـويو هـېوادو چـې غوښتـل يـې خپلـه كلكـه خپلواكـي وسـاتي، دېتـه مـايل شـول، چـې د زبـر ځواكونـو تـر سـيوري لانـدې پـه پـوځي بلاكونـو ورګډ شـي.

افغانســتان، چــې پــه تــېر وخــت كــې يــې د بېطرفــى سياســت ســاتلى و، پــه افريقــا او آســيا كــې ددغــو نويــو خپلــواك شــويو هېوادونــو ســره د همكــارى پــه تــرڅ كــې يــې د نـــاپېليتـــوب غورځنـګ پيـاوړى كـړ. د (ن. غ)ـ بنسـټ د ١٩٤٧ كـال پـه مـارچ كـې هغــه وخـت پـه ډيلـي كـې كـېښودل شـو، چـې د آسـيا يـې هــېوادو د اړيكــو پــه اړونــد لومړنــى كنفرانــس جــوړ شــوى و. افغانســـتان پـــه دې غونــډه كـــې فعالـــه ونـــډه واخيســـتله او ددې غورځنـګ د پياوړتيـا لپـاره يـې د ژور ملاتـړ ژمنـه وكـړه.

افغانســتان پــه ١٩٥٥ كــال كــې د بــاندونګ د غونـډې پــه جــوړېدو كــې د هنـد، اندونيزيـا. مصـر او يوګوسـلاويا سـره پـه

همکاري کې کليدي نقش ترسره کړی دی. همدا شان يې د نورو ناپيليو هېوادونو تر اړخ په ۱۹۶۱ کال کې په بلګراد (يوګوسلاويا) کې د ناپيليو هېوادونو د مشرانو د کنفرانس په تدوير کې پوره ونډه اخيستې ده. د بلګراد کنفرانس د مشرانو غونډې د (ن. غ) د پخو بنستونو د اېښودلو لاره هواره کړه. افغانستان نه يوازې په کلک ډول د ناپيليتوب سياست ورانډې بيولی، بلکې د هغه د پياوړتيا پوره ملاتړ يې کړی دی. افغانستان د (ن. غ) د مشرانو په وروستي غونډو يعنې د قاهرې (۱۹۶۴)، لوساکا (۱۹۷۰)، الجزيرې (۱۹۷۳) او کولمبو (۱۹۷۶) په غونډو او کنفرانسونو کې يې فعالانه ګډون کړی دی. په دغو کنفرانسونو فعاله برخه واخيسته او د ناپيليتوب د اصولو پوره تعقيب د افغانستان د بهرنۍ پاليسۍ اصلي مقصد ګڼل کېږي.

په ۱۹۷۸ کې د افغانستان دننه سياسي حالت يو توپاني بدلون راوست. د داود حکومت د يوې کودتا په ترڅ کې د خلقيانو له خوا رنګ شو. د نور محمد تره کي په مشرۍ رژيم د شوروي اتحاد او نورو ختيځو اروپايي هېوادونو سره په ډېر نږدې والي حرکت پيل کړ. د افغانستان ناپيلي پاليسۍ د کلک ناپيليتوب له لارې څخه د شوروي اتحاد د پلوي توب په خوا واوښتله. ددې ترځنګ په ۱۹۷۸ کال کې د کابل د حکومت له خوا د شوروي اتحاد سره د دوستۍ يو داسې تړون لاسليک کړی شو، چې د هغې په اساس د افغانستان ناپيلي دريځ ويجاړتيا وموندله. د ۱۹۷۹ کال د دسمبر وروسته څه

دپاسه سل زره شوروي پوځیان په افغانستان کې ځای په ځای شول. دا ټولې پرمختیاوې ددې سبب شوې، چې د افغانستان د ناپیيلي سیاست څیره مسخه کړي.

د افغانستان په باب له بیلابیلو خواوو ځخه څېړنې شوې دي. د (ن.غ) سره د افغانستان د مرستې په اړوند په زیات عمق سره ارزښمندې څېړنې موجودې دي. افغانستان یو زوړ ناپیلی هېواد او دا اړتیا احساس شوه، چې د هغې د بهرني سیاست او د (ن غ) سره د هغې د مرستې په باب پوره تمرکز وشي. په دې اوسنۍ څېړنه کې د (ن.ع) سره د افغانستان د مرستې په بیانولو کې پوره بېطرفانه تحلیل یوازینی مقصد ګڼل کېږي.

په دې کتاب کې شپږ فصلونه شامل دي. په لومړي فصل کې د افغانستان د بهرني سیاست د غوره تاکونکیو عناصرو په باب شرحه راځي. دا فصل د افغاني بهرني سیاست سابقه بیانوي او دا شرحه کوي، چې افغانستان د دوو سترو طاقتونو په منځ کې یانې بریتانیا او روسیې د سیالۍ په زمانه کې خپل ناپیيلی دریځ خوندي وساته او دا هم پکې راغلي، چې په دې دوران کې کورنیو او بهرنیو عناصرو په څه ډول اغېزمه کړئ چې اساساً بېطرفانه پاتې شوې ده.

په دویم فصل کې په ۱۹۵۰ مو کلونو کې د ناپیيلتوب د غورځنګ ځرګندېدل او د هغې په پاینت کې د افغانستان نقش بیانېږي. د ساړه جنګ په دوران کې د افغانستان لپاره د (ن.غ) موجودیت یوه بنه منل شوې لاره وګڼل شوه، ځکه چې په

تېر وخت کې يې په عنعنوي توګه دا لاره تعقيب کړې وه. د افغانستان لپاره دا طبيعي برېښېده، چې د دغه غورځنګ په کلکه ملاتړ وکړي او د هغه داعيه وړاندې کولو په ننګه ودرېږي. په دې فصل کې د نوي ډيلي، بوګور (Bogor)، کولمبو او باندونګ په کنفرانسونو کې د افغانستان په اړوند تفصيلات موجود دي. همدا شان په دې فصل کې د دې غورځنګ په لور د افغانستان پاليسي تحليل شوې ده.

په دريم فصل کې د افغانستان اړيکې د سترځواکونو سره شرحه کېږي. په دې اړوند د دويمې نړيوالې جګړې څخه مخکې او وروسته د روسيې او بريتانيا په سيالۍ باندې تمرکز شوی دی. شوروي اتحاد او د امريکا متحده ايالتونه په افغانستان کې په فعالانه سيالۍ بوخت دي. د زبرځواکونو د سيالۍ سره سره افغانستان په کلکه توګه خپل ناپېيلتوب ساتلی او د دواړو قوتونو سره يې دوستانه او صميمانه اړيکې ساتلي دي.

د افغانستان له خوا بېطرفانه سياست چلول او د ناپېيليو هېوادو د مشرانو په غونډو کې د هغه فعال ګډون په څلورم فصل کې بيانېږي.

د افغانستان له خوا بېطرفانه سياست چلول او د ناپېيليو هېوادو د مشرانو په غونډو کې د هغه فعال ګډون په څلورم فصل کې بيانېږي. د (ن.غ) تخم چې په ۱۹۴۷ کې د آسيايي اړيکيو په کنفرانس کې کرل شوی و. په ۱۹۴۱ کال کې په بلګراد کې د ناپېيليو هېوادونو د مشرانو په غونډه کې ثمر

اخیستلو او مېبوې ورکولو ته ورسېږد. په دې فصل کې د ناپېیلیو هېوادونو د مشرانو په پنځګونو غونډو یانې د بلګراد څخه د کولمبو تر غونډې پورې د افغانستان فعاله ونډه اخیستنه شرحه شوې ده.

په پېنځم فصل کې د ۱۹۷۸ کال د ثور تر کودتا پورې پرمختیاوې او د افغانستان په بهرنۍ پالیسۍ کې بدلونونه بیان شوي دي. په دې فصل کې د شوروي د بلاك په لور د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ میلان، بدلون او دوام شرحه کېږي او فصل پای د ۱۹۷۹ کال د هاوانا او د ۱۹۸۳ کال د مارچ غونډو یانې په هاوانا او ډیلي کې د ناپېیلیو هېوادنو د مشرانو غونډو ته وقف شوی او په هغو کې د افغانستان نقش ته پاملرنه اړول شوې ده. همدا شان په دې فصل کې د افغانستان په بهرنۍ پالیسۍ کې تدریجي بدلون په تېره بیا د شوروي اتحاد له خوا د هغه د اشغال وروسته چې پکې د افغانستان بېطرفانه موقف کمزوری شو، بیان شوی دی او دا زیاته شوې، چې دا وخت شوروي اتحاد د افغانستان بهرنۍ سیاست رهبري کاوه. همدا شان دا ذکر شوي، چې د افغانستان ناپېیلی موقف څنګه وځپل شو.

په دې څېړنه کې کارول شوي آثار زیاتره تاریخي او تحلیلي دي. زیاتره تاکید په بېطرفانه او د ورکړل شوې ډیټا (معلومات او ارقام) په افاقي تحلیل شوي دي. لومړنۍ (اصلي) او دویم لاس منابع د اتکا وړ ګرځول شوې او د پښتو

اصلي ماخذو په ژباړه کې له رواني او بې تکلفه انګرېزي څخه استفاده شوې ده.

د يوه افغان زده کوونکي لپاره ربنتيا هم دا سخته دنده ده، چې په بهر کې د خپلې استوګنې په وخت کې د خپل ملك په اړه څه وليکلی شي، ځکه له يوې خوا د څېړنې په مهال اصلي او لومړي لاس منابع نه وي او له بلې خوا د (ن. غ) په اړه د ګڼ شمېر منابعو لټون د ليکنې په لړ کې د کار ځنډ ګرځېدلی، خو سره ددې هم د جواهر لال نهرو پوهنتون د ډيپلوماسۍ، بين المللي حقوقو او اقتصاد د مرکز (د بين المللي څېړنو پوهنځی) پروفيسر دوکتور ساتيش کوما عالمانه رهنمايي زما ستونزې آسانې کړې او د هغه پرله پسې هڅو او همکاري ماته دا توان راکړ، چې په اصطلاح (غنم له بوسو) څخه پاك کړم. همدا شان زه د جواهر لال نهرو د پوهنتون د کتابتون د کارکوونکيو د مرستې او همدا شان د بين المللي چارو د هندي شورا د کتابتون له همکارۍ څخه چې د ضروري کتابونو او موادو په برابرولو کې يې له ما سره مرسته کړې، مننه کوم.

**محمد امين واکمن**

نوی ډيلي، د ۱۹۸۵ کال د جنوري ۲۶

## لومړی فصل:

# د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ مشخصات

### تاریخي عوامل

### جغرافیایي ستراتژیك حالت:

افغانستان د منځنۍ ختیځ، منځنۍ اسیا او د هند د نیم قارې ترمنځ د یوه ډېر غوره ستراتژیك موقعیت لرونکی هېواد په توګه ګڼل کېږي. په وچه چاپېره شوی دا هېواد په شمال ختیځ کې د هندوکش غرونو او د لویدیځې پولې په لور دښتي سیمو نیولی او ټول مساحت یې ۷۰۰۰۰۰ کیلومتره مربع دی. د همدې فزیکي بڼو په اساس هېواد ته یو دفاعي سنګر

برابـر شـوى دى. افغانسـتان پـه شـمال، شـمال ختيـځ. ختيـځ او لويديـځ کـې لـه شـوروي اتحـاد (اوس تاجکسـتان، ازبکسـتان او ترکمنسـتان. مـترجم) د چيـن ولسـي جمـهوريت، پاکسـتان (چـې تـر ۱۹۴۷ پـورې د برتـانوي هنـد يـوه برخـه وه) او ايـران سـره ګډې سرحدي پولـې لـري. نفـوس يـې شپاړس مليونـه او دوګړيـو کلنـی ډېرښت يـې پـه سـلو کـې دوه دی. زيـاتره خلـك پـه سمسـورو درو، ميدانونـو، د سـيندونو پـه غـاړو او دغونـډيو پـه لمنـو کـې چـې د ښو اوبـو او خـاورې لرونکـی وي، ژونـد کـوي.(٢)

د "افغانسـتان د نـوم د "افغانـانو د مځکـې" پـه مانـا دی، خـو د قومـي او اتنيکـي جـوړښت پـه اسـاس پکـې بېلابـېل قومونـه لکـه پښتانـه، تـاجك، اوزبـك، ترکمـن، هـزاره، نورسـتاني او نـور شـامل دي. لکـه چـې ځينـې يـې تصـور کـوي، د افغانسـتان نـوم دومـره نـوي نـه دی. دا نـوم پـه اومـه ميـلادي پېړۍ يـانې د احمـد شـاه بابـا لـه زمـانې څخـه (چـې پـه اتلسـمه پېړۍ کـې يـې افغـاني امپراتـوري جـوړه کـړه) ښايسـته وړانـدې يـوې وړې سـاحې تـه بـاندې اطـلاق کـېده. د سـيف الـهروي پـه قـول ددغـې اوومـې پېړۍ افغانسـتان د اوسـني افغانسـتان ختيـځ لـور تـه تـر انـدس پـورې غزېدلی و، چـې د سـليمان غرونـه بـې پـه منـځ کـې وو. ددې سيمې اوسـېدونکي پښتانـه وو، چـې د (اواګانـا) يـا اوپوکيـن پـه نامـه منسـوب شـوي او همـدا اوسـنی نـوم هـم لـه دې نومونـو څخـه راپـاتې دی. پـه وروسـتيو پېړيـو کـې د پښتنـو پـه خپرېدو سـره دا نـوم يـو پراخـې سـاحې تـه کـارول کېده، چـې پـه پـای کـې د اسـلامي دورې خراسـان او لرغونـو زمـانو آريانـا هـم پکـې ګډ شـول. پـه

همدې توګه د افغان نوم، چې په لومړي سر کې يوه قوم ته استعمال کېده، اوس په قانوني توګه ټول هغه قومونه پکې داخل دي، چې په معاصر او اوسني افغانستان کې ژوند کوي. (۳)

## تاريخي سابقه:

افغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره په ۱۷۴۷ کې هغه وخت مستقل او خپلواک سياسي موجوديت وموند، چې احمد شاه بابا خپل ملي واړه واړه حکومتونه په يوه دولت کې سره متحد او يو موټی کړل(۴). له دې څخه وړاندې د افغانستان بېلابېلې سيمې يا د هند او ايران د امپراتورۍ تر واک لاندې وې او يا پکې د قدرت وړې وړې سيمې جوړې شوې.

افغانستان يو داسې جغرافيايي حالت لري، چې د ډېرو تمدنونو شاهد دی. لوئيس دوپري وايي:

" د پاليوليتيک انسانان (۵۰۰۰۰) کاله وړاندې د شمالي افغانستان په مغارو کې اوسېدل. همدا شان شمالي افغانستان احتمالاً د پرمختګ يو زون برېښي... د نيوليتيک انقلاب نږدې ۱۱۰۰۰ کاله وړاندې انسان ته د خوړو د چمتو کولو کنټرول په لاس ورکړ، چې په نتيجه کې يې د نيل، دجلې او فرات او اندس په ناوو کې د تمدن د پيل لار پرانستله. په افغانستان کې د دويمې نړيوالې جګړې وروسته په تېره ددې هېواد په سويل مرکزي برخو حفريات دا ښکاره کوي، چې

افغانستان د میلاد څخه وړاندې څلورمې او دویمې زریزې ترمنځ د اندس له ناوې سره په دغو پرمختګونو کې پیوستون او اړیکه لري([5])".

دا عقیده موجوده ده، چې آریایان له همدې هېواد څخه د سویل په لور هند ته ولېږدېدل. ان په تېر وخت کې هم افغانستان بېساری جغرافیایي ستراتژیك موقعیت درلود، ځکه "هغه د هند په لور د زیات شمېر فاتحانو د بریدونو لپاره د لارې په توګه کارول شوی دی([6])".

لوی سکندر په ۳۳۱ ق م کې له دې لارې هند ته ننوت. وروسته غزنوي سلطان محمود (۱۰۰۰_۱۰۲۶م) ګوډتیمور (۱۳۹۸م) او بابر (۱۵۲۶) هم د افغانستان له لارې هند ته ځانونه ورسول. په همدې ډول په دې لار یانې افغانستان باندې د پارس پاچا نادر شاه افشار پوځونه هند ته واوښتل (۱۷۳۸م).

د لوی سکندر د یرغل د لارې په اوږدو کې د میلاد څخه مخکې څلورمه پېړۍ کې په افغاني سیمو کې د "هندي، کلاسیك هیومانستیك، د منځنۍ آسیا تونډ لارې (سینو_ سایبریا) آیدیالوژي ګانو څخه یوه ګډه آیدیالوژي رامنځ ته شوه، چې هغې ته د مهایانا بودیزم ویل کېده او نن ورځ د ختیځې نړۍ په زیاته برخه کې پالل کېږي([7])" د پېنځمې میلادي په پای کې مهایانا منګولیا، چین، کوریا او بالاخره جاپان ته د ورېښمو د لارې په وسیله ورسېدله.

همدا شان هندي پاچاهانو خپلې امپراتورۍ افغانستان ته وغزولې. امپراتور آشوکا د بودیزم د پراختیا لپاره په بامیانو کې یو مرکز جوړ کړ. په ۱۲۷ میلادي کې ساکان سند ته ورسېدل او وروسته یې د هند په شمال لویدیځ کې یوه امپراتوري جوړه کړه. په لومړي میلادي پېړۍ کې کوشانیان له هندوکش څخه واوښتل او کابل او بامیان یې په قبضه کې راوستل. د دریمې میلادي پېړۍ په پیل کې ساساني پاچا اوردشیر باختر او هند لاندې کړل. وروسته بیا په ۴۵۰ میلادي کې هونانو په هند برید وکړ او د ګوپتا امپراتورۍ "بنسټ یې ونړاوه او په پای کې بې د نیستۍ کندې ته وغورځوله"(۸)

د اوومې میلادي پېړۍ په نیمایي کې عرب افغاني سیمو ته ننوتل او کندهار او کابل ته یې ځانونه ورسول. محمد بن قاسم هند ته راورسېد او ملتان او مکران یې ونیول. د یوولسمې او څوارلسمې پېړۍ ترمنځ یرغلګرانو له افغانستان څخه په هند باندې د برید لپاره د یوې عبوري لارې په توګه استفاده وکړه. د لسمې میلادي تر پای پورې سبکتګین وکړای شول، چې افغانستان ونیسي. وروسته دده زوی محمد غزنوي خپله امپراتوري تر کابل، بلخ، بدخشان، پارس، خراسان او د هند تر ځینو برخو وغزوله.(۹) د غزنوي محمود حکومت تر ۱۱۰۹ کال پورې دوام وموند او وروسته بیا د یوې غوري پښتنې قبیلې حکومت تر ۱۲۰۴ کال پورې جاري و. په دې دوره کې غوري، غلزي او دراني قبیلو واکمنې

ترلاسه کړه. د دیارلسمې پېړۍ په پیل کې چنګیز خان راپورته شو او په بلخ، بخارا او مروه کې چې په افغاني پولې کې پراته و، نفوذ وموند. په څوارلسمه پېړۍ کې ګوډ تیمور هرات، کندهار او افغاني خراسان ته راودانګل او د شپاړسمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې بابر چې د تیمور د اولادې څخه و، کابل ونیو (۱۵۰۴) او د هندوستان یوه زیاته برخه ې لاندې کړه او په ۱۵۲۶ کې یې په ډیلي کې د مغلو د امپراتورۍ بنسټ کېښود. دده په مړینه سره دده امپراتوري وپاشل شوه او افغانستان د مغولي هند او پارس امپراتوریو ترمنځ ووېشل شو او شمالي قبیلې د مغولو تر کنټرول لاندې راغلی"(۱۰)

د اتلسمې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې په چټکۍ سره بدلېدونکې پېښې رامنځ ته شوې، سویلي قبیلې د غلزیو په مشرۍ د پارسیانو په خلاف پاڅون وکړ، چې وریسې دغه پاڅون د هرات او سویل ختیځ پارس په لور پراختیا وموندله. د پارس پاچا نادر شاه دا پاڅون مات او ټول سویلي افغانستان یې لاندې کړ. په ۱۷۴۷ کال کې د نادر شاه افشار په وژل کېدو سره، ابدالي احمد خان چې وریسې یې د دراني په لقب شهرت وموند، لښکر راغونډ او کندهار یې ونیو*. ده د سیمه ییزو قبایلي مشرانو ملاتړ ترلاسه او د "افغانستان واکمني" یې تاسیس کړه.

---

** زما په نظر د لویې جرګې له لارې د احمد خان دراني د پاچا کېدو ذکر دلته ضروري دی، چې محترم لیکوال نبایې د موضوع د اختصار په منظور به له هغې څخه ډډه کړې وي. مترجم*

کله چې دراني احمد شاه په ۱۷۴۷ کې د افغانستان سلطنت ښه پیاوړی کړ، نو دا وخت انګرېزانو هم په هند کې د ختیځ هند د شرکت په مرسته د پښو د اېښودلو ځای پیدا کړ. په ۱۷۶۲ کې احمد شاه په لاهور کې سکان مات کړل او وریسې یې د کشمیر په نیولو سره خپله امپراتوري د اټك له سین څخه ترډیلي او د تبت له پولې تر هندي سمندر پورې پراخه کړه([11]).

د احمد شاه دراني په مړینه سره افغاني واکمني په پاشل کېدو شوه. انګرېزانو خپله امپراتوري د شمال لوېدیځ په لور وغزوله او دوی نه شول کولای خپله پاملرنه د افغانستان څخه واړوي. انګرېزانو بېلابېلې لارې چارې غوره کړې، ترڅو له افغانستان سره سیاسي او تجارتي اړیکې پرانیزي، په دې اساس لومړنی برتانوي هیات، چې په ۱۸۰۹ کې د مونت ستورات الفنستن په مشرۍ د دواړو هېوادو ترمنځ د ملګرتیا او دوستۍ د ټینګېدو لپاره لېږل شوی و، له افغانستان سره د یوه تړون په لاس لیك بریالی شو([12]).

## بهرني چاپېریال:

د افغانستان د سلطنت او واکمنۍ بنسټ اېښودل، چې په ۱۷۴۷ کې ترسره شول. په ګاونډیو هېوادونو کې د بېلابېلو پرمختیاوو سره مطابق و. په تېره بیا په برتانوي هند، پارس او روسیه کې دا انکشافات محسوس بریښېدل. په اتلسمه پېړۍ کې روسیې په منځنۍ آسیا کې پرمختګ کاوه او په همدې

شان برتانوي امپریالیزم په هندي نیم قاره کې په پرختیا کې و. دا افغانستان و، چې روسیه او برتانیه دواړه په هغې کې له یو بل سره مخامخ کېدل.

## سیال سترځواکونه په استعماري دوره کې:

د اتلسمې پېړۍ په اوږدو او د نولسمې پېړۍ په سر کې د اروپایي هېوادو د فتوحاتو په نتیجه کې د اسلامي نړۍ کلتوري او سیاسي موجودیت تر ګواښ لاندې راغی. د افغانستان لپاره دا حالت هغه وخت زیات بحراني و، چې په نولسمه پېړۍ کې روسي او برتانوي امپراتورۍ په منځنۍ آسیا کې په وړاندې تګ کې وې او یوازې افغانستان دوی دواړه سره جلا کړې وې.

## د انګرېز او روس سیالي:

په نولسمه پېړۍ کې د افغانستان ستراتژیك اهمیت زیات شوی و، اروپايي امپراتورۍ په اسیايي ډګر کې راخرګندې وې. روسان او بریانویان د نولسمې پېړۍ په جریان کې د "افغانستان سره نږدې له یو بل سره په مخامخ کېدو شول[۱۳]" د کریمیا د جګړې په پای ته رسېدلو سره روسانو ته په منځنۍ اسیا کې د پرمختګ یو نوی پړاو پرانیستل شو. په دې ځای کې د روسانو وړاندې تګ د دسیسمو د یوې او بلې یاغي قبیلې له خوا چټك شو. همدا شان برتانویانو د اندس په اوږدو کې خپلې پراختیا غوښتنې طرحې پرمخ بوتلې، ترڅو د شمال لویدیځ له خوا خپله امپراتوري د چپاو څخه وساتي. په دې

توګه افغانستان په نولسمه پېړۍ کې د انګرېز او روس د سیالۍ یو ډګر ګرځېدلی و، یانې دا چې برتانویانو غوښتل چې د هند په لور د روسانو د رامخه کېدو په مقابل کې له افغانستان څخه د بفر (Buffer) یا حایل په توګه کار واخلي او یا په بشپړه توګه یې اشغال کړي. له بلې خوا روسانو څو څو واره ممکنه هڅې وکړې، چې برتانویان د افغانستان له لارې په هند کې تر ګواښ او ځور لاندې راولي([14]).

تر ۱۸۳۰ کال پورې د هند د امنیتي ملاحظاتو په اساس د افغانستان ستراتژيك ارزښت په زیاتېدونکي توګه جوت شو او په پارس کې د انګرېز او روس سیالي د نولسمې پېړۍ اروپايي سیاست یوه برخه ګرځېدلې وه. په حقیقت کې پارس دا پلان درلود، چې د روسانو په هڅونه او معاونت هرات ونیسي او د برتانوي هند حکومت غوښتل، چې له افغانستان سره د خپلو پولو ساتنه وکړي.

برتانویان د هند د دفاع په اړونده ډېر حساس و او د بریتانوي هند د شمال لویدیزې پولې دفاع، چې دا وخت یې د افغانستان او هند ترمنځ سرحد تشکیل کړی و، ښکاره مسأله ګڼل کېده. د برتانویانو (انګرېزانو) قوتونه زیاتره له سمندر سره آشنا وو او دوی د سمندر له لارې هند ته ننوتل. هغوی د هند د ختیځ او سویل څخه د شمال لویدیځ په لور د طبیعي سنګرونو د موندلو په نیت خواره شول، ترڅو له دغسې ځایونو څخه د خپلې هندي امپراتورۍ دفاع وکړي. همدا شان دوی هڅه وکړه، چې د مدتیراني له لارې په اصطلاح د "پاچاهۍ د

ژوند کرښه یا لاز" وساتي او روسان له دې څخه منع کړي، چې مدیترانې ته ننوزي او یا د پارس په خلیج کې د پښو د ایښودلو ځای ومومي. په همدې مقصد انګرېزانو لټه کوله، چې په افغانستان باندې کنترول ولري.

د افغان ـ انګلیس دویمې جګړې په نتیجه کې (۱۸۷۸) د ګندمك تړون په ۱۸۷۹ کې رامنځ ته شو او د هغې په اساس برتانویانو ته دا واك ورکړل شو، چې د افغانستان بهرنۍ چارې اداره کړي([15]).

د بنګال ګورنر لارډ مارنګټن (۱۷۹۸ـ۱۸۰۵) داسې یوه پالیسي رامنځ ته کړه، چې د هغې له مخې د افغانستان له لوري د یرغل مخنیوی مطلب و. لارډ آکلنډ (۱۸۳۶ ۱۸۴۲) په مخامخ توګه د افغانستان په چارو کې مداخله پیل کړه، چې د هغې په نتیجه کې د افغان او انګلیس لومړۍ جګړه (۱۸۳۹ ـ ۱۸۴۲) پېښه شوه. برتانویانو په دې جګړه کې خپل مقصدونه ترلاسه نه کړل، یوازې د څه مودې لپاره د دوی مداخلې ودرېدلې. سره ددې هم بریتانیه د وړاندې تګ د خپلې پالیسۍ څخه لاس په سر نه شوه، نو ځکه افغانستان د روسي هیات د راتلو په سبب د افغان او انګلیس دویمه جګړه ونښتله. (۱۸۷۸ ـ ۱۸۷۹).

په لومړۍ افغان او انګلیس جګړه کې د انګلیس ماتې په ختیځ کې د داسې یوه ملت اعتبار او حیثیت تاواني کړ، چې په دې سیمه کې یې هېڅکله د ا شان بې عزتي زغملی نه شوه. په افغانستان کې د بریتانوي پالیسۍ د تراژیك پاتې راتلو

وروســته، هغــه کړنــلار، چــې د لارد آکلنــد لــه خــوا تعقیبېدلــه، وسـاتل شـوه. لارډ النبره Lord Ellenborough پـه همـدې اسـاس او پـه همدې مانـا يـوه اعلاميـه د ۱۸۴۲ كـال د اكتوبـر پـه لومـړۍ نـېټه خپره کړه، چې د هغـې پـه متـن کـې راغلـي و، چـې برتـانوي قـوې بـايد افغانسـتان خوشـې کـړي. ده افغانـان دېتـه پـرېښودل، چـې په خپله خوښه خپـل حکومت جـوړ کـړي.

پـه ۱۸۶۳ كـال كـې شـېرعلي خـان د افغانسـتان د واكمنـۍ پـه ترلاسـه كولـو بريـالى شـو. شـرايط داسـې نـازك وو، چـې نومـوړي تـه د چـارو وړانـدې بيولـو پـه برخـه كـې ډېر احتيـاط پـه كـار و. ده هڅه وکړه، چې د بهرني نفـوذ پرتـه پـوره خپلـواك پـاتې شـي، خـو سره ددې هم پـه دې لار كـې بريـالى نـه شـو او منځنـۍ آسـيا تـه پـه شـا لاړ.

د انګليـــس او روس تـــر تضميـــن لانـــدې د يـــوه خپلـــواك افغانســـتان موجوديـــت د بريتانيـــا لـــه ګټو ســـره برابـــر نـــه و. انګرېزانـو پـه ۱۸۶۹ كـال كـې لـه روس څخـه دا ډاډ ترلاسـه كـړى و، چـې افغانسـتان بـه د دوى د نفـوذ لـه دايرې څخـه بـهر اوسـي. دغـه ډاډ د (ګريرانـو ويـل) او (ګورچاكـاف) پـه نامـه نـامتو شـوى او پـه يـو شمېر مراسـمو او مواقعـو كـې د هغـې يادونـه وشـوه. كلـه چـې پـه ۱۸۸۰ كـال كـې امـير عبدالرحمـن د افغانسـتان پـاچـا شـو، نـو ده بريتانيـا تـه دا ډاډ وركـړ، چـې تـرڅو د بريتـانيې او روس امپراتـورۍ موجـودې وي، افغـاني قبـايل بـه پـه كـرارۍ ژونـد وكـړي. نومـوړي پـه زغـرده دا وښوولـه، چـې د هـېڅ يـوه خـارجي طاقت او زواك سره بـه اتحـاد ونـه لـري.

د ۱۸۸۰ وروسته یانې د اتیایمې لسیزې تر پای پورې روسېې په منځنۍ آسیا کې پرمختګ وکړ، دا کار ددې سبب چې بالاخره د روسېې او بریتانیا ترمنځ یو لړ سلا مشورې پیل او په نتیجه کې د ۱۸۸۷ کال په اوږدو کې د روسیې او افغاني سرحد په نښه کول او معلومول ترسره او په دې اړوند موافقه لاسلیك شوه. دوه کاله وړاندې یانې په ۱۸۸۵ کې روسانو په زور سره پنجده ونیوله او په دې توګه انګرېزان په دې اند ښېنه کې ولوېدل، چې ښایي روسان به د هندوکش سویل لور ته افغانستان ټول خپل ځان ته راوکاږي(۱۶). هغه حقیقت، چې بریتانویانو له افغانستان سره د روسانو له خوا د پنجدې د نیولو په مهال مرسته ونه کړه، د راتلونکیو افغاناني واکمنانو لپاره یوه نه هېرېدونکې مساله وه.

په ۱۸۸۰ کې د افغانستان پاچا عبدالرحمن خان منځنۍ آسیا ته خپل تبعید د روسانو د یوه مېلمه په توګه بېځایه نه ضایع کاوه او د روسیې مېلمه پالنو څخه د اجازې د ترلاسه کولو وروسته، دی افغانستان ته روان شو، چې هلته د خپلې واکمنۍ د ټینګښت لپاره یوه موقع حاصله کړي. کله چې برتانویان د زیاتو اندېښنو ترڅنګ نوموړي ته د افغانستان د امارت په منلو راضي شول، نو دا وخت د افغان او انګلیسي د دویمې جګړې څخه د په میراث پاتې کرکې، بدنیتۍ، مالي او ځاني تلفاتو له امله د نویو اړیکیو بار دده په اوږو ولوېد. روسانو په منځنۍ آسیا کې د خپلې پراختیا د ترسره کولو په ترڅ کې دې ته چمتووالی درلود، چې په افغانستان وردانګي

او هندوکش د دوارو امپراتوریو ترمنځ د یوې سملاسي پولې په توګه د جګړې د یوه ډګر صحنه وګرځي.

نوي امیر تر زیاتې اندازې د دوو سیالو امپراتوریو محصول و. ده د خپل سیاسي تعلیم او د زده کړې زیاته برخه په روسي ترکستان کې د خپل دوولس کلن تبیعدي دوران په مهال حاصل کړل. هغه د دوارو هېوادونو یانې روس او انګلیس په تائید په تخت کښېناست. روسانو عبدالرحمن ته اجازه ورکړه، چې په شمالي افغانستان کې خپل ځان پیاوړی کړي. لارد لیتن Lord Lytton د مخ په وړاندې تګ سیاست یا فارورډ پالیسۍ په بدلولو سره وغوښتل، چې خپل پوځ د افغانستان له سویلي برخو څخه چې په زیاتېدونکي توګه له کمزوري او بې اعتبارۍ سره مخامخ وي. وباسي او له هرات او کندهار پرته د افغانستان نورې ټولې برخې امیر عبدالرحمن خان ته وسپاري. هرات د' وخت دده په خیال، چې پارس ته به یې ورکړي او کندهار به یو خپلواك امارت وګرځي، چې مستقیماً د انګلیس تر ادارې لاندې وي.

د افغانستان امیر د خپلې بهرنۍ پالیسۍ په اعلان سره برتانویانو ته ډاډ ورکړ، چې ترڅو د بریتیانیا او روس امپراتورۍ موجودې وي، د افغانستان قبایل به په سوله کې ژوند ولري. عبدالرحمن د خپل بېطرفانه موقف په روښانه کولو کې ډېر زیات جدي و.

څرنګه، چې برتانویانو نه غوښتل له امیر سره کوم رسمي تړون وکړي، نو د ۱۸۸۰ کال د جون او جولای د میاشتو په

دوو ګنو ليکونو کې يې خپله نظريه داسې څرګنده کړه، چې د لويې بريتانيا شاهي دولت په افغانستان کې د يو خپلواك واکمن ملاتړ کوي او د هر بهرني تېري په وړاندې به دده ترڅنګ ودرېږي خو په دې شرط، چې امير د برتانوي هند سره خپلې اړيکې وساتي.

په (۱۸۸۹) کې برتانويانو روسيې ته اخطار ورکړ، چې د هرات په لور هر ډول پرمختګ به د جګړې د اعلان په توګه تلقي شي. تر ۱۸۹۱ کال پورې دا ټينګار او اخطار د افغانستان په شمال ختيځ کې دواخان لور ته واوښت، چې هلته روسان ددغه ځاى په خوا وړاندې تللي و. د روس او انګليس د ورپسې خبرو اترو په نتيجه کې ددې سيمې د پولې بيا ټاکل ترسره شول. روسانو د آمو سين پاسنۍ برخه حاصله کړه او افغانستان د هغې سويل مځکې لاس ته راوړې([17]). همدا شان د هند او افغانستان ترمنځ پوله هم د ديورند د نامتو کرښې په وسيله په نښه شوه([18]).

د افغانستان شمال ختيځې پولې په ۱۸۹۳ کې د سر مارتيمر ديورند په مرسته معلومې شوې، په دې وخت کې افغانستان د شغنان او روشان شمالي ولايت له لاسه ورکړ، په داسې حال کې، چې د آمو سين تر اړخ ولايت درواز او دواخان ناغوښتل شوى دالان يې وګاټه([19]).

د افغانستان دننه سياسي نارامي تل د روسيې او بريتانيا سيالي هڅوله. په منځنۍ آسيا کې روسانو په خپل کرار، خو

پوخ پرمختګ کې تل د ښتـه میـلان درلـود، چـې یـوه موقـع ترلاسـه او د افغانسـتان په چـارو کـې مخـامخ مداخلـه وکـړي([20]).

پـه ۱۹۰۰ کـې روسـانو لـه افغانسـتان سـره د مسـتقیمو اړیکـو د ټینګولـو وړاندیـز وکـړ. برتانویـان ددې وړاندیـز پـه منلـو راضـي شـول. لـه افغانسـتان سـره د مخـامخ اړیکـو د سـاتلو پـه برخـه کـې د روسـانو پرلـه پسـې غوښتنـو انـګرېزان "د ښتـه رامـات کـړل، چـې د هغـوی دا غوښتنـې ومنـي([21])" سـره ددې هـم انګرېزانـو د سـلا او مشـورو پـه تـرڅ کـې یـوه بلـه لاره وموندلـه او هغـه دا چـې د روسـانو حضـور پـه افغانسـتان کـې د افغانسـتان د پـاچـا پـه رضـایت اړه لـري. دا بـاید ووایـو، چـې برتانویـانو ددې سره سره، چـې د افغانسـتان پـه بـهرنیو اړیکـو بـاندې بې خپـل کنټرول سـاتلی و، ونـه غوښتـل چـې د افغـاني پـاچـا د مخکنـي او قبلـي رضـایت پرتـه خپـل اسـتازی روسـانو تـه واسـتوي، خـو بیـا هـم روس دا وړاندیـز وځنـډاوه.

افغانسـتان د روس او انګلیـس د سـیالۍ د زیـاتېدو پـه مـهال ددې وړتیـا او توانمنـدي وښوولـه، چـې خپلـه بیطرفـي او بېطرفانـه پالیسـي پـه مـهارت سـره وسـاتي. افغـاني واکمنـانو پـه آګاهانـه تـوګه دا پالیسـي، چـې د امـیر عبدالرحمـن خـان لـه خـوا د ۱۸۸۰ کـال وروسـته رامنـځ تـه شـوې وه، تعقیبولـه. ځکـه د همـدې کلونـو پـه اوږدو کـې د افغانسـتان ګاونډیـانو لـه یـو بـل سره د سـیمو دلاتـدې کولـو پـه تـرڅ کـې لـه یـو بـل سـره دښمنـي درلودلـه. امـیر عبدالرحمـن خـان ددې لپـاره، چـې د یـوه همسـایه ملـك او هـېواد د یرغـل مخنیـوی وکـړي، نـو هغـسې یـوه پالیسـي

به یې غوره کوله، چې په داسې یوه حالت کې د یو بل همسایه مرستې ترلاسه کړي([22]). ددغسې یوې پالیسۍ په تاکلو سره افغانستان به ډېر محتاط و، نه غوښتل چې خپل یو غټ او زورور همسایه یانې بریتانیا په خپل ضد ولمسوي، چې له هغه سره یې تړون درلود او هم روسیه دېته تحریك نه کړي، چې له هغه نظم او چوکاټ څخه ووزي، چې له بریتانیا سره یې په افغانستان کې د مداخلې څخه د ځان د ګوښه ساتلو په هکله برابر کړی و([23]).

سره ددې هم ددې پېړۍ (نولسمې) په تېرېدو سره حالت بدل شو. امیر عبدالرحمن خان په ۱۹۰۱ کې له فاني دنیا څخه سترګې پټې کړې. دده په ځای یې مشر زوی په داسې سوله ییزه توګه په تخت کېناست، چې دمخه یې فکر کېدلی نه شو. ددې آرامې فضا ویاړ او کریدیت امیر عبدالرحمن خان ته منسوبېږي، چې د خپلو اسلافو خلاف یې د تخت کېناستلو د مسالې په باب د یوې تېروتنې د کېدو څخه د بچېدو لپاره ډېره پخه پیشګویي او ستر لیرې لید درلود. حبیب الله د خپل پلار تر مړینې وروسته سملاسي دا علاقمندي او یا هم وخت نه لاره، چې د خپل ځان د دریځ په هکله د روسیې او بریتانیا سره د اړیکو په اړوند فکر وکړي. دغو دواړو خلکو تو یو ځل بیا د افغانستان په چارو کې دلچسپي پیدا کړه.

په ۱۹۰۰ کې کله، چې د بریتانیا حکومت په سویلي افریقا کې د بوئیر په جګړه بوخت و، روسانو هڅه وکړه چې له

افغانستان سره په اصطلاح "د منځنۍ اسیا د مسالې" د بیا نوي کولو په ترځ کې نوې اړیکې او تجارت پیل کړي.

په هغه یادداشت کې، چې د ۱۹۰۰ کال د فبرورۍ په شپږمه د روسیې له خوا د انګلستان صدراعظم لارد سالزبوري ته استول شوی و، داسې خاصې مسالې یې راولاړې کړې. چې د افغاني کشالې د بیا پیل خوا ته یې لار پرانستله. صدراعظم خپلې کابینې ته دا اطلاع ورکړه، چې "په ۱۸۷۳ کې افغانستان د سیاسي چارو له پلوه د دوی د نفوذ د ساحې څخه دباندې ګڼل شوی و او اوس روسیه غواړي، چې له افغانستان سره له سیاسي اړیکو څخه غیر نورې اړیکې پیل کړي. برتانوي حکومت له خپل برابر روسي مقام (حکومت) څخه له افغانستان سره د هغوی د مخامخ اړیکو د ټینګولو د هڅو په اړوند پوښتنې او ګرویږنې وکړې. سره ددې هم برتانویان دا فکر کوي، چې له افغانستان سره د روس د تجارتي اړیکو او سرحدي پولو لانجې یوه ستونزه ده او اعلان یې وکړ، چې دا به یوازې د لندن له خوا منظور شي[۲۴]" خو بیا هم روسانو له افغانستان سره په مخامخ اړیکو ټینګولو باندې ټینګار ته دوام ورکړ. برتانوي حکومت دا حس کړه، چې له روسانو سره ددې مسالې پر سر د زیاتو مکتوبو او مراسلاتو له لارې زیات څه ترلاسه شوی نه دي.

که څه هم امیر حبیب الله د لارد کرزن د دیکتاتورانه او سختګیرانه رویې څخه نارام و، بیا هم کله چې له هغه څخه د

روسیې د غوښتنې په اړه د نظریې غوښتنه وشوه. نو دا وخت ده د برتانیا د حکومت د ژغورنې ملاتړ وکړ.

حقیقت دا و چې د کرزن Curzon د فارورډ پراختیا غوښتونکې پالیسي، په تېره په افغانستان، پارس او تبت کې د دا شاني پالیسی تعقیب، د کندهار اشغال او د امر حبیب الله په وړاندې دده تېري کوونکې برخوردونه ددې سبب شول، چې روسیه له افغانستان سره دمخامخ اړیکو ټینګولو ته راپاڅوي.

روسیې دا نه خوښوله، چې بریتانیا دې د افغانستان په بهرني اړیکو باندې د کنټرول انحصار ولري او د افغان او هند سرحد کې دې د بریتانیا د غیر سیاسي اړیکو د ساتلو او ډېرو خاصو او له حده زیاتو امتیازاتو ته اجازه ورکړای شي. وریسې روسیه د کورنیو او بهرنیو مجبوریتونو له امله مجبوره شوه، چې د حالت له شرایطو سره ځان برابر کړي.

په یوه لحاظ د افغانستان لپاره به بنایي دا د روس او انګلیس د تېري یوې پېړۍ مخاصمت په پرتله دا ډول پخلاینه ډېره زیاته خطرناکه وه، ځکه په تېرې یوه پېړۍ کې افغانستان د دواړو سیالو قوتونو د خپل منځي تریګنی په ترخ کې له یو بل ځخه لیرې ساتل او په دې توګه ي د خپل سیاسي هویت شته والی تامین کړی و. له روسیې او بریتانیا سره د حبیب الله معاملو د هغه دا ورتیا وښووله، چې ده د خپل استقلال او حاکمیت لپاره ډاډمن بنسټ کېښود.

په ۱۹۰۷ کال کې د روسیې او بریتانیا اوږده سیالي هغه وخت په ټپه ودرېدله، چې دواړه څواکونه په اروپا کې د جرمني له لوري تر ګواښ لاندې راغلل، نو په دې توګه دوی هوډ وکړ، چې په آسیا کې خپلې سیالۍ له پامه وغورځوي. دواړو هېوادونو یو تړون لاسلیك کړ، چې د ۱۹۰۷ کال د کنوانسیون یا قرارداد په نامه یادېږي([۲۵]). ددې تړون په اساس روسیې موافقه وکړه، چې افغانستان د دوی د نفوذ د ساحې څخه دباندې وي. داسې معلومېده، چې افغانستان به دا منلې وي، چې له دې قرارداد سره د کوم اعتراض پرته موافقه وکړي، ځکه افغاني واکمنان په منځنۍ آسیا کې د روس په وړاندې تګ باندې د داسې یوه تړون په ارزښت ښه پوه شوي وو.

PROPERTY OF ACKU 12209

## داخلي چاپېریال:

## د ناپېیلتوب افغاني عنعنه:

د ناپېیلتوب افغاني عنعنه په یوه بېطرفانه پالیسۍ باندې ولاړه ده، چې نېټه یې د هغو پېښو څخه روښانه ګڼل کېږي، کومې چې دا اصطلاح (ناپېیلتوب) منځ ته راوړي. د افغانستان په عنعنوي سیاسي چلنډ کې د دنیا د ټولو هېوادونو د خلکو او ملتونو سره د دوستۍ ټینګول او بین المللي همکارۍ هڅول غوره عناصر دي.

دا چې په دې ساحه کې د روس او انګلیس پرمختګونه ودرول شول او افغانستان د یوه ملي واقعیت په حیث پاتې

شو، یو شمېر علتونه لري، چې په هغو کې جغرافيايي حالت، د روس او برتانوي سيالي (چې ددې سيالي په نتيجه کې د يوه هېواد وړاندې راتګ د بل يوه په لګښت بند کړل شوی) او د افغاني مبارزينو د جګړې مهارت شاملېږي. سره ددې هم تر ټولو غوره علت، چې د افغانستان د ملي بقا سبب شو، هغه د افغاني واکمنانو ماهرانه سياست و. افغان حکمرانانو ډېره آګاهانه پاليسي تعقيبوله. دا پاليسي لومړی ځل له ۱۸۹۰ کال وروسته موده کې د امير عبدالرحمن خان له خوا طرحه شوه او د هغې د منطق بنسټ د ګاونډيو هېوادو دښمني وه، چې د سيمو دلاندې کولو تمايلات يې درلودل. امير عبدالرحمن د خپلو ګاونډيانو د يرغل د مخنيوي لپاره د نظامي قواوو په پاليسي تکيه کوله او په دې ډول يې هڅه کوله، چې د يوه ګاونډي نظامي ځواك د فشار د کمولو لپاره د بل يوه ملاتړ ترلاسه کړي. ددې پاليسۍ د کاميابولو په منظور افغاني حکمرانان مجبور و، چې د ډېر احتياط څخه کار واخلي او خپل دواړه زورور ګاونډيان ونه لمسوي، ياني برېتانيا له دې امله خپه نه کړي، چې ورسره يې تړون درلود او روسيه په دې دليل خواشينې نه کړي چې د برېتانيا له خوا د تنظيم شوي توافق په اساس يې له هغه څخه ځان ګوښه کړی و( [۲۷] ).

يو عامل، چې د ډېر زيات ارزښت لرونکی او د افغانستان د خپلواکۍ سبب ګرځېدلی و، د هېواد توپو ګرافي او پراخې غرنۍ سيمې دي. افغانستان ۷۰۰۰۰۰ کيلومتر مربع

مساحت لري، چې په سلو کې ۸۵ برخه يې له ۶۰۰۰ فوټو څخه جګه ده. هندوکش او ځينې نور غرونه د ۲۰۰۰۰ فوټو په هسکوالي سره له واخان څخه د ختيځ او لويديز په استقامت خواره شوي او د شمال او سويل په منځ کې ي د مواصلاتي موانعو پراخې لړۍ جوړې دي. يوازې د هېواد په لويديزه خوا کې دا ممکنه برېښي، چې د هرات د سيمې څخه د يوه دالان په توګه مهاجمين وکړاى شي، چې د سويل لور ته د غرونو څخه په لېرې پرتو هوارو خواوو کې سويل ته ځان ورسوي او د کندهار او (افغان – پاکستان) پولې ته ننوزي.

د هوايي جګړې د ابداع او منځ ته راتګ څخه مخکې د افغانستان غرونه او بيدياوې د مهاجمينو د بې زړه توب او وېرولو لپاره ښه وسيله او مانع ګڼل کېدل. زيات شمېر يرغل کوونکي لښکرې نه شواى کېدلى، چې په دې لځ او له بوټو څخه لغړ ملک کې ملاتړ شي. په زرګونو حيوانات په کار وو، چې د لښکرو لپاره مايحتاج ورسوي او د ضروري شيانو د رسولو لارې پرانستې وساتي. د برتانويانو لپاره دا آسانه وه، چې په ختيځ او سويلي افغانستان کې څو غوره ښارونه ونيسي، خو د قبيلوي قواوو په وړاندې ددې ښارګوټو ساتنه هم مشکله وه. د افغان او انګليس دوو جګړو دا وښووله، چې د افغانستان د نيولو او بيا تر اشغال لاندې ساتلو په پرتله په دې هېواد يرغل آسانه و . خو تر واک او ادارې لاندې ساتل يې ممکن نه و. د برتانويانو تجربې به ښايي د روسانو د حکومت لپاره هم د يوه ګواښ په توګه کار ورکړی وي. چې د هغه

ځینې افسران په دې خیال و. چې په هند یرغل وشي او د دوی دا نظر د روس په حکومت څه اغېزه کړې نه وه. افغاني حکمرانانو په پیوست ډول دا پالیسي چلوله. چې په افغانستان د داسې مواصلاتو او مخابراتو اجازه ورکړي. چې یوه بهرني قوت ته د یرغل کولو د آسانتیا سبب وګرځي. افغاني واکمنانو د افغانستان په لور د اوسپنې د پټلۍ د غزولو په وړاندې مقاومت کاوه. ځکه په دې وسیله به د هېواد په طبیعي دفاع کې کمزوري راتلله.

یو بل عامل، چې د بهرني یرغل په مخنیوي کې رول درلود د روسیې او بریتانیا سیالي وه. په افغانستان باندې د دواړو څواکونو له لږ څخه د یوه تېری ددې سبب کېده، چې هر یو یې په خپله مقبوضه ساحه کې د خطر سره مخامخ شي. یعنې بریتانیا په هند باندې د کنټرول له پلوه او روسیه په منځنۍ آسیا کې د پرمختګ په لار کې ستونزې پیدا کړي. ددې په ځای، چې هر یو ځواك په افغانستان کې خپل ځانګړی قدرت ټینګ وساتي، دواړو (روسیه او بریتانیا) په دې راضي و، چې افغانستان د دواړو امپراتوریو ترمنځ د یوه حایل (Buffer) په توګه ومني. په دې کار کې لږ تر لږه دا ضروري وه، چې افغاني واکمن په پټه خوله او غلې توګه همکاري وکړي افغاني واکمنانو دا توان درلود، چې د روس او یا بریتانیا د یوه هېواد سره په یوه یرغلیز تړون کې په ګډېدو او یوځای کېدو سره هر هغه نظم او ترتیب ګډوډ کړي. چې د دغو دوو هېوادونو ترمنځ موجود و. نو ځکه ځینو بریتانوي مامورینو

دا حتمي ګڼله چې یوه ورځ به افغانستان ته وردننه شي او له روسیې سره به د هندوکش د غرونو په اوږدو کې یوه ثابته او پیاوړې پوله ټینګه کړي. بریتانیا هڅکله دا کار د افغاني واکمنانو د ماهرانه پالیسۍ په اساس په یوه وړه ساحه کې عملي نه کړای شو او هغوی د یوه حایل دولت د سیاست د پکارولو په اساس روس او بریتانیا د یوه او بل په وړاندې په توازن کې ساتلي وو.

افغانستان د سترو ځواکونو د سیالۍ او غرني طبیعت د مزایاوو څخه د ګټې اخیستنې ترڅنګ، له خپلو ګاونډیانو سره د معاملې په برخه کې له نورو تدابیرو څخه استفاده کوله. د هغو له لړ څخه یو یې په ختیځ‌ها اسلامي نړۍ کې د سراسري اسلام پان اسلامیزم (Pan_Islamism) د غورځنګ پاڅېدل و، چې د عیسوي امپریالستي قواوو په مقابل کې یو پیاوړ ګواښ ګڼل کېده. روسیې او برتانیې دواړو په خپلو مقبوضه سیمو کې په ملیونو مسلمانان درلودل. د منځنۍ آسیا مسلمانان د افغانانو خواخوږي او بالقوه پارتیزانان وو او د اروپایي طاقتونو او ځواکونو له خوا د افغانستان خرابېدل او ویجاړېدل په هند او نورو ساحو کې جدي انګازې او عکس العملونه پیدا کول، نو ځکه افغاني حکمرانانو تر وسه پورې خپل ځانونه د مسلمانانو د پاچاهانو او د دین د مدافعینو په توګه تبلیغول.

د افغاني حکمرانانو د قوت یوه بله منبع په هند کې د افغاني او پښتني قبیلو موجودیت و، چې ځینو یې د هند او

افغانستان په پوله او نیمه خپلواك ډول ژوند درلود. افغاني پاچاهانو دا قبایل د افغاني سیمو د پراخولو او د افغانستان لپاره د سیمو د نیولو په برخه کې غوره ګڼل او که چېرې به دا قبایل په دې کار کې بریالي نه شول، چې دافغانستان لپاره دا شان کمایي وکړي، نو په دې حالت کې به هغوی غوښتل، چې د افغانستان او هند ترمنځ یوه حایله سیمه (Buffer Zone) منځ ته راوړي او په دې توګه د برتانویانو د مداخلې ضد واقع شي. په دې اساس افغانستان په ښکاره او پټه له دغو قبیلو سره د بریتانیا د سخت چلند په وړاندې مقاومت کاوه او د انګرېزي مداخلې د لارو چارو مخالف و. د سرحد پورې غاړې افغانانو دا ثابته کړه، چې د افغان او انګلیس جګړو په مهال ډېر ښه متحدین دي.

یو علت، چې افغانستان ولې د سترو ځواکونو څخه د یوه سره ائتلاف نه کاوه، دا و چې په اقتصادي لحاظ یې په ځان اتکا درلودله. هغه د هېڅ یوه خارجي او بهرني ملك تر قرض لاندې راغلی نه و. په اصولو کې افغاني واکمنانو ته قرض اخیستل د منلو وړ یوه مساله نه وه. که څه هم د بهرني تجارت غوړېدل او پرمختیا د کامیابۍ د یوې وسیلې په مانا برېښېدله، خو هغه د افغانستان لپاره حیاتي نه وو. که چېرې یو څوك ددې وخت د افغاني واکمنانو اقتصادي خودکفایي ته کتنه وکړي، نو په جوته معلومېږي، چې دوی په دې سبب هم په خپل ځان بسیا او خودکفا وو، چې د وسلو او د فابریکو لپاره د اړتیا وړ موادو په پیرودنه کې له هغوی سره بریتانیا

مرسته کوله او د ضرورت وړ دا شیان یې د سبسدي په توګه دوی ته ورکول. یو څه اندازه پیسې د عصري کېدلو په پروژو لګېدلې، خو دا پروژې دومره موثرې نه وې، چې د تجارت د ناسم بېلانس حالت اصلاح کړي او د افغانستان د بقا لپاره حیاتي خدمات سرته ورسوي.

سره ددې هم داسې کورنې عوامل موجود وو، چې افغاني واکمنانو ته یې دا واك ورکاوه، چې خپلې بهرنۍ اړیکې په بېطرفانه توګه پرمخ بوزي. په دې کې تر ټولو اهمه خبره د افغان ولس اسلامي احساسات وو. حتی امیر عبدالرحمان خان هم چې یو ډېر پیاوړی امیر ګڼل کېږي، نشول کولای چې دا دیني احساس په پام کې ونه نیسي. امیر خپل سیالان ټول مات او د مذهبي علماوو قدرت یې له منځه یووړ او ټول مذهبي او روحاني موسسات یې شخصاً تر واك لاندې راوستل خو حتی دده په خپل قدرت کې هم محدودیت موجود و. امیر عبدالرحمن ددې اجازه ورکولی نه شوه، چې حتی څوك ډېر لږ شك وړي، چې ګوندې د ده سلطنت د انګرېزانو له خوا ورته میسر شوی دی او یا روسېي او بریتانیا ته د ملګرتیا ځ ګندونه وکړي، چې د افغانستان د ملي ګټو په اړوند یې ضروري محدودیت لاپسې زیاتوی شو. لکه چې امیر عبدالرحمن پخپله وایي: " که زه انګرېزانو ته لږه پاملرنه وښییم، نو زما وګړي به وایي، چې زه له کفارو سره ملګری یم او یا مې له کفارو سره تړون کړی دی او ما به تکفیر کړي او زما په مقابل کې به د جهاد اعلان وشي(۲۸)"

یو بل عامل، چې د افغاني بهرنۍ سیاست په برخه کې یې دویمه درجه اهمیت درلود . هغه د افغانستان په حاکمه بنسټ کې د ټاکلیو بېلانسونو او نظارتونو موجودیت و. د حکومت په مشورتي شورا کې داسې کسان شامل وو، چې پیاوړي مقامونه یې لرل او همدا شان د پوځي او مذهبي ډلو مشران، درباریان، د شاهي کورنۍ غړي او نورو یکې ونډه لرله. د امیر عبدالرحمن په زمانه کې دغې شورا مشورتي بڼه درلوده، خو په وروستیو کلونو کې یې یوه ټاکلې اندازه قدرت لاس ته راوړ. که څه هم انګرېزان په دې کې شکمن او هیښن وو، چې آیا امیر په شورا واك درلود یا ددې برعکس، خو هېڅ یوې ځانګړې ډلې په جوته توګه په ده قبضه نه لرله. همدا شان د هېواد د ټولو قومونو او قبیلو د استازیو او مشرانو څخه یوه لویه جرګه هم موجوده وه. دا جرګه د اضطرار په حالت کې جوړېدله، د مثال په ډول د جګړې د اعلان په منظور. داسې هم ممکن وو، چې دغې لويې جرګې دومره برلاسي نه درلوده او امیر کولی شول، هغه د ځان خواته واړوي.

د امیر حبیب الله د پاچاهۍ په دوره کې د ملیت پالو غوښتونکو د منځ ته راتلو شرایط جوت شول. په دغو غوښتونکو کې له یوې خوا "ځوان افغانان" شامل، چې یکې افغاني محصلان او ځینو پوځي شخصیتونو ګډون درلود او د سراج الاخبار مدیر او پیاوړی مبلغ محمود طرزي یې ځان خوا ته راکاږلي وو او له بلې خوا عنعنوي عناصرو لکه ملایانو او سرحدي قبایلو د امیر د ورور نصرالله خان سره تړاو درلود او د

نوموړي له لوري حمایت کېدل. برتانویانو دا ائتلاف د "جګړې ګوند" وباله، ځکه د هغې تمایل د لومړۍ جګړې په خوا وو. دې ایتلاف په حبیب الله خان زیات فشار واچاوه، خو نوموړی قانع نه شو، چې د بریتانیا په خلاف جګړه پیل کړي.

دا چې ځنګه د "جګړې ګوند" اغېزې او فشار په امیر باندې لږ شو، هغه د مخالفې ډلې د مشر انړېز پلنه روحیه وه، چې نه یې غوښتل د انګرېزانو په خلاف جګړه وشي او هم نوموړي مشر او دده قوي ډلې د سلطنت په حاکمه کړۍ کې ځای درلود، له همدې امله دې ډلې نه شول کولای، چې د خپل ځان او خپل واکمن د تباهۍ په قیمت له ټاکلیو پولو څخه واوړي.

د افغانستان د تاجرانو صنف په بېلابېلو علتونو نه شول کولی، چې د هېواد په حاکمه کړۍ باندې له بهرنۍ نړۍ سره د خپلو اړیکو له لارې نفوذ ټینګ کړي. د افغانستان یوه برخه تجارت د بهرنیو سوداګرو په لاس کې و، ځکه د هغوی سرمایه د افغاني سوداګرو څخه زیاته وه. دا هم حقیقت د، چې د افغاني کوچیانو اصلي کسب تجارت و، چې د مهاجرت په مهال یې د هند لیرې ځایو ته سفر وکړ. د دوی سوداګري، د دوی لپاره غوره وه، خو په افغاني اقتصاد کې یې حیاتي ونډه نه لرله، نو په دې اساس بهرني تجارت د ګډوډو بدلونونو تابع و، چې له روسیې او هند سره یې د تجارت پراختیا پرمخ وړلی نه شوه.

افغـاني واکمنـان د دغسـي سـتونزو او لاړو چـارو سـره لګـه پـوخ انحصـار، اضـافي ماليـاتو او د افغانسـتان سـرحدونو تـه د انـګريز او روس د اوسـپنې پټلـۍ د ترمينلونـو بايکـات او مقـاطعې سـره مخـامخ وو. داسـې معلومېده، چـې هغـوی د بـهرني غوربدلـي تجـارت لـه لارې د سمسـور او پرمختللـي افغانسـتان پـه ځای خـوار هېواد تـه ترجيح ورکولـه، ځکـه پـه دې حـالت کـې دوی تـه لـه ګواښ پرتـه د نفـوذ لار برابرېدلـه، پـه داسـې حـال کـې چـې کـه د تجـارت او بـهرني سـوداګرۍ پـه اسـاس پرمختـګ منځ تـه راغلـی وای، نـو کېدای شـو چـې د دوی قـدرت لـه لاسه ورکړي.

بـالاخره پـوځي ډلـه د بـهرنيو سياسـي پرېکـړو پـه برخـه کـې نفـوذ لرونکـي پـېژنـدل شـوي وه. پـه ولايتونـو کـې زيـاتره قوماندانـان د واليـانو لـه خـوا تـر نظارت لاندې وو. د نويـو وسـلو او مـهماتو وېش د پـاچـا لـه خـوا کنـټرول کـېده. د نـورو افغـاني ګروپونـو پـه شـان نظـامي قشـر پـه بـهرنيو اړيکـو تـه جـدي ګواښ مخـامخ کولـی نـه شـو. دا چـې افغـاني واکمنـان پـه بهرنـۍ پاليسـۍ کـې کاميـاب معلومېده، سبب يـې دا نـه و، چـې هغـوی زيـات او پـراخ محبوبيـت ګټلـی و، بلکـې ددې امله و چـې دوی پـه افغانـانو کـې د بېطرفـۍ پـه اسـاس مشـهور او محبـوب و، پـه تېره بيا د پښتنو پـه منځ کـې، چـې د هـېواد اکـثريت خلـك دي، د هغـوی د زړه لـه کومـې پلويـان وو. دغـه عامـه ملاتـړ د حکومـت موقف پيـاوړی کړ او دا امکـان يـې منځ تـه راوړ، چـې بـهرنيان لـه افغانسـتان سره پـه چـال چلنـد کـې پرتـه لـه دې، چـې جـګړې تـه لاس وغـزوي، څه نفـوذ ترلاسـه کـړي.

## د افغـانـي بهرنـۍ پالیسـۍ هدفونـه:

د افغـاني بهرنـۍ پالیسـۍ هسـتوي سـتونزه د ملـي خپلواکـۍ ترلاسـه کـول او سـاتل و. پـه تېره پېړۍ کـې پـه دې اړونـد افغانـان بریـالي شـوي او دا د بـهرنیو مداخلـه کوونکـو او اشـغالګرو قـواوو پـه وړانـدې یـوه فـوق العـاده لاس تـه راوړنـه وه، چـې پـه ټول وخـت کـې یـې د مداخلـې وړتیـا درلودلـه. د بقـا لپـاره دغـې مبارزې افغانسـتان دېتـه اړ کـاوه، چـې خپـل ملـي تاسیسـات نـوي کـړي او پـه دې ډول د هغـو بـهرنیو قـواوو د یرغـل څخـه ځان بـچ وسـاتي. د ملـي خپلواکـۍ لـه هدفونـو سـره د افغانسـتان د عصـري کولـو تطـابق د بیـن المللـي ډیپلوماسـۍ یـو مثـال برابـروي.

دغـه لاس تـه راوړنـه د جغرافیـایي سیاسـي، کلتـوري، تـاریخي او سیاسـي فکتورونـو لـه نظـره اغېزمنـه وه. چـې د افغانسـتان بهرنـۍ اړیکـې یـې تـر نفـوذ لانـدې راوستلې. د افغانسـتان د مسـاحت نسـبي لـړوالی، کلتـوري محافظـه کـاري، پـه وچـه محـاط جدایـي، دینـي او قومـي ډولـه او قومـي پلـوه ترکیـب پـه غـوڅه تـوګه د بـهرني پالیسـۍ وړ شـرایط برابـر کـړي وو. ددغـو پـېچلتیـاوو سـره سـره افغـاني بهرنـۍ پالیسـي وړ شـرایط برابـر کـړي وو. ددغـوو پـېچلتیـاوو سـره سـره افغـاني بهرنـۍ اړیکـې پـه فـوق العـاده ثبـات وړانـدې تللـې. بـاندنیو او ننیـو بدلونونـو د ملـي امنیـت او اقتصـادي ژونـد لپـاره د ضـروري شرایطو هسته بدلـه کـړې نـه وه، نـو پـه دې تـوګه پـه بیـن المللـي

مسالو کې اوسنۍ مثبته بېطرفي زياتره د تېر وخت د ترسره شوي ګوښه توب نتيجه ګڼل کېږي(۲۹).

## د بهرنۍ پالیسۍ پړاوونه:

د معاصر افغانستان د بهرنيو اړيکو په اړوند درې پړاوونه مشخص کېږي:

الف: تجريد (۱۸۸۰_۱۹۱۹).

ب: بيطرفي (۱۹۱۹_۱۹۴۶).

ج: فعالانه ونډه (له ۱۹۴۶ څخه تر دې مهاله).

## تجريد (ګوښه توب)، ۱۸۸۰-۱۹۱۹:

په دې دوره کې امير عبدالرحمن او دده ځای نيونکي امير حبيب الله دا غوښتنه وه، چې افغانستان د ځواکونو د سيالۍ څخه ګوښه او ليرې وساتي. امير عبدالرحمن خان په دې پوهېده، چې دده د پاچاهۍ موجوديت په دې واقعيت تړلی، چې برتانوي هند او روس د افغانستان پولو ته نږدې شوي او دی د دوی د جدايي او ليرې ساتلو يوه وسيله ده. ياني د امير سيمه (افغانستان) د دواړو ځواکونو ترمنځ د يوه حايل په توګه ګڼل کېږي. نو په دې اساس دغه ستراتژيك موقعيت د امير لپاره غوره و او دواړه سيال ځواکونه يې د يو بل څخه لرې ساتل. هغه مهال، چې روسيه لا د آمو څنډو ته رسېدلې نه وه، موافقه يې وکړه چې د دو د ګټو د ساحې حدود د سويل لور ته د آمو درياب غاړې وي او دا حدود په رسميت پېژني. په افغانستان باندې، چې بريتانيا ته مخامخ کنترول سخت او په

لوړه بڼه تمامېده، په دې هیله و، چې یو خپلواك افغانستان او تر یوې اندازې پیاوړی افغانستان ومني (نه د بر زیات قوي) چې هغه له روسیې سره د ټکر مخنیوی وکړي او یو مانع وګرځي. بریتانیا هیله درلوده په غیر مستقیمه توګه او د امیر سره د یوه اتحاد له لارې کنټرول وکړي، خو په دې اتحاد کې به امیر د یوه لاس لاندې متحد بڼه ولري، خو د دواړو امپراتوریو پالیسي ګانې، د جګړې او سولې تصمیم او د افغانستان خپلواکي د عبدالرحمن خان په بڼه نیت او همکاری ترلې وه. په دې اساس د افغاني واکمن دنده روښانه وه، یانې د دوو ځواکمنو امپراتوریو او ځواکونو ترمنځ د یوه خپلواك افغانستان ساتنه د حایل په توګه. امیر عبدالرحمن خان په دې پوه شو، چې دواړو امپراتوریو، چې د افغانستان په اړوند یې د یوه حایل هېواد په توګه موافقه کړې، دا توان لرلی شو، چې دده ملك سره هم ووېشي. د یوه خپلواك حایل دولت موجودیت ددغه زمانې یوه غوښتنه وه، خو د هغې ګاونډیانو ته حیاتي نه ګڼل کېده.

د امیر لیکنې او په دربار کې دده د بهرنۍ پالیسۍ اعلانونو درې حقایق لرل:

۱ـ دملي خپلواکۍ ټینګار او غوښتل

۲ـ په ګوښه توب او تجرید ټینګار

۳ـ د قوې او ځواك د بېلانس هڅونه.

## د ملي خپلواکۍ غوښتل:

امیر عبدالرحمن تل خل ځان د یوه داسې خپلواک افغانستان واکمن باله، چې دده شخصي ګټې پکې نغښتې وې او دا ګټې ده د ملي ګټو سره یو شان ګڼلې. ده ډېر ژر د خپل قراردادي مکلفیت په بیانولو پیل وکړ یانې دا چې له بریتانیا پرته له بل هېواد سره به بهرنۍ اړیکې ونه ساتي او که کله دغسې بهرنۍ اړیکې ټینګول غواړي، نو به په دې اړوند د هند برتانوي حکومت ته دمخه اطلاع ورکوي. ورپسې عبدالرحمن خان د هند د حکومت د مشورې تر اخیستو وروسته دا ټینګار وکړ، چې تر خپل لاس لاندې کارونو کې به خپله مستقله پرېکړه کوي.

همدا شان امیر دا حقیقت نه لیده، چې ده ته د بریتانیا د مرستې رسېدل په واقعیت کې دده په پاچاهۍ او خپلواکۍ تېری ګڼل کېږي. ده د بریتانیا مرسته د داسې اتحاد یوه نتیجه شمېرله، چې په هغې کې دواړه برخه وال په شریکو ګټو کې د یو بل همکار دي، یانې چې د روسیې له یرغل څخه د خپلې خاورې ساتنه او دفاع کوي. امیر عبدالرحمن د هېچا خدمتګار نه و([30]).

## په ګوښه توب او تجرید باندې ټینګار:

د امیر عبدالرحمن خان د بهرنۍ پالیسۍ غوره بنه د تجرید او ګوښه توب باندې د هغه ټینګار و. له کریفین سره دده د موافقې له مخې نوموړي له روسیې او پارس څخه جلا

شـوی و. د برتانیـا حکومـت دا هیلـه درلـوده، چـې تـر احسـان لاندې امیر بـه پـه غـیر ضـروري خـارجي مسـالو کـې هـم هدایـت منونکـی وي او دا چې د یـوه مشـترك دښمـن پـه لرلـو سـره بـه د برابـرو شـریکانو پـه حیـث یـو ډول سـوله یـیز مداخلـت تـه لاره هـواره کـړي. دا د امـیر عبدالرحمـن مـهارت و، چـې د ملګرتیـا پـه چوکـاټ کـې د بریتانـا لـه خـوا دده "د تـر لاس لاندې کولـو" پـه وړاندې مقـاومت وکـړي او دده پـه قلمـرو کـې د هغـو د نفـوذ مخـه ونیسـي، خـو دا مقـاومت تـر هغـې انـدازې نـه وي، چـې بریتانیـا دېتـه ولمسـوي، چـې خپـل راضـي متحـد محـوه کـړي. د امـیر بریـالیتوب پـه دغـه نـابرابر یووالـي کـې د خپـل شـریك (بریتانیـا) څخـه لـیرې والـي او ګوښـه تـوب و او دا د امـیر د خپلواکـی پـه ساتلو کې غـوره عـامل ګڼل کـېده.

لـه بریتانیـا څخـه د امـیر د ګوښه تـوب بـل علـت دا و، چـې هغـه د بریتانیـا لـه خـوا د پـوځي افسـرانو او پوځیـانو د اسـتول کـېدو خـبره او یـا د جـګړې د غـوره وسـیلو لکـه د اوسـپنې پټلـی د غزېدلـو او تلیـګراف د مزیـو د غزیدلـو کـار د هـېواد دننـه ونـه منـل.

## د قوې د بېلانس هڅونه:

د نولسـمې پـېړۍ پـه پـای کـې افغـاني بهرنـی پالیسـي د امـیر د کـړو وړو، اعلامیـو او تـر ټولـو دمخـه د هغـه لـه خپلـې بیوګرافـی (د هغـه سیاسـي وصیـت لیـك) څخـه پـه سیسـتماتیکه تـوګه لیـدل کېدلـی شـوه. امـیر تـه د قـدرت سیاسـي حـالت جـوت

و. روسیه دده د دوو نورو ګاونډیانو څخه زیاته یرغلګره وه. هغې غوښتل، چې افغانستان، عثماني ترکیه او پارس درې واړه نابود او سمندر ته لاره پیدا کړي.

بریتانیا د روسیې خیالات او نیت د خپلو ماورای بحار او د سمندر پورې غاړو مقبوضاتو او د قدرت توازن ته یو ګواښ ګڼل. د روسیې د یرغل د مخنیوي په اړوند بریتانیا دا ګټوره بلله، چې د روس په سویلي پولو کې پیاوړي اسلامي دولتونه موجود وي. په دې توګه اسلامي دولتونو د خپلې خپلواکۍ د ساتلو په هڅه کې له بریتانیا سره د منافعو یوه ټولنه درلودله او غوښتل یې، چې د بریتانیا په اتحادیه کې وي.

څرنګه، چې بریتانیا هم د یوه ملت په توګه و، نو د اسلامي دولتونو د یوې ټوټې مځکې پر سر یې د روسیې د یرغل په اړه د خپلې مرستې په برخه کې "منځ لارې" پالیسي ته اړتیا لرله، یانې له هغو سره بریتانیا ترون درلود نه دا چې له هغوی سره بېخي پیوستون او امتزاج وکړي او د روسیې دښمني واخلي او هغه تېري ته وهڅوي، بلکې داسې یو توازن وساتي، چې که افغانستان بېطرفه نه وي، خو خپلواک پاتې شي.

له اسلامي ټولنو سره د امیر عبدالرحمن اړیکې لږ تر لږه د پان اسلامیزم (سراسري اسلام) په نظریاتو ولاړې وې. څرنګه افغانستان د هغو ګوتو په شمېر هېوادو په ډله کې و، چې په مستقیمه توګه د بهرني کنټرول لاندې نه و راغلی، نو ځکه د منځنۍ آسیا او هند مسلمانانو د هغه څخه د مرستې تمه

کوله او که جهاد ته یې وبولي، دده سره ترڅنګ ودرېږي. افغانستان د خپل ځان د قوي کولو او نورو ته دقوت ورکولو لپاره مجبور و، چې د پان اسلامیزم (سراسري اسلام) داعیه وهڅوي.

امیر عبدالرحمن خان کله، چې په منځنۍ آسیا کې د تبعید ژوند کاوه، نو دا وخت د روس په نظریو باندې ښه پوه شوی و. دده په نظر روسیې دا پالیسي درلوده، چې "په رښتیا یا دروغو، په ملګرتیا یا نه ملګرتیا، په سوله یا جګړه د آسیا مسلمان سلطنتونه ددې قارې له مخ څخه ورك کړي[۳۱]" روسیې غوښتل، چې یا خو پارس، ترکیه او افغانستان جذب او خپلې ته واچوي او یا د دوی ملګرتیا حاصله او د ځان لور ته راوکاږي. که چېرې په دې توګه یې کامیابي نه شوای ترلاسه کولی، نو هغې به دا هېوادونه د بریتانیا په خلاف پاڅول او د هغو د پاڅون او دښمنۍ په نتیجه کې روسیې بیا له بریتانیا سره د هغو په ماتولو او درې ورې کولو کې مرسته کوله او په دې توګه به یې دا هېوادونه تر نیولو وروسته په خپلو منځو کې سره وېشل. امیر د افغانستان، ترکیې او پارس د یوې اسلامي اتحادیې د جوړېدو وړاندیز وکړ، چې دواړه غټې امپراتورۍ له یو بل څخه جلا کړای شي او "نه روسیه او یا انګلستان د هغو خاورې لاندې کړي" ده وویل، چې په دې پالیسۍ سره د دواړو ستړو طاقتونو ترمنځ د قوې انډول خوندي پاتې کېدلی شي.

د عبدالرحمن لـه مړینې وروسته دده زوی حبیب الله په تخت کېناست. روسیه د خپلو داخلي او خارجي مجبوریتونو په سبب مجبوره وه، چې د شرایطو سره ځان عیار کړي. په عملي لحاظ افغانستان روسانو ته یو داسې حایل دولت و، چې د هغه بهرنۍ اړیکې په هوسایۍ سره د بریتانیا په واك کې وې او په (افغان ـ روس) سرحد کې یې په غیر سیاسي چوکاټ یو څه اړیکه درلوده، ددې څخه سوا د هغه ټولې بهرنۍ اړیکې د برتانوي هند د حکومت په لاس کې وې.

حبیب الله هغه پاتې چارې ترسره کړې، کومې چې د طبیعي حایل څخه د سیاسي حایل په توګه د افغانستان د بیولو په اړوند موجودې وې. ده په بري سره د انګرېزانو له خوا د هغه د سلطنت د تایید په باب فشار لړې کړ او خپل ځان یې د یوه خپلواك پاچا په توګه وپېژاند (د ۱۹۰۵ تړون په اساس. د ۱۹۰۷ کال د تړون لـه مخې دده د ډپلوماسۍ حالت د بېطرفۍ په لور لاړ. همدا شان ده د روس او بریتانیې د هغو هڅو مخه ونیوله، چې په پټه سره کوم څه امتیازات لاس ته راوړي.

دغه لړ پېښو افغانستان د یوه ربښتیاني حایل دولت په ډول بشپړتیا ته ورساوه او د تجرید او ګوښه توب پالیسي یې هغه وخت پای ته ورسېدله، چې حبیب الله خان د جرمني او ترکیې د وړاندیز په وړاندې بېطرفه پاتې شو. بیا هم د پوره خپلواك او واکمن دولت مساله تر ۱۹۱۹ کال پورې، چې امان الله د خپلواکۍ اعلان وکړ، پاتې شوه.

## بېطرفه کړنلاره (نیوترالیزم):

د ۱۹۱۹ کال د اپریل په ۱۳ کله چې د انګرېز استازي حاضر و، امان الله شاه په دربار کې اعلان وکړ، چې:

"زه خپل خان، خپل هېواد په داخل او خارج کې په بشپړه توګه مختار او خپلواك اعلانوم. تر دې وروسته به زما دولت د نړۍ د نورو دولتونو په شان یو مستقل او خپلواك دولت وي. هېڅ یو خارجي دولت ته به اجازه ورنکړل شي، چې د افغانستان په کورنیو او بهرنیو چارو کې لاس ووهي. که چېرې کوم ثوك دا کار وکړي، نو زه حاضر یم، چې په دغه توره ي مرۍ پرې کړم([۳۲])".

نو په دې ډول د پاچا امان الله غوښتنه د بین المللي اړیکو په لاربنوونه کې په ښکار بیخي خپلواکه او ازاده وه. امیر امان الله محمد ولي خان په بوخارا Bokhara کې د یوه لومړني ګام په توګه د استازي په حیث وګوماره. امان الله هوډ وکړ، چې د خپلواکۍ دا شان څرګندونو ته دوام ورکړي او د پارس لپاره د یوه سفیر د ټاکلو په باب یې د خپلې شورا سره سلا مشورې او خبرې اترې پیل کړې.

له بریتانیا سره اړیکې له خرابې څخه ډېر ناوړه حالت ته ولاړې. امیر یو فرمان صادر او په سرحدي سیمو کې یې ووېشه، چې پکې له قبایلي خلکو څخه غوښتنه شوې وه، چې په هند کې راپورته شي. ددې فرمان په متن کې راغلي وو، چې:

"زه د ټولو ختيځو رعاياوو بانفوذه ډلو ته، چې هغه سيدان، شيخان، ملايان، خانان او معتبرين دي دا حكم استوم او تاسو ته وايم، چې په هند كې ډېره ناكراري ده. مسلمانان او هندوان ټول وفادار پاتې دي... خو افسوس، چې په هغو ظلم كېږي او د هر ډول ناروا او بې عدالتۍ سره مخامخ دي، دا ناروايي د دوی د مذهب، پت او عزت په برخه كې ده(۳۳)"

كله چې بريتانيا د امان الله په پلان پوه شوه، چې د امپراتورۍ په خلاف يې جګړه اعلان كړې، نو دا وخت لارډ چلمسفورډ د سولې تكل وكړ. د ۱۹۱۹ كال د جون په ۱۱ امان الله د بريتانيا د متقابلو سوله ييز هڅو د پېشنهاد هركلي ته تيار شو، خو يادونه يې وكړه، چې افغانانو په تېر وخت كې د ايمان په زور تېري كوونكي مات كړي او افغانستان د هېڅ يوه بهرني قوت اطاعت ته غاړه نه ږدي او د انقياد ژوند نه مني. كله چې خبرې اترې كاميابۍ ته ونه رسېدې، دريم افغان او انګليس جنګ پيل او لويه بريتانيا يكې له ماتې سره مخامخ شوه.

د افغان او انګليس دريم جنګ د بين المللي حالاتو بدلون او تغيراتو ته منسوب ګڼل كېدلی شي او په زياته اندازه د داسې عواملو لكه افغاني، سراسري اسلام (پان اسلاميزم) او د بريتانيا د يرغل د وېرې تابع وو. د لومړۍ نړيوالې جګړې په پای كې نړيوال ډګر په بنيادي توګه بدل شوی و. د روسيې انقلاب د شمال له لوري فشار پای ته ورساوه. د روسيې ننۍ

پاشلتیا او د خپلواکۍ او ځاني حکومت لپاره د مسلمانو وګړیو پاڅون روسیه په کورنۍ کشاله ګډ بوختـه کړې وه. د لومړۍ جګړې په پای کې بریتانیا ډېره کمزورې او په هند کې مظاهرو، پاڅونونو، اله ولو او د امرتسر عامه وژنې پراختیا موندلې وه.

د متحدینو له خوا د عثماني امپراتورۍ ماتېدل او د انګرېزانو له خوا د هغې نیول او د مسلمانانو په مقدسو اماکنو کې د هغه مداخله په افغانانو کې د بریتانیا په خلاف سخته کرکه وپاروله. د بریتانیا سره د افغاني پالیسۍ بنسټ په دې واقعیت ولاړ و، چې د برتانوي هند او افغانستان ترمنځ د ګټو یوه ټولنه موجوده ده. د جګړې ګوند (دمخه یې بیان شوی دی) او د بریتانیا پلوه ګوند (د افغانستان دننه، چې ذکر یې د امیر حبیب الله په برخه کې وشو) ترمنځ د نظریو توپیر دومره زیات نه و، یوازې د هر یوه کړنلاره دا وه، چې په یوه طریقه سره د افغانستان ګټې په ښه توګه ترسره شي.

افغانان د انګرېزانو په وفادارۍ باندې باوري نه وو، ځکه هغوی به چې هر وخت موقع بیاموندله، نو هرومرو به یې فارورډ پالیسي یا د مخ په وړاندې تګ سیاست غوره کاوه. د انګرېزانو په خلاف کرکه هغه وخت نوره هم زیاتېدله، چې د برتانوي هند عسکر به قبایلي سیمو ته د سزا ورکول کېدو لپاره استول کېدل (پښتونستان یا شمال لویدیز سرحدي سیمو یا صوبه سرحد ته).

کله چې امان الله په تخت کېناست، نو دا وخت په کابل کې سیاسي فضا بدله شوې وه. د دیموکراسۍ، نشنلیزم، اسلامي پیوستون، خود ارادیت او سوسیالیزم نظریو افغانستان ته نفوذ وموند. سراج الاخبار د نشنلستي افکارو په خپرولو سره نوې نظریې هېواد ته راوړې او د افغانستان د روښان فکرۍ تجرید یې مات کړ. افغان اول د ورځې په مسالو کې اخته شو، چې هغه د اسلام سرنوشت او د خپل ملت راتلونکې وه.

د نړۍ د اقتصادي او صنعتي بدلونونو سره سم، افغاني اصلاحات غوښتونکي د ټولنيزې او اقتصادي بقا په فکر کې شول. هغه وخت، چې امان الله خان د بهرنیو کړکېچونو څخه وزګار شو، نو په افغاني دپلوماسۍ کې یې نشنلیزم او عصریت دواړه یوځای کړل. د ۱۹۲۰ کال راپه دې خوا افغانستان هڅه وکړه، چې پیاوړي ملتونه د پرمختیایي مرستې ورکولو ته راوکاږي. ددغې ستراتېژۍ د لبیك په منظور په ۱۹۲۰ کې له فرانسې او ترکیې او په ۱۹۳۰ کې له جرمني، ایتالیې او جاپان څخه ځوابونه راورسېدل، خو سره ددې ددغو لیرې پرتو ملتونو علاقه مندي یوازې د خارجي تجارت او پوهنې د پراختیا په ساحو کې وه.

خو په دې مرستې کې هم اغېزې موجودې وې. د افغاني خپلواکۍ بې وسي هغه وخت په دردمنه توګه جوته شوې وه، چې په دویمه نړیواله جګړه کې روسانو او انګرېزانو په دې ټینګار وکړ، چې د افغانستان بېطرفي د جرمنیانو، ایټالویانو او جاپانیانو په اخراج سره باید نقض شي. مخکینۍ افغاني

اقتصادي وده هغه مهال له اخلال سره مخامخ شوه، چې د افغاني کورنیو صنایعو توانمندي د بهرنیو صنعتي مالونو په مقابل کې په چټکۍ سره راښکته شوه او په بهرنیو مالونو کې د ګټې له امله کورنۍ صنایع دشنډېدو خواته ولاړل. د بهرنیو ځواکونو ددې فشار سره سره بیا هم افغانستان په خپله بېطرفۍ او استقلال کې ټینګ او نه بدلېدونکی پاتې شو.

## مثبته بېطرفي او د ناپېیلتوب څرګندېدل:

د دویمې نړیوالې جګړې وروسته د نویو دولتونو په پیدا کېدو سره ددنیا نقشه بدله شوه. دغو نویو خپلواك شویو دولتونو هوډ وکړ، چې د خپل ځان لپاره مستقله تګلاره ولري او د قدرت د بلاکونو (Power Blocks) څخه جلا پرمخ ولاړ شي. افغانستان هم په غوڅه توګه ددې هېوادونو لاره غوره او په خپله بېطرفۍ او ملي خپلواکۍ باندې ټینګ پاتې شو. د روس او امریکا سوړ جنګ هم په نویو خپلواك شویو او څرګند شویو هېوادونو په ګټو باندې اغېزه درلوده، ځکه اقتصادي مرستې د ارتباطي اړیکو توګه سره ترلاسه کېدلې شوې او ددې ډول کومکونو اخیستل نویو خپلواك شویو هېوادو ته یو ډېر سخت انتخاب وو یانې (چې د کوم یوه بلاك څخه یې واخلي او په کوم یوه کې ورته خطر یا ګټه څومره ده. دا نوي ملکونه د پاڼ او پړانګ په منځ کې و. مترجم) له بلې خوا په دې وخت کې د شوروي اتحاد په مقابل کې د بېلانس د برابرولو لپاره د انګرېز په ځای د امریکا متحده ایالات

درېدلي و. دې ډول شرايطو صدراعظم محمد داود ته دا موقع په لاس ور کړه، چې د ټولو مراکزو څخه مرستې ورته راشي (۱۹۵۳_۱۹۶۰)([24]).

وروسته د شوروي اتحاد او امريکا په منځ کې د مرستې د ورکولو پر سر سيالي راغله، چې د ۱۹۶۰ کال وروسته اوج ته وختله او هر يوه په ازادو شرايطو د مرستې ورکولو ته ورودانګل. په دغې سيالۍ پسې د لويديځ اروپا لکه جرمني، فرانسې، بريتانيا، جاپان او چکوسلواکيا پياوړې تجارت او مرسته پيل شوه. غوره اسيايي هېوادو لکه د چين ولسي جمهوريت، هند، ايران، پاکستان او د عربي متحده اماراتو هم د مرستې ورکولو ته اقدام وکړ.

اسيايي او افريقايي ناپېيليو هېوادونو د اسلامي دولتونو په ګډون له افغانستان سره د دريمې نړۍ د يوه متعهد په توګه علاقه مندي وښووله. په دې وخت کې د يادونې وړ خپرونې د اروپايي امپرياليزم او نوي استعمار غندنه، د پرمختيايي هېوادو سره په ښو شرايطو د سوداګرۍ کول او په سيمه ييزو بېلا بېلو پرمختيايي هڅو کې د ملګرو ملتو د نمايندګيو او ځانګو د ونډې اخيستنې په باب وې، نو دا طبيعي وه، چې د غو نويو خپلواک شويو هېوادونو بايد د ناپېلتوب لاره غوره کړې وای.

د پښتونستان مساله د افغانستان په بهرني سياست کې يوه غوره موضوع وه. د هند د ارت ملك د وېش په وخت کې د برتانوي هند اوافغانستان ترمنځ د ديورند په کرښې تجديد

نظر او د پاکستان د یوه خپلواك دولت غوښتنه هغه مسالې وې، چې له یو بل سره يې اختلاط موندلی و. افغانستان په دغه بین المللي موجوده کرښه خوښ نه و او تل یې دا ارزو په زړه کې روزله، چې یو شمېر سیمې د خپلې خاورې سره گډې کړي(۳۵). څرنگه، چې دا خبره د انگرېزانو خوښه نه وه، نو ځکه افغانستان د پښتونستان د یوه خپلواك دولت د جوړېدو ملاتړ ته لاس وغزاوه. وروسته دا خبره د ملگرو ملتو په غونډو او د ناپیېلو هېوادو په کنفرانسونو کې په پرله پسې توگه تعقیب شوه.

## منابع او ماخذونه:


۱ـ ارتور. اس. بنکس، د نړۍ () ۱۹۷۹، نیویارك، ۴۱ مخ.

۲ـ د افغانستان د بازار د سروې رپوټ( (نوي ډیلې)، لومړی مخ.

۳ـ محمد حسن کاکړ، د افغانستان د معاصر تاریخ تگلارې، افغانستان په ۱۹۷۰ یمو کلونو کې (نیویارك، ۱۹۷۳) مخ ۱۳ـ ۱۴.

۴ـ اصغر. اچ. بلگرامی، افغانستان او برتانوي هند، ۱۷۹۳ـ۱۹۰۷ (نوی ډیلی، ۱۹۷۲) لومړ مخ.

۵ـ لوئیس دوپری، افغانستان (نیوجرسي، ۱۹۷۳)، مخونه ۱۷-۱۸.

۶ـ هاریش کپور، شوروي روسیه او اسیا، ۱۹۱۷ـ۱۹۲۷ (جینوا، ۱۹۶۰)، مخ ۲۱۳.

۷ـ دوپري، پنځمه شماره پورته اثر، ۱۸ مخ.

۸ـ بلگرامی څلورمه شماره پورته اثر، مخ ۴.

۹ـ جي. ان. مولیس ورت، افغانستان ۱۹۱۹، (بمبی، ۱۹۶۲)، مخ ۳

۱۰_ همدا اثر، مخ ۴.

۱۱_ اچ. ای. اس. جفري، افغان _ اهد اريکې، ۱۹۴۷_۱۹۶۷ (ډيلي ۱۹۷۶)، مخ ۲.

۱۲_ د تفصيل لپاره وګورئ د الفنستن د کابل سلطنت بيان (لندن، ۱۸۱۵).

۱۳_ کپور، پورته شپږمه شماره، مخ ۲۱۳.

۱۴_ همدا اثر.

۱۵_ د جګړې د تفصيل لپاره وګورئ د سر پرسي سايکس اثر، د افغانستان تاريخ، دويم ټوك (لندن، ۱۹۴۰)، مخ ۳۴_۳۵.

۱۶_ دوپري، پورته پنځمه شماره، مخ ۴۲۶.

۱۷_ همدا اثر.

۱۸_ لودويك، ډبليو. ادمك، افغانستان ۱۹۰۰_۱۹۲۳ (کليفورنيا، ۱۹۶۷)، مخ ۱۵.

۱۹_ همدا اثر.

۲۰_ جي. ان. کرزن،پارس او د پارس مساله (لندن، ۱۸۹۲). کح ۴.

۲۱_ م. امين. واکمن، د ناپېليو هېوادو په کنفرانسونو کې د افغانستان ډيپلوماسي (۱۹۶۱_۱۹۷۶) (ناچاپ تيزس د ام فل لپاره، جواهر لعل نهرو پوهنتون، نوي ډيلي، ۱۹۷۸)، مخ ۱۲.

۲۲_ همدا اثر، ۱۴ مخ.

۲۳_ لودويك، پورته اتلسمه ګڼه اثر، مخ ۲.

۲۴_ بلګرامی، پورته څلورمه ګڼه اثر، مخ ۲۴۳.

۲۵_ د ۱۹۰۷ کال د موافقتنامې لپاره وګورئ، ار. پي. چرچل، د انګليس او روس د ۱۹۰۷ کال تړون (ايووا).

۲۶_ کپور، پورته شپږمه ګڼه اثر، مخ ۲۱۴

۲۷_ ادمك، پورته اتلسمه شماره يا ګڼه، مخ ۲.

۲۸_ میر منشي، د عبدالرحمن سوانح (n.p., n.d) مخ ۱۱۷.

۲۹_ منشي، همدا پاس ۲۸ گڼه اثر، ۱۱۵ مخ.

۳۰_ ریچارد اس، نیوپل، افغانستان په ۱۹۷۰ یمو کلو کې، (بهرنۍ اړیکې) (د کارنل پوهنتون چاپ، ۱۹۳۲)، ۷۶ -۷۷ مخونه.

۳۱_ همدا اثر، ۲۶۰ مخ.

۳۲_ د دوپري څخه اقتباس، پنځمه گڼه پاس اثر، ۴۴۲_۴۴۳ مخونه.

۳۳_ همدا اثر.

۳۴_ نیوپل، پورته ۲۹ گڼه، ۷۸-۸۰ مخونه.

۳۵_ دا سیمې د اتلسمې پېړۍ په نیمایي کې د درانیو د امپراتورۍ یوه برخه وه.

ACKU

## دویم فصل:

# د افغانستان بهرنی سیاست او د ناپیلتوب د غورځنګ منځ ته راتګ

### د ناپیلتوب د غورځنګ تدریجي بدلون او وده:

په بین المللي سیاست کې د ناپیلیتوب رامنځ ته کېدل د دویمې نړیوالې جګړې وروسته یو غوره پرمختګ ګڼل کېږي. "د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې له سترو ځواکونو سره د وړو ملکونو د اړیکو په اړه د ناپیلتوب اصل دومره ستره اغېزه لرلې نه ده([1])" د دویمې جګړې په پای کې د دنیا په سیاست کې په نوي ډول اړیکې پیل کېږي، چې د هغې په اساس د نړۍ قدرت په دوو بلاکونو ووېشل شو، چې هر یوه بلاك مشري د شوروي اتحاد او د امریکا د متحده ایالتونو له خوا په جلا جلا توګه پرمخ بیول کېږي. همدا شان په دې دوره

کې په آسیا او افریقا کې د استعمار څخه د آزادېدو عملیه سترګو ته راځي. دوارو سترځواکونو داسې هیاتونه او مبلغین وګومارل، چې نوي خپلواك شوي هېوادونه خپلو مربوطو کړیو ته راوکاږي. د سترځواکونو سیالي دا مفکوره ذهن ته راولي، چې ځینو ټاکلیو خپلواك شویو هېوادو دا هوډ کړی نه و، چې په کوم یوه بلاك کې داخل ش او غوښتل یې، چې د نورو هېوادونو سره د اړیکیو ټینګولو په برخه کې خپله آزادي وساتي. دې ډول کړنلارې ته بېلابېل تعریفونه لکه "نه تعهد کول"، "نه ګډېدل"، "بېطرفي" او یا "بېطرفانه لار" موجود دي.

جواهر لال نهرو ته دا کریډیټ ورکړل شوی، چې د ناپېلتوب اصطلاح یې په ۱۹۴۶ کال کې کارولې ده(۲).

ده دا مفهوم په دې ډول بیان کړ: "موږ وړاندیز کوو، چې د ممکنه حده دې هڅه وشي، چې د طاقت غوښتونکیو او د قدرت سیاست غوښتونکیو ډلو څخه ځانونه لرې کړو او دا هغه قدرت زیاتوونکې ډلې دی، چې په دوو تېرو نړیوالو جګړو کې یې د یوه او بل په خلاف اتحادیې جوړه **ول** او په پراخه پېمانه مصایب یې منځ ته راوړي وو(۳)" په ۱۹۴۷ کال د یوه خپلواك دولت په حیث د هند ډګر ته راوتل: "د استعمار ضد انقلاب د پیلامې شاهد دی او د جګړې وروسته نړۍ کې یې د ناپېلیو هېوادو د جوتېدو مخکې هم لرلې ده(۴)"

## د ناپیلتوب تدریجي وده او بدلون:

د ناپیلتوب مفکوره په یوه وار منځ ته راغلې نه ده. د ناپیلتوب وده د نویو خپلواک شویو هېوادو د تجربې په نتیجه کې د وخت په تېرېدو سره میسر شوه. د نړیوالې جګړې په پای کې یوازې څو بېطرفه یا د بېطرفی کړنلارې لرونکې دولتونه موجود وو. خو نه ناپیلي دولتونه(د). د ناپیلتوب پالنه په دریو وروستیو لسیزو کې شوې او "هغه داسې یوه عملیه ده. چې په هغې کې د ناپیلو هېوادو او دولتونو څرګندونې، تجربې، له بلګراد څخه تر هاوانا پورې د مشرانو د کنفرانسونو په ترڅ کې ددې غورځنګ نظریو او آیدیالونو او هدفونو غوره رول سرته رسولی دی(۶)"

د ناپیلتوب پرله پسې وده د مخکینیو نظریو او ددې دولتونو ترمنځ د مخکینیو سلا مشورو له مخې ترسره شوې نه ده، بلکې هغه ددغو هېوادو د ګډو هیلو، آرمانونو او تجربو نتیجه ده، چې هر یوې په بېلابېلو درجو لرې. جمهور رئیس سوکارنو په ۱۹۶۱ کال کې د بلګراد په غونډه کې دا موضوع په ښه توګه په لاندې ډول خلاصه کړه:

"زموږ په منځ کې د ناپیلتوب په اړوند کومې مخکینې سلا مشورې او پریکړې شوې نه دي، بلکې موږ هر یو دمخه په جلا جلا توګه د ناپیلتوب کړنلاره غوره کړې ده. موږ چې دا پالیسي غوره کړې، ددې علت د ګډو او ورته شرایطو او تجربو او ارمانونو کې منځ ته راغلی. زموږ په منځ کې د

روغـې جوړې کومـې هـڅې شـوي نـه دي او هـم داسې کـوم تکـل موجـود نـه و، چـې زمـوږ د پاليسـو د يـو شـان کولـو لپـاره د کـوم يوه هېواد نـه ګډون پـای تـه ورسـول شـي. زمـا پـه خيـال مـوږ هـېڅ يـو بـه لـه دې څخـه انکـار ونـه کـړو، چـې لـه يـو بـل څخـه بـه مـو الـهام اخيسـتی وي. د يـوه هـېواد تجـربې ښايـي پـه دې اړونـد، چـې نـاپېلتـوب د ملـي او بيـن المللـي امنيـت ضمـانت کوونکـی دی، د بل هېواد لپـاره هـم پـه دا شـان لـه شـك پرتـه مرسـته کـوي، چې ورتـه نتيجې تـه ورسـېږي(٧)".

نـاپېيلـي هېوادونـه د پېړيـو پـه اوږدو کـې د اسـتعمار تـرڅغ لاتـدې د ګډو تجربـو لرونکـی دی. اسـتعماري قـواوو ددغـو هېوادو لـه منـابعو څخـه د خپـل نفـوذ د زيـاتولو لپـاره اسـتفاده کـړې ده. لـه اسـتعمار څخـه تـر خپلـواك کېدلـو وروسـته دغـو هېوادونـو تـه د زوږ د سياسـت (Power Politics) چلوونکـو بلاکونـو کـې د غـړي کېدو وېره او خطـر معلـوم شـوی وو. د همـدې پـاملرنې پـه اسـاس و، چـې دوی پـه جـدي او زغـرده تـوګه لـه دغـو بلاکونـو څخـه ځانونـه لـيرې وسـاتي. دغـو هېوادونـو د نـاپېلتـوب پاليسـي غـوره کـړه، تـرڅو خپلـې سياسـي خپلواکـۍ تـه نـوې محتـوا او مفـهوم ورکـړي. د جميکـا پخوانـي صدراعظـم مـايکل مـانلي پـه همـدې حقيقـت ټينـګار کـړی او وايـي: " نـاپېيلـی غورځنـګ څکـه پيـل شـو، چـې بلاکونـه موجـود شـوي وو. دغـو هېوادونـو د زور او قـدرت د بلاکونـو لـه تشـکل سـره مخـالفت ښودلی، څکـه پـه هغـو کـې داسـې محدوديتونـه داخـل وو، چـې پـر نـورو هېوادو او د نـړۍ پـر سياسـي مـاحول بـاندې يـې تپـل(٨)".

## د بېطرفۍ او ناپېلیتوب مفهوم:

د ناپېلتوب اصطلاح لومړی ځل په ۱۹۵۳_۱۹۵۴ (۹) کې د و.ك. کرشنا مينن له خوا استعمال شوه. له ۱۹۴۷ څخه تر ۱۹۵۴ پورې د بېطرفۍ کلمه په قوورت رواج وه او هغې د ناپېليو هېوادونو خصوصيت افاده کاوه، خو بېطرفي او ناپېلتوب دواړه مترادف نه دي. د جګړې وروسته لومړيو کلونو کې د ناپېلتوب اصطلاح د بېطرفۍ سره يو شان ګڼل کېدله او لويديځ پوهان او سياست وال په دې اصطلاح سره ځورېدل (۱۰). سره ددې هم دواړه جلا اصطلاحات دي. په تېر وخت کې دواړه نومونه زياتره د يو بل په ځای استعمالېدل. "بېطرفي او يا د بېطرفۍ مکتب بايد هغې تاريخي پديدې ته وکارول شي، چې په نړيوال سيستم کې ورته غير متعهد ملتونه وايي او د دويمې نړيوالې جګړې څخه وړاندې د لويديزو طاقتونو تر نفوذ لاندې وو (۱۱)". بې طرفي په دوه ډوله ده. په لومړي سر کې بيطرفي د جګړې د قانون يوه نه بېلېدونکې برخه جوړوي. د هاګ کنوانسيونونو د هغې لپاره يو قانوني بنسټ برابر کړی و. دغه کنوانسيونونه د يوه بېطرفه حالت سپارښتنه او لارښوونه کوي، ترڅو چې په جګړه کې له برخې اخيستنې څخه ډډه وشي او د جګړې او وسله وال ټکر هيڅ لوري سره معاونت ونه نيسي.

دويم ډول بېطرفه حالت هغه دی، چې څلورو اروپايي هېوادونو لکه اترېش، فلنډ، سويزرلنډ او سويډن غوره کړی

د. دغـو هېوادونـو د جـګړې پـه دوران کـې بېطرفـه حـالت سـاتلی او دوی پـه داسـې تـوګه خپلـه بهرنـۍ پالیسـي وړانـدې بیولـه. چـې لـه دوی سـره پـه راتلونکـي کـې د بېطرفـه موقـف د سـاتلو سـره مرسته وکـړي.

ناپېلتـوب پـه یـوه عمومـي جـګړه کـې د یـوه نـه جـګړه کوونکـي هېواد بېطرفـي نـه ده. دا د سـویس او اتریـش پـه شـان بې‌طرفـي نـه ده. چـې د نـورو ملتونـو لـه خـوا د یـوه تـړون پـه تـرڅ کـې تضمیـن کـېږي([12])" د نـاپېلتـوب مفـهوم لـه بېطرفـۍ او یـا د بېطرفـۍ د مکتـب Neutralism څخـه راوتلی نـه ده لکـه لویدیـځ پوهـان، چـې غـواړي هغـه ثـابت کـړي([13])".

پـه ځینـو لیکنـو کـې پـه دې غـور شـوی، چـې د نـاپېلتـوب او د زور د سیاسـت (Power Politic) ترمنـځ اړیکـي ومومـي. نـاپېلتـوب داسـې یـوه پالیسـي ښودل شـوې، چـې لـه یـوې خـوا پـه بېطرفـۍ او آیدیـالېزم ولاړه ده او لـه بلـې خـوا هغـه د قـدرت او زور پـه سیاست کـې د یوې هـڅې پـه تـوګه ګڼل کـېږي([14])".

د قـدرت او زور سیاسـت چلـول (Power Politic) عبـارت شـرحه کـول زمـونږ ددې څېړنـې پـه مقصـد او هـدف کـې نـه راځي. (Power Politic یـا د زور او قـدرت سیاسـت چلـول زیـاتره د دویمـې نړیوالـې جـګړې وروسـته د دوو بلاکونـو د مشـرانو یـانې د امریکـا متحـده ایـالتونو او شـوروي اتحـاد لپـاره اسـتعمالېده، چـې دغـه هـر یـو لـوی طـاقت پـه دنیـا کـې د وړو ملکونـو دلاسـدې کولـو پـه منظـور د زور سیاسـت کـاراوه او هـر یـو د خپـل قـدرت سیاسـت چـلاوه. مـترجم). سـره ددې هـم ددې لپـاره، چـې د قـدرت

او زور سیاست او ناپیلتوب په ب ب توپیر وکړو. د جورج شوارزن برګر George Schwarzen Berger خبري راوړل دلته کافي دي. نوموړی د قدرت سیاست داسې تعریفوي: "دا سیاست د دولتونو ترمنځ د اړیکو یو دائمي دول جوتوي. چې په هغه کې د کړو وړو خاصې بڼې لکه وسلې راغونډول. د انزوا سیاست خوښول. د زور ډیپلوماسي. د زور اقتصاد. منطقوي او یا امپریالیستي. تړونونه. دقوي بیلانس او جګړه غوره بریښي... د زور یا قدرت سیاست به نبایي د نړیوالو اړیکو یو داسې سیستم وګڼل شي. چې په هغه کې د شاملو ډلو تیپلو مقصد یوازې خپل ځانونه وي([15])" د پروفیسور ک. پ میسرا (Misra) له نظره. ناپیلتوب "دغه ډول سیاست نه مني او هڅه کوي. چې د نړۍ والې ټولنې د برخه والو ترمنځ په یوې ژوندۍ اړیکې باندې رڼا واچوي... دا نه یوازې دا چې د زور سیاست ردوي. خو هغه نظر. چې د هانز مورګانتو او نورو له خوا وړاندې شوی او وايي. چې ټول سیاستونه دقدرت نیولو لپاره مبارزه ده. هم نه مني([16])" له دې کبله ناپیلتوب له دا راز ابهاماتو څخه خلاص دی او "د نړیوالې ټولنې په اړیکو کې د زور د سیاست جانشین کېدای شي([17])".

"ددې واقعیت سره سره دا چې ناپیلي هېوادونه بېطرفه هېوادونه نه دي او د نولسمې پېړۍ د کوچنیو هېوادونو سره د پرتلې وړ نه دي. خو یو زیات شمېر لیکوالان په دې ټینګار کوي. چې ددغه ناپیلتوب ساتنه یوازې کېدای شي. چې د بېطرفۍ لپاره و مترادف مثال وي([18])" پیترلیون یو وړوکی

توپیر د تېرو بېطرفه هېوادونو ترمنځ ویني کوم چې د ځینو قبول شویو قانوني حقوقو او مجبوریتونو په واسطه محدود شوي و، حال دا چې معاصر بې طرفه هېوادونه په نړیوال قانون کې نه دي پېژندل شوي([19])". د لیون تحلیل غیر کافي دی، ځکه چې ده سره د بېطرفۍ او ناپېلیتوب ترمنځ ډېر توپیرونه شته دی، یوازې یو په ګوته کوي او بس. حتی د مارتین د کتاب اکثریت مثالې "د بېطرفۍ او ناپېیلتوب" په هکله ددغو دوو مفاهیمو ترمنځ څه توپیر نه په ګوته کوي. سایش بېطرفي په څلورو برخو وېشي:

الف: غیر فعاله بېطرفي.

ب: منفي بېطرفي.

ج: ناپېلتوب.

د: میسانیك بېطرفي.

په پای کې موضوع نه روښانه کوي او وایي، چې دا څلور یقیني برخې نه دي او ددغو څلورو تګلارو ګډول او یوځای کول (په تېره د منفي او میسانیك لپاره) کېدای شي، چې په یوه حالت کې په یوه نقطه او یوه وخت کې مشخص شي([21]).د سایش وېش او تصنیف بېطرفي له ناپېلتوب څخه نه بېلوي، خو د مخکني او زړې بېطرفۍ د پدیدې مختلف ډولونه یا وریانتونه وړاندې کوي. دا یو څرګند حقیقت دی، چې د ناپېلتوب مفهوم له بېطرفۍ څخه توپیر لري، دا پرېکړه به په راتلونکیو پاڼو کې زیاتره روښانه شي.

## د ناپېلتوب د تعريف په لور:

د "ناپېلتوب" اصطلاح د ۱۹۵۰ څخه تراوسه پورې روښانه نه ده او د ناپېلتوب غورځنګ له اوو سترو غونډو او د ناپېيلو هېوادو د مشرانو د زياتو کنفرانسونو وروسته بيا هم په تېرو دوو لسيزو کې دې خبرې ته پاملرنه شوې نه ده، چې د ناپېلتوب مفهوم په باصلاحيته، جامع او خلاصه توګه تعريف شي. حتى هغه بين المللي کنفرانس، چې په ۱۹۶۱ کال کې په بلګراد کې جوړ شو، دا موضوع يې ونه څېړله. په ۱۹۷۳ کې د ناپېليو هېوادونو څلورم کنفرانس په الجزاير کې جوړ شو او په دې ځای کې هم دا موقع برابره نه شوه. که څه هم د ليبيا له لوري يو پېشنهاد وړاندې شو، چې يو نوی تعريف او يو څه جوت تفسير د ناپېليتوب د غورځنګ د مفکورې او مفهوم په هکله منځ ته راشي. د بېلابېلو نظريو موجوديت او نه يووالي دېته زمينه مساعده کړه، چې دا موضع د کنفرانس د اجندا څخه واېستل شي.

کله چې په ۱۹۷۹ کال کې په هاوانا کې د ناپېلتوب کنګره جوړه شوه، نو د برما هيات د ناپېلتوب د غورځنګ د انحلال غوښتنه وکړه او د يوې داسې کمېټې د رامنځ ته کېدو وړانديز يې وکړ، چې ددغه غورځنګ اصول او قواعد تعريف کړي([۲۳]). د برما وړانديز ته پاملرنه ونه شوه. ددې ترڅنګ بېلابېلې هڅې ترسره شوې، چې د ناپېلتوب د کنفرانس دننه او يا له هغې څخه دباندې د ناپېلتوب يو تعريف رامنح ته

کړي. خو تراوسه پورې د دې پالیسی په باب یو پوخ بین المللي مفهوم یو جامع او منل شوی تعریف "پخپله د غورځنګ[۲۴]" له خوا شوی نه دی.

د غورځنګ مخکښانو لکه تیتو، نهرو او ناصر د ناپېلتوب په برخه کې بېلابېلې نظریې ورکړې دي. د دوی ویناوې زیاتره په ځانګړیو او لنډ مهاله مسئلو او یا د داسې پالیسو په اړخونو راڅرخېدلې، چې د هغوی خپل د ریخونې ښکارندوی کول. حتی د ناپېیلو هېوادو د مشرانو او یا وزیرانو په هغو غونډو کې، چې د ۱۹۶۱ کال څخه تر ۱۹۸۳ پورې په بېلابېلو ښارونو په بلګراد او بیا د نوي ډیلي تر غونډې څو څو ځله جوړې شوې. د ناپېلتوب د تعریف په اړوند د همدغو غونډو په مشترکو اعلامیو کې څه نه موندل کېږي، چې د مفهوم او محتوا څخه ډک وي.

په ۱۹۶۱ کال کې په بلګراد کې د ناپېیلو هېوادو د لومړۍ مشریزې غونډې وروسته، چې کومه اعلامیه خپره شوه، په هغې کې د ناپېیلو هېوادو د تعریف په باب څه ذکر ونه شو. خو په دې کنفرانس کې دا ښکاره کېدله، چې "ناپېیلي هېوادونه نه غواړي، چې یو نوی بلاک جوړ کړي او یا دا چې نه شي کېدای چې د یوه بلاک په حیث ورته وکتل شي[۲۵]" هغه اعلامیه، چې په ۱۹۵۴ کال کې په قاهره کې د مشرانو د دویم کنفرانس وروسته خپره شوه. په دې هکله (د ناپېلتوب د تعریف په اړوند) چوپتیا ښکاره کوي او په هغې کې "د فعال ګډ ژوند د پالیسی[۲۶]" دوام په داسې "حال کې غوښتل

شـوی. چـې نظـامي بلاکونـو او د سـترو طـاقتونو تړونـو او پکتونـو" د سـاړه جنـګ څخـه پـه راولاړه شـوې فضـايي مسـئلو زور اچولـی و[۲۷]" حتـی پـه راوروسـته مشـريزو غونـډو کـې د ناپېلتوب د غورځنـګ پـه بـاب د نويـو مطـالبو د جوتولـو ترڅنـګ د هغـې پـه تعريـف څه ويـل شـوي نـه دي. د الجزايـر د مشـرانو غونډې د بين المللي امنيت يوه طرحه[۲۸] وړاندې کړې وه.

پـه هغـه مشـترکه اعلاميـه کـې، چـې د ۱۹۷۰ کـال پـه اپريـل کـې د نـاپېليـو هـېوادو لـه خـوا د اوسـاکا د کنفرانـس لپـاره د تيـاري پـه جلسـه کـې پـه دارالسـلام کـې صـادره شـوه، بيـا پـه دې ټينـګار شـوی، چـې نـاپېلي هېوادونـه هغـو "اصولـو او معيـارونو تـه وفـادار دي، چـې د بلګراد او قـاهرې پـه نـاپېلي کنفرانـس کـې جـوت شـوي دي[۲۹]" حتـی د لوسـاکا کنفرانـس د (۱۹۷۰ سپتمبر) د نـاپېلتـوب د بيـا تعريـف کولـو څه اړتيـا نـه ګوري او يـوازې "د نـاپېليـو ملتونـو اصلـي مرامونـو او هدفونـو تـه خپـل وخت بيـا وقفـوي[۳۰]"

پـه الجزايـر کـې د نـاپېليـو هـېوادو د مشـرانو غونـډې (۱۹۷۳) د نـاپيېلتـوب نـاڅرګندو مرامونـو، اصولـو او کړنـلارو تـه اشـاره کـړې ده. پـه کولمبـو کـې د نـاپېليـو هـېوادو مشـرانو غونـډې (د ۱۹۷۶ کـال د اګسـت مياشـت) خپلـو غړيـو تـه دا ټينـګار کـړی، چـې د "نـاپيېلتـوب اساسـي کرکـټر وسـاتي او د هغـې اصولـو تـه پـه نـه انحـراف ورکوونکـې تـوګه خونـدي کـړي[۳۱]" د هاوانـا اعلاميـې هـم (۱۹۷۹)[۳۲] دا جوتـه کـړې، چـې

د ناپېلتوب د تعريف مساله دې د پخوا په شان غلې پاتې شي او په هغې کې د څه بحث ضرورت نشته.

نو دا په ښه توګه روښانه ده، چې د ناپېلتوب غورځنګ په دې کې پاتې راغلی، چې يو سم او جامع تعريف د ناپېلتوب په اړوند وړاندې کړي، د همدې خلا موجوديت د سازماني او عقيدتي کمزورۍ "منبع او د ناپېلتوب د تيورۍ او عملي اړخ ترمنځ د واټن د زياتوالي سبب ګرځي او کېدای شي، چې ناپيلي هېوادونه په انفرادي او جمعي توګه له ستونزو سره مخامخ کړي([٣٣])" سرهددې هم ليوماتس د ناپېلتوب د غورځنګ دفاع کوي او ادوي، چې ناپېلتوب د يوه پاخه تعريف د موندلو په لور روان دی. تومورې وايي:

" دا غير معقوله خبره نه ده، چې ووايو هماغسې چې زيات شمېر ناپېلي هېوادونه موجود دي، نو په هماغه اندازه د ناپېلتوب تعريفونه هم ډېر دي. په يوه لحاظ ويلی شو، چې د ناپېلتوب پالېسي په همېشنۍ توګه د تعريف موندلو، نقد او تجربې حاصلولو چارې په داسې حال کې ترسره کړې، چې د بې مسئوليته او خپل سره تشخيصونو په وړاندې کلک درېدلي دي. دا ټولې خبرې د پوهېدو وړ دي، ځکه د ناپېليو هېوادو غورځنګ نوی دی، خو په بين المللي اړيکو کې داسې يوه نوې پديده نه ده، چې ګوندې هغه يوازې د زيات شمېر غير مشابه هېوادونو ترمنځ د مرستې او همکارۍ يوه بنه ګڼل کېږي([٣۴])".

د ناپېلتوب د معنی او د ناپېلیو هېوادو د تعریف په اړوند بې شمېره بحثونه کېدلی شي([35]). سره ددې هم د بهر څخه د ناپېلتوب مفهوم نه شي راوتلی، بلکې د ناپېلتوب د بېلا کنفرانسونو د موافقو د متنونو او ګډو خبرو اترو دننه د هغې د پیدا کېدلو هڅه باید په کار ولوېږي. په اوسنی څېرنه کې موږ د پیټر ویلیت په څرګندولو تکیه کولی شو او دی وایي، چې یو ناپېلی هېواد "دېته وایي، چې له نورو هېوادو سره چې خپل ځانونه ناپېلي بولي، یو بین المللي سازمان ته داخل شوي وي([36])"

د ناپېلتوب غورځنګ، چې په **۱۹۶۱** کال کې یې د **۲۵** غړیو په درلودلو سره په بلګراد کې خپل وړاندې تګ پیل کړی، اوس په یوه پراخ غورځنګ بدل شوی، چې د غړیو شمېر یې (۱۰۱) ته لوړ شوی دی.

## د آسیایي اړیکو څخه د بلګراډ د کنفرانس په لور:

د نهرو او سوکارنو له خوا ترسره شوې مرسته:

په **۱۹۶۱** کال کې د بلګراد کنفرانس په جوړولو سره ناپیلتوب وکړای شول، چې د نړیوالو اړیکو دننه د یوه قوت په توګه ځان څرګند کړي. دغه غورځنګ اساساً او په ژوره توګه د دویمې نړیوالې جګړې وروسته رېښې نیولې دي. تاریخي خبره خو دا ده، چې په **۱۹۴۷** کال کې د آسیایي اړیکو د کنفرانس جوړېدل د ناپېلتوب په لور لومړنی نښه وه.

د آسیایي اړیکو کنفرانس، چې په ۱۹۴۷ کال کې د مارچ د ۲۵ نېټې څخه د اپریل د دریمې پورې په نوي ډیلي کې جوړ شو، "د آسیایي توب Asianism معراج ګڼل کېدلی شي، ځکه "هېڅکله بیا داسې لوړه آسیایي سوچه، چڼ شوې او پاکه روحیه راولاړه نه شوه([۳۷])" په دغه کنفرانس کې د افغانستان په ګډون د ۲۳ آسیایي هېوادونو استازیو او کتونکیو ونډه درلودله او مقصد یې دا و، چې د آسیایي هېوادو ترمنځ همکاري رامنځ ته شي او "د متحدې نړۍ د ستر هدف لپاره کار وکړي، نه د داسې ډلو ټپلو د جوړولو په منظور، چې له هغې څخه بیا یو ستر نړیوال ګروپ او ډله ټپله راووځي... خو ددې لپاره چې یوه نړۍ او متحده نړۍ جوړه شي، نو آسیایي هېوادونه باید د یوه ستر مقصد لپاره له یو بل سره همکارۍ ته راودانګي([۳۸])"

د کنفرانس کار په کمېټو ووېشل شو او د هغو د اجراتو راپور د کنفرانس په ستره غونډه او پلینوم کې وړاندې شو. ددغو راپورونو څخه یو ډېر غوره او په زړه پورې یې "په آسیا کې د ملي خپلواکۍ غورځنګ" په هکله و او سپارښتنه یې کوله، چې ټول آسیایي هېوادونه داسې اغېزمن ګامونه واخلي، چې د دوی د سر څخه امپریالستي نفوذ په چټکۍ سره پای ته ورسېږي([۳۹])" په راپور کې د اندونیزیا او ویتنام هغه هلې ځلې، چې د خپلې خپلواکۍ لپاره یې کړې وې، وستایل شوې، خو د هند استازي په دې اړوند جوته کړه، چې په سیمه کې د کړکېچ د مخنیوي لپاره ددغو هېوادو مانوي

حمایت پکار دی. ددې کنفرانس په اختتامیه غونډه کې د (۱۹۴۷ کال د اپریل اتمه) یو پرېکړ لیك تصویب شو. چې د آسیايي مناسباتو او اړیکو د داسې دایمي سازمان د تاسیس سپارښتنه یې کوله، چې دلاندې هدفونو لرونکی وو:

الف: د آسیايي هېوادونو د ستونزو او پرابلمونو څېړنه د هغوی د آسیايي او نړیوالو اړخونو له پلوه.

ب: د آسیايي خلکو په منځ کې او له پاتې نړۍ سره د هغوی د دوستۍ د اړیکو وده.

ج: د آسیا د خلکو د ترقۍ او ښېګڼې پرمختګ[۴۰].

دا کنفرانس په داسې یوه وخت کې جوړ شو، چې حتی هند هم بشپړ استقلال ترلاسه کړی نه و. د کنفرانس له جوړېدو څخه یوازې څو میاشتې مخکې نهرو له پوځي بلاکونو څخه د ځان لیرې ساتلو په اړوند د هند بهرنۍ پالیسي جوته کړه. د یادونې وړ ټکی، چې نهرو کنفرانس ته د وینا په مهال له یاده وایست. هغه د "ناپېلتوب غورځنګ ته کومه اشاره کول و. دا ځکه ډېره غوره او ضروري خبره وه، چې ده د ۱۹۴۶ کالد سپتمبر د میاشتې په لومړیو وختو کې دا جوته کړه، چې له پوځي بلاکونو او د زور او طاقت د ډلو او بلاکونو د قید څخه ځان آزادول باید د خپلواك هند د بهرنۍ پالیسۍ یو غوره او اساسي عنصر وي([۴۱])". ښايي ده به داسې تصور کاوه، چې دا به لا وختي وي، چې په آسیايي خپلواکو هېوادونو دا زور واچول شي، چې دا شان پالېسۍ غوره کړي. ددغه وخت غوښتنه او اړتیا د آسیايي ملتونو ترمنځ د یووالي ساتل و.

## د کولمبو غونډه:

د ناپیلتوب د غورځنګ په وده کې بل پړاو د کولمبو د غونډې جوړېدل و، چې د ۱۹۵۴ کال د اپریل له ۲۸ څخه د مې تر دویمې نېټې پې دوام درلود. په دې غونډه کې د هند، برما، سریلانکا، اندونیزیا او پاکستان صدراعظمانو برخه اخیستله. دا غونډه د سویل ختیز آسیا د نوېو خپلواك شویو هېوادو د اړتیا له امله وهڅول شوه، چې په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو ډګرونو کې له یو بل سره همکاري وکړي. ددغې غونډې جوړېدل د جینوا د کنفرانس سره مطابقت لري، چې د هندو چین د مسالې د حل لپاره پرانستل شوی و. د کولمبو غونډې د شاملو اړخونو ترمنځ د مستقیمو خبرو اترو او د ملګرو ملتو د دفترونو څخه د ګټې اخیستنې وړاندیز وکړ او د جینوا د کنفرانس څخه یې هیله وکړه، چې د هندو چین مسالې ته په چټکۍ سره د پای ټکی کېږدي.

غونډې استعمار محکوم کړ، ځکه د هغې له امله اساسي بشري حقوق پایمال شوي وو. همدا شان دفلسطیني عربو له پناه وړونکیو سره زړه سوی وښوول شو او غوښتنه وشوه، چې د فلسطینیانو ستونزه دې په عادلانه توګه او په لومړي سر کې حل شي. په دې غونډه کې د اندونیزیا صدراعظم د ۱۹۵۴ کال په سپتمبر یا اکتوبر کې د یوه کنفرانس وړاندیز وکړ، چې هغه ته په ملګرو ملتو کې شاملو آسیایي او افریقایي هېوادو

تـه د ګډون بلنـه ورکـړل شـي. دا د آسـيايي هېوادو د پرېکـړې يـوه ځرګندونـه وه، چـې يووالـې او همکـاري پرمـخ بـوځي.
پـه دې دوره کـې يـانې د ۱۹۵۳ کـال پـه سـر کـې دا هـڅې شـوې وې، چـې پـه آسـيا کـې يـو پـوځي بـلاك جـوړ شـي. ترکيـې وړانديـز وکـړ، چـې پاکسـتان او ايـران د منځنـي ختيـځ پـه دفـاعي سـازمان کې بـايد ځانونـه داخـل کـړي او وروسـې کلونـه د بغـداد د پکت (چې بيا د سـنتو پـه نامـه يـادېده) او دسـياتو د پکـت د منـځ تـه راتلـو شـاهد وو. د برمـا صدراعظـم د کولمبـو کنفرانـس تـه د تګ پـه لار کـې مطبوعـاتي کنفرانـس تـه وويـل، چـې برمـا يـو کـال وړانـدې د امنيتـي متقـابل نظـم لپـاره د امريکـا وړانديـز تـه شـا کـړې وه([۴۲]). لـه دې څخـه جوتـېږي، چـې د پـوځي تړونونـو او بلاکونـو د تشـکل پـه مـهال پـه يـو شـمېر هېوادونـو کـې د ناپيلتـوب روحيـه پـه برلاسـي کېدو وه.

## د بـوګور Bogor کنفرانـس:

د کولمبـو غونـډې د بـاندونګ د کنفرانـس زړې ابنسودلـې و. د بـاندونګ کنفرانـس څخـه دمخـه د سـريلانکا، هنـد، اندونيزيـا، برمـا او پاکسـتان صدراعظمـانو پـه بـوګور کـې د (۱۹۵۳) کـال د سـپتمبر د ۲۸-۲۹ پـورې مقدمـاتي جلسـه وکـړه، چـې تـرڅو د بـاندونګ کنفرانـس لپـاره ترتيبـات ونيـول شـي. لـه دې څخـه وړانـدې د ۱۹۵۴ کـال پـه مـی کـې پاکسـتان هڅه وکـړه، چـې د هنـد پـه وړانـدې د يـوه مـانور د ترسـره کولـو پـه منظـور دسـيلون، برمـا او اندونيزيـا درې هېوادونـه د سـويل

ختیزې آسیا ترون ته راوبولي. چې دا وخت د جوړېدو په حال کې و[۴۳]. خو دا هېوادونه د پاکستان د مانور ښکار نه شول او هوډ یې وکړ، چې یوه خپلواکه بهرنۍ پالیسي وچلوي او خپل ځانونه له کوم پوځي ترون سره ونه تړي.

د سریلانکا صدراعظم جان کوتلیوالا په دې اند ښمن و، چې د کولمبو تر کنفرانس وروسته سملاسي د صدراعظمانو یوه غونډه جوړه کړي. صدراعظم جواهر لال نهرو په دې عقیده و، چې د هر یوه پنځو ملکونو (هند، سریلانکا، اندونیزیا، برما او پاکستان) کومه یوه غونډه به په دې مهال د کولمبو د کنفرانس د نظریو یوه شرحه وشمېرل شي او په دې توګه به ښایي سوء تفاهم منځ ته راوړي[۴۴]. کېدای شي، چې د سریلانکا صدارعظم به دا خیال درلود، چې د کولمبو په غونډه پسې د دې کنفرانس دېر ژر جوړول به په نهرو فشار واچوي. چې "د منطقې او سیمې لپاره یوه ځای نیونکې امنیتي طرحه ښکاره کړي[۴۵]". سرجان کوتلیوالا د ۱۹۵۴ کال په اګست کې د خپل هېواد پارلمان ته ویلي و. چې نهرو د سیاتو SEATO د ځای نیونکې او الترناتیف په اړوند څه مطالب جوت کړي دي[۵۶]. د ۱۹۵۴ کال د اګست په ۲۶ نېټه نهرو دا وینا رد کړه او ویې ویل. چې دا شان بیان د غلط فهمۍ په نتیجه کې ورکړل شوی دی[۴۷]. دا خبرې دا ښکاره کوي. چې له لږ شمېر پرته نور ټول آسیایي هېوادونه مصمم دي. چې له پوځي ترونو څخه ځان لیرې وساتي.

په ۱۹۵۴ کال کې جمال عبدالناصر د مصر د جمهور رئیس په توګه ډګر ته راووت. په همدغه کال کې الجزایریانو د خپلواکۍ جګړه پیل کړه. دا د آسیا او افریقایي ملتونو لپاره د خپلواکۍ د پیاوړتیا هڅونکې پرمختیاوې وې.

د بوګور کنفرانس پرېکړه وکړه، چې د آسیا او افریقا کنفرانس د ټولو شاملو غړیو په سلا مشوره په دې خیال جوړ شي، چې د آسیا او افریقا د ملتونو ترمنځ ښه نیت او همکاري وهڅوي، د دوی ګډې ګټې او متقابل مفعت وړاندې بوزي، د نژادي توپیر او استعمار ستونزې لیرې کړي او ددغو هېوادو سره مرستې به نړیواله سوله او همکاري تشویق کړي. د بوګور کنفرانس په زړورتیا سره پرېکړه وکړي، چې چین د باندونګ پیشنهاد شوی کنفرانس ته راوبولي." دا د بوګور په کنفرانس کې تر ټولو غوره پرېکړه وه، چې چین یې راوباله([۴۸])".

هند له څلورو نورو هېوادو سره یوځای د بوګور په کنفرانس کې د عمل د یوې متوازنې او هماهنګې لارې په طرحه کولو کې کلیدي نقش ترسره کړی دی. هند د غړیتوب لپاره دا اصل وړاندې کړ، چې د آسیا او افریقا هغه حکومتونه، چې خپلواک وي، د یو څه سرحدي کشالو د لرلو سره سره باید ومنل شي. دا وړاندیز د رایو په اتفاق ومنل شو. داسې موافقه په بشپړه توګه موجوده وه، چې نیپال، ترکیه، جاپان، د هندو چین څلور دولتونه او هم د سرحدي مسالو لرونکي سودان او د عاج سامل دې هم راوبلل شي([۴۹]). د چین او اسراېلو د رابللو په برخه کې اختلاف موجود و. لکه چې

دمخه یې بیان وشو، د چین مساله حل شوه، خو د اسراېلو د رابللو په برخه کې ډېر ستر اختلاف لیدل کېده او په پای کې دا پرېکړه وشوه، چې اسراېل دې ونه بلل شي. د بوګور په کنفرانس کې د جهاني حلت په باب خبرې وشوې، خو د هغې زیات بحثونه د غرېتوب په مساله متمرکز وو. د بوګور د کنفرانس بریالۍ نتیجې د باندونګ د کنفرانس لپاره هیلې روښانه کړې.

## د باندونګ کنفرانس:

د بوګور کنفرانس د باندونګ د کنفرانس لپاره، چې د **۱۹۵۵** د اپریل او مۍ ترمنځ جوړ شو، د تیاري کارونه سرته ورسول. دا د اسیا او افریقا په تاریخ کې لومړی ځل و، چې **۲۹** اسیایي او افریقایي هېوادونه او ملتونه د افغانستان په ګډون په باندونګ کې سره جرګه شول او دا شمېر د نړۍ درې پر څلور برخې نفوس جوړوي. باندونګ د اندونیزیا یو ښار دی.

د باندونګ د کنفرانس څخه دمخه پرمختیاوې ددې سبب شوې چې د اسیایي او افریقایي هېوادو ترمنځ تر زیاتې اندازې خپګان او بدګوماني رامنځ ته شي. د **۱۹۵۴** کال په سپتمبر کې (SEATO یا د سویل ختیزې اسیا د اتحادیې سازمان) ډګر ته راووت. د تایوان او د چین ترمنځ ژور او له شدت څخه ډك اختلافات موجب شول، چې د امریکا متحده ایالاتو ته د مداخلې او بوختیا لاره هواره شي. د کنفرانس

جوړوونکیو دا لېوالتیا درلوده، چې په کړکېچ او حالت کې نرموالی او آساني راولي. د ۱۹۵۵ کال په فبرورۍ کې د بغداد پکت Pact جوړ شو، چې په نتیجه کې د مصر ډګروال عبدالناصر (جمال عبدالناصر. م) او د نورو عرب ملکونو د مخالفت وړ وګرځېد. ناصر له سیاتو (SEATO) سره د هند مخالفت او د بغداد د پکت په وړاندې دده د اعتراضونو ترمنځ یو شان والی مشاهده کړ. ناصر د بغداد پکت ته د لېونتوب پکت نوم ورکړی و او ویل یې، چې: "هغه د عربي اتحادیې (لیك League) لپاره ورانوونکې او د بې اتفاقۍ سبب دی( ۵۰)". دغه وخت هند او مصر ډېر سره نږدې وو. نهرو د ۱۹۵۵ کال په فبرورۍ کې له قاهرې څخه لیدنه وکړه او همدې کال په اپریل کې دواړو ملکونو د هند او مصر د دوستۍ تړون (Indo-Egyption Friendship Treaty) لاسلیك کړ.

د باندونګ کنفرانس مفکوره د شوروي اتحاد له خوا ملاتړ شوه. ددې کنفرانس په اړوند د چین عکس العمل ډېر هڅوونکی و او د بوګور د غونډې په هماغه لومړنیو ورځو کې هم چیني مطبوعاتو د آسیایي او افریقایي ملتونو لپاره دا یو غوره او د سولې په لار کې ښه اقدام وګاڼه. سره ددې هم ددې غونډې په اړوند د امریکا احساس سوړ و.

د باندونګ کنفرانس د آسیایي او افریقایي هېوادونو لپاره دا لاره آواره کړه، چې د یوه ګډ پلاتفورم لاندې سره راټول شي. ددې غونډې یو ډېر لوړ ټکی نه یوازې د آسیایي او افریقایي هېوادونو د ژوند د نوي کولو څرګندوی دی، بلکې له

کمونستي بلاك سره د ناپېلیو هېوادو د ښو اړیکه نماینده ګي یې هم کوله.

په دې کنفرانس کې د علاقې وړ بېلابېلو نړیوالو مسالو په باب تماس ونیول شو، کنفرانس په سیاسي ساحه کې د بشري حقوقو، د خود ارادیت حق، د لاس لاندې هېوادونو او د نژادي توپیر مسالې ته پاملرنه واړوله. په دې برخه کې کنفرانس د فلسطین د خلکو د حقوقوو په سویلي افریقا کې د نژادي توپیر، په تونس، الجزایر، مراکش، لویدیزایریان او عدن کې د ملیت پالونکیو د داعیو د ملاتړ یادونه وکړه. دغه راز په کنفرانس کې د استثمار په خلاف د مبارزې، د هستوي وسلو د بندولو او د آغېز منو بین المللي لارو چارو له لارې د تسلیحاتو د محدودولو په اړوند د رایو په اتفاق د هڅې کولو څرګندونې وشوې.

د بین المللي سولې او همکارۍ په باب کنفرانس دا یادونه وکړه، چې "د سولې مساله د بین الملي امنیت سره پیوستون لري. په دې ارتباط ټولو هېوادونو په تېره بیا د ملګرو ملتو له لارې د همکارۍ څرګندونه وکړه، ترڅو په دې توه په تسلیحاتو کې کموالی او په زروي وسلو کې محدویت راشي[۵۱]".

کنفرانس په دې بریالی و، چې د آجندا په اتو مادو باندې لکه اقتصادي همکارۍ، د اتومي انرژۍ څخه سوله ییزه ګټه اخیستل، کلتوري همکاري، د لاس لاندې خلکو مسالې، د

عامه وژنې په وسلو باندې کنټرول او د ملګرو ملتو په غړیتوب باندې بریالی بحث او خبرې اترې وکړي.

د باندونګ کنفرانس د ناپېلتوب د بنسټونو په اېښودلو کې ډېر اوږد واټن مخ په وړاندې وواهه. ځکه ناپېلتوب د فوق العاده بین المللي اړیکو په جریان کې د دویمې نړیوالې جګړې وروسته رامنځ ته شو. نهرو دا کنفرانس د نړۍ د تاریخ یوه غوره پېښه وګڼله. "باندونګ په نړیوالو سیاسي مسالو کې د نړۍ د نیمايي وګړیو شاملېدل اعلان کړل... که څه هم هغه یوه ځانګړې پېښه وه، خو د هغه په پام کې نه نیول به د نړۍ د تاریخ لوستل د یوې سترې تېروتنې سره مخامخ کړي، ځکه دا د نړۍ په تاریخ کې یو ستر غورځنګ دی([52])".

## د غورځنګ په وړاندې د افغانستان پالېسي او دریځ:

د ۱۹۵۰ کال څخه دمخه، چې د ناپېلتوب اصطلاح په افغاني بهرنۍ پالېسۍ کې لادومره مروج نه وه، نو دا وخت په افغانستان کې ددې اصطلاح په ځای بېطرفي کارېدله. په دې توګه افغانستان د بېطرفۍ د سیاست په وړاندې بیوله سره مجبور و، چې "د سترو طاقتونو او قدرتونو" څخه ځان لرې وساتي.

که څه هم افغانستان په تېر وخت کې د روس او انګلیس په سیالۍ کې راښکېل و، خو بیا هم افغاني واکمنانو بېطرفانه پالیسي وړاندې بیوله. د افغاني بهرنۍ پالیسۍ غوره ماده دا وه، چې خپله ملي خپلواکي ترلاسه او خوندي وساتي. حتی په

دویمه نړیواله جګړه کې چې د متحدینو قواوو ایران، چې د افغانستان متصل ګاونډی و، وینو افغانستان وکړای شول، چې خپله بیطرفي او بې‌طرفنه حالت خوندي کړي. د افغانستان جیوستراتژیك موقعیت هغه وخت لازیات اهمیت وموند، چې په ۱۹۴۷ کې انګرېزان له هند څخه ووتل او د هند نیم قاره په دوو خپلواکو هېوادو یانې هند او پاکستان ووېشل شوه. دغې پرمختیا او حالت له افغانستان سره د بفر Buffer حالت څخه په وتلو کې مرسته وکړه. د هند وېش په دوو برخو ددې سبب شو، چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سرحدي پولو بیا په نښه کول صورت ونیسي. په داسې حال کې، چې د دواړو هېوادونو (افغانستان او پاکستان) ترمنځ د سرحد په بیا نښه کولو خبرې مخ په وړاندې رواني دي، د دیورند کرښه د دواړو ملکونو دسرحدي کرښې په توګه ګڼل شوې ده. د هند د وېش څخه دمخه دا کرښه د افغانستان او برتانوي هند په منځ کې بین المللي پوله وه.

د یوې پولې په توګه د دیورند د کرښې ذکر لومړی ځل په ۱۹۱۹ کې د افغان او انګلیس د تړون په مهال وشو. په وروستي خبرو اترو کې چې د سرحد د نښه کولو په اړوند وشوې، افغانستان د برتانوي هند حکومت ته وړاندیز وکړ، چې د برتانوي هند په ساحه کې پراته پښتانه قبایل دې په افغانستان کې شامل شي. برتانوي هند پرېکړه وکړه، چې په خپل شمال لویدیځ ولایت کې یو ریفرنډم په دې اړه جوړ کړي، چې دا خلك په خپله خوښه یا په هند او یا په پاکستان کې خپل

شــموليت غــوره کــاندي، خــو پــه دې مــهال افغانســـتان د دې سـيمو دعـوا وکـړه او لـه افغانسـتان سـره يـې د هغـو ګډېدل وغوښتــل او دا يــې پــه ډاګه کـړه، چــې د ريفرنــډم يـوه مــاده دې همــدا وي، چــې نــه يــوازې د هنــد او پاکســـتان ســـره د دوی د ګډولـو خـوښه معلومـه شـي، بلکـې لـه افغانسـتان سـره دې هـم د دوی د ګډېدو د خـوښۍ لاژ پـه ريفرنــډم کــې خلاصــه وي(۵۳).

څرنـګه چـې دا خبره د انګرېزانـو د منلو وړ ونـه ګرځېدلـه، نـو افغانســتان د پښتونسـتان پـه نامـه د يـوه خپلـواك دولـت ملاتـړ پيــل کــړ(۵۴) د پښتونســتان د مســالې د نــه حــل کــېدو خــبرې د افغانســـتان او پاکســـتان ترمنــځ تــر نــن ورځي پــورې تشـــنج او کړکېچ اوږد کـړی دی.

دويمې نړيوالې جګړې پـه پـای تـه رسـدلو سـره پـه بيـن المللـي سـيناريو کـې ډېر بدلونونــه راوســتل، چــې غــوره يــې د ســاړه جنګ پـه تـرخ کـې د نـاپېلتـوب د مفکـورې منـځ تـه راتلـل وو. افغانســتان، چـې پـه تېر وخـت کـې بېطرفانـه سياست درلـود، تـر نړيوالې جګړې وروسـته يـې هـم هغـې تـه دوام ورکـړ او پـه ۱۹۵۰ کـال او تـر هغـې وروسـته يـې د نـاپېيلتـوب پـه نامـه دا پاليســي چلولــه. دا پاليســي او دې اصطــلاح نــن ورځ يــو عــام استـعمال پيدا کـړی دی.

## ســوړ جـنګ:

سـوړ جنـګ "د يـوه داسـې متشـنج حـالت پـه تـوګه تعريـف کـېږي، چـې د نـړۍ د هېوادونـو ترمنـځ پرتـه لـه دې، چـې د تـاوده

جنګ بڼه غوره کړي، موجود وي او هره خوا داسې يوه پاليسي غوره کوي، چې د مقابلې خوا دريځ کمزوری کاندي(۵۵)". د دويمې نړيوالې جګړې په نتيجه کې سوړ جنګ راووت او دنيا په دوه بلاکونو وويشل شوه. چې د يوه په راس کې امريکا او د بلې په سر کې شوروي اتحاد ځای ونيو. افغانستان، چې په تېر وخت کې بېطرفه پاليسي چلوله او د سترو طاقتونو څخه يې ځان ګوښه ساته، يو ځل بيا د يوې نوې آزموينې سره مخامخ شو. افغانستان د خپل ستراتژيك موقعيت په سبب مجبور و، چې ډېر احتياط وکړي. د افغانستان هر دريځ ته په ډېر دقت او ژوروالي کتل کېدل او ډېره لږ ښوئيدنه او اشتباه داسې تعبير او تفسير کېدله، چې ګوندې يوې ټاکلې آيدیالوژۍ ته تمايل ښکاره کوي، نو په دې سبب ې د افغانستان بېطرفانه دريځ ته زيان اړاوه(۵۶).

افغانستان له شوروي اتحاد سره اوږده ګډه پوله لري، په دې سبب افغانستان نه شول کولای دا هېواد چې غربي دولت بڼه يې لرله، له ياده وباسي، خو په عين حال کې افغانستان د خپلې بهرنۍ پاليسۍ په ځرګندونو کې له روسيې څخه واټن غوره کړی و. په دې برسېره افغانستان په خپله اقتصادي وده او ملي بيارغونه او بازسازي باندې لګيا و.

تر ۱۹۵۰ کال پورې افغاني حکومت په دې اړه کار کاوه، چې خلك په دې خبر کړي، چې د دوی حکومت او دولت ديموکراتيك رول لري(۵۷). اقتصادي ودې او ملي بازسازي او بياجوړونې د بهرنۍ مرستې ضمانت کاوه، چې له ۱۹۴۶ کال

راهيسي يې جريان مونډلی و. د امريکا متحده ايالتونو د هلمند ناوې دپروژې په برخه کې افغانستان ته مرستې ورکول پيل کړي و. ورپسې شوروي اتحاد هم په يوه کاف مقدار د مرستې ورکولو په برخه کې ګام اوچت کړ([59]). شوروي اتحاد له ۱۹۵۰ کال څخه تر ۱۹۷۱ کال پورې افغانستان ته **۵۷۰** مليونه ډالره پور او ۱۰۰ مليونه ډالر بلاعوضه مرسته ورکړه په همدغه وخت کې امريکا ۸۱,۲ مليونه ډالره پور او ۲۰۴,۸ مليونه ډالره بلاعوضه مرسته ورته ورسوله([59]). ددې ترڅنګ بريتانيا، فرانسې، چين، لوديزې جرمني، جاپان، هند او نورو هيوادو هم افغانستان ته مرستې ورکړې. افغانستان د خپلې ناپېيلې پاليسۍ په سبب د ټولې دنيا له هيوادو څخه مرستې اخيستلې.

## د پاکستان نظامي تړونونه او افغانستان:

د **۱۹۵۴** او **۱۹۵۵** کلونو ترمنځ چې سوړ جنګ په جوش کې روان و. پاکستان دبغداد په پوځي اتحاديه کې، چې وروسته د سنتو په نوم (CENTO cnetral teraty organization) يادېده، داخل شو. د پاکستان اړيکې د پښتونستان پر مسالې له افغانستان سره خړ پړ شوې وې. پاکستان د متحده ايالتونو څخه پراخه پيمانه وسلې ترلاسه کړې. له پوځي بلاکونو او تړونونو سره د پاکستان په يوځاى کېدو سره عملاً سوړ جنګ د افغانستان د دروازې زينې ته راورسول شو، خو افغانان هېڅکله دېته ونه هڅول شول او يا ونه لمسېدل، چې په پوځي

ډلو ټېلو او بلاکونو کې داخل شي. افغانستان د ناپېلتوب او سوله ييز ګډ ژوند د پالېسۍ په وړاندې بيولو سره له ټولو هېوادونو په تېره بيا د ګاونډيو سره په زړه پورې اړيکې ساتلې.

"د افغانستان بهرنۍ پاليسي د بېطرفي او عنعنوي بېطرفۍ يوه پالېسي ده. افغانستان هيله من دی، چې د نړۍ له ټولو ملتونو سره د ملګرو ملتو د منشور او ګډ سوله ييز ژوند په اصولو ولاړې اړيکې ولري[60]. همدا بېطرفانه پالېسي ده، چې افغانستان يې "د ناپېلتوب غوره موسس ګرځولی[61]".

په پوځي بلاکونو کې د پاکستان ورګډېدلو د افغانستان په عنعنوي پالېسۍ کې بدلون رانه وست، چې د زماني له آزموينې ښخه راوتلې وه. پاکستان هم د ناپيلتوب په ارزښت پوه شو، چې بالاخره په ۱۹۷۰ کال او وروسته کلونو کې يې له پوځي ډلو ټېلو ښخه ځان راويوست. دا په ډاډمنه توګه ويلی شو، چې ناپېلتوب ته د پاکستان له خوا د ارزښت او قدر په قايلېدو کې د افغانستان مثال ډېر زيات اغېزمن و.

## د افغانستان بېطرفي او ناپېلتوب:

د ناپېلتوب اصطلاح په ۱۹۵۰ مو کلونو کې زيات رواج وموند. افغانستان په پېړيو پېړيو دا پاليسي چلوله او په هماغه وختونو کې يې بېطرفي بلله." ښايي افغانستان به زموږ په زمانه کې لومړنی بېطرفه هېواد وي، ځکه کوم

بېطرفانه دریځ چې اوس هغه د نورو افریقایي او آسیایي هېوادو سره یوځای غوره کړي، په پېړیو پېړیو پخوا یې ساتلی و([62])".

د افغانستان بېطرفانه پالیسي د "ځان تېرولو، بچولو او یا تېرایستلو" د پالیسۍ په توګه نومول شوې ده، خو افغاني مشرانو په وار وار دا جوته کړې، چې "د دوی بېطرفه پالیسي مثبته او فعاله ده او په ټولو غوره نړیوالو مسالو کې یې خپل خپلواك او آزاد قضاوت ساتلی دی یانې دا یوه خنثي پالیسي نه ګڼل کېږي([64])". افغاني صدرمحمد داود د **۱۹۵۹** کال د جون په **۲۴** مه د افغاني بېطرفۍ کړنلاره په دې ډول روښانه کړه:" افغاني بېطرفانه لار باید هېڅکله له علاقمندۍ څخه خالي ونه ګڼل شي... دا ځکه که څه هم د بېلابېلو نظریو او اختلافونو په منځ کې یې یو بېطرفه دریځ غوره کړی دی، خو موږ هېڅکله په هغو مسالو او ستونزو کې چې په زیاته اندازه بشریت اغزمن کوي، بې تفاوته او بې علاقې پاتې شوي نه یوو([65])".

افغانستان له هغو دولس هېوادو څخه یو هېواد و، چې یوه غیر رسمي آسیایي او افریقایي ډله جوړه کړه او همدا ډله وه، چې د اوسني ناپېلتوب د غورځنګ د ټینګېدلو یوه وسیله وګرځېدله. افغانستان ته په ناپېلتوب او بې طرفۍ کې څه فرق نشته. بېطرفي یوې داسې زمانې ته راجع کېږي، چې په هغه وخت د ناپېلتوب نوم لا رواج شوی نه و.

د ۱۹۶۰ کال د فبرورۍ په ۲۶ نېټه افغان خارجه وزیر په داسې حال کې چې یوه مطبوعاتي کنفرانس ته یې وینا کوله، وویل: " د افغانستان بېطرفه پالیسي... یوه اوږده سابقه لري... دا مفکوره... یوه داسې مفکوره ده، چې د نړۍ د خلکو او ملتونو ترمنځ ښه تفاهم او ملاتړ رامنځ ته کوي او بین المللي لانجې په سوله یېزې لارې غوڅوي([۶۶])".

د افغانستان د بېطرفۍ پالیسي د یوه داسې کس مثال نه لري، چې د سیل په غونډۍ ناست وي. د افغانستان لپاره غوره دنده دا ده، چې د خپل ځان لپاره سوله وساتي او د جهاني سولې او پرمختګ لپاره کار وکړي. د یوې ښې نړۍ د لرلو په برخه کې د افغانستان نظریه دا وه، چې دا نړۍ تر هغو مجسم کېدلی نه شي، ترڅو چې خلك د فقر په لاندې سطحه کې ژوند وکړي. افغانستان سوله غوښتله، ترڅو د خپلو خلکو د ژوند سطحه لوړه کاندي. دا د ناپېلتوب په سبب و، چې افغانستان د امریکا د متحدو ایالتونو او شوروي اتحاد څخه مرسته ترلاسه کړه. "د افغانستان بېطرفانه کړنلاره خوندي پاتې شوه، خو له غیر فعال او جبري حالت څخه یې د مثبت او ثابت سیاسي محتوا په لور بدلون وموند. لویدیز او ختیځ دواړو د یوه کوښه پراته افغانستان په ځای د یوه داسې ملك په توګه هغه ته مخ واړاوه، چې د دنیا د ډېرو نادرو ځایونو په شان جوړونکې او رغوونکې قواوې د هغې د ودې په منظور په دوستانه فضا کې سره یوځای شوې([۶۷])".

شوروي اتحاد او د امریکا د متحده ایالتونو هېوادونه په دې بوخت و، چې په احتیاط سره په افغانستان کې خپل نفوذ زیات کړي، خو افغاني حکومت "په پرله پسې توګه هغوی د ځارنې لاندې وو([۶۸])". افغانستان له شوروي اتحاد څخه اقتصادي مرستې ترلاسه کولې، خو هغه هڅه وکړه، چې خپله بېطرفانه بهرنۍ پالیسي او ملي تمامیت وساتي.

څرنګه، چې افغانستان په عنعنوي توګه د مثبتې بېطرفۍ لاره تعقیبوله، هغه په دې فکر کې و، چې په بین المللي سطحه کې همدا شان یو جوړونکی رول ترسره کړي. د آسیایي اړیکو کنفرانس (ARC) دغسې یو فرصت منځ ته راوړ. د آسیاي اړیکو او باندونګ په کنفرانسونو کې د افغانستان فعالانه ګډون د ناپېلتوب په غورځنګ کې د هغې فعال غړیتوب نمانځنه او قدرداني ګڼل کېږي.

افغانستان د آسیایي اړیکو په کنفرانس کې فعالانه ونډه واخیستله. په دې کنفرانس کې افغاني نظریې د افغاني هیات د مشر عبدالمجید خان له خوا په دې ډول خلاصه شوي دي، ده وویل:

"که چېرې موږ په یو څو تېرو کلونو کې د پښتو جاج واخلو، نو د هغو غوره حقایق دا جوتوي، چې که موږ غواړو، چې خپل ژوند ته دوام ورکړو، نو باید په ګډه توګه سره ژوند وکړو. دا خبره یوازې د نړۍ د سوله خوښونکیو ملتونو د نږدې همکارۍ او ښه تفاهم له لارې ممکن ده. هر کال هغه غونډې او کنفرانسونه، چې په بېلابېلو ځایو او سیمو کې جوړېږي، د

بین المللي اړیکو ښه والی او د ملګرتیا د مزیو کلکوالی رامنځ ته کوي. زه یقین لرم، چې دا کار به په کلتوري فعالیتونو کې ښې بریالی بدلون راولي. په رښتیا د ملتونو ترقي او په مجموع کې د بشریت مساله باید د بې اتفاقۍ او کرکې له لارې ونه لټول شي، بلکې دا مسالې د ورورۍ او له یو بل سره د ملګرتیا د هڅونې او د ترقۍ په چارو کې د ملګرتیا او متقابل باور د روحیې د پیاوړتیا او همکارۍ له لارې په پام کې ونیول شي(۶۹)".

افغاني استازي د (ARC) (آسیایي اړیکو کنفرانس) دنده د نړیوالې سولې او د دوی هېوادونو لپاره د ستاینې وړ وبلله. ده د هند او افغاني کلتوري او تاریخي مناسباتو په برخه کې خبرې وکړې، چې په نړیوال تمدن کې یې د بشرت لپاره غوره رول ترسره کړی دی. ده کنفرانس ته ډاډ ورکړ، چې افغانستان به له آسیا او د نړۍ له نورو ملتونو سره همکاري وکړي. دغسې همکاري به د نړیوالې سولې او د آسیایي هېوادو د اقتصادي همکارۍ لپاره ګټوره وي. که څه هم افغانستان د بوګور او کولمبو په کنفرانسونو د مدعو وینو څخه نه و، خو د هغه همکاري او قدرداني تلل د هغو ملتونو سره ملګرې وه، چې ددغو مقصدونو او آیدیالونو لپاره یې کار کاوه.

افغانستان د باندونګ کنفرانس د مدعوونیو څخه و. په دې کنفرانس کې هغه یو قدرمن او د ستاینې وړ نقش سرته ورساوه. په دې کنفرانس کې د افغاني هیات رئیس سردار محمد نعیم څرګنده کړه:

"د نړیوالې سولې او همکارۍ په باب، چې موږ کوم خیالات په ذهن کې لرو، تر هغو صرف یو خوب او خیال ګڼل کېږي، چې ترڅو موږ هغه لارې چارې له پامه وغورځوو، چې هغه موږ ته د اختلافونو د لیرې کېدو اصلي وسیله کېدای شي. په واقعیت کې زموږ ترمنځ د ستونزو حل کېدل به لومړنی ګام وي، چې په سراسري نړیواله سویه د سولې په لور اخیستل کېږي(۷۰)".

افغاني هیات د متقابلې همکارۍ په ضوررت باندې د ټینګار په ترځ کې زیاته کړه:

"ددې لپاره، چې د آسیایي ولسونو او افریقایي خلکو د ټولنیزې ګټې په اړوند د هغو اقتصادي، کلتوري او ټولنیز مسایل وڅېړو او د آسیا او افریقا د درېځ ونډه د نړیوالې سولې په هڅونه کې وګورو، نو هغه به د داسې مثالو په توګه وي، چې هېڅکله به حل نه شي، خو یوازې له یو بل سره د پوره صداقت له لارې حل کېدلی شي...(۷۱)".

ده دا څرګنده کړه، چې له شک پرته ځینو آسیایي او افریقایي هېوادو سیاسي خپلواکي ترلاسه کړې ده، خو نور په ملیونونو خلك لاتراوسه د استعمار تر جغ لاندې ژوند کوي. ده د ټولو لپاره د برابرۍ او آزادۍ خبرې وکړې او جوته یې کړه، چې دا به یقیناً بدمرغي وي، چې هغه ملکونه چې په ډېر لوړ قیمت او قربانۍ یې خپله خپلواکي ګټلې، دا فکر وکړي، چې په نورو نفوذ ټینګ کړي او لکه چې دوی د نورو د واك لاندې

وو، پــه خپــل وار نــور د خپلــو حقوقــو اوآزادۍ څخــه بــې برخــې کــړي([۷۲]).

افغانســتان د نــاپېلتــوب پــه ارزښت پوهېدلــی دی، دا ځکــه چــې د هغــه د تېر وخت تجربــې د راتلونکیــو پالیســیو او کړنــلارو لپــاره ښه لارښود دی. پــه همــدې روحیــه وو، چــې افغانســتان د آســیایي اړیکــو پــه کنفرانــس کــې ګډون وکــړ او هــم یــې د باندونګ پــه کنفرانــس کې ونــډه واخیســتله. د افغانســتان مرســته او همکــاري بــه د بلګراد څخه د هاوانــا تــر کنفرانــس پــورې پــه څلورم او پېنځم فصل کې شــرحه شــي، چــې د نــاپېلتــوب د غورځنګ پــه اړونــد یــې ترســره کــړې ده.

## منــابع او ماخذونــه:


۱ـ علــي مزرویــی پــه پتمــر یلیــت کــې د یــوې ســریزې پــه تــرڅ کــې، د نــاپېلتــوب غورځنــګ د دریمــې نــړۍ (یووالــی) (تــړون) (هنــدي چــاپ) (بمبــی، ۱۹۷۸)، ۸ مــخ.

۲ـ جــي، اچ. جانســن، افریقــا او آســیا او نــاپېلتــوب (لنــدن، ۱۹۶۶)، ۱۴ مــخ. همداشــان وګورئ: ک. پ. مســرا، "د نــاپېلتــوب د مفــهوم پــېژندنــې پروفــایل" او ک.پ. مســرا او ک. آر. نارایانــا، نــاپېلتــوب پــه اوســنیو بیــن المللــي اړیکــو کــې (نــوې ډیلــي، ۱۹۸۱) ۱۹۷ مــخ.

۳ـ جواهــر لال نــهرو، د هنــد بهرنــی پالیســي (نــوې ډیلــي، ۱۹۴۹) ۳ مــخ.

۴ـ بیمــل پراســاد، د نــاپېلتــوب عمومــي تجربــې او د هغــې راتلونکــې هیلــې (نــوې ډیلــي، ۱۹۶۸)، ۱ مــخ.

۵ـ همدا اثــر.

۶ـ مســرا، پورتــه دویمــه شــماره، ۱۹۷ مــخ.

۷ـ ناپېلي، د ناپيليو هېوادو د دولتونو او يا حکومتونو د مشرانو کنفرانس (بلګراد، ۱۹۶۱)، ۲۵-۲۶ مخونه.

۸ـ مايکل مانلي، "دريمه نړۍ تر ګواښ لاندې (د افغانستان سياست"، د دريمې نړۍ درې مياشتنۍ مجله (لندن)، جنوري ۱۹۸۰، ۲۹ مخ.

۹ـ د تفصيل لپاره وګورئ د مايکل بريچر، هند او د نړۍ سياستو د کرښنا مينان نظريې د نړۍ په باب. (لندن، ۱۹۶۸) ۳ مخ.

۱۰ـ په دې موضوع باندې تفصيلي بحث، وګورئ. کې. پ. مسرا "د ناپېلتوب مفهوم" د هغې کاروته او اوسنۍ کړنلارې" په ك.پ مسرا کې، د هند د بهرنيو چارو د پاليسۍ څېړنه (نوی ډيلي، ۱۹۶۹) ۹۰ مخ.

۱۱ـ جورج. ډبليو. شيپرډ، توره ناپيلې افريقا (مساچوست، ۱۹۷۰)، ۵ مخ.

۱۲ـ ج. ډبليو. برتن، ناپېلتوب (لندن ۱۹۶۶) ۲۱-۲۴ مخونه. دغه راز وګورئ مارکونيکزيك، "ولې نا متعهد هېوادونه دا وايي چې دوی بېطرفه دي"، تاريخچه (فلادلفيا)، جولای ۱۹۶۱، ۷۵ مخ.

۱۳ـ حتی داسې يوه لکه هانز مارګنتاو دغې تېروتنه کوي. وګورئ دده مقاله "بېطرفي او د بېطرفۍ لاره" د نړيوالو مسالو په کلنۍ کې ۱۹۵۷ (لندن) دويم ټوك، ۴۷-۷۵ مخونه.

۱۴ـ ددې اړيکو په هکله يو په زړه پورې بحث وګورئ اې. پ. رانا "د هند د بهرنۍ پاليسۍ بنه"، د هند درې مياشتنۍ مجله (نوې ډيلي)، ۲۲ کال، ۱۹۶۶. دغه راز وګورئ اې. پ. رانا، د ناپېلتوب ضروريات، د نهرو په دوره کې د هند د بهرنۍ پاليسۍ د ستراتېژۍ د مفهوم څېړنه (ډيلی ۱۹۷۶). دغه راز وګورئ د اې. پ. رانا په نظريه باندې د جې. ال. جين ځوابيه بيان. "د هند ناپېلتوب او د قدرت توازن" د هند درې مياشتنۍ مجله، ۲۲ کال، ۱۹۶۶.

۱۵ـ جورج شوارزن برګر، د قدرت سياست (نيويارك، ۱۹۵۱)، ۱۳ مخ.

۱۶_ مسرا، پاس دویمه شماره، ۲۰۴ مخ.

۱۷_ همدا اثر.

۱۸_ ویلیت، پاس لومړی شماره، ۱۹ مخ.

۱۹_ پیترلیون، د بېطرفی لار (دریستر پوهنتون، ۱۹۶۳)، ۱۸۳ مخ.

۲۰_ ال. ډبلیو. مارتین، د بېطرفی لار او ناپېلتوب (نیویارک، ۱۹۶۲).

۲۱_ اف. اې. سایش، په عربي نړۍ کې د بېطرفی د لارې خوځېدل (سانفرانسسکو ۱۹۶۴).

۲۲_ ام. اس. راجان، د ناپېلتوب مفهوم او د غورځنګ د غړیتوب اساس، په مسرا او تارایانا کې، پاس دویمه شماره، ۲۳۱ مخ.

۲۳_ د جلالتماب مینت منګ وینا، په هاوانا کې د ناپیلیو هېوادو د دولتونو یا حکومتونو د مشرانو شپږمه غونډه (هاوانا، ۱۹۸۰) ۱۴۸_۱۴۷ مخونه.

۲۴_ راجان، پاس شماره ۲۲، ۲۳۱ مخ.

۲۵_ د ناپېلیو هېوادو د کنفرانسونو د ټولنو اسناد، ۱۹۶۱_ ۱۹۷۸ (بلګراد، ۱۹۷۸)، ۱۳۹ مخ.

۲۶_ همدا اثر، ۱۹ مخ.

۲۷_ همدا اثر، ۲۰ مخ.

۲۸_ همدا اثر، ۹۱ مخ.

۲۹_ همدا اثر، ۳۷ مخ.

۳۰_ همدا اثر، ۴۵ مخ.

۳۱_ همدا اثر، ۱۷۹ مخ.

۳۲_ د هاونا د اعلامیې د متن لپاره وګورئ د بین المللي اړیکو د چارو مجله (بلګراد) د سپتمبر ۲۰، ۲۳۸ مخ.

۳۳_ راجانو پاس ۲۲ ګڼه، ۲۳۸ مخ.

۳۴_ لیوماتس، ناپېلتوب: تیوري او روانه پالسي (بلګراد، ۱۹۷۲)، ۸۱-۸۰ مخ.

۳۵_ پیترویلیت، تاپیلتوب په هاوانا کې، د مشرانو دشپږمې غونډې اسناد او د نړیوال سیاسي سیستم لپاره د دوی د ارزښت څېړنه (لندن، ۱۹۸۱)، ۳مخ.

۳۶_ همدا اثر

۳۷_ جانسن، پاس دویمه شماره، ۵۱ مخ.

۳۸_ په کنفرانس کې د نهرو وینا، د بشپړ متن لپاره وګورئ اسیایي اړیکې: د آسیایي اړیکو لومړی آسیایي کنفرانس اقدامات او اسناد (نوی ډیلي، ۱۹۴۸)، ۱۰ مخ.

۳۹_ د تفصیلاتو لپاره وګورئ د ورلو چارو هندي شورا، په آسیا کې خپلواك غورځنك، دویم ټوك (نوې ډیلي، ۱۹۴۸).

۴۰_ د کیسینګ معاصر آرشیف، ۱۹۴۶_ ۱۹۴۸ (لندن)، ۸۸۶۳-۸۸۶۴ مخونه.

۴۱_ جانسن، پاس دویمه شماره اثر، ۵۴ مخ.

۴۲_ هندو (مدراس)، د اپریل ۲۹، ۱۹۵۴.

۴۳_ نیویارك ټایم، د مې ۲۸، ۱۹۵۴.

۴۴_ هندو (مدرسا) د اګست ۱۰، ۱۹۵۴.

۴۵_ جانسن، پاس دویمه ګنه اثر، ۱۶۹ مخ.

۴۶_ همدا اثر، ۱۷۴ مخ.

۴۷_ تایمز آف انډیا، د اګست ۲۷.

۴۸_ جانسن، پاس دویمه ګنه، ۱۷۶ مخ.

۴۹_ همدا اثر، ۱۷۷۴ مخ.

۵۰_ همدا اثر، ۱۸۳ مخ.

۵۱_ د نړیوالې سولې او همکارۍ د هڅونې اعلامیه، د باندونګ کنفرانس، ۱۹۵۵، وګورئ جانسن، پاس دویمه ګنه، ۴۱۹ کح؟

۵۲_ نهرو، پاس دریمه ګنه، اثر، ۲۷۹-۲۸۰ مخونه.

۵۳_ نیویارك ټایم، (۱۹۴۷ کال د جولای ۳).

۵۴_ اچ. اې. اس. جفري، افغان_ هند اړیکې، ۱۹۴۷_۱۹۶۷ (نیویارك، ۱۹۷۵) ۶۷ مخ.

۵۵_ فلورنس ایلیوت او مایکل سمر تکیل، د سیاست قاموس (لندن، ۱۹۶۴)، ۷۷ مخ.
۵۶_ جفري، پورته ۵۴ گڼه، اثر، ۴۶ مخ.
۵۷_ نیویارك ټایمز، د ۱۹۵۰ کال اپریل ورکړی.
۵۸_ د افغانستان لپاره بهرني مرستې لوئیس دوپري، د امریکا پوهنتونو د ساحوي مامورینو د ځانګړي رپوټ، د سویلي آسیا لړۍ، لسم کال، څلورمه گڼه، ال ډی ۴۶۶
۵۹_ د جهاني پانك تالیف، اوسنی اقتصادي حالت او هیلې (واشنگتن، ۱۹۷۱).
۶۰_ ام. اي. سهل، په بن کې د شاهي افغاني ځانګړي رئیس د ۱۹۶۰ کال د جون په ۱۵، افغانستان نیوز، (کابل) څلورم کال، ۳۶ گڼه، اگست ۱۹۶۰.
۶۱_ جانسن، پورته ۵۴ گڼه، ۱۲۵ مخ.
۶۲_ اچ. سي. توسنگ، "افغاني بېطرفي" په ختیځه نړۍ کې (لندن) دسمبر، ۱۹۶۱، ۱۱ مخ.
۶۳_ جفري، پورته ۵۴ گڼه اث، ۴۷۵ مخ.
۶۴_ افغان خارجه وزیر سردار محمد نعیم، په توسنگ یې بیان شته، پورته ۶۲ گڼه، ۱۱ مخ.
۶۵_ افغانستان نیوز، اکتوبر، ۱۹۵۹، ۷ مخ.
۶۶_ افغانستان نیوز، اپریل، ۱۹۶۰، ۴ مخ.
۶۷_ توسنگ، پورته ۶۲ گڼه اثر، ۱۱ مخ.
۶۸_ د تفصیل لپاره وګورئ د آسیایي اړیکو کنفرانس (نوی ډیلی، ۱۹۴۷).
۶۹_ همدا اثر.
۷۰_ آسیا او افریقا د باندونگ خبري کوي (د اندونیزیا د بهرنیو چارو وزارت، ۴۴ مخ.
۷۱_ همدا اثر، ۴۴-۴۵ مخونه.
۷۲_ همدا اثر.

## دریم فصل:

# افغانستان او ستر ځواکونه

## (Afghanistan and Super Powers)

په دې اوسني فصل کې د لویو طاقتونو او ستروځواکونو هدفونه، کتې او ستراتژي په افغانستان کې ځېړل کېږي او هم د هغو په وړاندې ددې هېواد ځواب او عکس العمل تر مطالعې لاندې نیسو. مخکې له دې، چې دا موضوعات شرحه او تاریخي اطلاعات تحلیل شي دا به ضروري وي، چې د لویو طاقتونو یا زبرځواکونو مانا او مفهوم په پراخه اندازه تعریف کړو.

د زبرځواکونو مفهوم د دویمې نړیوالې جګړې وروسته رواج پیدا کړ، چې دا زمان لوی استعماري طاقتونه لکه لویه بریتانیا، جرمني، فرانسه، ایټالیا او نور مخ په زوال



ACKU

برېښېدل. د دويمې نړيوالې جګړې پـه پـای تـه رسـېدلو سـره د استعمار د لـه منځه تللو پروسـه پـه پيـل کـېدو شـوه. د اسـتعمار زوړ مفهوم په" تر نفوذ لاندې ساحه" بـاندې بـدل شـو. کـه لـه يـوې خـوا د جـګړې وروسـته زمانـه د اسـتعمار پـای تـه رسـېدل ښکـاره کـوي، خـو لـه بلـې خـوا پـه دې دوره کـې سـوړ جنـګ منـځ تـه راځي، چې له امله يې دنيـا پـه دوو تـر نفـوذ لانـدې سـاحو ووېشـل شـوه، چـې د يـوې پـه سـر کـې امريکـا او د بلـې پـه راس کـې شـوروي اتحـاد ځای ونيـو.

د "نفوذ ساحه" پـه کلاسـيك مانـا داسـې يـوې "منطقـې تـه ويـل کېږي، چې د هغې دننـه يـو يـا څو زيـات يـې د عمـل زياتـه آزادي لـري(١)" پـه همـدې مانـا دا د تـن ورځې د دوه قطبـي واقعيـت سـره سـمون کـوي. د "نفـوذ د سـاحې اصطـلاح د داسـې هـېوادو ترمنـځ د ژمنـو څرګندويـه ده، چـې لـه هغـو څخـه يـو يـې پـه يـوه ټاکلـې سـيمه کـې او يـا پـه ځانګړيـو سـيمو کـې د خپلـې لاس د هغـې څخـه پـه دې بنـا لاس اخلـي، چـې هغـه بـل لـوري تـه د فعـاليت زمينـه برابـره شـي. لکـه د دوو ډلـو ترمنـځ چـې قـرارداد شـوی وي(٢)".

د کلاسـيك مفـهوم پـه اسـاس سـيال قووتونـه هـڅه کـوي، چـې تـر نفـوذ لانـدې سـاحو کـې د عملـي هدفونـو لپـاره بشـپړ کنټرول ولـري، خـو ظـاهراً او پـه رسـمي تـوګه پـه هغـوی بـاندې د واکمنـۍ ادعـا نـه کـوي. ددې مفـهوم تـر شـا روانـې قـواوې تجـارتي، صنعتـي او سـتراتژيك منـافع غـواړي. سـره ددې هـم د اسـتعمار پـه وړانـدې تللـو سـره د نـړۍ جغرافيـايي سـيمې سـره وېشـل شـوې

وي او دا مهال د "نفوذ د ساحې" مفهوم پراخه شو. د زمانې په تېرېدو سره د "ملي دولت" او "خودارادیت" مفکورې (د ډوکترنیونه Doctrines) عامې شوې چې په عمومي توګه یې د de jure په څېر یې بهرني نفوذ ته مانه او د هغه غندنه یې کوله.

په اوسني نړیوال حالت کې د نفوذ ساحه د درېو اساسي عناصرو په اساس پېژندل کېږي او هغه دا دي:

۱ـ د یوه زواك یا لوی طاقت له لوري اعلان شوې ګټې، چې ترڅو دا شان نفوذ لرونکی دریځ ترلاسه کړي.

۲ـ د نړیوالې ټولنې د نورو غوره غړیو له خوا د دوی د داعیې او ادعا منل.

۳ـ د محلي او سیمه ییزو رژیمونو ځانته راکاږل او یا هغوی د تابعیت حالت ته متقاعد کول(۳).

خپلو مربوطو او تر نفوذ لاندې ساحو ته د دریمې نړۍ د ملکونو د جلبولو پر سر د یو بل سره په سیالۍ بوخت دي. ددې ستراتېژۍ د عملي کولو لپاره هغوی د دریمې نړۍ ملکونو ته په اقتصادي او نظامي مرستو پیل کوي. څرنګه، چې د دریمې نړۍ هېوادونه له اقتصادي پلوه په خپل ځان متکي نه دي، نو د اقتصادي او نظامي دوارو ستونزو په برخه کې په بهرنیو او خارجي معاونتونو تکیه کوي. زبرځواکونه او ستر طاقتونه د خپلو متحدینو په ګډون دا شان مرستې په خپله بهرنۍ تګلاره کې ددې لپاره شاملوي، چې مرسته

اخیستونکی هېواد تر خپل نفوذ لاندې راولي. "د زبرځواکونو دا شان مخامخ نفوذ او تر نفوذ لاندې ساحه نن ورځ د نړۍ په زیاترو برخو کې محسوس کېږي([4])".

د افغانستان حالت هم له دې څخه سوا او مستثنی نه و. هغه جیوستراتژیك موقعیت په اساس له شوروي سره ګډه پوله درلودلې وه.

د دویمې نړیوالې جګړې دمخه افغانستان د روس او انګلیس د سیالۍ ښکار شوی و. برتانوي هند او همداشان تزاري روسیې له افغانستان سره اوږدې سرحدي پولې درلودلې. د روس او بریتانیا سیالي مو د افغانستان په اړوند په لومړي فصل کې وڅېړله او د هغې په وړاندې د افغانستان عکس العمل شرحه شو. په دې فصل کې د افغانستان په باب د زبرځواکونو ستراتژي او په دې هېواد کې د هغوی د ګټې او مقصد په برخه تحلیل وړاندې کېږي او ورسره جوخت به د هغو په مقابل کې د افغانستان دریځ ته کتنه وشي. دا فصل په دوو برخو وېش شوی دی:

۱ـ د (افغان ـ شوروي اړیکې

۲ـ (افغان ـ امریکا) اړیکې.

دا هڅه شوې چې د ټولو دوه اړخیزو او متقابلو اړیکو حدود تحلیل او د افغانستان په بهرنۍ پالیسۍ باندې د هغې د اغېزو په هکله بیان وشي.

## (افغـان ـ شـوروي) اړيکـې:

لـه شـوروي اتحـاد سـره د افغانسـتان جغرافيـايي نـږدې والـي ددې سـبب شـو، چـې پـه ۱۷۴۷ کـې د اوسـني افغانسـتان لـه ځرګندېدو وروسـته مـوده کـې دواړه هېوادونـه پـه يـو بـل متقـابلې اغـيزې لـري. د دويمـې نړيوالـې جـګړې څخـه دمخـه د دواړو ملکونو اړيکې پـه لومړنـي فصـل کـې بيـان شـوې. دلتـه بـه د هغـه وخـت لنـډه يادونـه وکـړو او بيـا بـه د دويمـې جـهاني جـګړې وروسـته پـه اصطـلاح د ثـور د ۱۹۷۸ کـال تـر انقـلاب پـورې د دواړو هيوادونو پـه اړيکو رڼا واچول شي(۵).

د دويمـې نړيوالـې جـګړې وړانـدې مـوده کـې افغانسـتان د روسـيې او بريتانيـا د پخـې سـيالۍ پـه تـرخ بېطرفانـه پاليسـي وړاندې بيوله، ځکـه دا هـر يـو لـوی او سـتر طـاقت پـه دې هـڅه کـې و، چـې تـر خپـل نفـوذ لانـدې سـاحې تـه راوکـاږي. د تـزاري روسـيې د رژيـم مـانورې ددې لپـاره طرحـه شـوې وې، چـې افغانسـتان تـر خپـل نفـوذ لانـدې کـړي. پـه همدغـه شـان د بريتانيـا لـه خـوا هـم ورتـه هـڅې شـوې وې، خـو لکـه چـې پـه لومـړي فصـل کـې مو وليـدل، افغانـانو خپـل بېطرفانـه دريـځ، پرتـه لـه دې، چـې د غټو طاقتونو يوې يا بلې غـاړې تـه ځان پيوسـت کـړي، وسـاته.

کله چې پـه ۱۹۱۹ کـال کـې امـان الله د افغانسـتان پـاچـا شـو، نـو ده يـوه ملـت پالـه پاليسـي غـوره کـړه. شـوروي روسـيې(۶) د ۱۹۱۷ کـال د اکتوبـر تـر انقـلاب وروسـته هـڅه کـړې، چـې خپـل ځان د يـوه دوسـت هـېواد پـه تـوګه وښيـي. د ۱۹۱۸ او ۱۹۱۹

کلونو ترمنځ روسان په دې لټه کې وو، چې په افغانستان کې پرګنو ته ځانونه نږدې کړي، خو د هغوی دا شان پالیسۍ په زړه وري نتیجې ورنه کړې. اعلیحضرت امان الله پاچا خپل کورني او عصري اصلاحات څرګند او جاري کړل او د برتانوي نفو څخه بهر يې خپلواکه بهرنۍ پالیسي ونیوله. د افغانستان په بهرنۍ پالیسۍ کې د انګرېز سره درځ په پیدا کېدو ماسکو دېته وهڅېد، چې د افغانستان سره په خپلو اړیکو کې نور ښه والي راولي. په ۱۹۲۱ کال کې د کابل او مسکو ترمنځ د دوستۍ یو تړون لاسلیك شو. لینن دا تړون "د دوو سترو اولسونو ترمنځ([۷])" وستایه او ستالین اعلیحضرت امان الله په وصفي توګه د "بریتانیا تر کارګر ګوند لا زیات مترقي وګڼه([۸])". همدا شان په روسي مطبوعاتو کې داسې مقالې خپرې شوې، چې د نړیوال انقلاب لپاره يې د افغانستان ارزښت په کې ډېر ستر ښوولی و.

د افغانستان او بریتانیا ترمنځ د (۱۹۱۹-۱۹۲۰) کال جګړې په ښه توګه روسیه او افغانستان سره نږدې کړل. په مسکو کې افغاني سفیر څرګندده کړه، چې د روسیې د پرولتاریا انقلاب د نړۍ مسلمانانو او تر استثمار لاندې ختیځ ته ډېرې زیاتې ګټې رسولې دي([۹]). د امان الله د سلطنت په دوره کې (۱۹۱۹_ ۱۹۲۹) (افغان _ شوروي) اړیکې سمې شوې. د ۱۹۲۹ کال په جنورۍ کې د امان الله خلع کېدلو ماسکو دېته ولمساوه، چې په دې پېښو کې بریتانیا تورنه کړي([۱۰]).

د ۱۹۲۹ کال څخه تر ۱۹۳۱ کال پورې په لنډه موده کې د کابل دننه واك د سقاو د زوی او نادر خان ترمنځ لاس په لاس شو. په ۱۹۳۳ کې ظاهر شاه په تخت کېناست. په دې لنډه موده کې د افغان ـ شوروي اړيکو کې څه بدلون نه و. د ۱۹۳۱ کال په جون کې افغانستان له شوروي اتحاد سره د بېطرفۍ او نه تېرى يو تړون لاسليك کړ، چې د شوروي اتحاد له لوري په دې معاهده کې د افغانستان په رسميت پېژندل او د هغه د بېطرفۍ تاييد شامل وو. دا افغاني بېطرفي به تر زياته حده "بنايي د اوږدې زماني عنعنوي گوښه توب څخه راپاتې شوې وه او ددې بېطرفۍ په برخه د افغاني سرحد حساس او ناکرار حالت هم اغېزمن و([12])". افغاني واکمنان د خپل هېواد په جغرافيايي ستراتژيك حالت ښه خبر وو. هغوى خپلواکه بهرنۍ پالېسي پرمخ بيوله او د دويمې جگړې څخه مخکې دوره کې يې په بين المللي اړيکو کې بېطرفه دريځ غوره کړى و. له ماسکو سره د افغانستان دوستانه اړيکو هېڅکله د افغاني بهرنۍ پاليسۍ کړنلاره اغېزمنه کولی نه شوه.

## د شوروي هدفونه:

د امريکا متحده ايالتونه او شوروي دواړه د ساړه جنگ په دوران کې د دنيا دلاندې کولو پر سر د يوه بل سره د سيالو قووتونو په توگه ډگر ته راووتل. د ساړه جنگ په درشل کې د افغانستان گاونډي ملکونه لکه ايران او پاکستان د ۱۹۵۰

کال وروسته د امریکا سره په پوځي تړونونو کې پیوست شول، چې شوروي ضد وو. کابل د خپلې عنعنوي بېطرفانه پالیسۍ په تعقبولو سره په دا شان "شوروي ضد اتحاد کې ګډون ونه کړ[۱۳]".

د شیرین طاهر خېلي په قول "په افغانستان کې د شوروي اتحاد غوره مقصد دا و، چې دا هېواد له لویدیځ محور څخه لیرې وساتي[۱۴]". مسکو په رسمي توګه د افغانستان بېطرفي او په پوځي بلاکونو کې نه ګډون کول تائید کړي و. دا مطلب د شوروي اتحاد جمهور رئیس ان. وي. پودګورني افغانستان ته د خپل سفر په نتیجه کې د ۱۹۶۷ کال په جون کې څرګند کړ او زیاته یې کړه، چې "د افغانستان بهرنۍ پالیسي ډېره عالي ارزیابي کوي، ځکه هغه د مثبتې بېطرفۍ په اصولو او په پوځي بلاکونو کې د نه ګډون په اصولو ولاړه ده[۱۵]".

شوروي د امریکا په دا شان ستراتژۍ خوابدي وه، چې د کمونیزم د کلابندي رنګ یې درلود. په همدې منظور د امریکا متحدو ایالتونو تهران او اسلام آباد دواړه ځانته راوکاږل، چې په جغرافیایي لحاظ له شوروي سره نږدې و او په هغو تړونونو کې یې شمولیت غوره کړ، چې امریکا یې ملاتړ کاوه، د امریکا په خلاف شوروي هڅه کوله، چې په پاکستان کې د امریکایي نفوذ د پراختیا مخه د افغانستان له لارې ونیسي.

د ۱۹۵۰ مو کلونو په اوایلو کې کله، چې پاکستان ته امریکایي وسلې راورسېدلې، نو دا مهال کابل اعلام وکړ، چې دا کار د افغانستان لپاره یو ګواښ ګڼل کېږي او ماسکو

هم د افغانستان دا څرګندونه ملاتړ وکړ. په پښتونستان باندې د افغانستان ادعا هم د شوروي اتحاد له خوا ملاتړ وشو. د ۱۹۶۱ کال په مارچ کې کله، چې ماسکو په پښتونستان باندې د افغانستان ادعا تایید کړه، نو ورسره یوځای ې د پښتونستان د اوسېدونکیو خلکو ګټو ته ې په درناوی ټینګار وښود(۱۶).

ماسکو د افغانستان سیاست د پاکستان په اړوند په عمومي ډول تایید کړی دی. په پاکستان باندې د شوروي فشار اچول ددې لپاره و، چې د شوروي او پاکستان دوستانه اړیکي به د یوه ضرورت په توګه د افغانستان سره د پاکستان د اړیکو دښه کېدو یوازینی لار وي.

همدا شان شوروي اتحاد له افغانستان سره خپلې اړیکې د ښه ګاونډیتوب د پالیسیو په توګه توصیف کړي دي. ماسکو په ۱۹۶۰ کال کې د خروسچف دا خبره چې "یو دوست هغه دی، چې خپل دوست په تنګسه او اړتیا کې هېڅکله یوازې پرې نه ږدي" څو څو ځله تکرار کړي ده. له افغانستان سره د شوروي اتحاد مرسته ددې لپاره وه، چې د مسلمان افغانستان سره ښې اړیکې وساتي او سرحدي پوله له هر ډول لمسون او نارامۍ څخه کراره او خوندي کړي، ترڅو ددې سبب وګرځي، چې شوروي مسلمانان پاڅون ته ونه هڅېږي.

بله انګېزه، چې شوروي اتحاد یې له افغانستان سره ښو اړیکو ته رابالله، دا وه چې شوروي اتحاد هم یو آسیایي او هم یو اروپایي هېواد ګڼل کېده. ماسکو د یوه آسیایي هېواد په

توګه خپل رول د دريمې نړۍ په هېوادونو کې برجسته کړ. له افغانستان سره د شوروي ښې اړيکې په آسيا کې د هغه هېواد د رول د قانوني کېدو لپاره اساسي شمېرل کېدلې. د يوه دوست افغانستان موجوديت د شوروي اتحاد لپاره په آسيا او منځنې ختيځ کې د يوه پخې پايې په توګه ارزښت درلود. په سيمه کې د شوروي اتحاد مقصد دا و، چې نور طاقتونه د خپل نفوذ ساحه پراخه نه کړي او افغانستان په همېشني توګه له شوروي اتحاد سره په سيمه کې د هغه د پښې د ځای د موندلو په برخه کې مرسته کړې ده.

## له افغانستان سره اقتصادي مرستې:

سترځواکونه (غټ طاقتونه) په داسې جلا جلا وسايلو سنبال دي، چې له هغو څخه په استفادې سره کولی شي د خپلې بهرنۍ پاليسۍ هدفونه په ښه توګه ترلاسه کړي. افغانستان د دويمې نړيوالې جګړې وروسته د اقتصادي ودې لپاره جدي او سملاسي هيله جوته کړه. هغه د امريکا له متحدو ايالتونو او نورو هېوادونو څخه د مرستې اخيستلو هڅه پکار واچوله.

د ۱۹۵۰ کال په جولای کې شوروي اتحاد او افغانستان يو تجارتي تړون لاسليك کړ، چې د هغې له مخې شوروي اتحاد موافقه وکړه، چې افغانستان ته به د نورو لوازمو ترڅنګ تيلي توليدات او نساجي تکي چمتو کوي، په داسې حال کې چې افغانستان به هغه ته خپل خام مواد لکه مالوچ، وړۍ او

داسې نور شيان صادروي([19]). همدا شان ماسکو کله، چې د ملګرو ملتو له خوا د تيلو د پلټلو د پروژې په اړوند له شکمنې څخه خلاص شو، نو افغانستان ته يې د تيلو د موندلو تکنولوژي وسپارله([20]).

کابل له زياتې مودې راهيسې دا هيله په زړه کې روزله، چې د تيلو يوه داسې زېرمه ولري، چې کورنۍ اړتياوې يې ليرې کړي([21]). د همدې مقصد لپاره د ۱۹۴۹ کال په اوايلو کې افغانستان د ملګرو ملتو څخه د تيلو د پلټلو په برخه کې مرسته وغوښتله. شوروي اتحاد له لومړي سر څخه په افغانستان کې د ملګرو ملتو د فعاليتونو خاموشانه څارنه کوله. بالاخره ماسکو په افغانستان کې د ملګرو ملتو په هيات باندې ټينګه حمله وکړه او هغه يې په دې تنقيد کړ، چې "په دې هيات باندې له دې امله شکمن دی، چې امريکايان يې غړي دي([22])".

د (افغان ـ شوروي) د ۱۹۵۰ کال تجارتي موافقتنامه په افغانستان کې د شوروي اتحاد د اقتصادي فعاليتونو سختوالی او زياتوالی څرګندوي. د دويمې نړيوالې جګړې څخه مخکې افغانستان د روس او بريتانيا د سيالۍ قرباني و.

تر ۱۹۵۲ کال پورې د دواړو هېوادو تجارت دوه واره لوړ شو([23]) په ۱۹۵۲ کال کې د تيلو څلور ټانکونه د (۱۲۰۰) مکعب مترو په ظرفيت جوړ شول. په وروستيو کلونو کې په کابل کې د شوروي اقتصادي مرستې د زياتېدو په حال کې شوې.

پــه ۱۹۵۴ کــال کــې شـــوروي اتحـــاد افغانســـتان تـــه د اتوملیونـو ډالـرو برابـر پـور د تخنیکـي مرسـتې او سـرمایوي توکـو او تجـارتي مـالونو لپـاره ورکـړ([۲۴]). پـه ۱۹۵۴ کـال د پـترولو د اتـو زېرمـه کوونکیـو ټانکونـو د جوړولـو کـار د شوروي اتحـاد پـه مرســته بشــپړ شــو. پــه همــدې کــال شــوروي اتحـــاد د دوو سـیلوګڼانو د جوړولـو لپـاره ۳.۵ ملیونـه ډالـره ورکـړل، چـې یـوه ژرنـده او د ډودۍ پخولـو دسـتګاه هـم پکـې شـامل وو. پـه ۱۹۵۴ کـال یو بـل پـور هـم د ۵،۶ ملیونـو ډالـرو پـه اندازه افغانسـتان تـه ورکړل شو، چې په بـدل کـې بـه یـې د افغانسـتان لـه خـوا د پنځو کلونـو پـه مـوده کـې مـالوچ او وړۍ ورکـول کـېده([۲۵]). همـدا شـان ماسکو موافقـه وکـړه، چې پـه شـوروي اتحـاد کـې لـه ترمـز څخـه د آمـو پـه غـاړه د ۶۰ میلـو پـه اوږدوالـي یـو پـایپ لایـن مزارشـریف تـه د مرستې پـه توګه جـوړ کـړي([۲۶]).

د پښتونســتان پــه ســر د افغانســتان او پاکســتان دښمنــي تــل دېتـه موقـع برابروله، چـې شـوروي اتحـاد پـه افغانسـتان کـې خپـل فعالیتونـه پراخـه کـړي. د ۱۹۵۵ کـال پـه لومړیـو وختـو کـې د څو پـېښو پـه منـځ تـه راتلـو سـره د پاکسـتان او افغانسـتان ترمنـځ کړکېچ زیـات او پـه نتیجـه کـې یـې سـرحدي پولـه وتـړل شـوه، چـې دې کـار د افغانسـتان صـادرات کـم کـړل او پـه اقتصـاد بـاندې یـې منفـي اغـېزه وکـړه، خـو سـره ددې هـم کـابل لـه شـوروي اتحـاد څخـه دا ونـه غوښتـل، چـې هغـه هـېواد ورتـه د خپلـې خـاورې دننـه د تـېرېدو یـوه لار ورکـړي. پـه عـوض کـې افغانسـتان لـه ایـران څخـه دا مرسـته وغوښتـه، چـې هغـه هـېواد د خپلـې خـاورې دننـه

دپارس خلیج ته د تېرېدو حق ورکړي، خو دې کار هم دېته اړتیا پیدا کوله، چې د ایران د خاورې دننه د ۳۶۰۰ میلو په واټن سړکونه ترمیم او اصلاح شي([۲۷]). بیا هم دا معامله د افغانستان لپاره ډېره قیمتي ګڼل کېده. بالاخره افغانستان چې بهر ته کومه لاربیا نه موندله، تر څو خپل اقتصاد پرې وچلوي، نو شوروي اتحاد ته یې مخ واړاوه او په نتیجه کې د دواړو هېوادو ترمنځ یوه ترانزیتي موافقه وشوه او کابل ته دا حق حاصل شو، چې د شوروي له لارې د ګمرکي محصول پرته ترانزیت د خپلو تجارتي مالونو لپاره پیدا کړي([۲۸]).

په وروستیو کلونو کې د دواړو ملکونو په تجارت کې نور زیاتوالی هم راغی. ماسکو او کابل د ۱۹۵۵ کال په اګست کې د تجارتي مالونو د تبادلې په برخه کې یو پروتوکول لاسلیك کړ، چې د هغې پر بنا شوروي اتحاد افغانستان ته پترولي تولیدات، فلزي شیان او ساختماني مواد صادرول او په مقابل کې افغانستان وړې، مالوچ او پوستکي ورکول([۲۹]). د ۱۹۵۴او ۱۹۵۵ کلونو ترمنځ شوروي اتحاد ته د افغانستان صادران د ټولو صادراتو په سلو کې ۱۹ برخې جوړولې([۳۰]). د ۱۹۵۳ او ۱۹۵۴ کلونو ترمنځ له افغانستان سره د شوروي د تجارت د ۱۵۶ ملیونه افغانیو کسر په ۱۹۵۴ او ۱۹۵۵ کلونو کې د ۵۷ ملیونه افغانیو په زیاتوالي باندې بدل شو([۳۲]).

په ۱۹۵۵ کال کې افغانستان ته د شوروي اتحاد د اقتصادي مرستو سیل هغه وخت جاري شو، چې د شوروي

مشرانو بولګانین او خروسچف کابل ته د خپل سفر په وخت کې له خوا ورته د ۱۰۰ ملیونو ډالرو اوږدې مودې پور ورکړل شو[۳۳]. دا افغانستان ته د شوروي اتحاد تر ټولو زیات پور ګڼل کېده، چې هغه په دې مشروط و، چې شوروي به په کرنې اوبو لګولو او نورو برخو کې مربوط سامان او وسایل او کوپراتیفي لوازم افغانستان ته صادروي. ددغه پور ادا کول د افغانستان له خوا د صادراتي شیانو په ورکړه سره په ۳۰ کلونو کې ترسره کېدل[۳۴].

په وروسته کلونو کې افغانستان ته د شوروي اتحاد د مرستو زیاتوالی زیات تر سترګو کېږي. د ۱۹۵۴ او ۱۹۷۵ کلونو ترمنځ د شوروي مرستې افغانستان ته د (۱۲۶۳) میلیونو ډالرو شخه واوښت، چې په دې ډول افغانستان د شوروي د مرستې اخیستونکیو په لړ کې تر ټولو ستر اخیستونکی هېواد وګڼل شو[۳۵]. د ثور د انقلاب دمخه دلته نږدې (۱۵۰۰) مشاورین او تکنشنان موجود وو.

ددې ترڅنګ کابل د شوروي ډېر ستر تجارتي شریک و، حتی د ختیځې اروپا د هېوادونو تجارت هم د شوروي اتحاد له لارې افغانستان سره په آسانۍ ترسره کېده. څرنګه چې د (افغان ـ پاکستان) مناسبات خړ پړ وو، نو افغانان زیاتره له شوروي اتحاد سره د تجارت په اړوند نږدې شول او د مسکو له لارې تجارت پراخه شو. لاندینی جدول د افغانستان او شوروي ترمنځ د تجارت بڼه جوتوي:

(افغانستان سره د شوروي اتحاد تجارت د مليون امريکايي ډالرو په حساب)

| کال | صادرات | واردات |
|---|---|---|
| ۱۹۷۰ | ۴۰,۰ | ۳۴,۳ |
| ۱۹۷۱ | ۵۰,۲ | ۳۸,۴ |
| ۱۹۷۲ | ۴۶,۱ | ۳۷,۳ |
| ۱۹۷۳ | ۴۵,۵ | ۴۸,۳ |
| ۱۹۷۴ | ۸۱,۶ | ۸۰,۵الف |
| ۱۹۷۵ | ۹۳,۷ | ۸۸,۷ |
| ۱۹۷۶ | ۱۱۶,۴ ب | ۸۸,۸ |
| ۱۹۷۷ | ۱۵۴,۵ | ۱۰۴,۰ |

الف: د ۱۹۷۳ کال د کودتا وروسته (شوروي ـ افغان ـ تجارت دوه واره لوړ شو، چې په عمومي توګه هغه هم شوروي پلوه شرحه شوی دی.

ب: صادرات يې د ماسکو د ۱۹۷۵ کال د ۴۲۵ مليونو ډالرو په کريديت او پور پوري تړلي و، چې د افغانستان اوه کلن پلان (د ۱۹۷۶ کال د مارچ څخه د ۱۹۸۳ کال تر مارچ) ته وقف شوی و.

افغانستان ته د شوروي اتحاد د غتو مرستو رسېدل ددې سبب شول، چې دغه هېواد په شوروي باندې متکي شي. مسکو په افغانستان کې خپلې ستراتژيکي لاس ته راوړنې پياوړې کړې.

## پوځي مرستې:

شوروي اتحاد د افغانستان لومړی درجه وسله برابرونکی هېواد دی. د ۱۹۵۰ مو کلونو په پیل کې، چې د ساړه جنګ په نتیجه کې ایران او پاکستان د امریکا تر سرپرستۍ لاندې د بغداد په پکټ کې داخل شول، شوروي د امریکا په ضد افغانستان ته د وسلې ورکولو اقدام وکړ، ځکه امریکا، ایران او پاکستان ته په همدغه کار لاس پورې کړی و. د ربښتیاني سیاست (Real Politic) اندېښنو او کتنو شوروي دېته اړ ایست، چې افغانستان ته په دې لحاظ پاملرنه وکړي، چې د هغه دا ګاونډی د امریکایي تړون لرونکی سیستم د چتک پرمختګ څخه مخ واړوي. د ۱۹۵۵ او ۱۹۷۲ کلونو ترمنځ شوروي اتحاد د ۴۵۵ ملیونو ډالرو په ارزښت پوځي مرسته ورکړه([37]). د ۱۹۷۷ کال په پای کې افغانستان ته د شوروي اتحاد ټولې ورکړې د ۶۰۰ ملیونو ډالرو څخ واوښتې([38]). د ۱۹۵۰ مو کلونو راهیسې ماسکو افغانستان په سلو کې ۹۵ پوځي وسایل او سامان آلات برابر کړل.

د شوروي اتحاد په پوځي مرستو کې یوازې پوځي وسایل شامل نه وو، بلکې شوروي اتحاد د افغاني پوځ د روزنې لپاره پوځي ښوونکي هم ولېږل. شرین طاهر خېلی وایي:

"شوروي پوځي معلمینو د هغو ترکي او جرمني پوځي ښوونکیو ځای ونیو، چې په عنعنوي توګه یې د پوځي ښوونې دنده په غاړه وه. په نظامي اکاډمۍ او پوځي ډګر دواړو کې

شوروي معلمين په انکشافي فعالیتونو بوخت وو او د پوځي لوازمو په ساتنه او نظامي افسرانو او پرسونل سره ي په سلا مشورو کې مرسته کوله. ددې ترڅنګ شوروي پوځي معلمينو د هغو جنګي جټ الوتکو د پيلوټانو او عملې په روزنه کې ونډه واخستله، چې د شوروي له خوا ورکړل شوې وې. دغو نږدې اړيکو په پوځي افسرانو کې شوروي پلوه احساسات او عناصر راپيدا کړل کومو چې په ۱۹۷۳ کال کې يې د ظاهر شاه په خلاف کودتا کې برخه واخستله او همدا شان د ۱۹۷۸ په بله کودتا کې يې د داود رژيم ړنګ او په افغانستان کې يې کمونستان د قدرت په ګدۍ کېنول(۳۹)".

شوروي اتحاد په خارجي سياست کې له ټولې دريمې نړۍ سره پوځي مرستې شاملې دي او ددې پاليسۍ يوه عمده وسيله همدا پوځي کومک ګڼل کېږي. افغانستان ته د شوروي مرستو ورکړه د (افغان ـ شوروي) د ټولو دوستانه اړيکو يوه غوره برخه وه. دا مرستې اصلاً ددې لپاره وې، چې د شوروي قدرت او حيثيت زيات شي، چې د هغې په نتيجه کې په ۱۹۷۹ کې د نورو ستراتژيکو عواملو ترڅنګ شوروي مداخله په افغانستان کې آسانه شوه. د شوروي ابتکارونو او نوښتونو په وړاندې د افغانستان عکس العمل به د (افغان_امريکا) د اړيکو د څېړنې وروسته شرحه شي.

## د افغان ـ امریکا اړیکې:

لـه امریکـا سـره د افغانسـتان اړیکـې د ۱۹۷۸ کـال څخـه وروسـته هـم تـر یـوه کـال پـورې دوسـتانه او پـه زړه پـوري وې، خـو بیـا هـم د شـوروي پـه پرتلـه نـه بـرېښېدې. د امریکـا څخـه د شـوروي سـتراتژیکې ګټـې ډېرې وې، ځکـه هغـه لـه افغانسـتان سره اوږده ګډه سـرحدي پوله لـري.

د (شـوروي ـ افغـان) اړیکـو تاریخچـه د (امریکـا ـ افغـان) تـر اړیکـو ډېره پخوانـۍ ده. دا یـوازې د اعلیحضـرت امـان الله خـان زمانـه وه، چـې افغانسـتان لـه بهرنـۍ دنیـا سـره د اړیکـو پـه پراختیـا پیـل وکـړ. د (افغـان ـ امریکـا) د اړیکـو د نږدې کېـدو پـه برخـه کـې پـه ۱۹۲۱ کـال کـې ګامونـه اوچـت شـول[۴۰]. د ۱۹۲۱ کـال پـه جـولای کـې د محمـد ولـي خـان پـه مشـرۍ یـو هیـات امریکـا تـه روان شـو. نومـوړی د ۱۹۲۱ کـال د جـولای پـه ۱۱ نېټه پـه نیویـارك کـې وویـل، چـې د امریکـا متحـده ایـالتونو تـه دده د سـفر موخـه د واشـنګتن او کـابل ترمنـځ دیپلومـاتیکې اړیکـې ټینـګول دي. ده زیاتـه کـړه، چـې لـه امریکایـانو څخـه دا هیلـه کـوي، چـې د افغانسـان د انکشـاف لپـاره سـرمایه ګذاري وکـړي[۴۱]. د افغـاني هیـات غـړي پـه داسـې حـال کـې، چـې یـوه مطبوعـاتي کنفرانـس تـه یـې وینـا کولـه (۱۹۲۱ کـال د جـولای ۱۲) لـه امریکـا سـره د دیپلومـاتیکي اړیکـو د ټینګولـو پـه اړونـد د افغانسـتان غوښتنـه یـاده کـړه[۴۲]. محمـد ولـي خـان د امریکـا د بـهرنیو چـارو د وزیـر ای، هـوګز E.Hoghes سـره د خـبرو څخـه

دمخه اعلان وکړ، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ډيپلوماتيکي اړيکو تاسيس به د امريکايي تجارانو لپاره نوې لارې پرانېزي([43]).

د محمد ولي خان په مشرۍ لېږل شوی هيات ددغسې اړيکو د ټينګولو لپاره د امکاناتو په څېړنه پيل وکړ، خو د امريکا په متحده ايالتونو کې په پراخه اندازه دا باور موجود و، چې کومه مېلمه پالنه، چې په امريکا کې افغاني هيات ته شوې وه، په هېڅ صورت يې دا نه ښووله، چې د امريکا متحده ايالات به افغاني رژيم په رسميت وپېژني([44]). د افغاني هيات د وړانديز په وړاندې د امريکا رسمي عکس العمل په هغه ليک کې معلومېږي، چې هوګز جمهور رئيس هارډينګ Hardinge ته د ۱۹۲۱ کال د جولای په ۱۸ لېږلی و او په هغې کې نوموړي داسې ليکلي و:

"تراوسه پورې موږ له افغانستان سره مخامخ اړيکي نه لرو. زموږ د منافعو څارنه د بريتانيا له خوا کېدله... څرنګه چې بريتانيا په ۱۹۱۹ کې د افغانستان خپلواکي په رسميت وپېژندله... او افغانستان لاتراوسه د بريتانيا د نفوذ په ساحه کې داخلېږي، هغه وخت تراوسه لا رارسېدلی نه دی، چې موږ څه زيات ابتکار وکړو([45])".

د ۱۹۲۱ د جولای په شلمه هوګز په يوه بل ليک کې جمهور رئيس ته وليکل، چې د ډپلوماتيکو اړيکو د ټينګولو لپاره د افغانستان وړانديز په دې پلمه بايد څه وخت وځنډول شي،

چې ګوندې دا مساله د امریکا متحدو ایالتونو تر څېړنې لاندې نیولې ده[۴۶].

د ۱۹۲۱ کال د جولای ۲۶ نېټه د امریکایي جمهور رئیس او افغاني هیات ترمنځ د ملاقات لپاره وټاکل شوه[۴۷]. په همدې ورځ محمد ولي خان د امریکا جمهور رئیس هارډینګ ته د امان الله خان هغه لیك وسپاره، چې په هغه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ډیپلوماتیکو اړیکو غوښتنه شوې وه[۴۸]. جمهور رئیس د امان الله د لیك په ځواب کې د ښو اړیکو ساتلو هیله وکړه، خو دا یې وویل، چې د دواړو هېوادو ترمنځ د ډیپلوماتیکو اړیکو د تاسیس مساله باید د امریکا کانګرس ته پرېښودل شي[۴۹].

په نتیجه کې د افغاني هیات مشر د خپلو ملګرو سره د ۱۹۲۱ کال د جولای په دېرشمه له امریکا څخه روان شو. ده د خپل سیاسي ماموریت په نتیجو باندې له تبصره کولو څخه ډډه وکړه[۵۰]. د واشنګټن رسمي کړیو دا نظریه ښکاره کړه، چې افغاني هیات د امریکا له خوا د افغانستان په رسمیت پېژندنه ترلاسه نه کړای شوه[۵۱]. سرهددې هم په ۱۹۳۵ کې د امریکا د بهرنیو اړیکو په اړوند اخبارونه خپاره شول او د یوې سرمقالې په تبصره کې داسې برېښي، چې "د امریکا د جمهور رئیس سره د افغاني هیات ملاقات په عمومي توګه داسې جوتېږي، چې د امریکا متحدو ایالتونو د امان الله خان حکومت په عمومي توګه په رسمیت پېژندلی و[۵۲]". دا د ۱۹۳۴ کال د اګست ۲۱ نېټه وه، چې د امریکا متحدو

ایالتونو د افغانستان له رسمیت پېژندنې سره توافق وښود([53]).

کله چې افغانستان د امریکا له خوا په رسمیت وپېژندل شو، نو تر هغې وروسته افغانستان له واشنګتن سره د دوستۍ یو تړون لاسلیك کړ([54]). امریکا له دې تړون سره ډېره علاقمندي ونه ښووله او په مقابل کې یې د یوې په کرار تلونکې پالیسۍ باندې ټینګار درلود([55]). په دې وړاندیز باندې خبرې اترې پرمخ ولاړې، ترڅو د ۱۹۵۶ کال د مارچ په ۲۹ نېټه د افغانستان او د امریکا د متحدو ایالتونو ترمنځ په رسمي توګه دا تړون لاسلیك شو([56]).

دا هم د یادونې وړ ده، چې د امریکا له خوا د افغانستان په رسمیت پېژندنې سره سره بیا هم د دواړو هېوادو ترمنځ د سفارت په سویه اړیکې ټینګې نه شوې. تر ۱۹۳۶ کال پورې یوازې یو امریکایي تبعه په افغانستان کې و([57]). په تهران کې امریکایي سفیر ولیام. اچ. هارني بروك ته د ۱۹۳۵ کال په اپریل کې هارني بروك کابل ته لاړ، چې هلته د دواړو هېوادونو ترمنځ د سفیرانو د تبادلې امکانات وڅېړي. دا یوازې د ۱۹۳۵ کال د مې څلورمه نېټه وه([59])، چې هارني بروك په کابل کې د سفیر په توګه خپل باور لیك وړاندې کړ([60]). افغانستان له امریکا څخه وغوښتل، چې په کابل کې خپل دایمي استوګن سفیر کېنوي([61]).

دغه پرمختیاوې د امریکا د متحدو ایالتونو او افغانستان ترمنځ د ملګرتیا د نوې دورې پیل ښکاره کوي. ځینو

امریکایي شرکتونو په افغانستان کې د تیلو د موندلو په هیله د امکان څېړنې ته سوچ وکړ، د ۱۹۳۶ کال په اکتوبر کې کله، چې افغان خارجه وزیر د برلین په کتنه بوخت و، د یوې امریکایي کمپنۍ استازیو ورسره ولیدل او د تیلو د معاملې په اړوند یې ورسره خبرې اترې وکړې[۶۲]. د ۱۹۶۳ کال د نوامبر په شلمه (د وچې دننه د تیلو د پلټلو شرکت) له افغاني حکومت سره په افغانستان کې د تیلو د لټون لپاره یو تړون لاسلیک کړ[۶۳]. سره ددې هم دا قرارداد عملي نه شو، ځکه شامل شرکت د تړون او قرارداد د لغوه کولو په نیت کې و[۶۴]. ددې قرارداد د فسخه کولو لپاره درې دلیلونه موجود وو: د فارس له خلیج څخه د ۱۰۰۰ میلو په واټن د ساحې لرې والی، د امریکا د اقتصاد نامطمئن حالت، د بین المللي حالت نه اټکل کېدل[۶۵]. افغان حکومت د شرکت په دې هوډ هك پك شو او نورې آسانتیاوې[۶۶] یې هم هماغه شرکت ته ومنلې، خو شرکت په خپل تصمیم کلك ودرېد.

په زیاته اندازه دا باور کېده، چې که دا تړون عملي شوی وای، نو د (افغان۔امریکا) په اړیکو کې به یې نوی فصل پرانستلی وای. افغانستان، چې د ډېرې اوږدې مودې لپاره د روس او انګلیس د اوږدې سیالۍ قرباني و، ددې لېوال و، چې د یوه دریم ګړي هېواد سره لکه د امریکا متحده ایالات، تجارتي اړیکې تاسیس کړي، چې دا د هغه نورو سترو طاقتونو (بریتانیا او روس) څخه ورته ښه انتخاب شمېرل کېده.

دغـه پرمختيـاوې د امريکـا پـه سـتراتيژۍ کـې د افغانسـتان د ارزښت د زيـاتوالي پـه برخـه کـې اساسـي بربښېدلـې. واشـنګټن پـه کـابل کـې خپـل نـوی ټاکلـی سـفير لوئيـس. جـي. دريفـس (Drefus) تـه خـبر ورکـړ، چـې پـه پراخـه پيمانـه د دوه اړخـيزو اړيکـو د پراخېدلـو د امکانـاتو څېړنـه وکـړي([۶۷]). دريفـس Drefus خارجـه وزارت تـه پـه خپـل راپـور کـې سـپارښتنه وکـړه، چې پـه کـابل کـې سملاسـي يـوه امريکـايي قونسـلګري جوړه او د افغانسـتان دوسـتانه غوښتنو تـه مثبـت ځواب ورکـړل شـي. دغـه راز ده دا نظريـه څرګنـده کـړه، چې افغانسـتان کـابل تـه د امريکـا يـي مـاهرانو د راتلـو هيلـه ک زي او دا کـار بـه د امريکـا لپـاره يـو لارښود وي، چې د خپـل نفـوذ د سـاحې د پراختيـا پـه منظـور لـه دې فرصـت څخـه ګټه ترلاسـه کـړي([۶۸]).

د ۱۹۴۱ کـال پـه دسـمبر کـې د امريکـا متحـدو ايـالتونو حکومـت پـه کـابل کـې د خپـل سـفارت د پرانسـتلو غوښتنـه وکـړه. واشـنګټن پـه لومـړي سـر کـې پـه دې نظـر و، چـې پـه کـابل کـې لومـړی پـلا قونسـلګري خلاصـه کـړي، خـو افغـاني حکومـت دا پـه ډاګه کـړه، چـې تـرڅو پـه کـابل کـې يـو پـوره اسـتوګن او واك لرونکـی سـفير ځای پـه ځای شـوی نـه وي، د قونسـلګرۍ خلاصـېدو تـه بـه اجـازه ورنکـړل شـي([۶۹]). وروسـتې د ۱۹۴۲ کـال د مـارچ پـه شپاړسـمه جمـهور رئيـس روزولـت پـه کـابل کـې د يـوه منظـم سـفير د مقـررۍ امـر وکـړ([۷۰]). د ۱۹۴۲ کـال د مـارچ پـه ۲۵ نـېټه سـي. وان. اچ انـګرت تـه چـې پـه تـهران کـې د امريکـا سـفير و، بـاور لـيك ورکـړ، چـې پـه کـابل کـې د امريکـا سـفارت

نماینده ګي هم وکړي([71]). د ۱۹۴۲ کال د جون په شپږمه په کابل کې د امریکا قونسلګري افتتاح شوه.

د ۱۹۴۲ کال د جولای په ۲۵ انګرت په کابل کې محمد ظاهر شاه ته خپل باورلیك وړاندې کړ. ظاهر شاه او انګرت دواړو د نړیوالې سولې او د دوی د دوه اړخیزو اړیکیو په اړوند مسالو باندې خپلې نظریې تبادله کړې([72]). کله چې د امریکا متحده ایالتونو او افغانستان په خپلو منځو کې د سفارت په سویه سیاسي اړیکې ټینګې کړې، نو دا وخت دویمه نړیواله جګړه په ډېر قوت روانه وه. بریتانیا او روسیه دواړه په یوه اتحاد کې شامل شوي و او د جرمني په ضد یې مبارزه کوله. د جګړې په مهال د جرمني او شوروي سره د افغانستان صادراتي فعالیت رالوېدلی و، چې په نتیجه کې یې په کورني اقتصاد ناوړه اغېز وکړه. د ۱۹۴۰ او ۱۹۴۱ کلونو ترمنځ مجموعاً د ۲۰۰۰۰۰ پوستکو څخه یوازې ۳۸۹۴۰ پوستکي صادر کړای شول([73]). په همدې وخت د امریکا متحدو ایالتونو د افغاني پوستکو د اخیستلو لپاره د ترتیباتو په نیولو سره افغاني اقتصاد له رکود څخه بچ کړ. افغاني حکومت دا غوښتنه وکړه، چې د امریکا متحده ایالات افغاني مالونه د هوا له لارې د امریکایي بازارونو لور ته ولېږدوي([74]).

د ۱۹۴۲ کال د جون په ۲۴ نېټه یوه امریکایي الوتکه په خطایي سره د افغانستان هوایي فضا ته ننوتله، نو دا مهال د کابل د عکس العمل څخه دمخه امریکایي سفارت ددې

پېښې لـه املـه خواشـيني وښودلـه([۷۵]). د سـفارت د ځرګندونـې وروسـته افغـاني حکومـت دا مسـاله دومـره جـدي ونـه ګڼلـه. اوس نـو د افغانسـتان نوبت شـو، چې پـه واشـنګټن کې خپـل سـفارت تاسـيس کـړي. د ۱۹۴۳ کـال د جـون پـه څلورمـه عبدالحسـين عزيـز د افغـان سـفير پـه تـوګه پـه واشـنګټن کـې خپـل بـاورليك وړانـدې کـړ. جمـهور رئيـس روزولـت، پـه داسـې حـال کـې چـې افغـاني سـفير تـه يـې ښه راغلاسـت ويـل، د دواړو هـېوادو ترمنـځ د ښو اړيکو د ټينـګېدو هيلـه يـې ښکـاره کـړه([۷۷]).

د کـابل او واشـنګټن ترمنـځ د سـفارت پـه سـويه اړيکـې ټينـګېدل د دواړو هـېوادو لپـاره غـوره پرمختـګ و. افغانسـتان يـو نـوی دوسـت ومونـد او امريکـا پـه آسـيا کـې د يـوه سـتراتژيك ارزښت لرونکـی ملـك روابـط ټينـګ کـړل. افغانسـتان د دويـم جنګ پـه اوږدو کې يـوه مثبتـه بېطرفانـه پاليسـي مخـې تـه بوتلـه.

د ۱۹۴۴ کـال پـه اپريـل کـې د امريکـا متحـده ايـالتونو د ودانولـو بـيرو (دفـتر) مشـر د ديزايـن انجنـير جـان. ال. سـاويج کـابل تـه سـفر وکـړ او افغـاني حکومـت تـه يـې د اوبـو لګولـو او نـورو مربوطـو مسـالو کـې سـلا مشـوره ورکـړه([۷۸]).

د دويمـې نړيوالـې جګړې پـه اوږدو کـې د افغانسـتان اړيکـې ل امريکـا سـره کلکلـې شـوې. پـه همـدې مـوده کـې د امريکـا متحدو ايـالتونو تـه دا فرصـت پيدا شـو، چې پـه افغانسـتان کـې خپلـې راتلونکـې ګټې او سـتراتېژي وڅېړي. دا د امريکـا لپـاره د سـيمې پـه سياسـت کـې نـوی شـموليت و او دا د روس او بريتانيـا د تـېر وخـت د ترخـو تجربـو پـه پـام کـې نيولـو سـره د

افغانستان په هکله د امریکا د متحدو ایالتونو د ښه نیت ثرګندوی و. د امریکا حکومت ددې په ځای چې په سیمه یېزو شخړو کې ځان بوخت کړي، یو خپلواك سیاست یې ونیو. د نړیوالې جګړې په مهال، چې شوروي اتحاد او بریتانیا دواړو افغانستان دېته هڅاوه، چې د محور د قواوو په خلاف محدودیتونو وضعه کړي، نو دا وخت امریکا یو ډېر عاقلانه عمل وکړ. د امریکا خارجه وزیر هل Hull په کابل کې د امریکا سفیر ته ولیکل، چې د امریکا متحده ایالات نه غواړي، چې د کوم داسې یوه غورځنګ پلوي شي، چې هغه په افغانستان زور واچوي، چې یا د محور د قواوو سره اړیکې پرېکړي او یا خو په کابل کې د امریکا د سفارت د مامورینو شمېر راټیټ کاندي(۷۹). هغه دا هم زیاته کړه، چې د امریکا کلك باور لــه دې املـه دی، چې د افغانستان په دوستۍ باندې سخته عقیده لري او امیدوار دی، چې افغاني حکومت د خپل ځان په ګټه پرېکړه وکړي(۸۰).

لـه ۱۹۱۹ کـال راپـه دې خـوا پـه تېره بیـا د دویمې نړیوالې جګړې راهیسې د (افغان ـ امریکا) اړیکې په چټکۍ سره پراخه شوې دي. په دې دوره کې افغانستان له امریکا او شوروي اتحاد دواړو سره ښې اړیکې لرلې او مثبته بېطرفانه پالیسي یې چلوله.

د متحدینو له خوا د جګړې په اوږدو کې د ایران اشغال افغاني حکومت په دې داډه او راضي کړ، چې کولی شي د

بېطرفانه سیاست په غوره کولو سره له خپل ځان څخه دفاع وکړي.

افغانستان د دغو غني تجربو په اساس د ساړه جنګ په اوږدو کې لاهم ډېر احتیاطي شو، ځکه چې د دویمې نړیوالې جګړې متحدین یانې امریکا او شوروي دواړه د نړیوال نفوذ په منظور په خپلو کې اصلي سیالان وو. د ۱۹۴۶ کال په می کې افغاني حکومت اعلان وکړ چې: "د ټولو هېوادونو په تېره بیا له ګاونډیانو سره دوستانه اړیکي د افغاني خارجي پالیسۍ اساس جوړوي. موږ باید خپلو هڅو ته دوام ورکړو ترڅو په بین المللي اړیکو کې د سولې قواوې پیاوړې شي(۸۱)". اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د ۱۹۴۶ کال د جولای په ۲۱ وویل، چې دا د افغانستان دپاره یو داسې عالي وخت دی، چې د خپل ژوند سطحه اوچته کړي(۸۲). افغاني صدراعظم سردار شاه محمود هم جوته کړه، چې دا د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل دی، چې د سترو طاقتونو له خوا په ستراتژیکو ساحو کې د هغوی د امپراتوریو د پراخولو وېره له منځه تللې ده. افغانستان کولی شي د خپلو منابعو څخه په استفاده کولو سره د خپلو خلکو د ژوند سطحه لوړه کړي(۸۳).

افغانستان د ساړه جنګ په دوران کې د امریکایي سیاستوال جورج.جي. ملك ګي پاملرنه هغه وخت خپل ځان ته واړوله، چې کانګرس ته یې وویل، چې: "افغانستان په سویلي

آسیا کې یو غوره او مهم هېواد دی او د هغه ستراتژیك موقعیت د هغه ارزښت نور هم زیاتوي(۸۴)".

د امریکا متحدو ایالتونود ستراتژستانو لپاره افغانستان د ستراتژیك او نظامي پلوه د ځښت زیات ارزښت لرونکی و، ځکه له شوروي اتحاد سره د افغانستان جغرافیایي نږدېوالی ددې سبب شو، چې افغانستان له امریکا سره پوځي یووالی د خپلو ملي گټو لپاره زیان بښونکی وشمېري(۸۵).

افغانستان د دویمې نړیوالې جگړې وروسته د خپل اقتصادي پرمختگ لپاره د امریکا د مرستو د راکاږلو په لټه کې شو. د ۱۹۴۶ کال د مارچ په لومړۍ نېټه د امریکا د موریسن - کنودسن د شرکت او افغاني حکومت ترمنځ د اوبو لگولو د ځلورو پروژو او د ۴۵۰ کیلومتره اوږده سړك د جوړولو لپاره د (۱۷) ملیونو ډالرو یو قرارداد لاسلیك شو(۸۶).

د اوبو لگولو پروژه د هلمند په ناوه کې په دې هیله پیل شوه، چې "هغه به د لویدیځ وچ ډاگونه خړوب او نوې زراعتي ځمکې به پیدا شي. تر ۱۹۵۳ کال پورې د هلمند په پروژه کې د ډېرو زیاتو پیسو په ورك کېدلو سره د افغان حکومت او امریکا ترمنځ سخت کړکېچ او اختلاف راغی او هرې یوې خوا په بله خوا باندې د غبن، ناهیلۍ او شاته تگ پړه واچوله(۸۷)".

د هلمند پروژه په ۱۹۳۰ مو کلونو کې د افغانستان د حکومت له خوا د جاپاني انجینرانو په مرسته پیل شوې وه(۸۸)؟ دا پروژه په ټاکلي وخت کې بشپړه نه شوه او په دې

سبب ډېر ژر د دواړو ملکونو (افغانستان او امریکا) په اړیکو کې یې غوره تخریش رامنځ ته کړ.

د ۱۹۴۶ کال په سپتمبر کې چې افغانستان د ملګرو ملتو د غړیتوب د حاصلولو وړاندیز وکړ، د امریکا متحدو ایالتونو د افغانانو د غوښتنې ملاتړ وکړ[۸۹]. د ۱۹۴۸ کال د جون په پنځمه واشنګټن په کابل کې خپله قونسلګري د سفارت سطحې ته اوچته کړه او د ۱۹۴۸ کال د نوامبر په ۲۳ کابل هم بالمثل عمل ته دوام ورکړ. محمد نعیم خان په امریکا کې د افغاني سفیر په توګه وګومارل شو او په مقابل کې پالمر په کابل کې د امریکا د سفیر دنده ترلاسه کړه[۹۰]. د امریکا خارجه وزارت ددې حرکت هرکلی وکړ او هغه یې د دواړو هېوادو ترمنځ د دوستۍ او ملګرتیا یو سمبول وګاڼه[۹۱].

## د امریکا اقتصادي مرسته:

افغانستان چې په وچه چاپېره او غریب هېواد دی، د نړۍ د ډېرو لږو پرمختللیو هېوادونو څخه شمېرل کېږي. د دویمې نړیوالې جګړې څخه سملاسي وروسته، افغاني حکومت د اقتصادي ودې ډېر لوړ هیله ناك پلانونه په کار واچول. افغانستان د پوستکو او څرمنو په خرڅلاو سره ډېرې لږې بهرنۍ پیسې او اسعار راغونډ کړي وو. لومړی یې د هلمند د تاوې د لوړې هیلې وړ پروژه د موریسن کنورسن امریکایي کمپنۍ په مرسته پکار واچوله، چې دمخه یې بیان وشو. په لومړي سر کې ددې پروژې لګښت ۱۷ ملیونه ډالره تخمین

شو. خو وروسته د بر ژر دا لګښت ۴۰ ملیونو ډالرو ته وخوت د ۱۹۴۶_۱۹۴۷ کال په ترڅ کې د افغانستان په صادراتو کې څلور ملیونه ډالره تاوان راغی[۹۲]. په ۱۹۴۸ کال کې افغانستان له امریکا څخه ۱۱۸ ملیونه ډالره وغوښتل. د امریکا د اکزیم بانك (۳۹,۵) ملیونه ډالر افغانستان ته په پور ورکړل، چې د هلمند په ناوه کې یې له ۱۹۴۸ څخه تر ۱۹۵۴ پورې ولګوي[۹۳]. تر ۱۹۶۲ کال پورې افغانستان ته د امریکا متحدو ایالتونو اقتصادي مرستې ۲۲۴ ملیونو ډالرو ته ورسیدې.

د امریکا مرستې افغانستان ته په دوه ډوله وې، لومړی هغه مرستې وې، چې د بسپنې او بخشش په توګه، چې هغه په سلو کې ۷۷ برخو ته رسیدلې. دویم هغه مرستې، چې د پور په حیث وې. چې په سلو کې یې ۲۳ برخه جوړوله. تر ۱۹۶۲ کال پورې امریکا ۶, ۵۰ ملیونه ډالره د تخنیکي مرستې په ډول او د څلور ملیونو ډالرو په ارزښت غنم افغانستان ته ورکړل. د ۱۹۵۹ څخه تر ۱۹۶۰ پورې امریکا ۶۳ سکالرشپونه په بیلابیلو ساحو کې افغاني محصلینو ته ومنل[۹۵]. د امریکا متحدو ایالتونو تر ۶۲ پورې ۸۰ ملیونه ډالر د ترانسپورت، ۵۰ ملیونه ډالر د هلمند ناوې پروژې، ۱۶ ملیونه ډالره پوهنې، ۶ ملیونه ډالره اداري مقصدونو، ۸ ملیونه ډالره کرنې، ۲,۲ ملیونه ډالره صنعتي ودې او ۱۲ ملیونه ډالره افغانستان ته د ډول ډول هدفونو لپاره ورکړل[۹۶].

امریکایي پالیسي جوړوونکي دا نظریه وړاندې کړه، چې لوړه ښوونه او روزنه یوازینۍ ساحه ده، چې امریکا کولی شي په بریالیتوب سره عامه نفوذ او نظر ځان ته وګټي(٩٧).

د ۱۹۶۳ کال د اپریل تر ۳۰ پورې ۶۱۴ امریکایي ماهران په افغانستان کې د امریکایي مرستو د پروګرامونو په تنظیم لګیا وو(٩٨). که چېرې په ۱۹۷۰ یمو کلونو کې د امریکا مرستې له شوروي اتحاد سره پرتله کړو، نو معلومېږي، چې په افغانستان کې د امریکا مرستې د شوروي په نسبت د لږېدو خوا ته لاړې. تر ۱۹۷۷ کال پورې افغانستان ته د امریکا مرستې ۵۰۰ ملیونه ډالره وې. خو په ۱۹۷۹ کال کې دا اندازه هغه وخت قطع شوه، چې په افغانستان کې امریکایي سفیر ادولف دابز Dubs ووژل شو(٩٩).

د امریکا متحده ایالتونو د افغاني واکمنانو د راکاړلو په برخه کې یو کمزورې طرحه جوړه او منظوره کړې وه. واشنګټن د افغانستان په برخه د کرار تګ ستراتیژي تصویب کړې وه. شوروي اتحاد په ډېره غټه پیمانه افغانستان ته پوځي مرستې ورکړې، په داسې حال کې چې واشنګټن یوازې چپ ناست و. د امریکا په وړاندې ستونزه او یا د دو بلاوو ترمنځ د یوې انتخاب و (یانې د پاڼ او پړانګ په منځ کې و) او هغه دا چې د افغانستان دوه ګاونډي هېوادونه (پاکستان او ایران) د شوروي په خلاف وساتي. دا دوه هېوادونه د امریکا تر سرپرستۍ لاندې پوځي تړونونو کې شامل وو. ددې ترڅنګ افغانستان، چې په عنعنوي توګه مثبته بېطرفانه پالیسي یې چلوله، د

امریکا په طبعه برابر داسې خوندور عکس العمل ونه ښود. چې هغه د شوروي ضد پوځي بلاك او تړونونو کې داخلېدل و.

## د افغانستان غبرګون:

د افغانستان عکس العمل او غبرګون د ستروځواکونو په وړاندې تر ۱۹۷۰ یمو کلونو پورې ډېر مناسب او وړ ارزیابي کېدلی شي، خو وروسته ډېر ژر هغه د شوروي اتحاد په ګټه عنوان کېدلی شي. لکه چې په لومړي فصل کې مو شرحه کړل د افغانستان جغرافیایي ستراتژیك موقعیت ددې سبب شو، چې دا هېواد تر دویم نړیوال جنګ دمخه له تزاري روسیې او برتانوي هند سره ګډ سرحدي پوله پیدا کړي. د اوسنۍ پېړۍ (شلمې پېړۍ) په لومړیو لسیزو کې شوروي اتحاد او برتانوي هند د افغانستان له خوا بېطرفانه پالیسي تایید کړې وه.

د دویمې جګړې په پای کې متحدې قواوې لکه امریکا او شوروي اتحاد د اصلي سیالانو په توګه ډګر ته راووتل، ترڅو خپل نفوذ په نړۍ کې پراخه کړي. څرنګه چې په جغرافیایي لحاظ شوروي اتحاد افغانستان ته نږدې و، نو په دې اساس د امریکا لپاره ډېر ستراتژیك ارزښت لرونکی و، خو افغانستان د شوروي سره د نږدې والي سره سره بیا هم د امریکا سره دوستي او ملګرتیا ساتلې وه.

افغانستان مثبته بېطرفانه پالیسي چلوله، چې وروسته د ناپېلتوب د پالیسۍ په نامه نامتو شوه. د ۱۹۷۸ کال د اپریل د کودتا تر وخت پورې افغانستان له دواړو ستروځواکونو یانې

شـوروي او امريکـا سـره پـه زړه پـورې دوسـتانه مناسـبات سـاتلي وو.

لکـه چـې پـه تـېرو پـاڼو کـې مـو ولیـدل د امریکـا د عکـس العمـل پـه پرتلـه شـوروي اتحـاد افغانسـتان تـه پـه ډېره چټکـۍ او دلچسـپۍ سـره اقتصـادي او نظـامي وسـایل برابـر او د افغانسـتان پـه وړانـدې یـې سملاسـي د مرسـتو د ورکولـو غـبرګون او عکـس العمـل وښود. واشـنګټن دا تصویـب وکـړ، چـې د افغانسـتان پـه اړونـد د "کـرار وړانـدې تـګ" تـاکتیك پـه کـار واچـوي او پـه دې سبب افغانسـتان بلـه لاره نـه لرلـه، مـګر دا چـې لـه اقتصـادي پلوه پـه ماسکو بـاندې تکیـه وکـړه. ددغسـې شـرایطو پـه نتیجـه کـې شـوروي اتحـاد تـه د ګټـې پورتـه کولـو ښه موقع پـه لاس ورغلـه او دا پـه تـېره بیـا هغـه وخـت شـوروي تـه ثمر بخـش شـوه، چـې د ۱۹۷۹ کـال پـه دسـمبر کـې شـوروي وسـله والـې قـواوې د افغانسـتان پـه چـارو کـې د مداخلـې لپـاره ورننوتلـې.

## ماخذونه:


۱. انسـایکلوپیدیـا بریتانیکـا، ۲۵ ټوك (یوولسـم چـاپ) (کمـبریج، ۱۹۱۱)، ۶۴۸ مـخ
۲. همـدا اثـر، ۳۷۶ مـخ
۳. ایـدي کیفمـان، سـترخواکونه او د هغـوی د نفـوذ سـاحې (لنـدن، ۱۹۷۶)، ۱۰ مـخ
۴. همدا اثـر
۵. د افغـان ـ شـوروي اړیکـې دشـور تـر انقـلاب وروسـته پـه پنـځم فصـل کـې شـرحه شـوي دي

۶ د "روسيې" اصطلاح د ۱۹۲۴ کال دمخه د هغه هېواد نوم لپاره راتله او له همدې کال وروسته د شوروي اتحاد سوسيالستي جمهوريتونو (شوروي اتحاد) نوم کارول شوی دی.
۷ والتر زید لاکور، شوروي اتحاد او منځنی ختیځ (لندن، ۱۹۵۹)، ۴۹ مخ.
۸ همدا اثر.
۹ اس. اس. ګلوبين کوف او وي. اس. پوژنانسکي در ایستوری چسکی آرشیف، څلورم کال (۱۹۵۶)، ۲۴۹-۲۵۰ مخونه.
۱۰ پروا دا (ماسکو)، د ۱۹۲۸ د دسمبر ۲۷.
۱۱ د معاهدې د متن لپاره وګورئ د ملتونو ژبه، د معا هدو لړۍ، ۳۶۱۱ ګڼه، ۱۵۷ ټوک (۱۹۵۵)، ۳۷۰-۳۸۱ مخونه، دغه راز وګورئ ضميمه.
۱۲ ار. ك. رمضاني، "افغانستان او شوروی اتحاد" د منځنی ختیځ جورنال، دولسم کال (۱۹۵۸)، ۱۴۴ مخ.
۱۳ شيرين طاهر خېلی، "شوروي اتحاد په افغانستان کې ګټه اخیستل او لګښتونه"، د رابرت دونالدس اثر به شروي اتحاد په دریمه نړۍ: بریالیتوبونه او ناکامی (لندن، ۱۹۸۱)، ۲۱۷ مخ.
۱۴ همدا اثر.
۱۵ پروادا، د ۱۹۶۷ کال د جون ۴، د شوروي د جاري او روانو مطبوعاتو تحلیل، ۱۹ ټوك، ۱۳ ګڼه، ۱۹۶۷.
۱۶ د ۱۹۶۱ کال د مارچ د ۲۱ نېټې پروادا، د شوروي د روانو مطبوعاتو تحلیل، ۱۴ ټوك، ګڼه ۱۳، ۱۹۶۱.
۱۷ ډان (کراچی)، د ۱۹۶۰ کال د سپتمبر ۳۰.
۱۸ طاهر خېل، پورته دیارلسمه شماره، ۲۱۸ مخ.
۱۹ د کمونستي بلاك د بهرنی مرستې فعالیتونه او د هغو په هکله د امریکا متحده ایالتونو استنباط، اتم کانګرس، لومړی غونډه (واشنګتن، ۱۹۵۰)، ۸۰ مخ.

۲۰. کرسچن ساینس مانیتور (پاریس) د سپتمبر ۲، ۱۹۵۰
۲۱. وګورئ د افغاني استازیو وینا وې د ملګرو ملتو عمومي اسامبلې رسمي اسناد (LAOR) اوومه جلسه، دویمه کمېټه، ۱۹۵۲
۲۲. هووارد ام. تیپ او پیلرجي او فرانک تالیفات، د سرحداتو په اور لاسونه (نیویارک، ۱۹۶۸)، ۳۲ مخ
۲۳. د امریکا متحدو ایالتونو کانګرس، د شوروي تخنیکي مرستې، اتم کانګرس، دویمه غونډه (واشنګتن، ۱۹۵۴)، ۸ مخ
۲۴. نیویارک ټایم، ۱۹۵۴، د جنوري ۱۶
۲۵. رمضاني، پورته ۱۲ ګڼه، ۱۴۷ مخ
۲۶. نیویارک ټایم، ۱۹۵۴ د جون ۳
۲۷. پیټر، جي، فرانک، "اقتصادي پرمختګ په یوه شتمنه مځکه کې" د منځني ختیځ جورنال، د ۱۹۵۶ کال ژمی، ۵۸ مخ
۲۸. د ملګرو ملتو له خوا په لیرې ختیځ او آسیا کې اقتصادي سروې، ۱۹۵۵ (نیویارک، ۱۹۵۵)، ۵۵ مخ
۲۹. د شوروي مطبوعاتو کتنه، ۱۹۵۵، د اګست ۲۷
۳۰. اقتصادي سروې، پورته ۲۸ ګڼه، اثر، ۵۵ مخ
۳۱. د افغانستان پیسې افغانۍ دي
۳۲. اقتصادي سروې، پورته ۲۸ ګڼه، ۵۵ مخ
۳۳. شوروي تخنیکي مرستې، پورته ۲۳ ګڼه، ۱۱ _ ۱۲ مخونه
۳۴. همدا اثر
۳۵. ګډه اقتصادي کمېټه، د امریکا کانګرس، شوروي اقتصاد په یوه نوي دورنما کې (واشنګتن، ۱۹۷۶)، ۱۰-۱۱ مخونه
۳۶. د امریکا مرکزي استخباراتي اداره، د شوروي LDC تجارتي شریکان، ۱۹۷۶-۱۹۷۷، اف آر ۷۸-۱۰۳۲۶ (واشنګتن، ۱۹۷۸)، ۱۰-۱۱ مخونه

۳۷. د تفصیلاتو لپاره وګورئ، د امریکا د خارجه چارو وزارت، کمونستي دولتونه او پرمختیایي هېوادونه: مرستې او تجارت په ۱۹۷۲ کې (واشنګتن، د دولتي مطبعې دفتر، ۱۹۷۳).
۳۸. د امریکا مرکزي استخباراتي اداره، کمونستي مرستې د آزادي نړۍ لږ پرمختلونکیو هېوادو ته، اف یو آر ـ ۷۸ ـ ۱۰۴۷۸۰ (واشنګتن، نوامبر، ۱۹۷۸) ۳۵ مخ.
۳۹. طاهر خېلي، پورته ۱۳ ګڼه، ۲۲۰ مخ.
۴۰. نیویارک ټایم، ۱۹۲۱، جولای ۱۲.
۴۱. همدا ورځپاڼه.
۴۲. همدا ورځپاڼه، ۱۹۲۱، جولای ۱۳.
۴۳. همدا ورځپاڼه، ۱۹۲۱، جولای ۱۸.
۴۴. د تفصیل لپاره وګورئ همدا ورځپاڼه.
۴۵. د هوګز لیک جمهور رئیس هارډینګ ته ۱۹۲۱، جولای ۱۸، د امریکا د بهرنیو اړیکو اړوند پاڼې، ۱۹۲۱ (واشنګتن، ۱۹۳۶)، لومړی برخه، ۲۵۸-۲۵۹ مخونه.
۴۶. جمهور رئیس هارډینګ ته د هوګز لیک، ۱۹۲۱، جولای ۱۲و همدا پاڼې، ۲۵۹-۲۶۰ مخونه.
۴۷. همدا پاڼې، ۲۶۰ مخ.
۴۸. جمهور رئیس هارډینګ ته د امان الله خان لیک، همدا پاڼې، ۲۶۰-۲۶۱ مخونه.
۴۹. امان الله پاچا ته د هارډینګ لیک، ۱۹۲۱، جولای ۲۹، همدا پاڼې، ۲۶۱ مخ.
۵۰. نیویارک ټایم، ۱۹۲۱، جولای ۳۱.
۵۱. همدا ورځپاڼه.
۵۲. د سرمقالې تبصره، پورته ۴۵ شماره، ۲۶۲ مخ.
۵۳. اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ته د جمهور رئیس روزولت لیک. پورته شماره. ۴۵ دویمه برخه، (۱۹۳۴)، ۷۵۰ مخ.

۵۴. همدا اثر (۱۹۳۵)، دویمه برخه.
۵۵. همدا اثر، ۵۵۶ مخ.
۵۶. همدا اثر، دریمه برخه (۱۹۳۴)، ۷ مخ.
۵۷. نیویارك ټایمز، ۱۹۳۵، د جنوري ۱۳.
۵۸. همداا ثر، ۱۹۳۵، د جنوري ۱۵.
۵۹. همدا اثر، ۱۹۳۵، د اپریل ۲۶.
۶۰. د نړدې ختیځ د چارو د څانګې د مشر یادداشت، ۱۹۳۷، جولای ۲۵، پورته ۴۵ شماره (۱۹۳۷)، دویمه برخه، ۶۰۸ مخ.
۶۱. همدا اثر.
۶۲. همدا اثر، ۵۹۷ مخ.
۶۳. همدا اثر، ۵۸۹-۵۹۹ مخونه.
۶۴. په تهران کې د امریکا سفیر ته د بهرنیو چارو د وزیر لیك، ۱۹۳۸، اپریل ۲۷، همدا اثر (۱۹۳۸)، ۷۵۳ مخ.
۶۵. د نړدې ختیځ د چارو د څانګې مشر یادداشت، ۱۹۳۸، می ۷، همدا اثر، ۷۵۳ مخ.
۶۶. همدا اثر.
۶۷. د نړدې ختیځ د چارو د څانګې مشر لیك په تهران کې د امریکا سفیر لوئیس، جې. دریفوس، ۱۹۴۱، جنوري ۲۸، همدا اثر (۱۹۴۱)، ۲۵۵-۲۵۸ مخ.
۶۸. د امریکا د خارجه چارو وزیر ته د دریفوس تلګرام، ۱۹۴۲، جون ۴۱، همدا اثر، ۲۵۹ مخ.
۶۹. همدا اثر، ۱۹۴۲۰، مارچ ۱۲، ۴۷_۴۸ مخونه.
۷۰. د جمهور رئیس یادداشت د خارجه چارو د سرپرست مرستیال په نامه، ۱۹۴۲، مارچ ۱۵، همدا اثر، ۴۸ مخ.
۷۱. همدا اثر، ۱۹۴۲، مارچ ۲۵، ۴۹ مخ.
۷۲. د امریکا د خارجه چارو وزیر ته د انګرت تلګرام، ۱۹۴۲، جولای ۲۵، همدا ثر، ۵۱-۵۲ مخونه.

۷۳ د افغانستان شاهي حکومت، دافغانستان لومړی پنځه کلن پرمختیایي پلان (کابل، ۱۹۵۶)، ۱۷۵ مخ
۷۴ د امریکا د خارجه چارو وزارت ته د انګرت تلګرام، ۱۹۴۲، اګست ۵، پورته ۴۵ شماره، څلورمه برخه، ۵۳-۵۴ مخونه
۷۵ همدا اثر، ۱۹۴۲، جون ۲۶، ۶۰ مخ
۷۶ د خارجه چارو د وزارت بلوتین (واشنګتن) ۱۹۴۳، جون ۵
۷۷ همدا اثر
۷۸ پاتې، پورته ۴۵ شماره (۱۹۴۳)، ۵۴-۶۳ مخونه
۷۹ انګرت ته د بهرنیو چارو د وزیر لیک، ۱۹۴۳، جون ۵، همدا اثر، ۳۹ مخ
۸۰ همدا اثر
۸۱ اصلاح (کابل)، ۱۹۴۶، مي ۱۵
۸۲ همدا ورځپاڼه، ۱۹۴۶، جولای ۲۲
۸۳ نیویارك ټایم، ۱۹۴۶، اګست ۹
۸۴ د امریکا ۸۲ یم کانګرس، لومړی غونډه (جلسه)، د بهرنیو چارو کمېټه، استماعیه، متقابل امنیتي پروګرام (واشنګتن، ۱۹۵۱)، ۹۹۶ مخ
۸۵ جوزف فرام Joseph Fromm (سوړ جنګ په لیرې پرتو سیمو کې"، د امریکا اخبار او نړیوال رپورټ (واشنګتن، ۱۹۴۸، دسمبر ۱۹۴۸.
۸۶ لیونارد ب. جوردان، د افغانستان د هلمند د ناوې د انکشاف رپوټ (واشنګتن، ۱۹۵۶)، ۱۶-۱۷ مخونه
۸۷ انتوني هایمن، افغانستان د روسیې تر نفوذ لاندې، ۱۹۶۴-۱۹۸۱ (لندن، ۱۹۸۲)، ۲۸ مخ
۸۸ ریچارد، اس نیوویل، د افغانستان سیاست (اتیاکا، ۱۹۷۲)، ۱۲۰ مخ
۸۹ د خارجه چارو وزارت بولېټن (واشنګتن) ۱۹۴۶، سپتمبر ۱۵
۹۰ همدا اثر، دسمبر ۱۲، ۱۹۴۸

۹۱. همدا اثر، ۱۹۴۸، اپریل ۱۱
۹۲. پیتر جي. فرانك، افغانستان د ختیځ او لویدیځ ترمنځ (واشنګتن، ۱۹۶۰)، ۳۶ مخ.
۹۳. همدا اثر، ۳۹-۴۲ مخونه
۹۴. د وېش پروګرام، د امریکا د مرستو اداره، افغانستان د امریکا د مرستو لنډیز، کابل ۱۹۶۸، ۳ مخ.
۹۵. د تفصیلاتو لپاره وګورئ، د پلان وزارت، افغانستان، د پرمختګ کتنه، ۱۹۶۰، کابل، ۱۵۳ مخ.
۹۶. د امریکا د مرستو اداره، پورته ۹۴ ګڼه، ۵۸ مخ.
۹۷. ل. ډبلیو. جونز، سویلي اسیا: افغانستان، پاکستان، هنداوسیلون، اتمه ګڼه سروې (واشنګتن، ۱۹۵۷)، ۲۲۰-۲۲۱ مخونه.
۹۸. د امریکا سنا، اته اتیایم کانګرس، لومړی جلسه، د بهرنیو اړیکو کمېټه، د ۱۹۶۳ کال د برنیو مرستو مقرره (واشنګتن، ۱۹۶۳)، ۱۵۴ مخ.
۹۹. طاهر خېلی، پورته ۱۳ ګڼه، ۵۸ مخ.

ACKU

## څلورم فصل:

# په ناپېيلو کنفرانسونو کې د افغانستان نقش

### د بلګراد ناپېيلي کنفرانس (د ۱۹۶۱ کال د سپټمبر ۱-۵):

د ۱۹۶۱ کال په سپتمبر کې د بلګراد ناپېيلی کنفرانس جوړ شو، چې د ناپېلتوب د غورځنګ په تدریجي پرمختګ کې یوه غوره برخه جوړوي. د ناپېلتوب د غورځنګ تخم د نوي ډيلي د ۱۹۴۷ کال د آسيايي اړيکو په کنفرانس او وروسته د بوګور، کولمبو او باندونګ په کنفرانسونو کې کرل شوی و.

د بلګراد کنفرانس ثمر لرونکې نتيجې ورکړې، څکه دمخه ورته هڅې شوې وې. دا "د دریو عواملو محصول و: د

یوګوسلاویا، مصر او هند ترمنځ نږدې اړیکې، په ۱۹۶۰ کې په نړیوالو مسالو باندې د افریقایي دولتونو آغېزې او د یوه زیات امید کوونکې روغې د پیدا کېدو په خلاف د ساړه جنګ لا زیات شدت او سختوالی(۱)".

د بلګراد کنفرانس د هغه کنفرانس د آسانتیاوو نتیجه ده، چې د ۱۹۶۱ کال په جون کې په قاهره کې جوړ شو. افغانستان دقاهرې په کنفرانس کې برخه واخیسته او هغه وړاندیز یې لاسلیک کړ، چې ه بلګراد کې د ناپېیلو هېوادو د مشرانو د غونډې د جوړېدو لپاره شوی و او په هغه کې د ۱۹۶۱ کال د سپتمبر د ۱_۵ نېټې پورې د ۲۵ آسیایي او افریقایي هېوادو او په لاتیني امریکا کې د بولیویا، برازیل او ایکوادور دریو هېوادو ګډون وکړ. د افغانستان نماینده په دې غونډه کې صدراعظم سردار محمد داود و.

د کنفرانس په مرتبه اجند کې د لاندینو ستونزو څېړل شامل وو:

په بین المللي حالاتو باندې د نظریو تبادله کول، د بین المللي وسلې او امنیت پیاوړتیا و استحکام.

الف: د خود ارادیت لپاره د خلکو او اولسونو حق، د امپریالیزم په خلاف مبارزه، د استعمار او نوي استعمار محوه کول.

ب: د دولتونو د خاوري تمامیت او حاکمیت ته درناوی او د دولتونو په کورنیو چارو کې تداخل او مداخله نه کول.

ج: نژادي توپیر و اپارتاید.

د: عمومي او بشپړ بې وسلې کول، د زړو تجربي مخنيوی، د بهرنيو نظامي اډو ستونزې.

هـ: د بېلابېلو ټولنيزو سيستمونو لرونکيو دولتونو ترمنځ ګډ سوله ييز ژوند.

و: د ملګرو ملتو نقش او ترکيب او د هغه د پرېکړو عملي کېدل.

د نابرابرې اقتصادي ودې ستونزې، بين المللي تخنيکي او اقتصادي همکارۍ اصطلاح[۲].

د قاهرې د ۱۹۶۱ کال د جون د مياشتې په مقدماتي او د تياري نيولو په غونډه هغه معيارونه وضعه شول، چې د هغو په اساس په بلګراد کې د ناپېيليو هېوادو د مشرانو غونډې او کنفرانس ته مشران رابلل کېدای شول او هغه په لاندې ډول دي:

الف: د بېلابېلو سياسي او ټولنيزو سيستمونو د لرونکيو دولتونو سره د ګډ ژوند کولو په اساس خپلواکه پالېسي چلول او د همدغسې يوې پاليسۍ په ملاتړ سره د يوې ناپېيلې کړنلارې درلودل.

ب: د ملي خپلواکۍ لپاره د مبارزه کوونکيو غورځنګونو ملاتړ.

د: په څو اړخيزه پوځي تړون کې غړيتوب نه لرل، چې هغه د لويو طاقتونو له خوا د هغو د ټکرونو او اختلافونو په ترڅ کې رامنځ ته شوی وي.

ACKU

هـ: لـه يـوه سـتر طـاقت سـره دوه اړخـيزه پـوځي موافقتنامـه يـا پـه سـيمه يـيز دفـاعي پکـټ کـې غړيتـوب. دا غړيتـوب او پکـټ د سـتر طـاقت سـره د هغـه د اختلافونـو او ټکرونـو پـه اړونـد مسـالو کـې شـامل نـه وي.

و: يـوه بـهرني قـوت تـه د پـوځي اډو او مرکزونـو پـه کرايـه ورکـول، چـې دا شـان امتيـازات ورکـول او اډه پـه اختيـار کـې ورکول بايد د ستر طاقت له ټکرونو سره اړيکـه ونـه لـري(۳).

افغانسـتان پـه دغـو معيـارونو برابـر و او د بلـګراد کنفرانـس تـه وبلـل شـو. د کنفرانـس اقدامـات اساسـاً پـه پورتنـۍ اجنـدا پـورې مربـوط و. افغـاني اسـتازي جوتـه کـړه "چـې کـه څه هـم د نـاپېلتـوب اسـتعمال شـوې اصطـلاح د کنفرانـس د هـر يـوه غـړي پالېسـي بيـانوي، خـو د افغانسـتان د نـاپېلتـوب پاليسـۍ ډېر پخـوا د داسـې پـېښو څخـه د مخـه موجـوده وه، چـې د هغـو پـه نتيجه کې د ناپېلتوب دا اصطـلاح رامنـځ تـه شـوه(۴)".

د بلـګراد د مشـرانو د غونـډې موفقانـه جـوړېدل د نـاپېلتـوب پـه تاسيس کې څکـه ګټور و، چـې د هغـه پـه تـرڅ کـې د خپلواکـۍ لـور تـه يـو کلـك خـوځښت راغـې او د عمـل او قضـاوت د داسـې ازادۍ لپـاره يـې ټينـګار کـاوه، چـې د ملتونـو د پـوره برابـر او پـېژندنـې سـره مطـابقت ولـري. د مشـرانو دغـې غونـډې، اسـتعمار، امپرياليزم او نژادي تـوپير، چـې پـه هـره بـڼه و، رد کـړ. نـوي خپلـواك شـوي هېوادونـه دېتـه لېوال وو، چـې د نـاپېلتـوب پـه ډلـه کـې داخـل شـي. "د نـاپېلتـوب ډلـې تـه د اخلېدو لـه املـه دا ډلـه پراخـه او يـو پراخـه څو منطقـوي، څو نـژادي (څو توکمـيز) او

د سیاست څخه لیرې یو غورځنګ یې منځ ته راوړ، چې د بهرني فشار او نفوذ څخه غیر د خپل سرنوشت د ټاکلو لپاره د فرست او چانس موندلو په برخه کې د ملتونو هیلې جوتې کړي([5])".

افغاني استازي د نړیوالې سولې په اړتیا باندې د ټینګار په ترڅ کې دا نظریه څرګنده کړه "چې د وسلو د سیالۍ او نظامي پکټونو په ګډون پوځي عواملو نړیوال سراسري امنیت ته ګواښ پیدا کړی دی([6])". ده په پای کې د پرمختللیو او له پرمختګ څخه د پاتې شویو هېوادونو ترمنځ توپیر ته هم اشاره وکړه. دده په وینا پرمختللي هېوادونه په دې راضي نه دي، چې د پرمختیایي هېوادو سره همکار وکړي او د هغې په نتیجه کې به هغه لوی واټن، چې د پرمختیایي او پرمختللیو هېوادو ترمنځ د ژوند په سطحه کې راغلی، نور هم زیات شي([7])".

د بې وسلې کولو د ستونزې په هکله افغاني نماینده وویل، چې:" په دې کې شك نشته، چې د بې وسلې کولو امکانات هغه وخت منځ ته راځي، چې د ستروځواکونو ترمنځ د باور او متقابل اعتماد فضا پیدا شي. په هره عملي بڼه، چې دا لاس ته راوړنه حاصله شي، د وړو او سترو ملکونو د راتلونکي لپاره به په یوه شان اساسي اهمیت ولري([8])".

د جرمني مسالې د ټولې نړۍ پاملرنه ځانته اړولې وه. ددغه کړکېچ د حل لپاره افغاني استازي یو اساسي وړاندیز

وکړ. ده د جرمن د ستونزې د حل په برخه کې د ناپېلیو هېوادو د زیاتېدونکي نقش په اړتیا باندې تاکید وکړ او ویې ویل:

"له شك پرته بېطرفه هېوادونه په داسې موفق کې دي، چې په ستر طاقتونو باندې مانوي فشار واچوي، ترڅو نړیوالو نظریو ته غاړه کېږدي او د جرمنې د ستونزې د حل لپاره سملاسي خبرې او تماسونه ټینګ کړي. افغاني نماینده او هیات د همدې مفکورې په لرلو سره وړاندیز وکړ، چې د ناپېلیو هېوادو او بېطرفه ملکونو هیلې او نظریې دې په مخامخ توګه او په صراحت سره هغو خواوو ته وړاندې شي، چې په دې اړوند مسئولې دي([9])".

افغاني استازي د استعمار د ستونزې په باب، چې لاهم بشریت ځوروي، یاده کړه چې "که څه هم استعمار په څټ وهل شوی، خو بیا هم هڅه کېږي چې د چل ول له لارې په بله بڼه خپلې ګټې خوندي کړي([10])". افغانستان په دې "نظر دی، چې د خودارادیت حق ورکول کېږي، هغه باید د یوه سوغات او مرستې په توګه ونه ګڼل شي، بلکې هغه ته ب د قانوني حق په حیث کتل کېږي([11])".

افغاني استازي په تېرې کې د خپلواکۍ بښونکي غورځنګ، په تېره بیا د الجزایر او انګولا لپاره د خپل متبوع هېواد بشپړ ملاتړ څرګند کړ او ویې ویل:

"افغاني حکومت عقیده لري، چې بهرنۍ پوځي اډې په عمومي توګه نړیوالې سولې ته یو ګواښ دی، په تېره بیا هغه اډې، چې په زور سره د نورو خلکو په خاورو کې د هغوی د

هیلو خلاف جوړېږي. په دې سبب موږ په لومړي سر کې د الجزایر له خلکو څخه خپل بشپړ ملاتړ اعلانوو او همدا شان د تونس د خلکو څخه په دې اړوند چې په بیزرتا Bizerta کې دې فرانسویان هوایي او سمندري اډې خوشې کړي، هم حمایت کوو. موږ هیله من یو، چې د تونس د خلکو دا غوښتنه، چې بیزرتا دې خوشې شي، ډېر ژر سرته ورسېږي. په انګولا کې هم په ورته ډول د نړۍ د خلکو اندېښنې زیاتې دي. دا د نړۍ د آزادۍ خوښوونکیو خلکو اساسي غوښتنه ده، چې په انګولا او تر نفوذ لاندې نورو سیمو کې دې چې د خپلواکۍ لپاره جنګېږي، استعمار پای ته ورسېږي. هیله کوم د انګولا د خپلواکۍ جنګیالیو ته به د بشپړ ملاتړ لاس ورکړو(۱۲)".

افغاني استازي په داسې حال کې، چې د هغو بېلابېلو معاصرو ستونزو په اړوند یې د افغانستان د دریځ په برخه کې رڼا واچوله، چې نړۍ ورسره مخامخ ده، زیاته کړه:

"د افغانستان حکومت په دې کنفرانس کې په ښه نیت او پراخه فکر ونډه اخیستې او د هغو بېلابېلو مباحثو سره به توافق وکړي، چې د بشپړې همکارۍ په روحیه کېږي. ددې غونډې بریالیتوب تر ټولو دمخه په متقابل تفاهم اړه لري. زه پوره باور لرم، چې ددې کنفرانس نتیجې به په سراسر نړۍ کې د بشریت داعیه خوندي وساتي(۱۳)".

افغانستان د بلګراد د مشرانو په غونډه کې فعالانه نقش ترسره کړ. هغه نه یوازې په بحثونو کې فعالانه ونډه واخیستله، بلکې په هغو ستونزو یې رڼا واچوله، چې ناپېیلې

هېوادونـه ورسره مخـامخ دي. افغانسـتان خپـل پرابلمونـه يـاد نـه کړل، بلکې جهاني مسـالې يـې پـه ګوتـه کـړې. د افغـاني هيـات د وينـاوو او د بلـګراد د مشـرانو د غونـډې د اعلاميـې تحليـل نړدې د ټولـو د نظريـو يووالـى ښکـاره کـوي.

## د ناپېلتوب کنفرانس په قاهره کې د ۱۹۶۴ کال د اکتوبر ۵_۱۰:

دويـم نـاپېلـى کنفرانـس د ۱۹۶۴ کـال د اکتوبـر د ۵_۱۰ پـورې پـه قـاهره کـې جـوړ شـوى و. د بلـګراد کنفرانـس پـه رښتيانـې تـوګه د نـاپېلتـوب غورځنـګ تـه ترقـي ورکـړه. نـاپېلتـوب تـر ۱۹۶۱ کـال پـورې لا د يـوه "متمرکـز او مرتـب ګروپ پـه تـوګه موجـود شـوى نـه و، تـرڅو يـوې ډلـې همفکـره دولتونـو ددې مفکـورې طرحـه وکـړه(۱۴)". ځينـې پـه دې فکـر دي، چـې نـاپېلتـوب د ۱۹۶۱ کـال دمخـه نـه و او د ۱۹۶۴ کـال کنفرانـس، چې په قـاهره کـې جوړ شـو، هغـه نـاپېلى کنفرانـس نـه و، يوازې اسيايي او افريقـايي کنفرانـس ورتـه ويلـى شـو.

د ۱۹۶۱ کـال څخـه تـر ۱۹۶۴ کـال پـورې، چـې د نـړۍ پـه سياسـي ډګر کـې کومـې پرمختيـاوې راغلـې، هغـه يـو خطرنـاک بدلـون ګڼل کـېده. د ۱۹۶۲ کـال پـه اکتوبـر کـې د کيوبـا د مـيزايل Missle بحـران (دا هغـه وخـت و، چـې کيوبـا تـه د شـوروي لـه خوا اتومـي ميزايل يـا راکټونـه ورکـړل شـول. مـترجم) رامنـځ تـه شـو، چـې د هغـه لـه املـه د امريکـا او شـوروي ترمنـځ د دريمـې نړيوالـې جـګړې ګړنـګ ايجـاد او جـګړه پـه دې خطرنـاک پـانـې بـاندې ودرېدلـه. د دواړو زبرځواکونـو لـه خـوا د کړکـېچ مدبرانـه

مخنیوی ددې سبب شو. چې حالات د زیاتې خرابۍ څخه وژغوري. په ۱۹۶۲ کال کې چین په هند یرغل وکړ. چې په نتیجه کې د ناپېیلې ډلې ترمنځ په تېره د آسیا او افریقا د هېوادو په منځ کې یې درز راوست او داسې یو کړکېچ ترې پیدا شو. چې دا ډله هېوادونه د کوم یوه ملك ملاتړ وکړي: یانې د چین او که د هند؟.

وروسته د زروي وسلې د بندیدو د تړون وار شو، چې د هغې افتتاح د سترو طاقتونو ترمنځ د یوه عمومي دیتانت ښکارندوی ده. د کانګو په تاړو وزمه کې منځ ته راغلې پرمختیاوې په افریقایي هېوادو کې د جدایۍ او بې اتفاقۍ سبب شوې. د چین او شوروي په منځ کې هم درز راغی او چین خپل ځان په درېمه نړۍ کې راوست او د دواړو زبرځواکونو په وړاندې په مخالفت کې ودرېد.

د ناپېیلتوب دننه هم مخکښ هېوادونه په دې لټه کې وو. چې دا موقع ترلاسه کړي، چې د ناپېیلتوب ورپسې کنفرانس خپل ملك ته راوکاږي.

پیترویلیتس Peter Willetts وایي "چې دغسې حالاتو په ناپېیلو هېوادو کې اختلاف پېښ کړ او آسیایي او افریقایي هېوادونه حتی نور هم سره هغه وخت بې اتفاقه شول. چې د ۱۹۶۳ په نیمایي کې سوکارنو د باندونګ د دویم کنفرانس او تیتو د بلګراد د دویم کنفرانس مطالبه کوله[۱۶]".

ددغو اختلافونو سره سره هم ناپېیلو هېواد په دې اړوند خپلې هڅې جاري وساتلې، چې د ناپېیلو هېوادو د مشرانو د

دويمې غونډې د جوړېدو لپاره په خپلو کې جوړجاړی ته سره ورسېږي. د ۱۹۶۳ کال په اکتوبر کې د سريلانکا صدراعظمې مېرمن شريماو بندرانايکا قاهرې ته سفر وکړ او د ناصر په ګډون يې د ناپېلتوب د کنفرانس بلنه وکړه[۱۷]. د اوږدو خبرو اترو او ديپلوماتيکي مباحثو وروسته د تيارۍ لپاره د سفيرانو يوه غونډه د ۱۹۶۴ کال په مارچ کې په کولمبو کې جوړه شوه، چې هغې پرېکړه وکړه. چې د ناپېليو هېوادو د مشرانو دويمه غونډه دې د ۱۹۶۴ کال په اکتوبر کې په قاهره کې جوړه شي.

د بلګراد د مشرانو غونډې څخه درې کاله وروسته د ناپېيلتوب د غورځنګ په غړيتوب کې د کتونکو او مېلمنو غړيو په ګډون کې دوه وارده زيات والی راغی. دا په ښکاره توګه په ګڼ شمېر هېوادو په تېره بيا په افريقا کې د سياسي خپلواکۍ او د غورځنګ د قوت څرګندوی ده. د ناپېلتوب د غورځنګ د ۴۷ غړيو له لړ څخه ۲۹ يعنې ۶۰ په سلو کې يې د افريقا په وچه تړلي دي. د قاهرې په کنفرانس کې د افغانستان په ګډون (۴۷) اصلي غړيو او د لسو کتونکيو هېوادو استازيو برخه واخيستله. د کتونکيو يا مېلمنو استازيو غوره برخه د لاتيني امريکا وه، چې د ناپېليو هېوادو د مشرانو په دې غونډه کې يې چې په قاهره کې جوړه شوه، ګډون درلود. ددې څخه علاوه د بين المللي سازمانونو د استازيو برسېره د خپلواکۍ ښوونکيو غورځنګو استازيو هم د

کتونکیو په حیث یکې برخه واخیستله. ددې غونډې په اجندا کې دا مسالې شاملې وې:

د نړیوال حالت په باب عمومي خبري اترې، د نړیوالې سولې او امنیت ساتنه او پیاوړتیا، د خپلواکۍ بښونکو غورځنګونو او نویو دولتونو د مثبت رول هڅونه دبین المللي کشالو په حل کې.

الف: د هغو هېوادونو لپاره هماهنګ پلان جوړول، چې لا د اسارت لاندې دي، استعمار، نوی استعمار او امپریالیزم.

ب: د اولسونو د خود ارادیت د حق درناوی او ددې حق د عملي کولو په خلاف د زور څخه د کار اخیستلو غندنه او محکومیت.

ج: نژادي توپیر او د جدایی سیاست (اپارتاید).

د: ګډه سوله ییز ژوند او د هغې د اصولو قانوني کول د ملګرو ملتو په وسیله.

هـ: د دولتونو د حاکمیت او د هغوی د خاورې د تمامیت درناوی، د وېش شویو ملتونو ستونزه.

و: د قوې د استعمال پرته د لانجو حل د ملګرو ملتو د اصولو او منشور پربنسټ.

ز: بشپړ او عمومي بې وسلې کول، د اتومي انرژۍ څخه سوله ییزه ګټه اخیستل، د اتومي زروي وسلو د آزمایلو منعه کول، د زروي وسلو څخه د خلاصولو ساحې، د زروي وسلو د خپرېدو مخنیوی.

ح: پوځي پکتیونه (تړونونه) بهرنۍ لښکرې او اډې.

ط: ملګري ملتونه او په بین المللي مسالو کې د هغې نقش او د هغه د منشور او پرېکړو تطبیق[18].

همدا شان په پورتنۍ اجندا کې د غړیو هېوادو د اقتصادي، کلتوري، ساینسي او د ښوونې روزنې اړوند مسالې شاملې شوې وې.

په دې غونډه کې د افغاني هیات مشر صدراعظم دوکتور یوسف و. د افغانستان د ناپېلتوب په پالیسۍ باندې د ټینګار په ترخ کې دوکتور یوسف وویل:

"په افغانستان کې د بېطرفۍ سیاست سملاسي د دویمې نړیوالې جګړې په پای کې په دوو پوځي بلاکونو د نړۍ د وېشل کېدو وروسته منځ ته راغلی نه دی. هغه د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه دمخه زمانې ته رسېږي او حتی د نړۍ د دوو جګړو په اوږدو او سختو بین المللي کړکېچونو کې ساتل شوی دی. لکه چې موږ پوهېږو، د دویمې نړیوالې جګړې وروسته داسې خلك شته، چې هغوی د ناپېلتوب پالیسي نه خوښوي، خو افغانستان خپل ناپېلتوب ساتلی دی[19]".

افغاني استازي د ناپېلتوب د پالیسۍ په شرحه کې زیاته کړه: " د نړۍ د سولې په ګټه د افغانستان ارزښتناکه ارزیابي باید د ناپېلیو هېوادو د ناپېلیتوب د پالیسۍ د یوه بنسټ په توګه ومنل شي[20]".

افغانستان د خپلو ملي ارمانونو پر بنا د ملي بېطرفانه سیاست له مخې د نړۍ د ټولو اولسونو او ملتونو سره دوستانه اړیکې ساتلي دي، چې په هغو کې د ملي او بین

انمللي پلوه دوه هدفونه شامل دي. دا هدفونه افغاني استازي خپلې ملي موخې وبللې او وې ويل، چې "هغه زموږ اقتصادي، ټولنيزه او کلتوري ودې لپاره زيات اهميت لري. څرنګه موږ يوازې د بين المللي سولې په ترڅ کې خپل ملي هدف ترلاسه کولی شو، نو د ناپېلتوب د پاليسۍ عنعنوي تګلاره زموږ لپاره يوه ډېره رښتيانۍ او طبيعي پاليسي ګڼل کېږي([21])".

دوکتور يوسف د سترو طاقتونو ترمنځ د ديتانت په باب د افغانستان د دريځ د څرګندولو په ترڅ کې وويل، چې د مخالفو پوځي کمپونو ترمنځ مستقيم تماس (Contact Line) يو په ځای حرکت دی، خو بيا هم بين المللي کړکېچ غلبه لري او د نورو کړکېچونو سبب ګرځي. ده د بهرنۍ فضا څخه د استفادې په برخه کې جوته کړه، چې په دې اړوند په بېلابېلو پړاوونو کې د ډاډ وړ ګامونه اخيستل شوي دي، خو ددې لپاره چې دا ګامونه لا هم پاخه شي، نو پکار دي، چې "په دې برخه کې د باور وړ تضمين ورکړل شي، ځکه تراوسه پورې داسې نښې نښانې نه معلومېږي، چې بشريت ددغو بېلابېلو خطرناکو او ګواښ لرونکو ساحو د وېرې څخه وژغورل شي([22])".

يوسف د بلګراد د مشرانو د غونډې نتيجې ډاډمنې وګڼلې او ياده يې کړه، چې "په اوسني پړاو کې د ناپېيلو هېوادو لاس ته راوړنې تر دې اندازې غټې نه وې، چې د خپلو مقصدونو د ترسره کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي. ده په پوره اندازه دا جوته کړه، چې "دا زموږ دنده ده او په ياد ولرو، چې داسې

یو مرام تعقیب نه کړو. چې په یوه یا بله بڼه د بلاك د پالیسۍ په شان خاص مقصدونه ولري او زموږ هدفونه هم باید دیو بل په خلاف واقع نه شي(۲۳)".

دوکتور یوسف د زړوي وسلو په اړه څرګنده کړه، چې په د برخه کې بین المللي قانون باید غوره نقش ترسره کړي. د اتلانتیك منشور او د ملګرو ملتو د منشور اصول دواړه د نړیوالې سولې په ساتلو ټینګار کوي. د نړۍ د نږدې ټولو هېوادونو له خوا د ملګرو ملتو د منشور منل کېدل د سولې د منځ ته راتلو لپاره د جهاني علاقمندۍ ښکارندوی ده.

د ګډ سوله ییز ژوند اصل د نړیوالې سولې لپاره د خپل شهرت په اساس حتمي او ضروري دی. افغانستان په تېر وخت کې په ګډ سوله ییز ژوند پوره باور څرګند کړی او افغاني استازي د قاهرې په کنفرانس کې ددې امر د تائید په تجدید کې وویل:

"افغانستان یو ځل بیا د ګډ سوله ییز ژوند په اصولو باندې خپل باور او عقیده تائیدوي. له هغې پرته به ژوند په هېڅ شان چاته مصئون نه وي او یا به په هغه ډول ژوند نه وي، چې د مصونیت او امنیت لپاره زموږ د هغو ارزښت ولري. دا به غوره وي، چې د بشریت په ګټه نړۍ ته ددغو اصولو د اعلان او قانوني کولو له لارې د هغو په ژور درك باندې خپل فکر متمرکز کړو. په دې کې به دا خبرې شاملې وي: ټولو ته متقابل درناوی، د هغو خلکو ملاتړ، چې خپل سیاسي، اقتصادي او ټولنیز نظام ټاکي، د خودارادیت لپاره د ټولو

اولسونو نه انکار کېدونکی میراثي حق، د هر ډول سیاسي، نظامي او اقتصادي فشار د پالیسی څخه ډډه کول او له قوې پرته د تولو کشالو او لانجو غوڅول په سوله یېزه طریقه او د خبرو اترو له لارې([24]).

حتی افغانستان دا وړاندیز وکړ، چې کېدای شي بې وسلې کول د ګډ سوله یېز ژوند له لارې حل کړو. افغاني استازي د عمومي بې وسلې کولو په اړتیا باندې ټینګار وکړ. څرنګه "چې ناپېلیو هېوادو د بې وسلې کولو په اړوند تاکلې لارې چارې غوره کړې، نو افغاني استازي د ناپېلیو هېوادو څخه وغوښتل، چې یو زیات اغېزمن رول سرته ورسوي". ده وړاندیز وکړ، چې "له دې امله د ناپېلیو هېوادو غوښتنې دې په جمعي توګه په ملګرو ملتو او د هغه په اړوند اورګانو کې تعقیب شي. موږ باید له اتوم څخه د خلاصون زونونو د تاسیس هرکلی وکړو، که چېرې دا لړۍ دوام وکړي، نو نړۍ به له اتوم څخه د فراغېدو لور ته وخوځي([25])". افغانستان د بې وسلې کولو اړوند د قاهرې د کنفرانس د سپارښتنو د بشپړ ملاتړ د ډاډ د ملګرو ملتو له لارې زبرځواکونو ته ورساوه.

د افغانستان په نظر د قاهرې کنفرانس "د سولې او تفاهم په لټه کې یو بل غوره انکشاف او مهمه پېښه ګڼل کېږي([26])". افغاني استازي خپله وینا په دغو خوشبینانه ټکو پای ته ورسوله:

"د ناپېلیو هېوادو رول په نړیوالو مسالو کې هره ورځ محسوس او په زیاتېدو دی او دا په حقیقت کې هغه فعاله

نـاپیلـې پالیســي ده، چـې د ســولې او جـګړې د ســتونزو لپـاره د همکــارۍ او یووالــي ســوله یــیزه فضــا رامنــځ تــه کــوي. دغــه کنفرانــس سـولې او پرمختـګ تـه د خپـل تعـهد لـه املـه د بشـریت سـره ځان متعـهد کـړی دی([27])".

افغانســتان د نـاپیلیـو هـېوادو د مشـرانو پـه هغـه غونـډه کـې، چـې پـه قـاهره کـې جـوړه شــوه، ډېر ســازنده او جوړونکــی رول ترسـره کـړ. افغانســتان پـه داســې حــال کــې چــې د اهمیــت وړ نړیوالـو کشـالو پـه اړونـد پـه یـاده شـوې غونـډه کـې موافقـه درلوده، زیاتره یې ددغسې مسالو پـه بـاب لکـه بـې وسلې کـول، لـه زروي انـرژۍ څخـه سـوله یـیزه ګټه اخیسـتل، د اسـتعمار او نژادي تـوپیر پـای او داسـې نـورو مسـالو د حـل پـه بـاب د نـاپېلیـو هېوادو پـه مرسـته ټینګار وکړ. پـه قـاهره کـې د نـاپېلیـو هـېوادو د مشـرانو پـه غونـډه کـې افغانسـتان د ټولـو نړیوالـو کشـالو او د غونـډې د اعلامیـې پـه برخـه کـې توافـق وښود او لـه نـورو هـېوادو سره یې یـو شـان نظـر درلـود. د نـاپېلتـوب د غورځنـګ او د هغـې د اصولـو څخـه د افغانسـتان ملاتـړ او ددې غورځنـګ د کړنـلارو پـه برخـه کـې د افغـاني دوديـزو پرنسـيپونو شـته والـی د نـاپېلیـو ملتونو د داعیـې پـه وړانـدې ببولـو کـې ډېر ارزښتمـن وو.

## پـه لوسـاکا کـې د نــاپیلیـو هـېوادو کنفرانـس (د ۱۹۷۰ کـال د ســپتمبر ۸_۱۰):

د قــاهرې د کنفرانــس څخــه وروســته د نــاپیلیــو هــېوادو د دولـت د مشـرانو او یـا د حکومـت د رئیسـانو دریمـه غونـډه او

کنفرانس د ۱۹۷۰ کال د سپتمبر د ۸_۱۰ پورې په لوساکا کې جوړ شو. په دې کنفرانس کې د افغانستان په ګډون (۵۴) اصلي غړیو او (۱۱) کتونکیو غړیو برخه واخیستله([۲۸]).

په لوساکا کې د ناپېیلیو هېوادو د مشرانو غونډه د قاهرې د غونډې څخه شپږ کاله وروسته جوړه شوه (د قاهرې غونډه په ۱۹۶۴ او د لوساکا په ۱۹۷۰ کې). د شپږو کلونو دا خلا د ناپېلتوب د غورځنګ لپاره، چې لاد وړکتوب په پړاو کې و، لږه موده نه ده. داسې یو اصلي دلیل تراوسه نشته، چې د هغه له مخې ددې ځنډ د علت تحلیل وشي. داسې معلومېږي، چې ددې سبب به هغه پرمختیاوې وي، چې د ۱۹۶۴ څخه تر ۱۹۶۹ کال پورې د نړۍ په بېلابېلو برخو کې منځ ته راغلې او په ناپیلیو هېوادو باندې ډېره اغېزه درلوده.

په ۱۹۶۷ کال کې د منځني ختیځ د دښمنیو غځېدل نړیوال عکس العمل پیدا کړی و. عربي هېوادونه په دغه شخړه کې ورننوتل. دغې پرمختیا د عربي ملکونو سخته پاملرنه د عربو او اسرائیلو جګړې ته واړوله. ددې ترڅنګ په ویتنام کې د امریکا د متحدو ایالتونو فعالانه مشغولتیا د آسیایي هېوادو تمایلات هغې خوا ته راکاږلي وو. زیات شمېر پرمختیایي او ناپېلیو هېوادو ددغو پرمختیاوو په سبب خپل خیالات په دې متمرکز وو، چې په څه ډول دا شان سیمه ییزو لانجو ته د حل لاره ومومي. د ۱۹۶۹ کال لومړۍ ورځې وې چې ن پیلیو هېوادو خپله انرژي د ناپیلیو هېوادو د مشرانو دریمې غونډې جوړېدو ته وقف کړې وه. پیتر ویلیت په دې نظر دی.

چې د بلګراد او د قاهرې د مشرانو غونډې د "همدې مقصد پر اساس[۲۹]" جوړې شوې وې او د مشرانو د غونډې د رابللو لپاره زماني او موقوته معيار موجود نه و. سره ددې هم د لوساکا د مشرانو غونډې دا مسأله حل کړه.

په لوساکا کې د ناپيليو هېوادو د مشرانو د غونډې د جوړېدو دمخه د ځانګړيو حکومتونو استازيو په بلګراد کې د ۱۹۶۹ کال د جولای د ۸-۱۲ پورې يوه مشورتي غونډه جوړه کړه، چې د فلسطين د خپلواکۍ بښونکي غورځنګ (PLO) د نمايندو په ګډون (۴۱) استازيو په کې ګډون درلود. په دې غونډه کې د افغانستان استازی، د بهرنيو چارو معين روان فرهادي و.

فرهادي په نړۍ کې د ناپيليو هېوادو په نقش او د استعمار او بې وسلې کولو د مسالو په حل کې د هغوی په ونډې اخيستنې باندې ټينګار وکړ. ده زياته کړه، چې افغانستان په ۱۹۱۹ کال کې د خپلې خپلواکۍ د ګټلو وروسته مثبته بېطرفانه پاليس وړاندې بيولې ده او هم يې "د ناپيليو هېوادو سره د هغوی د هڅو د هماهنګ کولو په اړتيا او د خپلې دغې پخوانۍ عنعنې په باب تماس نيولی دی، چې دا عنعنوي بېطرفانه کړنلاره له يوې خوا د اولسونو او ملتونو سره د هغوی د خپلواکۍ او خودارادیت د حق په مبارزه کې مرستندويه ده او له بلې خوا دا پاليسي او کړنلاره د نه مداخلې او تداخل په اصولو باندې د ولاړګډ سوله ييز ژوند او د يو بل حقوقو ته په درناوي ټينګار کړی دی[۴]".

افغانستان هم د نورو ناپیلیو هېوادو په شان د ناپلیلیو هېوادو د مشرانو د دریمې غونډې د جوړېدو په برخه کې اندېښمن و. افغاني استازي د ناپیلیو هېوادو د مشرانو د دریمې غونډې د جوړېدو اړتیا ته په اشارې سره تاکید وکړ، چې د غسې یوه اړتیا له دې حقیقت څخه راوتلې، چې استعمار د هغه څه سوا چې تصور کېږي، تراوسه پورې له منځه تللی نه دی او حتی ماتې یې نه ده موندلې. ده زیاته کړه:

" زموږ دنده روښانه ده. انفرادي او هم ډله ییزې هڅې پکار دي، چې د استعمار څخه د خلاصېدو عملیه ګړندۍ او د نړیوالې سولې او امنیت هڅونه وشي. دغه راز ګام په ګام ټولنیز او اقتصادي پرمختګ په تېره بیا په دریمه نړۍ کې چټکتیا ومومي او د ملتونو ترمنځ د عدالت پر بنا بین المللي اړیکې وده وموموي(۳۲)".

د بلګراد په مشورتي غونډه کې د رایو په اتفاق پرېکړه وشوه، چې د ناپیلیو هېوادو د مشرانو دریمه غونډه دې په لوساکا کې د ۱۹۷۰ کال د سپتمبر د ۸_۱۰ نېټې پورې جوړه شي. د مشرانو د همدې غونډې په هماغه لومړۍ ورځ دا لاندې اجندا تصویب کړه:

۱_ د بین المللي حالت عمومي څېړنه

۲_ په نړیوال بدلېدونکي حالت کې د نړیوالې سولې او امنیت ساتنه او پیاوړتیا.

الف: د ناپیلتوب رول.

ب: د ملګرو ملتــو پیـاوړي کــول.
ج: د بې وسلې کولـو پـه هکلـه پوښتنـې
د: پـوځي بلاکونــه، بـهرني پوځونــه او اډې.
۳ـ د ملــي خپلواکـــۍ، حـــاکمیت او د خـــاورې د تمـــامیت ســاتنه، د دولتونــو ترمنــځ برابــری، د دولتونــو پــه کورنیــو چــارو کې نــه مداخلـه کــول.
الـف: د هغــو هېوادونــو د خپلواکــۍ لپــاره کــار کــول، چــې د استـعمار تـر نفـوذ لانــدې دي او د خپلواکــۍ ښـونکـي غـورځنـګ ملاتــړ.
ب: د هـرې بـڼې لرونکـی نـژادي تـوپـیر او اپارتـاید لـه منـځه وړل.
ج: نــوی اســتعمار.
د: د نـاپیلیــو هــېوادو د خپلواکـۍ ســاتنه او پیاوړتیــا.
۴ـ اقتصــادي وده او پــه اقتصــادي لحــاظ پــه ځان تکیــه:
الــف: د نـــاپیلیــو او پرمختیـــایي هــېوادو ســیمه یــیزې او د سیمې دننـه متقـابلې همکـارئ.
ب: د تجـارت اړونـد پالیســۍ او
ج: د ملـګرو ملتــو د پرمختیـا او ودې دویمـه لســیزه.
۵ـ د نــاپیلیـو هــېوادو ترمنـځ د همکـارۍ پیاوړتیــا([۳۳]).
د لوســاکا د مشــرانو پــه غونــډه کـې د افغــاني هیــات مشــر نــور احمـد اعتمـادي و او پــه دې غونــډه کــې یــې د افغانســتان نمـاینده ګي وکــړه. ده د غونــډې پـــه جریــان کـــې د پــــاملرنې وړ خــــاصو مســالو بــاندې خـبرې وکــړې، چــې پــه هغـو کــې ملـګري ملتونــه. د

پرمختیایي هېوادو کشاله، نژادي توپیر او د منځني ختیځ حالت او هندوچین جګړه شامل وو.

د لوساکا په اعلامیه کې راغلي دي:

"د ناپېلیتوب پالیسي د خپلواک شویو هېوادو د ارادې په نتیجه کې راووتله، چې د هغې له امله یې وکړای شول خپله ملي خپلواکي او د خپلو خلکو حقه حقوق خوندي وساتي. د یوه نړیوال پراخ غورځنګ په توګه د ناپېلتوب وده، چې د نژادي، سیمه ییزو او نورو موانعو څخه اوښتې او تېر شوی، د سراسري نړیوالې ټولنې په جوړښت کې د بدلونونو یوه نه بدلېدونکې برخه جوړوي. دا د استعمار ضد انقلاب او د ګڼ شمېر نویو خپلواک شویو هېوادو محصول دی، چې د خپلواکې پلوه سیاست او ودې هوډ یې درلود او دا یې ونه منله، چې د پېړیو زوړ تابعیت په ځای بیا د یوه نوي ډول تابعیت لاندې راشي. دغو ټولو بدلونونو ریښې د ملي خپلواکۍ، آزادۍ، برابرۍ او خودارادیت په هغو ملي الهامونو کې نغښتې، چې د هر ډول استعمار په وړاندې مقاومت کوي. دا زموږ د هغو مفهوم او جوهر ګرځېدلی دی، دا د بلګراد او د قاهرې د اعلامیې د سموالي تایید دی. په داسې یوه وخت کې، چې نړیواله ټولنه د بلاکونو په اساس په متضادو قطبونو وېشل شوې او داسې عقیده موجوده ده، چې دا به د نړیوالو اړیکو همېشنۍ بنه او د سترو طاقتونو او ستروځواکونو ترمنځ د زروي ټکر د ګواښ سیوری به لا د لویو وچو پر سر په تلپاتې توګه لوېدلی وي، نو په دې حالت کې

نویو خپلواك شویو هېوادونو د معاصري د نړۍ د امیدونو لپاره نوی ور پرانست او د بین المللي کړکېچ د لرېدو لار یې هواره کړه([۳۴])".

افغاني استازي د افغانستان د ناپېلتوب د پالیسۍ د سرچینې په اړوند وویل، چې د افغانستان بهرنۍ پالیسي "نه یوازې د بلاکونو څخه په لرې والي باندې ولاړه ده، بلکې د حقوقو د برابرۍ، بشري پرمختګ، نړیوالې سولې او همکارۍ په اصولو د ولاړو بین المللي اړیکو د تاسیس او پیاوړتیا په لور دوامداره هڅې جاري ساتلي دي([۳۵])". دغه راز د استعمار څخه د خلاصېدو د پروسې د ملاتړ په اړوند د کابل ټینګار ته اشاره وکړه. په همدې روحیه و، چې افغانستان د باندونګ په کنفرانس او په بلګراد او قاهره کې د مشرانو په غونډو کې برخه واخستله. افغاني استازي هغو پرمختیاوو ته په اشاري سره چې په بلګراد کې د مشرانو د غونډې وروسته راغلې وې، ټینګار وکړ، چې "پرمختیایي او ناپېیلي هېوادونه باید په اوسني روان حالت کې د خپل رول د بیا ارزیابۍ په لور وخوځېږي. دا به د بلګراد او قاهرې په اعلامیو کې د لوړو هدفونو لپاره د بیا پېشکش په مانا وي([۳۶])".

په افریقا کې د تبعیضي او استعماري رژیمونو دوام د ناپېلتوب غورځنګ ته چې د خپلواکۍ د داعیې مخکښ او د استعمار او نژادي توپیر د کلك سیال په توګه راوتلی و، یو ګواښ رامنځ ته کړ. افغاني استازي، په داسې حال کې، چې

ددې ستونزو په باب يې خپله اندېښنه وښودله، وويل چې ددغو رژيمونو استعمار او بې عدالتي، چې ددې سترې وجې د مظلومو خلکو په وړاندې يو ډېر غير انساني سلوك دى، له دې څخه سرچينه اخلي، چې بشري حقوق غوڅ تر پښو لاندې کړي او حتى زيات افريقايي هېوادونه تهديدوي([۳۷])". ده د خپل متبوع هېواد بشپړ ملاتړ د آزادۍ د لارې ددې جنګياليو سره څرګند کړ، چې غواړي د خپل مورني هېواد انساني او تاريخي حقوق لاس ته راوړي([۳۸]).

د منځني ختيځ مساله، په تېره بيا د ۱۹۶۷ کال راهيسې يوه غوره پوښتنه ګرځېدلې وه. افغاني استازي په دې ټينګار وکړ، چې د منځنۍ ختيځ کړکېچ اوږدېدل د اسرايلو له خوا د فلسطيني عربو د ځمکې او هېواد د اشغال له امله دي، چې نړيوالې سولې ته يې مخامخ ګواښ پيدا کړى دى. ده وويل:

" دا به ډېر خطرناك او زيان ښونکى تائيد وي چې د تېري کوونکې جګړې هڅې او د نورو هېوادونو سيمې دفشار د يوې وسيلې په توګه لاندې شي او دقوې له لارې پراختيا غوښتونکي مقصدونه تحميل کړاى شي. اسرائيلو خپله سرتمبګي په دې کې ثابته کړه، چې د عربو سيمې نه خوشې کوي او خپله يرغلګره پاليسي پرمخ بيايي او په بين المللي قانون او عدالت باندې تېرى جاري ساتي. له دې امله موږ د عربي هېوادونو او د تېري د قربانيانو سره خپل پيوستون څرګندوو او د عربي نيولو شويو سيمو څخه د اسرائيلي عسکرو د سملاسي او بشپړ وتلو غوښتنه کوو([۳۹])".

د هندوچين د حالت په باب افغاني استازي څرګنده کړه، چې ددې کشالو د حل لپاره به تر هغو کومه قاعده او فارمول اغېزمن نه وي، ترڅو چې دلته ټولې بهرنۍ مداخلې بندې نه شي او د هندوچين د خلکو د خودارادیت او سوله یيز ژوند حقوق د درنښت وړ ونه ګرځي.

همدا شان افغاني استازي په ملګرو ملتو باندې خپل اطیمنان او ډاډ تائيد کړ او ټينګار يې وکړ، چې که د نماینده په حيث د ملګرو ملتو ټول اصول په بشپړه توګه تطبيق شي، نو دغه بين المللي سازمان به په بين المللي اړيکو کې د ټولو کشالو د حل مرکز وګرځي([40])". همدا شان ده د بين المللي سياسي ثبات او اقتصادي عدالت ترمنځ په اړيکو باندې داسې رڼا واچوله:

" په نړۍ کې سياسي ثبات او سوله تر زياتې اندازې د پرمختيايي هېوادو په اقتصادي وده اړه لري. په اقتصادي لحاظ د پرمختللیو هېوادو او دريمې نړۍ ترمنځ زياتېدونکی درز او ليرې والی به د زياتې اندېښنې وړ يوه منبع وي. له دې امله موږ هوډ کړی، چې د ۷۷ پرمختيايي هېوادو په منځ کې په زياتېدونکې توګه اغېزمنې هڅې په کار واچوو، ترڅو ددې هېواد د نقش په نړيوال اقتصاد کې د ساختماني بدلون د ترسره کېدو او منځ ته راوستلو لپاره زياتوالی وکړي او همدا شان ددې زياتېدونکي نقش په اساس داسې تدريجي بين المللي همکاري رامنځ ته شي، چې د نړۍ د ټولو هېوادونو په

ګټه په تېره بیا د لرې پرمختللیو هېوادو په لور ددغسې ګټور بدلون د لارې پرانستلو ته اجازه ورکړي([41])".

افغانستان په لوساکا کې د ناپیلیو هېوادو د مشرانو په غونډه کې سازنده نقش ترسره کړ. په داسې حال کې، چې د پراخه عمومي مسالو سره یې خپله موافقه کوله. په خاص ډول یې په افریقا کې د استعماري او توپیري رژیم د پای ته رسېدلو او له غربي نیول شویو سیمو څخه د اسرائیلي پوځونو د ایستلو او د هندوچین د ټاپو وزمې د کشالې په پای باندې ټینګار وکړ. همدا شان افغانستان ناپېلیو هېوادو ته په زغرده وویل، چې په نړۍ کې د سولې او امنیت د راوستلو د پیاوړتیا لپاره د ملګرو ملتو سره همکاري وکړي. که په لوساکا کې د ناپیلیو هېوادو د مشرانو په غونډه کې د افغاني استازي خبرې په عمومي توګه تحلیل شي، نو دا به جوته کړي، چې دده خبرې صرف د نورو ناپیلیو هېوادو د نظریاتو یو غیر فعال تائید نه دی. افغانستان د نړیوالو مسالو په اړوند پخپله د صائب او صلاحیت لرونکي نظر خاوند و او د مسالو د حل د لارو چارو وړاندیز یې کړی دی. په لوساکا کې د مشرانو د غونډې د وروستۍ اعلامیې د نظریو او د افغاني دریځ ترمنځ یووالی د بېلابېلو مسالو په اړوند د ناپېلتوب د پالیسۍ سره د افغانستان کلک متعهد والی تائیدوي.

## په الجزیره کې د ناپیلیو هېوادو کنفرانس د ۱۹۷۳ کال د سپتمبر ۵_۹:

د ۱۹۷۳ کال د سپتمبر د ۵_۹ پورې په الجزیره کې د ناپیلیو هېوادو د حکومتونو د مشرانو کنفرانس جوړ شو. په دې کنفرانس کې د افغانستان په ګډون د (۷۵) ملکونو اصلي استازو، (۱۶) خپلواکې بښونکیو غورځنګونو (۴) بین المللي سازمانونو ناظرانو او کتونکیو او څلورو مېلمه هېوادونو ګډون وکړ. د لوساکا کنفرانس د ناپېیلتوب د غورځنګ ارزښت او شهرت تثبت کړی و. د ناپیلیو هېوادو د مشرانو په بلابېلو غونډو کې د شاملو شویو هېوادو شمېر مخ په زیاتېدو شو.

په الجزیرې کې د ناپیلیو هېوادو د مشرانو غونډه تر ټولو ستره غونډه وه، چې پکې ۷۵ اصلي غړیو هېوادو برخه واخیستله. په لوساکا کې د ناپیلیو هېوادو د مشرانو غونډې "څلور لارې مجسم کړې، چې د هغو په ترڅ کې ناپېلتوب په ۱۹۷۰ کې د یوې رسمي موسسې په توګه د بنې په غوره کولو پیل وکړ([42])". لومړی دا چې مشرانو پرېکړه وکړه، چې د نمایندګۍ په بېلابېلو سطحو منظمې غونډې او په منظم اساس کنفرانسونه جوړ کړي. دا کار اوس په منظم دود بدل شوی او د هېوادو د مشرانو کنفرانسونه په منظمه توګه له دریو کلو وروسته جوړېږي. په ۱۹۷۲ کال کې الجزایر او هم سریلانکا په خپلو ملکونو کې د ناپیلیو هېوادو د مشرانو د

غونډې د جوړېدو لپاره لـه يو بـل سره پـه سيالۍ بوخت و[43].
سره ددې هـم الجزاير پـه اتفـاق سره د نـاپيليـو هېوادو د مشرانو
د څلورمې غونډې د ځاى او کوربـه پـه تـوګه وټاکـل شـو.

د لوسـاکا پـه غونډه کـې دويـم ګام د يـوه وينـدوى (نطـاق)
ګومـارل و او د زمبيـا جمـهور رئيـس کينـت کـاوندا Kenneth
Kaunda د لومړي وينـدوى پـه حيـث انتخـاب شو. د وينـدوى
نقش او حق کوربـه هېواد تـه ورکـړل شـو، چـې لـه يـو مشـريزې
غونډې څخـه بـه تـر بلـې پـورې د دريـو کلـو د مـودې لپـاره دا
څوکـۍ پـه لاس کـې لـري. سره ددې هـم کنت کـاوندا تـه د زيـاتې
مـودې رول ورکـړل شـو، چـې د غړيـو هېوادو پـه منـځ کـې اړيکـې
ټينګې او د کنفرانـس د پرېکـړو، تصويبونـو او هدايتونـو د اجـرا
او تطبيق چـارې تـامين کـړي[44].

درېيـم غـوره انکشـاف او پرمختيـا دا وه، چـې يـوه همېشـنۍ
اجرايـي کمېټه اټکـل شـوې وه، چـې هغـه د ۱۹۷۰ کـال پـه اپريـل
کـې د دارالسـلام د تيـارې د غونـډې پـه نتيجـه کـې د منـځ تـه
راغلـې لنډمـهالې وړې اجرايـوې کمېټې تـه ورتـه وي، چـې هغـې
تـه د مشـرانو د کنفرانـس د جـوړېدو لپـاره لـه زمبيـا سـره د
انسجام او ارتبـاط دنـده ورکـړل شـوې وه".

د لوسـاکا د کنفرانـس څلورمـه نتيجـه د "ملـګرو ملتـو د
قفقـاز د ډلـې[45]" جـوړېدل و. دغـې نـاپېيلـې ډلـې د ۱۹۷۱ کـال
وروسـته پـه يـوه ځانګړي او خـاص اسـاس ځان جـوت او راڅرګنـده
شـوه او د ۱۹۷۳ کـال پـه سر کـې فعالـه شـوه.

د الجزیرې د مشرانو د غونډې وروسته په افغانستان رادمخه شوې پرمختیاوې په فوق العاده ډول د عاجل بدلون سبب وګرځېدې. د ۱۹۷۳ کال د جولای د ۱۷ نېټې لوی تشکیلاتي او بنسټیز بدلون په افغانستان کې اعلان شو او هغه د شاهي نظام لغوه او په ځای یې د یوه جمهوري نظام د جوړېدو اعلانول و. د نوي منځ ته راغلي جمهوریت هدفونه "چې د افغان اولس د دیموکراتیکې عنعنې او اصیلو هیلو ملاتړ ورسره و، اعلان شول چې د خلکو مادي او مانوي ژوند وده وهڅوي او یوه داسې نوې ټولنه جوړه کړي، چې اساس یې د هر ډول تبعیض پرته د ټولو اتباعو په برابرۍ او عدالت ولاړ وي([46])".

نوي رژیم په ډاګه کړه، چې د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ په دریځ کې به ډېر غوره بدلون نه وي:

"جمهوریت به د بهرنیو چارو په ساحه کې د ملګرو ملتو اصولو او هدفونو ته وفادار وي او له ځنډ او خنډ پرته به په دوامداره توګه د همدغو اصولو او فعالیتونو ملاتړ وکړي. هغه به د ټولو سوله دوستو هېوادونو په تېره بیا د دریمې نړۍ سره د سیاسي، اقتصادي او کلتوري همکارۍ پالیسي تعقیب او په کلکه توګه به خپله ناپېیلې پالیسي او په پوځي بلاکونو کې د نه ګډون سیاست وساتي. دا پالیسي د افغان اولس په هغو هیلو ولاړه ده، چې په بین المللي ساحه کې د سوله یېزو شرایطو د هڅونې او پراختیا په منظور په نړیوالو مسالو کې د ازاد او عیني قضاوت کول غواړي([47])".

سره ددې هم نوی رژیم نه داسې معلومېده، چې تر دې زیات د خپلو ملي ګټو د لټون هوډ یې کړی او په هغو پسې زیاته هڅه کوي. یوه نوې هڅه پکار ولېده، چې د همدې مقصد لپاره د یوې نوې اداري څخه ګټه واخلي. په غونډه کې د افغاني هیات مشر عبدالرحمن پژواك و، ده څرګنده کړه:

" سره ددې هم موږ تاسف کوو، چې پاکستان یوازینی هېواد دی، چې له موږ سره یې تراوسه سیاسي اختلافونه حل نه کړای شول. د پښتونستان مساله تراوسه د افغانستان لپاره ناحله پاتې ده، چې د سیمې خلك د استعماري قوت په وسیله په زور له خپل پلرني هېواد (افغانستان.مترجم) څخه بېل شوي او د دغو اوو ملیونو (نن ورځ د شلو ملیونو څخه زیات خلك. مترجم) خلکو روا حقوق او غوښتنې نه مني. موږ به هېڅکله ددغې مسالې د حل او تحقق په اړوند خپلې هڅې د خلکو د هیلو او بین المللي عدالت او د وړو ملتونو او دریمې نړۍ په منظور هېرې نه کړو. هېڅ دیتانت به تر هغو د عادلانه او دوامدارې سولې او بین المللي امنیت سبب ونه ګرځي، ترڅو ټول هېوادونه او سیمې پکې داخلې نه شي(۴۸)".

افغانستان له کنفرانس څخه هیله وکړه، چې د بین المللي ژوند ټول ساحو کې د وړو ملتونو ستونز ته خاصه پاملرنه واړوي. د اندېښنې وړ جهاني مسالې لکه بې وسلې کول، نوی نړیوال اقتصادي نظم، په جګړه وهلیو سیمو کې د کړکېچ کموالی او دیتانت د ټولو هېوادونو دبشپړې او برابرې ونډې اخیستنې پرته حل کېدلی نه شي. له افغانستان څخه دا هیله

او تمه نه شي کېدلی، چې هغه مقررات او کړنلارې تصویب او ومني، چې د ستونزو د حل لپاره یوازې د سترو طاقتونو له خوا برابر او دا طرحې او فارمولونه د هغوی په انحصار کې وي. "د پرېکړو او فعالیتونو بین المللي کول یوه ضروري خبره ده. که چېرې دا لومړی شرط، چې د ملتونو د برابرۍ د اساسي اصل څخه راوزي، تحقق ونه مومي، نړیواله سوله به کمزورې، ماتېدونکې او بې اعتباره وي([49])". افغانستان یو کلك وړاندیز کړی، چې د همدې مقصد د ترلاسه کولو لپاره د ملګرو ملتو د پیاوړتیا ملاتړ وکړي.

کله چې په الجزیره کې د ناپیلیو هېوادو د مشرانو غونډه جوړېدله، نو دا وخت د منځنۍ ختیځ حالت ډېر زیات کړکېچن شوی و. د ملګرو ملتو د امنیت په شورا کې د ناپیلیو هېوادو له خوا د منځني ختیځ د کړکېچ حل کول له ناکامۍ سره مخامخ شول، ځکه سترو طاقتونو د خپل ویټو له حق څخه کار واخیست. د اسراییلو له خوا د عربي مځکو نیولو دوام ومونډ. افغانستان هیله وکړه، چې کنفرانس به د امنیت شورا د ۲۴۲ ګڼې پریکړې او د ملګرو ملتو د منشور د تطبیق لپاره خاصه هڅه وکړي. افغانستان د خپل پلرنۍ ملك او اصلي کورنیو مځکو د بېرته ترلاسه کولو په برخه کې د فلسطین د خلکو د روا او نه بیلېدونکیو حقوقو ملاتړ وکړ.

افغانستان نه یوازې په عمومي اسامبله او د هغې په څانګو کې د شویو پرېکړو نه ترسره کېدو شنډېدونکی او د کرار تګ په باب اندېښنه وښووله، بلکې د امنیت شورا د

زيات ارزښت ور پرېکړو د نه عملي کېدو په اړوند دا اندېښنه زياته وه، چې نه يوازې د منځنۍ ختيځ په باب وې، بلکې د هغو پرېکړو په باب هم کېدله، چې د روديشيا، پرتګالي مستعمرو او په سويلي افريقا کې د حالاتو په برخه کې شوې وې. دا يو داسې حالت و، چې د ټول بين المللي قانون او بين المللي فضيلت د کمزوري کولو ګواښ يې کاوه.

کابل دا جوته کړه، چې هغه يوازې دا هيله لري، چې د وسلې شرايط رعايت او په ټوله نړۍ په تېره بيا په سيمه کې، چې دې پورې تړلې صميمانه او په زړه پورې اړيکې وهڅول شي. هغه (کابل. مترجم) په دې نظر دی، چې د نړۍ په يوه خاصه برخه کې د سولې ګډوډېدل به يوه جلا او ځانله پېښه نه وي، بلکې هغه به د ټولې نړۍ سوله او امنيت له ګواښ سره مخامخ کړي. په همدې اساس و، چې افغانستان دا ضروري وګڼله، چې د کنفرانس پاملنه دغسې ممکنه پېښو ته واړوي چې د هغه په ګاونډ کې ځا په ځا د داسې اخلال له امله رامنځ ته شوې، چې د وسلو د راوړل کېدو په سبب ناوړه سياسي پرمختياوې يې راولاړې کړې دي.

د افغاني هيات مشر يو ځل بيا دا عمومي ملاحظات په زغرده له دغسې مسالو سره وتړل، چې د افغانستان لپاره د عاجلې اندېښنې وړ دي:

" يوه سياسي چاره د پاکستان د حکومت هغه اوسنی دريځ دی، چې د ملي عوامي ګوند په خلاف يې غوره کړی دی. ددې حاضرې غونډې عاليجنابان مشران خبر دي، چې د

پاکستان حکومت اوس یو شمېر پښتانه او بلوڅ مشران توقیف کړي او د ځینو نورو په خلاف کې یې د فشار اچولو څخه کار اخیستی دی. د پښتنو او بلوڅو مشرانو په خلاف د پاکستان لمسوونکې اشاره یوه داسې کړنلاره ده، چې د پښتونستان د خلکو د هیلو، ارمانو او غوښتنو په خلاف غوره شوې ده. د افغانستان خلك له خپلو پښتونستاني ورونو سره ژورې قومي، تاریخي او کلتوري اړیکې او روابط لري، نو په دې سبب د پاکستان حکومت له خوا ددې عمل په ترسره کولو سره بې تفاوته پاتې کېدای نه شي او خپله ژوره اندېښنه ښکاره کوي. موږ هیله من یو، چې د پاکستان دا دریځ ډېره پراختیا ونه مومي، ترڅو په سیمه کې د حالت د زیاتې خرابۍ سبب ونه ګرځي(٥٠)".

د افغانستان حکومت په پرتګالي مستعمرو کې د ازادۍ بښونکي غورځنګ په تېره بیا په سویلي افریقا کې بشپړ ملاتړ کوي او په موزمبیق کې د پرتګالي پوځیانو له خوا عامه وژنه محکوموي. افغانان د سویلي افریقا توپیري سیاست او اپارتاید سخت غندي.

افغاني استازي د خپلو خبرو د پای ته رسېدو دمخه د ناپیلیو هېواد ترمنځ د سملاسي اقتصادي همکارۍ په اړتیا ټینګار وکړ. ده د خپلې وینا د تفصیل په ترڅ کې وویل:

"زموږ په نظر ددې همکارۍ څخه سوا داسې برېښي چې د بېلابېلو لویو وچو (براعظمونو) د ۷۷ ډلې د هېوادونو په منځ کې د بې اتفاقۍ او درزونو د لیرې کولو په برخه کې ډېر څه

شوي دي او همدا شان د لږ پرمختيايي او په وچه چاپېره پرمختيايي هېوادونو په ګټه خاص لارې چارې عملي شوې دي([٥١])".

د الجزيرې په مشريزه غونډه کې د افغانستان رول ډېر مثبت او جوړونکی و. د ناپېيلتوب اصل د افغاني بهرنۍ پاليسۍ اساس ګرځېدلی دی. د دغو اصولو رښتيانی تطبيق د هر اصلي غړي غوره مسووليت دی. افغانستان د خپلو محدودو منابعو سره سره بيا هم په الجزيره کې د ناپيليو هېوادو د مشرانو د غونډې د پرېکړو د عملي کېدو لپاره بشپړ ملاتړ او همکاري کوي. افغانستان ټولې ممکنه لارې چارې پکار اچولي، چې په ملګرو ملتو او نوره نړۍ کې د زياتېدونکيو ستونزو اړوند خپله پاملرنه جوته کړي، ترڅو په الجزيره او نورو تېرو مشريزو غونډو کې د شويو پرېکړو سره خپل يووالی او توافق جار وساتي.

په الجزيره کې د مشريزې غونډې او د کولمبو د مشريزې غونډې ترمنځ واټن کې په نړۍ کې ډېر بدلونونه راغلي دي. تر ۱۹۷۰ يمو کلونو پورې زيات شمېر هېوادونو د استعمار له جغ څخه خپله خپلواکي ترلاسه کړه. د ناپيليو هېوادو د غورځنګ زياتېدونکی قوت ددې هڅې ښکارندوی دی. د سويلي افريقا د اپارتايد ستونزه، د روديشيا کشاله (چې وروسته زمبيا وبلل شوه) او نامبيا د خپلواکۍ د اخيستلو وروسته د استعمار پاتې شوني سنګرونه وو. غورځنګ ددغو

مستعمرو په باب خپله اندېښنه وښودله او د هغو په موقع حل غوښتنه يې وکړه.

د الجزيرې په مشريزه غونډه کې د ناپېليتوب د غورځنګ تاکيد د سياسي خپلواکۍ او خلاصون څخه د اقتصادي خلاصون او ازادۍ په لور واوښت. ناپيلي هېوادونه چې له سياسي پلوه ازاد شوي وو، خو لاتراوسه په اقتصادي لحاظ د لويديزو هېوادونو تر اقتصادي اسارت لاندې وو.

ناپېليو هېوادو د بلګراد د مشريزې غونډې وروسته خپل ځان ته خطاب کړی و، چې په خپلو منځو کې به د اقتصادي همکارۍ د پيل کولو لپاره هڅې زياتوي او په پرمختلليو هېوادو يې غږ کړی و، چې پرمختيايي هېوادو ته زياتې مرستې او تخنيکي پوهه ورکړي. د ۱۹۶۲ کال په جولای کې ناپيليو هېوادو په قاهره کې خپل لومړنی اقتصادي کنفرانس جوړ کړ، چې په هغه کې د افغانستان په ګډون ۲۳ هېوادونو ګډون درلود. که څه هم دې کنفرانس غوره نتيجې لاس ته رانه وړې، خو بيا هم هغه دا ابتکار او هڅه وکړه، چې د ملګرو ملتو اقتصادي او ټولنيزه شورا تشويق کړي، چې د ۱۹۶۴ کال د جينوا کنفرانس د تجارت او انکشاف په باب راوبولي(۵۲). د تجارت او انکشاف په باب د ملګرو ملتو کنفرانس (UNCTAD) پرمختيايي هېوادو ته دا اميد ورکړ، چې د "UNCTAD او ملګرو ملتو د موجودو پروګرامونو د کار د پراخېدو او د هغه د نمايندګيو د تاسيس له لارې به اقتصادي پرمختګ راولي(۵۳)". خو (UNCTAD) په خپلو

لومړیو کلونو کې په دې کې پاتې راغی، چې د دریمې نړۍ ارزوګانې ترسره کړي، ځکه پرمختللي هېوادونه په دې موافق نه وو، چې د دریمې نړۍ سره همکاري وکړي.

په دغو حالاتو کې ناپېلي هېوادونه دې ټکي ته متوجه شول، چې دوی په خپلو منځو کې د تجارتي، مخابراتي او د متقابل ملاتړ د پراخېدلو څخه زیاته ګټه پورته کړی شي. د الجزیرې د مشریزې غونډې د جوړېدو دمخه ناپیلیو هېوادو په ۱۹۷۲ کال کې د اقتصادي همکارۍ لپاره د جورج ټاون د عمل پروګرام تصویب کړ، چې د الجزیرې د مشریزې غونډې د اقتصادي اعلامیې اساس برابروي.

د الجزیرې مشریزې د ناپیلیو هېوادو ترمنځ د اقتصادي همکارۍ لپاره څو غوره نوښتونه تر کار لاندې ونیول. د ناپیلیو هېوادو په نوښت د ۱۹۷۴ کال په نوامبر کې د خوراکي شیانو یو نړیوال کنفرانس په روم کې جوړ شو. د ناپیلیو هېوادو نوي ویندوی او د الجزایر جمهور رئیس هوواري بومیدین ملګرو ملتو ته لاړ، چې هلته د نړي اقتصادي نظم د اړتیا په باب خبرې اترې وکړي.

هغه نوښتونه، چې د ناپیلیو هېوادو له خوا تصویب شوي وو، مطلوبې اغیزې یې درلودلې. د ۱۹۷۳ کال په دسمبر کې د ملګرو ملتو عمومي اسامبلې د ۱۹۷۳ کال په دسمبر کې د ناپیلیو هېوادو غوښتنې ته د لبیك په ویلو سره یوه خاصه غونډه د ۱۹۷۵ کال په دسمبر کې راوبلله(۵۴). ناپېیلي هېوادونه چې د ملګرو ملتو د عمومي اسامبلې اکثریت غړي

جوړوي، په دې بريالي شول، چې د ۱۹۷۴ کال د اپريل له نهمې څخه د مې تر دويمې پورې د عمومي اسامبلې شپږمه خاصه جلسه جوړه کړي. په همدې جلسه کې و، چې نوی نړيوال اقتصادي نظام تصويب شو. افغانستان د نورو ناپيليو هېوادو سره يوځای په دې موده کې يو قاطع رول ترسره کړ. ددې ترڅنګ د دريمې نړۍ هېوادونه ټول يوځای د (۱۹۷۵) کال په فبرورۍ کې په "اومو موادو باندې د پرمختيايي هېوادو کنفرانس" تر عنوان لاندې غونډې لپاره په ډاکار کې راغونډ شول، نو په دې ډول په کولمبو کې د ناپيليو هېوادو د مشرانو د غونډې څخه دمخه ناپېلي هېوادونه په دې بريالي شوي وو، چې د پرمختللې نړۍ پاملرنه په اقتصادي مسالو کې خپل ځان ته راواړوي.

## په کولمبو کې د ناپېليو هېوادو کنفرانس

(اګست ۱۶_۱۹، ۱۹۷۶):

د لوساکا په کنفرانس د تصويب شوي کړنلارې له مخې، چې په هرو دريو کلو کې به يو ځل د ناپېليو هېوادو د مشرانو غونډه جوړېږي، نو په دې اساس شپږمه مشريزه غونډه د ۱۹۷۶ کال د اګست د ۱۶_۱۹ پورې په کولمبو کې جوړه شوه او په هغې کې د افغانستان په ګډون ۸۴ ثبت شويو هېوادو استازيو ګډون وکړ. د ناپيليو هېوادو ددې مشريزې غونډې له خوا لاندې اجندا تصويب شوه:

۱_ د کنفرانس افتتاح.

۲ـ د کنفرانس د مشرتابه هیات ټاکل.

۳ـ د اصلي غړیو، کتونکو غړیو او مېلمنو غړیو د برخې اخیستلو لپاره درخواستې.

۴ـ د احندا تصویبنامه.

۵ـ د ناپیلیو هېوادو د څلورم کنفرانس د مشر رپوټ.

۶ـ په کولمبو کې د بهرنیو چارو د وزیرانو د غونډې سپارښتنې.

۷ـ د کنفرانس د کار تنظیم.

۸ـ د بین المللي سیاسي حالت عمومي کتنه او ارزیابي.

۹ـ د بین المللي اقتصادي حالت کتنه او ارزیابي.

۱۰ـ په ناپیلیو هېوادو او نورو پرمختیایي هېوادو کې د اقتصادي همکارۍ او پیوستون د لارو چارو سروې او ارزیابي.

۱۱ـ د نړیوالي سولې او امنیت د پیاوړتیا ستراتېژي.

۱۲ـ د ناپلیو هېوادو ترمنځ د همکارۍ او انسجام هڅونه

۱۳ـ د ناپېلتوب پیاوړتیا او په بین المللي اړیکو کې د ناپیلیو هېوادو ګډ عمل(۵۵).

د افغانستان جمهور رئیس محمد داود کولمبو ته د تګ په لار کې د ډیلي په هوایي ډګر کې تم شو. د یوې مرکې په ترڅ کې یې وویل:" د افغانستان جمهوریت په ښکاره، روښانه او ثابته توګه د ناپېلتوب اصولو ته درناوی کوي او تل به دا اصول تعقیب کړي. موږ د هر هغې انګېزې په خلاف یو، چې دا اصول کمزوري کوي(۵۶)". جمهور رئیس زیاته کړه:"د ناپېلتوب غورځنګ به هغه وخت ښه مانا ولري، چې د هغې

اصولو ته وفاداري وشي او په عمل کې يې پياده کړو او افغانستان تل ددې غورځنګ اصولو ته په کلکه وفادار پاتې شوی دی(۵۷)".

ناپېلتوب ته د افغانستان دا په موقع متعهد پاتې کېدل په تېره بيا د کولمبو د کنفرانس د جوړېدو په مهال ډېر په ځای خبره وه، دا ځکه چې دا وخت نړيوالې پېښې په ډېره چټکۍ سره بدلېدلې. طبعا دا کنفرانس د ناپېليو هېوادو د راتلونکي نقش په اړوند اندېښمن او متوجه و. د کنفرانس زيات برخه وال په دې احساس و، چې د ناپېلتوب غورځنګ په راتلونکې کې بايد د ناپيليو هېوادو ګټې خوندي وساتي.

په دې کنفرانس کې افغاني استازي دا نظريه وړاندې کړه، چې په انفرادي توګه د غورځنګ غړي هېوادونه بايد داسې ازادي او تر دې حده بې بندوباري د ځان لپاره غوره نه کړي، چې د ناپيليو هېوادو اهميت او ارزښت له اغېزې ونه غورځوي. ده څرګنده کړه، چې د ناپيليو هېوادو د کار د ټاکلي چوکاټ معيارونو کلونه وړاندې په بلګراد کې تدريجي تکامل کړی و او دغو معيارونو د سياسي کمپلکس د بدلونونو سره خپل صحت او اصل والی ساتلی دی. جمهور رئيس داود دا احساس جوت کړ، چې دا به د ناپيليو هېوادو مسوليت وي، چې دغه معيارونه لاس ناوهلي پاتې شي(۵۸). ده دا څرګنده کړه، چې د ناپېيلتوب په دغو اصولو باندې تشه موافقه او د ناپېيلتوب د نه پوځي والي په معيار باندې د نظر ورکول د ناپيلتوب د داعيې د وړاندې بيولو لپاره کافي نه

دي. ده لا دا وړاندیز وکړ، چې د جهاني ستونزو په باب د ناپیلیو هېوادو هماهنګ ملاتړ به ددې غورځنګ لپاره رهنمود وي. ده خبر داری ورکړ، چې د یوه ناپېلي هېواد له لوري د پرمختللي هېواد په ملاتړ د ناپیلیو هېوادو د ګټو لاندې کول به د ناپېلتوب د غورځنګ اصول کمزوري کړي(۵۹).

جمهور رئیس محمد داود د استعمار او نوي استعمار په اړوند د افغانستان د اندېښنې د بیان په ترخ کې وویل، چې استعمار لا تراوسه پورې په بشپړه توګه له منځه تللی نه دی، ځکه د نوي استعمار رېښې لا پیاوړې شوې دي. "په زیات شمېر اعلامیو کې د استثمار هوډ په ټولو هغو لویو وچو (براعظمونو) کې چې پخوا تر استعمار لاندې وې، د غلبې درلودونکې دي. اقتصادي او ټولنیزه نا انډولي په زیاتېدونکې توګه ولسونه او ملتونه تر فشار لاندې راولي. دا ټولې نړیوالې سولې او امنیت ته زیان ګڼل کېږي(۶۰)".

افغاني استازي په داسې حال کې، چې د مشریزې غونډې برخه والو غړیو ته د ستروځواکونو ترمنځ د دیتانت په اړوند د زیاتې خوشبیني له امله خبرداری ورکړ، وویل:

"په وروستیو وختو کې موږ د دیتانت خبرې اورو. موږ باید ووایو، چې دا ښه کار دی، خو موږ له دې حقیقت څخه سترګې پټولی نه شو هغه دیتانت، چې د ګډ ژوند اصل ته درناو کوي، له هغه دیتانت څخه، چې وېره منځ ته راوړي، توپیر لري. هغه څه چې ډېر مهم دي، هغه دا چې دیتانت باید

عمومیت ولري. د نړیوالې سولې او امنیت لپاره کوم غوره عامل، چې د سراسري جهاني ګډ ژوند په برخه مهم شمېرل کېدلی شي، د هغه اصلي همکارۍ له روحیې څخه راوځي، چې د نړۍ په ټولو برخو کې د دوامداره سولې او امنیت په ګټه د بشري نسل د متوازنو اصلاحاتو لپاره وي(۶۱)".

ده د ناپېلیو هېوادو پاملرنه بېلابېلو مسالو ته واړوله، چې جهاني سوله تهدیدوي. دا مسالې او ستونزې دا وې: د اسرایلو پراختیا غوښتونکې پالیسي او د هغو له خوا د عربي سیمو نیول کېدل او د فلسطین د خلکو د روا حقوقو څخه سترګې پټول، په افریقا کې اپارتاید او په رودیشیا کې د لږکیو ظالمانه حکومت او د نامبیایانو د حقوقو غصب کول. افغاني استازي ددې مسالو په باب سخت دریځ غوره کړ. ښاغلي جمهور رئیس محمد داود کنفرانس ته وویل: " روغه جوړه او مصالحه د ډیپلوماسۍ یو منل شوی اصل دی، خو هغه په ټولو مواردو کې د منلو وړ نه دی. څوك کولی شي د تېري او د یوه هېواد د خاوري اشغال، نژادي توپیر، صهیونیزم، فاشیزم او یا هره هغه پالیسي مني، چې د ولسونو او ملتونو د فردي حقوقو سره ضدیت او مغایرت ولري. له بلې خوا دا به د دریمې نړۍ په ګټه نه وي، چې هري یوې مسالې ته سیاسي رنګ ورکړي(۶۲)".

افغانستان دېته لېوال و، چې د نوې نړیوال اقتصادي نظم اعلامیه په حرف او عمل سره یو شان تطبیقي اړخ پیدا کړي او تحقق ومومي. افغاني استازي په دې اړوند مشریزې ته په

ټینګه وویل، چې یوه رښتیانۍ کړنلاره تصویب کړي. ده څرګنده کړه:

" د نوي نړیوال نظم تاسیس یوه حتمي خبره ده او په دې برخه کې ستونزې باید د متقابل تفاهم له لارې حل شي، نو په دې ډول به هغه عملي نتیجې ولري. مخکې له دې، چې دا نوی نظم په جهاني شمول ډول نصیب ټینګ شي او دوه نوري نړۍ (دوه ستر پوځي بلاکونه. مترجم) له دریمې نړۍ سره په داسې یوه طریقه موافقې ته ورسېږي، چې عمومي ګټې پکې نغښتې وي، نو دا ضروري ده چې د ناپېلې ډلې هېوادونه په خپلو منځو کې داسې یو تاداو کېږدي، چې هغه د دریمې نړۍ د هېوادو په منځ کې د همکارۍ یو چوکاټ شي. لومړی موږ باید خپلې پالیسۍ د احساساتي حالت څخه رښتینولۍ ته وخوځوو او دویم دا چې تش د کاغذ په مخ توافقات به زموږ په نني اړیکو او د بهرنیو هېوادو سره زموږ د مناسباتو په برخه کې عملي ارزښت ونه لري([۶۳])".

افغاني استازي په نتیجه کې ناپېلې هیوادونه دېته وهڅول چې د افغانستان په شان په وچه چاپېره هېوادونو ستونزو ته خاصه پاملرنه واړوي. دا ملکونه په مخامخ توګه سمندر ته لار نه لري او د سمندري منابعو او لارو څخه بې برخې دي. دغسې جغرافیایي مجبوریتونه د په وچه کې پراته هېوادونو په تجارت، ترانسپورت او مخابراتو کې خنډونه اچوي او دا یو ټاکلی علاج غواړي. افغاني استازي ددې مسالې د روښانه کولو په اړه په ډاګه کړه، چې:

" په نتیجه کې زه د کنفرانس څخه هیله کوم، چې یوې غوره مسالې ته پاملرنه وکړي، چې په وچه چاپېره هېوادو ته حیاتي ارزښت لري. دا هېوادونه د طبیعي جبر په اساس او یا د استعمار په نتیجه کې سمندر ته د لارې لرلو له امتیازاتو څخه بې برخې شوي دي. استعمار نه یوازې د خپل قدرت په مهال د هغوی وده کمزوري کړه، بلکې له استعمار څخه د خلاصېدو وروسته، دوی په یوه داسې حالت کې پرېښودل شوي، چې د هغوی د انکشاف مخنیوی کوي او تر هغو چې هغه دا شان متمایل وي، نو هرومرو به د یوه مانع په توګه پاتې وي. په وچه چاپېره هېوادونه ځینې وخت د داسې اقتصادي فشارونو لاندې راځي، چې خبره یې د اقتصادي کلابندۍ حد ته رسېږي:

" ساحل لرونکي ناپېلي هېوادونه باید په دې کې ځانونه متعهد وګڼي، چې ددې کنفرانس او یا په نورو بین المللي کنفرانسونو کې د ناپېلیو هېوادو له دریځ څخه دفاع او ملاتړ وکړي. موږ له دې کنفرانس څخه هیله کوو، چې ددې موضوع په باب د ملګرو ملتو د عمومي اسامبلې بلې غونډې او یا نورو بین المللي مجالسو ته کلکلې سپارښتنې وکړي او په وچه کې پرتو هېوادو سره بېلابېلو غونډو ته د دوی د درخواستي او وړاندیز په اړوند د هغوی سره اغېزمنه همکاري وکړي. نوی نړیوال نظم به تر هغو، چې دې موضوع ته پاملرنه ونه شي بشپړ ګڼل کېدلی نه شي(۶۴)".

افغانستان د کولمبو په مشریزه غونډه کې ډېر غوڅ رول ترسره کړ. افغاني استازي له صراحت او بلاغت څخه سترګې پټې نه کړې، هغه خپله پاملرنه د ناپیلیو هېوادو غورځنګ ټولو هغو ستونزو ته واړوله، چې ورسره لاس او ګرېوان و. د کولمبو په مشریزه غونډه کې افغاني استازي د خبرو تحلیل دا جوتوي، چې ده یوازې د نړیوالو مسالو په اړوند د نورو ناپیلیو هېوادو دریځ په پټو سترګو لاسلیک کړی نه دی، بلکې د دغو ستونزو د بشپړ حل لپاره یې مشخص پېشنهادونه وړاند کړي دي. د کولمبو په غونډه کې د افغاني استازي ډېره غوره مرسته دا وه، چې هغه په وچه چاپېره هېوادونو ستونزې په ډاګه کړې، چې افغانستان هم په هغو ټړلي دي.

د ناپیلتوب له غورځنګ سره د افغانستان مرسته او په هغې کې یې نقش ډېر غوره و. افغانستان په عنعنوي توګه یو ناپېلی هېواد دی. له دې حقیقت څخه سترګې پټېدلی نه شي، چې افغانستان د ناپېلتوب د غورځنګ یو وفادار همکار دی. افغانستان د سوچه ناپېلتوب د یوې اصلي روحیې څخه په الهام اخیستلو د ناپیلیو هېوادو د مشرانو په بېلابېلو غونډو کې جوړوونکی، سازنده او غوره نقش ترسره کړی او په جوړوونکیو او سازنده پېشنهادونو سره یې له هغه سره همېشنی مرسته کړې او د بلګراد (۱۹۶۱) د مشریزې غونډې څخه نیولې بیا د کولمبو (۱۹۷۶) تر مشریزې پورې د ناپیلیو هېوادو د مشرانو د بلابېلو غونډو د سپارښتنو په بشپړ ترسره کولو کې یې پوره همکاري کړې ده.

# ماخذونه:


۱. پترووېليت، د ناپېلتوب غورځنګ، د دريمې نړۍ د يووالي منشا (د هند چاپ) ۹بمبۍ، ۱۹۷۸)، ۱۰ مخ.
۲. د ناپېليو هېوادو د دولتونو يا حکومتونو د مشرانو کنفرانس (بلګراد، ۱۹۶۱)، ۱۶ مخ.
۳. هند او بهرنۍ ريويو (نوې ډيلي)، ۱۹۷۰، د اکتوبر لومړی.
۴. کنفرانس، پورته دويمه شماره، ۸۰ مخ.
۵. ديوان. س. وهرا، د ناپلتوب اقتصادي وړتيا (نوې ډيلي، ۱۹۸۳)، ۶ مخ.
۶. کنفرانس، پورته دويمه ګڼه، ۸۱ مخ.
۷. همدا اثر.
۸. همدا اثر.
۹. همدا اثر، ۸۲ مخ.
۱۰. همدا اثر، ۸۳ مخ.
۱۱. همدا اثر، ۸۴ مخ.
۱۲. د بين المللي چارو ريويو، ۱۹۶۱، ۱۸ مخ.
۱۳. کنفرانس پورته دويمه ګڼه، ۸۴ مخ.
۱۴. ويليت، پورته لومړی شماره، ۱۴ مخ.
۱۵. د تفصيل لپاره وګورئ ج.ا.چ. جانسين، افريقا، اسيا او ناپېلتوب (لندن، ۱۹۶۶)، ۱۷-۱۸ فصلونه.
۱۶. ويليت، پورته لومړی ګڼه، ۱۴ مخ.
۱۷. UAR او د ناپېلتوب پاليسي (قاهره) ۳۳ مخ.
۱۸. د ناپېليو هېوادو د دولتونو يا حکومتونو د مشرانو د کنفرانس اقدامونه څخه اقتباس، قاهره، ۱۹۶۶.
۱۹. همدا اثر، ۶۴ مخ.
۲۰. همدا اثر، ۶۶ مخ.

۲۱. همدا اثر، ۶۴ مخ.
۲۲. همدا اثرپ، ۶۵ مخ
۲۳. همدا اثر، ۶۶ مخ.
۲۴. همدا اثر، ۶۶-۶۷ مخ.
۲۵. همدا اثر، ۶۷ مخ.
۲۶. همدا اثر، ۷۲۴ مخ
۲۷. همدا اثر.
۲۸. د ناپیلیو هېوادو دریم کنفرانس، د ۱۹۷۰ کال سپتمبر: د لوساکا اعلامیه او پریکړې (نوي ډیلي، ۱۹۷۱)، ۱ مخ.
۲۹. پترویلیت، ناپېلتوب په هاوانا کې، (لندن، ۱۹۸۱)، ۳ مخ
۳۰. د ناپیلیو هېوادو د څانګړیو حکومتونو د استازو مشورتي غونډه (بلګراد، ۱۹۷۰)، ۱۳۲ مخ.
۳۱. همدا اثر، ۱۳۳ مخ.
۳۲. همدا اثر،
۳۳. د لوساکا د مشریزې غونډې څخه راپولونه (لوساکا، ۱۹۷۰)
۳۴. دریم کنفرانس، پورته ۲۸ ګڼه، ۲ مخ.
۳۵. د لوساکا مشریزه غونډه، پورته ۳۳ ګڼه، ۶۵ مخ.
۳۶. همدا اثر
۳۷. همدا اثر
۳۸. همدا اثر
۳۹. همدا اثر
۴۰. همدا اثر
۴۱. همدا اثر
۴۲. ویلیت، پورته لومړی ګڼه، ۳۶ مخ.
۴۳. د بین المللي چارو ریویو، ۱۹۷۲ اګست ۵-۲۰، ۱۴ مخ.
۴۴. همدا اثر، ۴۹۱ ګڼهو ۱۹۷۰، سپتمبر ۲۰، ۱۴ مخ
۴۵. ویلیت، لومړی ګڼه، ۳۸ مخ.

۴۶. و.الف. واکمن، د ناپېلتوب په کنفرانس کې د افغانستان ډيپلوماسي (الجزيره، ۱۹۷۳)، ۱۱ مخ.
۴۷. په الجزيره کې د ناپيليو هېوادو د دولتونو يا حکومتونو د مشريزې غونډې په کنفرانس کې د افغانستان د استازي بيانات (الجزيره، ۱۹۷۳)، ۱۱ مخ.
۴۸. همدا اثر، ۱۲-۱۳ مخ.
۴۹. همدا اثر، ۱۳ مخ.
۵۰. همدا اثر، ۱۶ مخ.
۵۱. همدا اثر، ۱۸ مخ
۵۲. دا کنفرانس ددې سبب شو، چې د تجارت او انکشاف په باب د ملګرو ملتو کنفرانس يا (UNCTAD) منځ ته راشي.
۵۳. ۵۳_ ويليت، پورته لومړی ګڼه، ۲۹ مخ.
۵۴. د ملګرو ملتو د عمومي اسامبلې پرکړې (XX.VIII) ۳۱۲۷، ۱۹۷۳، دسمبر ۱۲.
۵۵. د بين المللي چارو ريويو، ۱۹۷۴، سپتمبر ۵
۵۶. کابل تايم، ۱۹۷۶، اګست ۱۵
۵۷. همدا اثر ۵۷
۵۸. د کولمبو په مشريزه کې د جمهور رئيس د وينا د بشپړمتن لپاره وګورئ، کابل تايم، ۱۹۷۶ اګست ۱۶ دغه راز وګورئ ضميمه.
۵۹. همدا اثر
۶۰. همدا اثر
۶۱. همدا اثر
۶۲. همدا اثر
۶۳. همدا اثر
۶۴. همدا اثر

## پنځم فصل:

# د افغانستان بهرنۍ پالیسي د ۱۹۷۸ کال د کودتا وروسته

د يوې مشخصې او ښې پالیسۍ دوامداره تعقیب د یوه ملت لپاره د هغه په بهرني تعلقاتو او متقابلو اعمالو پورې د نورو د هېوادو سره د هغه خارجي پالیسۍ مهم اصل ګڼل کېږي. دا په پراخه توګه منل شوی پرنسیب دی، چې داخلي انکشافات په خارجي پالیسۍ باند ستره اغېزه کوي. د افغانستان لپاره هم دا رښتیا خبره ده. لکه څنګه چې پخوا ویل شول. افغانستان هم یو د پخوانیو ناپیلیو هېوادو څخ دی، خو د هغو بېړنیو پېښو له امله چې د ثور د انقلاب یانې

د اپریل د میاشتې او ۱۹۷۸ کال نه وروسته د شوروي د مداخلې سبب وګرځېدې او په نتیجه کې يې د ۱۹۷۹ کال په دسمبر کې شوروي افغنستان ته راننووت، نو د افغانستان شکل بدلون وموند او د یوه نسبتاً ناپیلي آزاد هېواد څخه د شوروي د یو قمر په توګه راڅرګند شو[۱]. د افغانستان عنعنوي تعهد د ناپېلتوب د غورځنګ په وړاندې کله چې داود خان صدراعظم و او د ناپېلو هېوادو په لومړني کنفرانس، چې په ۱۹۶۱ کال کې په بلګراد کې جوړ شوی و، په دې ډول تینګار پرې شوی و:

"که څه هم چې د "ناپېلتوب" اصطلاح داسې غوره شوې ده، چې د کنفرانس د هر یوه غړي پالیسي تشریح کوي، دا باید په ګوته شي، چې د افغانستان د بېطرفۍ پالیسي له ډېر پخوا راهیسې هغه پالیسي ده کوم، چې د ناپېلتوب غورځنګ د رامنځ ته کېدو سبب ګرځي. افغانستان په عنعنوي ډول سره د بېطرفه قضاوت پالیسي د کلونو په اوږدو کې پرمخ بیولې ده او هېڅکله له دې اصل څخه نه دی په شا شوی حتی د نړیوالو جګړو په وخت کې هم په دې اصل کلك پاتې و[۲].

ناپیلتوب د تل لپاره د افغانانو بهرنۍ پالیسي وه. البته په خاص ډول سره د دویمې نړیوالې جګړې وروسته د افغانستان ټولو صدراعظمانو (دا چې د هرې ډلې سره يې تعلق و) په داسې ډول سره خپل تعهد کړی دی، چې دوی د ناپېلتوب د پالیسۍ سره موافق دي. دواړه اړخه یانې حاکمان او تر حاکمیت لاندې په دومره اندازه د ناپېلتوب اصل ته

متعهد و کوم چې په ۱۹۶۴ کال کې کله چې یوه لویه جرګه جوړه شوه، چې د نوي اساسي قانون په رامنځ ته کولو کې خپله رایه څرګنده کړي، نو په یوه خاصه قطعنامې کې ي د افغانستان د مثبت او فعال ناپېلتوب اساس د هغه بهرنۍ پالیسي وبلله او ددغې لویې جرګې له خوا تصدیق او تائید شوه([۳]).

د ثور د انقلاب نه پخوا یانې د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتې نه وړاندې پخوانیو رژیمونو هم په بشپړ ډول سره خپل تعهد د ناپېلتوب د پالیسۍ په باب څرګند کړی و. د افغانستان له خوا په ټینګه سره د ناپېلتوب د غورځنګ د پالیسۍ تعقیب په دویم او څلورم فصلونو کې ښه په ګوته شوی دی. اوسنی فصل د هغو شرایطو سره اړه لري، کوم چې د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتې د ثور د کودتا سبب شول او د افغانستان د ناپېلتوب په پالیسۍ باندې ي څه اغېزې وکړې.

د افغانستان د خلق دموکراتیك ګوند (PDPA) د نور محمد تره کي تر مشرۍ لاندې د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتې د کودتا نه وروسته په افغانستان کې قدرت په غاړه واخسیت. داسې ویل شوي دي چې PDPA د ۱۹۶۵ کال د جنوري د میاشتې په لومړي سر کې د نور محمد تره کي تر مشرۍ لاندې منځ ته راغلی و. که څه هم چې د داسې یوه ګوند د رامنځ ته کېدو په باب حقایق خلکو او حکومت ته ښه څرګند نه دي، خو دا ګوند د مارکسیست- لیننست په مفکورې تکیه

کوي، کوم چې د شوروي نه د طرفدارۍ موقف لري. ډېر ژر دغه ګوند د اشخاصو ترمنځ د اختلاف سبب وګرځېد او د شخصي او قومي اختلاف له وجې په دوو ډلو ووېشل شو، چې يو يې خلق او بل يې پرچم و(۵). دواړه ډلې په فکري او سياسي لحاظ مسکو پلوه ډلې وې.

د جوړېدو نه وروسته کله، چې خلق او پرچم منځ ته راغلل، نو په دې پوه شول، چې دا امکان لري، چې په انتخابي پروسه کې کامياب شي او واك ترلاسه کړي، دواړو خواوو يوه دوه مخې ستراتيژي غوره کړه. د مثال په توګه په پارلماني انتخاباتو کې يې ګډون او په مسلح قواوو کې نفوذ د کيڼ اړخو نفوذ په سطح قواوو کې په جټکې سره مخکې لاړ. دا له دې کبله، چې افغاني قواوو د وسلو، مهماتو او روزنې په برخه کې په شوروي اتحاد باندې په بشپړ ډول تکيه درلوده(۶). د ۱۹۶۹ او ۱۹۷۳ کلونو ترمنځ د پرچم ډلې زيات فرصت ترلاسه کړ، چې خپله شبکه د وسله والو قواوو په منځ کې وغزوي. "د پرچميانو پښتنو غړيو کوم چې د حاکمې طبقې سره يې اړيکې درلودې، وسله وال پوځ د خپلو اهدافو لپاره يوه په زړه پورې حاصلخيزه مځکه وګڼله(۷)". د خلقيانو ګروپ هم د روښنفکرانو په منځ او همداراز په وسله وال پوځ کې خپلو فعاليتونو ته دوام ورکړ.

محمد داود او دده حکومت د PDPA له خوا د اپريل په مياشت کې په ۱۹۷۸ کال له منځه لاړ، خو ده د ۱۹۶۰ مو کلونو په اوږدو کې د پرچميانو سره اړيکې درلودې. کله چې

په ۱۹۶۳ کې د صدراعظمی له دندې څخه لرې کړای شوو نو ده د خپل ستراتېژي په مضبوطولو او مانور ورکولو پیل وکړو ترڅو چې دوباره واك ترلاسه کړي. د ۱۹۶۴ کال قانون د برینده‌و سیاسي فعالیتونو اجازه ورکړه، چې خلقیان او پرچمیان يې په دې قادر کړل، چې خپلو فعالیتونو ته د روشنفکرانو په منځ کې دوام ورکړي او هغه په عملي ډول سره پیل کړي.

د شاهي رژیم په مقابل د خلکو ناراضایت په زیاتېدو وه او دا د پرچم لپاره فرصت و، چې په وسله وال پوځ کې نفوذ وکړي. د دوی مرستې داود تقویه کړ، چې په کال ۱۹۷۳ کې چې پر ظاهر شاه کودتا وکړي. لوئیس دوپري دا خبره کوي، چې ځینو پرچمیانو د داود خان په کودتا کې اساسي نقش درلود(۸). د یوه راپور سره سم ځینو باخبره کړیو پرچم د داود کمونستي حزب ګڼله(۹).

کله چې داود خان د وسله وال پوځ او پرچمیانو په مرسته په ۱۹۷۳ کال کې قدرت ترلاسه کړ، نو په دې ډول کین اړخي په دې بریالي شول، چې په حکومت کې اساسي ځوکۍ ترلاسه کړي. ځینې پرچمیان د انقلابي شورا غړي شول او ځینې فعالین لکه ډګروال عبدالقدیر او احمد ضیا مجید په هوایي قواوو او وسله وال پوځ کې مهمې دندې ترلاسه کړې(۱۰). زیات پرچمیان په ولایتو کې په بوروکراتیکو اساسي ځوکیو باندې وګومارل شول(۱۱).

د ۱۹۷۳ کال د جولای کودتاه چې د داود تر مشرۍ لاندې وشوه، د دواړو اړخونو خلق او پرچم له خوا وستایل شوه. پرچم د ټولنيز افغان دموکراتانو په پرتله ډېره ګټه پورته کړه. د خلق د حزب اشخاص د نور محمد تره کي څخه چې د حزب مشر و او هم د حفیظ الله امین څخه، چې دی هم خلقي و تغیر وکړ. د پرچمیانو لومړنی ښکاره موقف چې د داود له حکومت څخه یې ښکاره ګټه پورته کړې وه، د خلقیانو له پلوه وغندل شول او دوی داسې اعلان وکړ، چې "دوی هر هغه رژیم نه مني کوم چې په اوسنیو حالاتو کې د یوه حزب پلوي کوي. دا اساسي خبره ده، چې ټول وطنپرست او دموکراتیک عناصر باید د نوي افغانستان په جوړونه کې سره یوشي کوم چې راتلونکی یې په یقین سره په سوسیالیزم پورې اړه لري([۱۲])".

د خلقیانو روښانه هدف دا و، چې د پرچمیانو سره موازي د داود د لاري سره سر وښوروي، خو "داود په لنډمهالي اتحاد کې د پرچمیانو سره د هغوی د آرام کولو لپاره راغی. خپل تفاهم ته یې دوام ورکړ او هر وخت چې یې وخت مونده، نو د کیڼ اړخو سره به یې ږغ یوځای کاوه([۱۳])".

کله چې داود قدرت ترلاسه کړ، نو د ده خارجي پالیسي د شوروي اتحاد په لور کږه شوه. ده د روسانو پلان، چې په آسیا کې مجموعي امنیت و تایید کړ، د داود په خارجي پالیسۍ کې د شوروي څخه د طرفدارۍ موقف په هېواد کې دننه د امنیت په ټینګولو کې برخه درلوده. له دې امله ده د پرچمیانو مرستې ته ضرورت درلود. د امنیت د تامینولو وروسته ده

خپلې اړیکې له کیڼ اړخو سره وشکولې او د شوروي خلاف پالیسو ته یې دوام ورکړ. داود د افغانستان د اسلامي هېوادونو خواته نږدې کړ، په خاص ډول پاکستان، ایران او مصر ته. د ۱۹۷۸ کال د اپریل د کودتا څخه څو ورځې دمخه داود وویل، چې افغانستان اوس یوې ریښتینې ناپیلې پالیسۍ ته متعهد دی(۱۴).

د ۱۹۷۵ او ۱۹۷۷ کلونو په منځ کې د داود اداره د مالونو په ورکولو کې ناکامه شوه. د هغه د اقتصادي او سیاسي جاه طلب ه پلانونو څخه بهرته نور د داود لارې څه د اعتبار وړ اجرراات نه درلودل. اقتصاد د رکود سره مخامخ و. د ریفورمونو تطبیق نه شو کېدای، ځکه موثر قوت د فیودالي خانانو او بېروکراتانو سره و کوم چې فاسد وو. داود دا ادعا کوله، چې دی یو ملي ګرا سړی دی، ولې ده د دوی مرسته نه شوه ترلاسه کړلای. د دولت ماشین دده تر مشرۍ لاندې دده د مخالفینو پر ضد د ټکوونکیو اقداماتو څخه کار واخیست. دا انکشافات ټول ددې سبب وګرځېدل، چې په خلکو کې سرتاسري خواشیني رامنځ ته کړي او په ورو ورو د داود محبوبیت پای ته ورسوي (۱۵).

# د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتې کودتا

هغه کودتا چې د **PDPA** له خوا د وسله وال پوځ د قواوو په مرسته د اپریل په (۲۷) نېټه کال ۱۹۷۸ کې وشوه، په ښه ډول پلان شوې وه. دواړو ډلو خلق او پرچم کوښښ وکړ، چې لا دمخه قدرت لاس ته راولي، خو ناکامه شوي و. داود د ځوانو بنسټ پالو په هکله باخبره و. لوئیس دوپري په دا نظر دی، چې داود دې ته رسېدلی و، چې کیڼ اړخ به په لومړي سر کې ولایاتو ته وپاشي. که چېرې "کیڼ اړخو غوښتي وا[۱۵]، چې د کودتا کوم پلان جوړ کړي، نو د دوی اصلي او مهم غړي به د کابل نه خپاره شوي وای([۱۶])".

د ۱۹۷۶ کال په سر کې پرچمیانو هڅه وکړه، چې کودتا سرته ورسوي، خو د دوی دسیسه کشف شوه او د داود حکومت نور زیات بېدار شو. ددې سره سره، چې دوی د داود له لارې سره ېي څه مینه وي په دې تګ لاره سره وو بشل شول، چې څنګه به په راتلونکي کې واک ترلاسه کړي؟ د تره کي نه وروسته حفیظ الله امین د خلق په ګوند کې جګ پوړی سړی و، چې دی باوري و "چې دوی په وسله وال پوځ کې پوره قوت

لري او دوی کولای شي، چې بریالي شي([17])". خو تره کې ده تـه مشـوره ورکـړه، چـې "صـبر وکـړي، تـرڅو چـې عينـي او ذهنـي شرايط دې تـه اماده شي او حزب هـم لـړ څه قـوي شـي([18])".

د PDPA داخلـي اختلافـات د شـورويانو د خوربدلـو سـبب ګرځېدلـو نـو ځکـه يـې هـڅه وکـړه، چـې دا تضادونــه لـري او اصـلاح کـړي. د PDPA بيـا يووالـی پـه ۱۹۷۷ کـال کـې پـه بيـړه سـره ترسـره شـو. ددې ترکيـب پـه هکلـه مختلـف تعبيرونـه شـته دی. ځينـې وايـي، چـې د هند کمونسـتي حـزب CPI پـه دې هکلـه اساسـي نقـش ولوبـاوه. ځينـې نـور بيـا دا د پاکسـتان د نشـل عوامي ګوند کـار بولـي. خـو داسـې ښکـاري، چـې اساسـي نقـش بـايد شـوروي اتحـاد سـرته رسـولی وي([19]).

د خلق او پرچم ډلـې بيـا د PDPA پـه لیکـو سـره يـو شـوې. کـه څه هـم چـې پـه دې بـاوري ښکـارېدې، چـې وسـله والـو قـواوو کـې يـې پـوره حمـايت پـه برخـه دی. خـو د واک د ترلاسـه کولـو لپـاره ې ښکـاره نـېټه نه وه پـه ګوتـه کـړې. پـه نـاڅاپـي ډول د مـير اکـبر خيـبر پـرچمي قتـل چـې د اپريـل پـه ۱۸ مـه او پـه ۱۹۸۷ کـال کـې پـېښ شـو، د يـوې سلسـلې عکـس العملونـه پيـل و، چـې د کودتـا سـبب وګرځېدل. د خيـبر قـاتل هېڅکلـه پـه ګوتـه نـه شـو او دا روښانـه نـه شـوه، چـې دا يـوه بـلا پـېښه وه او يـا داچـې لکـه څنـګه چـې عمومــي عقيــده پــه دې اړخ لــګوي، چــې دا د داواد د اداري ستراتيژي وه، چې د PDPA مشـران لـه منځه يوسـي([20]).

د خيـبر قتـل د مسلسـلو مظـاهرواتو پـه واسـطه دوام ومونـد، چـې PDPA وکـړای شـو، چـې د عـام خلکـو احسـاس د داود د

رژیم پر ضد راپورته کړي. هغه عام ملاتړ، چې د کیڼ اړخي خوا سره موجود و، ددې سبب وګرځېد، چې داود وهڅوي، چې د PDPA مشران بندي کړي. په همدغه زمان کې د PDPA مشرانو د خپلو هواخواهانو سره په عسکري قواوو کې تماس ونیوه. د ۱۹۷۸ کال د اپریل په ۲۷ مه نېټه د داود رژیم د یوې کودتا په واسطه له منځه لاړ. هغه کودتا چې د مسلحو قواوو په کمك او د شوروي اتحاد په مشورې سره ترسره شوه. د وسله وال پوځ او PDPA یوځای واك سره شریك کړ. یوه انقلابي شورا چې نور محمد تره کی یې مشر و، جوړه شوه او افغانستان د افغانستان د دموکراتیك جمهوریت په نوم وپېژندل شو (DRA). شوروي اتحاد هغه لومړنی هېواد و، چې نوی انقلابي حکومت (DRA) یې په رسمیت وپېژاند. تره کي د نوي حکومت صدارت هم په خپل لاس کې ونیو، ببرك کارمل د صدراعظم معاون او د انقلابي شورا معاون وټاکل شو. د خلق ډله، چې د تره کي او امین په واسطه رهبري کېدله په حکومت کې یې ښکاره نفوذ ترلاسه کړ. حال دا چې پرچمیان مجبور و، چې په ټیټه سطحه کې توافق وکړي. وروسته له شپږو میاشتو ببرك کارمل او نور بانفوذه پرچمیان اخراج او په سفارتونو وګومارل شول.

## د بنیادي بدلونونو ماهیت:

هغه حکومت، چې د ۱۹۷۸ کال د اپریل په ۲۷ مه نېټه د افغانستان د خلکو د دموکراتیك ګوند (PDPA) تر پاملرنې

لاندې رامنځ ته شو. د افغاني ټولنې لپاره نوی و، ځکه دا ټولنه یوه فیوډالي ټولنه وه. د خلق اړخ په ۱۹۶۶ یو اساس نامه جوړه کړه، چې عنوان یې د "د خلکو د دموکراتیك ګوند اهداف او مقاصد" و. د ۱۹۶۶ اساسنامه یې د ۱۹۷۸ کال نه وروسته غیر عملي وګڼله. نو PDPA یو نوی پروګرام وړاندې کړ، چې عنوان یې "د افغانستان د دموکراتیك جمهوري حکومت د انقلابي دندو اساسي خطوط وو([۲۲])". دغه نوی سند په پخوانۍ باندې پروګرام تکیه کوي، خو ځینې مهم اصلاحات پکې شته.

د خلقیانو اړخ ددې سره مینه نه درلوده، چې د نورو سیاسي ډلو سره یوه متحده جبهه جوړه کړي([۲۳]). ګوند د پالیسۍ د اهدافو یو لست نشر کړ، چې پر اساسي خطوطو یې تکیه درلوده او داسې په کې شامل وه:

د ضد انقلابي او ضد دموکراتیك عناصرو تصفیه د دولت له دستګاه څخه... د یوې آرامې او دموکراتیکې دولتي ادارې منځ ته راوړل، چې د خلکو په خدمت کې وي. د داخلي صنعت حمایه د خارجي رقابت په مقابل کې. د رشوت اخیستلو په وړاندې موثر ګامونه پورته کول او همدا شان د احتکار، سود او قاچاق په مقابل کې ګامونه اوچتول([۲۴]).

د PDPA پروګرام د ریفرمونو په معرفي کولو سره پیل شو او پرېکړه یې دا وه، چې فیوډالي او د فیوډالۍ نه وړاندې اړیکې به په افغانستان کې له منځه یوسي. ګوند همدا شان د مځکینیو ریفرومونو په باب مینه ونبودله. د مځکو په هکله

لومړنی ریفرم د شپږمې ګڼې فرمان په واسطه معرفي شو، چې هدف یې د هغو فاسدو کړیو ماتول او د هغه زیاتېدونکیو پورونو له منځه وړل و، چې بې ځمکې دهقانان ي ورځ په ورځ ځورول[۲۵]. فرمان د هغه د تطبیق امکانات هم وڅېړل پرته له دې، چې تیاری ولري.

د بې ځمکو دهقانانو یا کارګرانو لپاره د پورونو ورکول په استثنا کې راغلل یا دا چې مستثنی شول. د هغو مځکه والو پورونه، چې تر لس جریبه مځکه یې زیاته وه د شپږم نمبر فرمان څخه دباندې پاتې شول، ځکه چې "لوی ځمکه وال زیات وخت د تعمیراتو په جوړولو کې زیاته پانګه اچوي. همداراز دفارمونو په اصلاح تجارت کې او دغسې نورو شیانو کې او هغه وختو چې دوی پیسې امانت اخلي. نو سرمایه دار کېږي، نظر دې ته چې غریب شي[۲۶]". فرید هالیډي داسې نظر لري، چې شپږم ګڼه فرمان غیر موثر و، ځکه چې دغه فرمان یوازې د دهقانانو هغه پورونه چې مځکه والو او نورو دهقانانو سره و، معاف کړه. د فرمان د پورونو له منځه وړل، چې کلیوالي سیمه پکې شامله شي ونه شو کړای، چې عملي برخه ولري، ځکه د هغو پورونو په هکله ي لاس ونه نیوه، کوم چې د بازار د تجارو او یا د پیسو ورکوونکیو په هکله و[۲۷].

حال دا چې میل داسې وایي، چې فرمان په ټول افغانستان کې موثر و، چې د روستایي سیمو ملاتړ یې په پراخه اندازه د ځان سره درلود. دی د هغه وخت د زراعت د وزیر صالح محمد زېري هغه احصائیه ښیي، چې وایي د دې فرمان څخه ۸۱%

اطرافي کورنیو ګټه واخیستله او د هغو خلکو مځکه یې چې سود خوارانو له لاسه ورکړې وه، بېرته و دوی ته وسپارله او دغه فرمان د دهقانانو او کوچنیو مځکه والو ته آسانتیاوې برابرې کړې، چې مناسب ژوند ولري([28]). په پای کې په ولایاتو او ولسوالیو کې کمېټې جوړې شوې، چې د دهقانانو ستونزې ددې نوي مځکني ریفورمونو د تطبیق او پلي کولو په برخه کې حل کړي([30]). د ۱۹۷۸ کال په اګست میاشت کې یوه بله تیاري ونیول شوه او هغه دا چې د دهقانانو سره د کمك بودجه او دهقاني کوپراتېفونه منځ ته راغلل. ترڅو چې مال مرسته، مناسب تخمونه، کیمیاوي سره او فني مرسته کوچنیو دهقانانو ته په لار واچوي([31]).

ددې ته برسېره د خلق رژیم اوومه ګڼه فرمان نشر کړ، چې د واده په اړه یې ریفرمونه وړاندې کول او دا فرمان د اکتوبر په اوولسمه نېټه په ۱۹۷۸ کال کې خپور شو([32]). ددې فرمان په اساس شدید محدودیتونه د ولور([33]) او نورو مصارفو په باب، چې په واده کې ترسره کېږي وضع شوي وو. د واده تر ټولو لږ عمر یې د نجلۍ لپاره شپاړس کاله او د هلك لپاره اتلس کاله ټاکلی و. د دواړو خوا رضایت هم شرط ښوول شوی و. د نجلۍ ولور به تر درې سوه افغانیو زیات نه وي او د ټولو ودونو وکالت خط اجباري و([34]). دغه ټولنیز ریفورم د اکثرو خلکو له خوا د مقاومت سره مخامخ شو، ځکه چې دا د دوی د دود مخالف یو شی و. خاص مقاومت د پښتنولۍ له خوا و([35]).

د خلق حکومت یو بل ریفورم، چې د ځمکو د وېش په هله و په اتمه ګڼه فرمان کې معرفي کړ. ددغه فرمان تیاری او تطبیق ډېر زیات وخت ونیو[۳۶]. حکومت د جولای په دویمه نېټه، کال ۱۹۷۹ کې اعلان وکړ، چې دغه فرمان په بري سره سرته ورسېد البته شپږ میاشتې وروسته د هغه د پیل څخه[۳۷]. د دوی د پروګرام د اصطلاحاتو مطابق د ېرش[۳۸] جریبه لومړۍ درجه ځمکه د حکومت له خوا وټاکل شوه. دغې اندازه ځمکې یوازې یو څو تنه د ځمکو خاوندان متضرر کول. د ځمکې د وېش د عملي کولو پروګرام د یوې خاصې کمېټې په واسطه رهنمایي کېده، چې دغه کمېټه د خلق د ګوند په واسطه جوړه شوه او د هغې بلې کمېټې سره یې یوځای کار کاوه، کومه چې د دهقانانو دستونزو د حلولو لپاره جوړه شوې وه.

د تره کي د حکوت بل اولویت د تعلیم او تربیې د ریفورمونو معرفي کول و. ګوند داسې نظر درلود، چې د دوی د ریفورمونو کامیابي د سرتاسري تعلیم او تربیې په لوړ ستندرد پورې اړه لري. د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتې د کودتا نه دمخه د سواد د زده کړې پروګرام د سواد د زده کړې عملیه د یوه مدیریت له خوا، چې په ۱۹۶۹ کال تاسیس شوې د یونسکو او یونسیف په مرسته پر مخ بیول کېده. د تره کي حکومت یو نوی هیئت وټاکه، چې نوم یې د بېسوادۍ پر ضد د مبارزې ملي ځانګه وه (NACAI). د زده کړې دغه حرکت ډېر ژر په وسله والو قواوو کې هم خپور شو. د ۱۹۷۸ په

جولاۍ کې د تره کي حکومت ادعا وکړه، چې شپږ زره عسکر په مختلفو څانګو کې تقسیم شوي دي، څکه چې دوی تعلیم او تربیه حاصله کړې ده([39]).

د سواد د زده کړې مدیریت د ۱۹۷۸ کال په جولاۍ کې یو سلسله سمینارونه جوړ کړل، ترڅو معلمانو او نظارت کوونکیو ته هم زده کړه ورکړي. د خلق حکومت د سواد د زده کړې مبارزې ته د یوه طلایي چانس په سترګه کاته، ترڅو چې وکړای شي ددې لارې څخه د ګوند آیدیالوژي خپره کړي او د نوي انقلابي حکومت هدفونه ښه وښیي([40]). د سواد د زده کړې مدیریت د بېسوادۍ له منځه وړل د پنځو کلونو په موده کې ټاکلی و. دغه بې ځایه خوشبیني ډېر ژر ښکاره شوه او د ۱۹۷۹ کال په اکتوبر کې حفیظ الله امین دغه هدف د لسو کلونو په موده کې وښوده([41]).

دغه د سواد د زده کړې مبارزه د دوو مهمو ستونزو سره مخامخ شوه، یو یې د تربیه شوي اشخاصو لږوالی او بل یې د درسي موادو نه موجودیت و. د سواد د زده کړې مبارزه د ښځو، ملایانو او متعصبو معلمانو د یو معین مقاومت سره هم مخامخ شوه. د مکتب د درسي پلان تجدید نظر هم د علماو او مذهبي رهبرانو د مخالفت سره مخامخ شوه او د حکومت دا اطمینان، چې اسلامي زده کړې به دوام وکړي. د علماو د احساساتو د کېنولو سبب نه شول کوم، چې دوی په دې کې د خپل واك له منځه تلل لیدل([42]).

د تــره کــي حکومــت خوشــبخته و، چـــې حکیـــم شـــرعي جوزجـانی یـې د عدلیـې د وزیـر او لـوی څارنـوال پـه توګه د ځان سره درلـود، کـوم چـې د شـرعیاتو نـه فـارغ شـوی و. جوزجـاني هـڅه وکړه، چـې د علمـاوو وېرې لـرې کړي او پـه دې یـې ټینـګار کـاوه، چـې حکومـت اسـلام تـه احـترام لـري او اعمـال بـه یـې د اسـلام لـه اساسـاتو سـره سـم وي. ده ډېر سـمینارونه جـوړ کـړل، چـې پـه هغـوی کـې بـه علمـاوو هـم ګډون درلـود او دخلـق د حکومت اهداف او مقاصد بـه یـې تشـریح کـول. د ۱۹۷۸ کـال د جون پـه لومړیو ورځونو کـې ده داسـې وویـل:

" حکومـت پـه ټینـګه سـره ټولـو اسـلامي قواعـدو تـه احـترام لـري او ارزښت ورکـوي، ولـې هېچـا تـه دا حـق نـه ورکـوي، چـې خلك د اسـلام پـه نـوم وغولـوي تـرڅو چـې خپـل تنـګ نظـره او ضـد مـل ګټې وساتي او اسـلام دیـوې نـانځکې پـه څېر اسـتعمال کـړي. د اسـلام د دې وروسـته پـه مناسـب ډول احـترام وشـي. مـوږ بـه دا پـه عمـل کـې وښیـو او خلـك بـه زمـوږ پـه اهدافـو او عملونـو قضـاوت وکـړي او د اسـلام لـه اصـل سـره بـه یـې سـم تـائید کـړي(۴۳)".

سره لـه دې ټولـو ډاډګېرونـو، د خلـق حکومـت ناکامـه شـو او ویـې نـه شـو کـړای چـې د علمـاوو بـاور لاس تـه راولـي. ورو، ورو دغـو د عـام اولـس غښتلـو برخـو د حکومـت پـه ضـد قـهرجنې بیـانیې ورکـړې، چـې د عوامـو د تلقیـن سـبب شـوې.

هغـه اساسـي ریفورمونـه کـوم، چـې د خلـق حکومـت هـڅه وکړه، چـې افغانسـتان کـې یـې معرفـي کـړي پـه لومړي سـر کـې

ډېر په زړه پورې ښکارېدل ولې د هغوی په بیړه پلی کول د خلکو په منځ کې د غوسې سبب وګرځېد. په خاص ډول د ټولنې په قوي برخو کې چې د خلکو زور ورسره و لکه مځکه والو (خانانو)، علماوو او تجارانو. مځکنی ریفورمونه لکه د کلیوالي سیمو د پور له منځه وړل او د مځکو وېشل د مناسبې او کافي اندازې بودجې غوښتونکي وو او په پوره اندازه روښانه ده یې هم ضرورت و. ترڅو چې د دغو ریفورمونو ګټور پلي کول ترسره شي. برخلاف دا د فیوډالي خانانو د غوسې سبب وګرځېدل، چې د درسي حرکتونو په وړاندې یې مقاومت وښوده د تعلیم او تربیې او ټولنیزو ریفورمونو سرنوشت همدا شان و. علماوو په دواړو حالاتو کې ولیدل، چې د دوی عنعنوي زور په ختمېدو دی. ددې انکشافاتو په نتیجه کې د خلق د حکومت په مقابل کې مقاومت زیات شو. فیوډالي خانان، تجاران او علماوو لاسونه سره ورکړل او ددې اساسي او بنیادي نویو بدلونونو په مقابل کې یې مقاومت منځ ته راوړ کوم چې انقلابي حکومت غوښتل، چې هغه پلي کړي. نو یې ریفورمونو لږه کامیابي درلوده، خو د زیات رنجش سبب شول.

# د خارجي پالېسۍ ماهيت

نور محمد تره کي د ۱۹۷۸ کال د مۍ په دولسمه نېټه په يوې راډيويي وينا کې د نوي حکومت د پالېسۍ هدف داسې څرګند کړ: "پخپلو بهرنۍ اړيکو کې افغانستان به د ناپېلتوب په پاليسۍ او په يوې مثبتې او فعالې بېطرفۍ باندې تکيه وکړي، چې، د ګڼ ژوند په سوله ييزو فوايدو باندې بنا شوی وي([۴۶])". کله چې ده د نوي انقلابي حکومت په اهدافو باندې ټينګار کاوه، نو ده وويل، چې دده حکومت بشپړه عقيده لري، چې خپل دوستانه اړيکې د خپل ستر شمالي ګاونډي شوروي اتحاد سره ټينګې او پراخې وغزوي... همداشان د نورو ګاونډيانو سره هم خپل سوله ييزې اړيکې پراخې کړي لکه چين، هند، ايران او پاکستان سره([۴۵]). تره کي په خپل اساسي راډيويي وينا کې د متحده ايالاتو سره د اړيکې په باب څه خاص يادووه ونه کړه، خو ده وويل: "چې د افغانستان د دموکراتيك جمهوري حکومت اړيکې به د ګاونډيو هېوادو، سيمې او د نړۍ سره د دوی د متقابلو اعمالو په اساس بنا وي، کوم چې دوی يې زموږ د ملي او دموکراتيك انقلاب سره کوي([۴۶])".

د افغانستان تعهد د ناپېلتوب په هکله دومره زيات او له منځه تلونکی نه و، چې حتی د تره کي رژيم، چې د مارکسيزم ادعا يې کوله هم ونه شو کړای، چې ددغه انتخاب شوې لارې څخه ځان لرې کړي. تقريبا په خپلو ټولو بيانيو کې، چې د افغانستان د خارجي پالیسۍ په هکله وي تره کي به په کراتو سره د ناپېلتوب ټکي ته مراجعه کوله. ده وويل: چې افغانستان" يو ازاد او ناپېلی هېواد دی او دښمنان د هغو جوړو شويو پروپاګندو، موږ د هېڅ سپوږمکۍ (قمر) نه يو. موږ ازاد يو او د خپلې ټولنې د شرايطو په نظر کې نيولو سره به وړاندې لاړ شو([47])".

د ناپېلتوب د پالیسۍ دوام د درېيمې نړۍ د هېوادو له خوا د هماغه هېوادو د اړيکو په رڼا کې د لويو قدرتونو سره تحليل او تجزيه کېدای شي. کله چې د شوروي اتحاد سره د اړيکو په هکله ږغېده، نو تره کي دا روښانه کړه "موږ له ټولو څخه د شوروي اتحاد په شمول غواړو، چې زموږ سره د پخوا په شان ډېرې مرستې وکړي او دا مرستې به پرته له کوم شرط څخه وي. زه تکراروم، پرته له کوم محدوديت او شرط څخه([48])". خلقي حکومت هم په عينې وخت کې د متحده ايالاتو سره د اساسي اړيکو د امکان خبره نه ردوله. تره کي وويل: چې "موږ به هڅه وکړو، چې د متحده ايالاتو سره دوستانه اړيکې ټينګې کړو... خو زه دا تکراروم چې دا اړيکې به د مقابل لوري د سياسي او اقتصادي مرستې په مقدار پورې اړه ولري، چې زموږ د انقلابي حکومت سره يې کوي([49])".

# د شوروي اتحاد په لور کوږوالی

د تره کي د حکومت مضبوطې بيانيې د ناپېلتوب په هکله تر يوې مياشتې زيات دوام ونه کړ. د ۱۹۷۸ کال د جون په مياشت کې دا څرګنده شوه، چې د خلق رژيم په کابل کې پرته د شوروي له مرستې نه شي پاتې کېدلای. حفيظ الله امين چې وروسته د صدراعظم معاون او د بهرنيو چارو وزير و، د کابل د حالت د تغير په هکله يې داسې زمزمه کړه:

"افغانستان به خپلې د ناپيلتوب مضبوډې پالېسي ته دوام ورکړي. ناپېلتوب دا مانا نه لري، چې موږ د دوستانو او دښمنانو ترمنځ توپير ونه کړو، ځکه چې په نړۍ کې هر هېواد، چې موږ انقلاب ته په خوشالۍ او ګرمۍ سره هرکلی وايي هغه زموږ واقعي ملګري دی او بيا که په خاص ډول سره زموږ سره مادي او مانوي مرسته هم کوي. ولې موږ به هغو امپرياليستي کړيو ته هېڅ ضرورت ونه لرو. کوم چې زموږ پرتمين انقلاب په غلطه سره تعبيروي(۵۰)".

پورتنۍ جمله د شوروي نه د طرفدارۍ په لور د نوي رژيم کوږوالی ښيي.

داخلي مقاومت د خلقي رژيم په وړاندې ورو ورو په زياتېدو و او اوضاع د پېچلتيا په لور په حرکت کې وه. کابل په دغو حالاتو کې يوازې د ناجي په توګه د ماسکو په لور

کاته خلقي رژیم کوښښ وکړ. چې ځان د ناپېلیو هېوادو په منځ کې لکه کیوبا راڅرګند کړي. په هغه کنفرانس کې، چې په ۱۹۷۸ کال کې د بلګراد په ښار کې جوړ شو او د ناپېیلو هېوادو د بهرنیو چارو وزیرانو پکې ګډون کړی و، امین په ښکاره ډول سره غربي هېوادونه وغندل او دوی یې د "سولې ضد او د ترقی ضد قواوې وبللې([۵۱]) "د ناپېلیو هېوادو د ارتباط په هکله لکه افغانستان او د شوروي ترمنځ اړیکیو په باب امین وویل:

"موږ باید. چې د ناپېلیو هېوادو د دښمنانو د دسیسو په وړاندې هوښیار واوسو کوم چې دوی هڅه کوي. چې د ناپېلیو هېوادو ترمنځ همکاري له منځه یوسي او د دوی حقیقي او طبیعي دوستان یوازې سوسیالستي هېوادونه او سوله خوښوونکي هېوادونه کېدای شي. موږ په دې باور یو، چې همکاري او تعاون د ناپېلیو هېوادو او د سوسیالستي سوله خوښوونکیو هېوادو ترمنځ د ناپېلیو هېوادو اساسي غوښتنې او ګټې سرته رسوي او د دوی مبارزه د استعمار، امپریالیزم او پراخ غوښتنې په هکله زیاتوي([۵۲])"

د خلق نوی رژیم په دې لټه کې شو، چې د افغانستان عنعنوي تعهد پالیسي د ناپېلتوب په باب اصلاح کړي آیدیالوژیکي بڼه د خارجي پالیسی په هکله د دوی د مشرتابه په بیانیو کې ښکاره او روښانه وو دوی هڅه وکړه. چې د افغانستان ناپېلتوب د کیوبا په شان وښیي او په ښکاره

ډول سره ې ددې څخه دفاع وکړه. د ۱۹۷۸ کال د نوامبر په دولسمه نېټه امين وويل:

"که چېرې تاسې کيوبا يو غير ناپيلي هېواد وګڼئ، له دې امله، چې هغه يو اجتماعي- اقتصادي سوسيالستي نظام لري، نو په دې صورت کې داسې ويلای شو، چې په نړۍ کې هېڅ کوم ناپيلي هېواد وجود نه لري، ځکه چې هر هېواد يو اجتماعي- اقتصادي نظام لري، چې يا سوسيالستي وي او يا هم اجتماعي- اقتصادي نظام يې استثماري وي. له دې کبله هر هېواد ددغو دوو نظامونو يا سيستمونو څخه په يوه پورې تړلی دی(۵۳)".

دغه د ليدو وړ تغير د افغانستان په وضع کې د بين المللي مسايلو په هکله چې پيل شوی و د تېر وخت څخه يو مهم لرې والی و. د ناپېلتوب عنعنوي مفکوره تقريباً زنګ ووهله او خرابه شوه او افغانستان د خلقي رژيم د رهبرۍ لاندې په دې پيل کړی و، چې غربي نړۍ او د غربي نړۍ پلوي هېوادونه په هغو موضوعاتو باندې، چې په افغانستان پورې يې لږ مستقيم تړاو درلود، وغندي. کابل خپلې دپلوماتيکې اړيکې له جنوبي کوريا (۵۴) او مصر (۵۵) سره وشلولې.

افغانستان د کمپ(۵۵) ډيويډ معاهده محکومه کړه او د چينايانو يرغل يې په ويتنام باندې وغانده(۵۷). نوي حکومت خپل پيوستون د وسله والو مبارزو د آزادۍ په افريقا کې بيان کړ(۵۸). خلقي حکومت په کابل کې د کمبوډيا د هين سامرين(۵۹) حکومت په رسميت وپېژاند. حال دا چې د ناپيليو

هېوادو اکثریت تراوسه پورې په دې هکله څه خاص موقف نه درلود. دې حکومت خپل مخالفت د غربي نظامي قواوو د موجودیت سره د هند په بحر کې بیان کړ([60]). هغه موقف، چې د افغانستان له خوا په ملګرو ملتونو کې ونیول شو د شوروي اتحاد له موقف سره یو شان و. د خلقي رژیم ښکاره کېدل په کابل کې چې د ۱۹۷۸ کال د اپریل په میاشت کې و په دې ډول سره یې د افغانستان د ناپېلیتوب شکل د یوه ناپېلي هېواد په څېر لرې کاوه او د شوروي اتحاد لوري ته یې راوکاږه.

د خلقي حکومت په زیاته پیمانه تکیه پرشوروي اتحاد باندې، چې د ۱۹۷۸ کال د کودتا نه وروسته رامنځ ته شوه، دا حقیقت په ګوته کوي، چې د واک ساتل پرته له دې ممکن نه و، نو ځکه د ۱۹۷۸ کال د مۍ په لومړي سر کې حفیظ الله امین له شوروي اتحاد څخه لیدنه وکړه([61]). د ۱۹۷۸ کال په نوامبر کې ده دا ومنله، چې د انقلاب نه تر دې وخته "تقریباً ۲۹ نهه ویشت موافقتنامې د افغانستان او شوروي ترمنځ لاسلیك شوي دي، چې ۱۰۴ (یوسل او څلور) میلیونه ډالره پکې شامل دي([63])".

## د افغان – شوروي د سولې تړون

د افغانستان د ناپېلیتوب عنعنوي پالیسي هغه وخت وروستنی ګوزار وخوړ، کله چې د تره کي حکومت د ۱۹۷۸ کال د دسمبر په پېنځمه نېټه د دوستۍ او تعاون یو شل کلن تړون د شوروي اتحاد سره لاسلیك کړ([64]).

د تړون لپاره تیاری جامع و. دوی د دواړو هېوادو په منځ کې یې د ټولو برخو پر انکشاف او مرستې غوښتنه کوله او خپل ځانونه یې مکلف ګڼل، چې ددې تړون په اساس مناسب ګامونه پورته کړي، ترڅو چې امنیت، استقلال او د یو بل د مځکې تمامیت تامین شي. د تړون څلورمه ماده ډېره مهمه وه، ځکه چې په دوامداره ډول یې د مرستې او تعاون ودې ته په خاص ډول په نظامي برخې د مناسبو تړونونو په واسطه د دواړو هېوادونو ترمنځ پاملرنه کوله. په اتمه ماده کې دشوروي اتحاد هغه پېشنهاد تائېد شوی دی، کوم چې په اسیا کې د یوه موثر جمعي امنیتي سیستم د رامنځ ته کولو په باب و، چې ټول د سیمې هېوادونه به په ګډه سره ونډه پکې اخلي.

د افغان شوروي تړون د خلقیانو د رژیم مورال لوړ کړ. داسې راپور ورکړ شوی دی چې حفیظ الله امین وویل، چې USSR د "افغانستان د انقلاب څخه ساتنه کوي([۶۵])". ماسکو دا احساس کاوه، چې دغه تړون به نه یوازې دا چې د افغان – شوروي اړیکې ټینګې کړي "بلکې د دوی د سولې او امنیت ګټې به په آسیا او بالاخره په ټوله نړۍ کې خوندي کړي([۶۶])".

د تړون لاسلیك نه وروسته یوه زیات اندازه نظامي او اقتصادي مرسته دشوروي له خوا افغانستان ته وشوه. د شوروي د ملکي او نظامي مشاورینو شمېر، چې د کودتا نه وړاندې ۳۰۰۰ درې زره کسانو ته رسېده، د ۱۹۷۹ کال په لومړي سر کې ۴۵۰۰ څلور زره پنځه سوه کسانو ته لوړ شو([۶۷]). دواړو تړون کوونکیو ډلو خپل تعهدات یو ځل بیا

نـوي کـړل او ځانونـه يــې د ۱۹۲۱ او ۱۹۳۱ کلونــو د (افغــان ـ شــوروي) د تړونونــو د مقــاصدو او قــواېدو ملاتــړ کووونکــي وګڼل[۶۸]. خـو د ۱۹۷۸ کـال د دسـمبر تـړون د پخوانيـو تړونونـو نــه ډېر ورانــدې لاړ او يــو نــوې ډول اړيکــې يــې د دواړو خــواو ترمنځ پـه ګوتـه کولـې او حتـی د سـيمې پـه سطح وې.

د افغــانـ شــوروي د ۱۹۲۱ کــال تــړون د خــاص اهميــت لرونکـی و، ځکـه هغـه "د افغانسـتان واقعـي اسـتقلال پـه رسـميت پـېژانـده[۶۹]". وروسـتنی تـړون هـم د ۱۹۲۶ کـال افغـانـ شـوروي تړون پـه شـان نـور دواړې خـواوې لـه وسـله والـې او غـير وسـله والـې مداخلـې څخـه د يـو بـل پـه داخلـي چـارو کـې منـع کـول. د افغــان او شــوروي د بېطرفــی تـړون او د نــه تجــاوز معــاهده پــه ۱۹۳۱ کـال کـې امضــاء شـوه او پـه دې يـې ټينـګار کـاوه، چـې هېڅ ډول مداخلـه کـه نظـامي او کـه غيرنظـامي وي، بـايد د يـو بل پـه داخلي چـارو کـې سرته ونـه رسـېږي. د پخوانيـو تړونونـو پـه اساس، چې شـوروي د افغانسـتان اسـتقلال پـه رسميت وپـېژانـد، د ۱۹۷۸ کــال د دســمبر تــړون افغانســتان پــه شــوروي بــاندې متکــي کــړ او يــو کــال وروســته د شــوروي عســکرو او قــواوو د کـابل پـه لـور مـارش وکـړ، تـرڅو چـې ويــې نيسـي. نـوي تـړون د شــوروي اتحــاد لپــاره ډېره ګټه برابــره کــړه او د خپــل سرتاســري امنيت نقشـه يـې پـه اسـيا کـې د کمـك لپـاره پـه سـاده کولـه او پـه افغانسـتان کې يــې هـم د يـوې مضبوطـې پـښې ځای تـر لاسـه کـړ، خو افغانســتان او شـوروي تعـهد کـړی و، چـې کـار بـه کـوي تـرڅو چې پـه "اسيا کې يو موثر امنيتـي سيسـتم رامنـځ تـه کـړي[۷۰]".

ددې تـرون تـاثير يـا اغـېزه د افغانسـتان د نـاپېيلتـوب پاليسـۍ پـه هكلـه پـه ښه ډول سـره د پرتـاپ ويديـك لـه خـوا خلاصه شـوې ده، چـې دی وايـي:

" افغانسـتان البتـه د وارسـا پـه پكـت كـې شـامل شـوی نـه و او كـوم ترون يې هم نـه و لاسليك كـړی، چـې دی د يـوه نظـامي پـلاك رسـمي غـړی شـي... خـو د ۱۹۷۸ كـال تـړون داسـې يـو مبـهم حـالت رامنـځ تـه كـړ، چـې دايـې ښوولـه، چـې افغانسـتان د خپـل عنعنوي نـاپېلتـوب د پاليسـۍ څخـه لـرې شـوی دی(۷۲)".

د ۱۹۷۸ كـال د دسـمبر تـړون افغانسـتان پـه ښه ډول د شـوروي كمـپ تـه راووسـت او خپـل پخوانـۍ عنعنـوي څېره يـې كـوم، چـې دې د نـاپېلـو هـېوادو يـو مخكـښ و لـه لاسـه وركـړ. د شوروي د دولـت رئيـس پـه هغـه مېلمسـتيا كـې چـې د تـره كـي پـه ويـاړ د ۱۹۷۸ كـال د دسـمبر پـه مياشـت كـې كـړې وه، خـبرې كولـې او ويــې ويـل:" عنعنـوي ښې اړيكـې بـه زمـوږ د دواړو هـېوادو ترمنـځ دوام وكـړي... او يـو نـوی كيفيـت بـه غـوره كړي. اوس يـوازې پـه سـاده ګاونـډېتوب پـای تـه نـه رسـېږي، ولـې ډېرې ژورې، صميمـي او دوامـداره ملګرتيـا پـه لـور غـځېږي" داسـې چـې د ملګرتيـا او انقلابـي پيوسـتون روح ورسـره دی(۷۳)".

همـدا ډول د خلـق د رهـبرانو پـه بيـانيو كـې يـو معيـن بدلـون د نـاپېلتـوب د پاليسـۍ پـه هكلـه ښكـارېده، دوی ځينـې وختونـه پـه تكـرار سـره داسـې ويـل، چـې د دوی او پخوانيـو رژيمونـو پـه منـځ كـې د نـاپېلتـوب د پاليسـۍ پـه هكلـه يـو تـوپير شـته دی. اميـن د يـوه خـارجي ژورنالېسـت سـره پـه يـوه مصاحبـه كـې، چـې د

۱۹۷۹ کال د مارچ په نهمه نېټه وشوه، وویل: "زموږ په نظر پخوانیو رژیمونو د ناپېلتوب پالیسي په ښه ډول تعقیب نه کړه او دوی د امپریالیزم پر کرښه حرکت کاوه، خو موږ په رښتینې ډول د ناپېلتوب پالیسي تعقیبوو او په فعال ډول یې عملي او حمایه کوو ([۷۴])". په مشابه ډول تره کي هم همدا شان په پخوانیو رژیمونو باندې حمله وکړه او هغوی یې د ناپېلتوب د واقعي پالیسۍ په نه تعقیبولو تورن کړل. کله چې د ناپېلو هېوادو د مشرانو غونډې ته یې په هاوانا کې خبرې کولې، نو ده ویلې، چې پخواني رژیمونه، چې د ثور د انقلاب نه مخکې و یوازې یې ځانونه د امپریالیزم او ارتجاع سره عیار کړي وو او یوازې یې په خوله د ناپېلتوب د غورځنګ خبرې کولې([۷۵]).

تره کي او امین د پخوانیو رژیمونو غندلو ته په دوامداره توګه ادامه ورکړه او هغوی د هغې جعلي پالیسۍ له سببه، چې د ناپېلتوب په هکله یې درلوده وغندل، خو د دوی د رښتینې ناپېلې پالیسۍ دوام ونه شو کړای، چې غربي هېوادونه قانع کړي. په خاص ډول د متحده ایالاتو هېواد. د یوه مارکسیست رژیم ظهور په یوه هېواد کې لکه افغانستان، چې د شوروي اتحاد سره ګډ سرحد لري، د غربي هېوادونو لپاره کافي و، چې د دوی شک د افغانستان د ناپېلتوب په هکله راوپاروي. د غربیانو شک د هغې سرمقالې له سببه، چې په نیویارک ټایمز کې نشر شوې وه، په حق ښکارېده او دا سرمقاله د ۱۹۷۸ کال د اپریل د میاشتې د کودتا څخه یو څو هفتې وروسته لیکل شوې وه او دا هغه وخت و، چې نوی

خلقي رژيم لاتراوسه پورې خپله خارجي پالیسي نه وه اعلان کړې. ورځپانه تشویش ښکاره کوي او وايي، چې د ناپېلو هېوادو يو مخکښ په يو "کمونستي دوله حکومت باندې بدل شو، چې د ماسکو په لور به کوږ شي". او بيا دې ته اشاره کوي، چې خارجيان لږ څه کولی شي او يوازې دومره کولی نشي، چې د هغو خلکو لپاره پناه ځای برابر کړي، کوم چې له خپل هېواد څخه تښتي([٧٦]).

شوروي پوهان په امریکا کې متفق الرای وو، چې افغانستان د انقلاب نه وروسته د شوروي په کمپ کې ورتېل وهل شو. د يوه امريکايي مبصر څخه داسې نقل شوی دی، چې وايي: "ستره لوبه پای ته رسېدلې او روسان بريالي شول([٧٧])". امريکايي رسمي نظر دا و چې افغانستان نور ناپېلی نه دی او دا هغه وخت له ناپېلتوب څخه ووت کوم وخت چې په ١٩٧٨ کال د اپريل په مياشت کې PDPA واك ترلاسه کړ او نوی خلقي رژيم پرېکړه وکړه، چې د شورويانو سره نور هم زيات نږدې شي([٧٨]).

ددې لپاره چې خپل پخوانی مخکښ ناپېلتوب وساتي، نو د خلق رهبري کوښښ کاوه، چې په متحده ايالاتو باندې مستقيما حمله ونه کړي. د رپوټونو په پیل کې کوم، چې يوه ټاکلی خارجي قوت غوښتل، چې د محلي قوتونو سره مرسته وکړي، چې د نوي حکومت په وړاندې مقاومت وکړي، نو د خلق حکمرانانو داسې وويل: "موږ په دې هکله کوم خاص هېواد ته گوته نه نيسو([٧٩])".

د ۱۹۷۴ کال د فبرورۍ تر پیل پورې د واشنګټن او انقلابي افغانستان اړیکې عادي وې او د دښمنۍ بڼه یې نه درلوده، خو د هر واز تبصرو له کبله امریکا خپلې ډیپلوماتیکې اړیې د خلقي رژیم سره پرې نه کړې، د ۱۹۷۹ کال په فبرورۍ کې د امریکا د سفیر ادولف ډبز قتل سره د دوو هېوادو ترمنځ اړیکې تر فشار لاندې راغلې(۸۰). د امریکا د اعتراض د کابل له پلوه دا چې بې بنیاده دی، رد شو(۸۱). برعکس د خلق رژیم په خپلو هڅو زیاته رڼا واچوله، چې څنګه د امریکا سفیر وژغوري، خو ناکامې شوې(۸۲). د افغانستان حکومت وویل دا چې د نجات عملیات د امریکا د سفیر لپاره په لار واچول شول دا له دې وچې "یو خو بشري همدردي وه او بل د امریکا سره زموږ د ښو اړیکو له سببه و(۸۳)". د امریکا عکس العمل ددې انکشاف په وړاندې د امریکا د مرستې لږوالی و(۸۴).

برخلاف د شوروي د ډېر ښکاره موقف نه، خلقي رژیم ځینې د ملګرتوب اشارې د امریکا لوري ته وکړې. تره کي کله چې د افغان امریکا په اړیکیو ږغېده، نو داسې یې وویل:

"... متاسفانه د افغانستان او متحده ایالاتو ترمنځ څه غلط فهمي وجود لري. زموږ انقلاب یو خلقي انقلاب دی، چې د ناپېلتوب پالیسي پرمخ وړي او په داخلي او خارجي چارو کې د مستقل قضاوت حق لري. د امریکا د متحده ایالاتو سره موږ د ښو اړیکیو غوښتونکي یو، چې د همزیستي په سوله

يېز اساس باندې بنا شوى وي... زه هيله من يم، چې زموږ اړيکې ډېر ژر دوستانه شي[۸۵]".

د خلقي رهبرانو بيانيې د خارجي پاليسۍ په هکله او د هغوى تعبير داسې ښيي، چې تره کي او امين د امريکا د متحده ايالاتو خوا ته د وړاندې کېدو هڅه کوله. لکه څنګه چې تره کي پخوا واضح کړه، ده افغانستان يو ناپېيلى هېواد غوښت، خو د کيوبا په ډول او امين د شوروي سره په يوه بلاک کې شاملېدل نه غوښتل. امين د ۱۹۷۹ کال د اګست په درېيمه نېټه وويل" موږ د ناپېيلتوب د غورځنګ صادق او وفادار غړي يو او دا په دې مانا ده، چې موږ به په هېڅ يوه نظامي بلاک کې ګډون ونه کړو. که چېرې هغه دفاعي او غير متجاوز هم وي لکه د وارسا پکټ[۸۶]".

دا په ګوته کوي، چې د تره کي او امين ترمنځ په دې تګلاره کې اساسي اختلاف موجود و. حال دا چې تره کي غوښتل، چې افغانستان د شوروي اتحاد طرفدار وي، خو امين دا نه غوښتل. دغه اساسي اختلاف د دواړو خلقي رهبرانو ترمنځ دوام درلود، چې دغه وخت د ناپېيلو هېوادو د مشرانو شپږمه غونډه په ۱۹۷۹ کال د سپتمبر په مياشت کې په هاوانا کې د جوړېدو په حال کې وه.

# د هاوانا د مشرانو په غونډه کې

## د افغانستان ډيپلوماسي

د ناپيليو هېوادو د مشرانو شپږمه غونډه د ۱۹۷۹ کال د سپتمبر د دريم څخه تر نهم پورې په هاوانا کې جوړه شوه، چې افغانستان هم پکې ګډون وکړ. افغانستان چې ددې غورځنګ د بنسټ ايښودونکيو څخه و، د مشرانو په تېرو غونډو کې يې مهم رول سرته رسولی و، نو له دې کبله د نورو ناپېيليو هېوادو له خوا يې زيات احترام کېده([87]).

د ۱۹۷۸ کال د اپريل د کودتا څخه بيا تراوسه پورې دا لومړی ځل و، چې خلقي رژيم خپل نظر د بين المللي ستونزو په هکله د مشرانو په يوه غونډه کې يې په هاوانا کې اظهاراوه. د افغانستان نمايندګي په دغه غونډه کې د انقلابي شورا مشر او د حکومت صدراعظم نور محمد تره کي کوله. پخپله پرانيستونکې وينا کې ده دا هڅه وکړه، چې پخوانی رژيم بې اعتباره کړي، ځکه چې دده په اند هغوی د ناپېلتوب پاليسي په سم ډول نه تعقيبوله. ده ويل، چې "د نن افغانستان د پرون افغانستان نه دی، چې يو ظالم او مطلق

العنان د منځنی پېړيو رژيم دې وي چې يوازې په خوله د ناپېلتوب له غورځنګ څخه دفاع وکړي[۸۸]".

تره کي کله چې د نوي خلقي رژيم د خارجي پالیسی په هکله رغېده، نو ويې ويل، چې دده حکومت" په سيمه او نړۍ کې د سولې طرفدار دی، چې مسالمت امېز ګډ ژوند او د يو بل په داخلي چارو کې د نه مداخلې پر اساس بنا وي[۸۹]". او ده نور هم زياته کړه، چې د افغانستان بهرنی پالیسي، چې د داخلي پالیسی انعکاس ورکوونکې ده" د سولې پالیسی د مسالمت امېز ګډ ژوند پالیسي او د سوله دوستو هېوادوو په خاص ډول زمونږ د ګاونډيانو سره د مرستې او تعاون پاليسي ده[۹۰]".

د افغان هئيت د شوروي سره د خپلو خاصو اړيکيو په هکله يادونه وکړه. ده وويل، چې دوه شپېته کلنی اړيکې زمونږ او شوروي ترمنځ "ډېره توده دوستي او دوه اړخيزه مرسته زمونږ د رفاقت، تعاون او ښه ګاونډيتوب هغه مثالونه دي، چې په نړۍ کې ساری نه لري[۹۱]". د انقلابي افغانستان موقف چې د شوروي طرفدار و، په بشپړ توګه ښکاره دی او دا د افغانستان د ناپېلتوب په منځه تللو کې يو مهم فصل و.

د هاوانا د مشرانو غونډه له يوه نظره مهمه وه، هغه دا چې دواړه پاکستان او ايران، چې يو وخت د متحده ايالاتو د نظامي سازمان فعال غړي و او بيا يې دغه سازمان پرېښود او د ناپېلتوب د غورځنګ سره يوځای شوي وو، دوی اول وار د هاوانا د مشرانو په غونډه کې ګډون وکړ. افغاني نماينده په

داسې حال کې، چې دوی ته يې ښه راغلاست وواېه، چې دوی د NAM سره يوځای شوي دي، ولې خبرداری يې ورکړ:

"هغه وخت، چې موږ نويو غړيو ته چې د غورځنګ سره يوځای کېږي، ښه راغلاست وايو زموږ احساسات او خوشحالي... نبايد... موږ د اساسي لارې څخه لرې کړي، کوم چې موږ د نويو هېوادو په هکله، چې غورځنګ ته شامليږي، قبول کړي دي... ځينې هېوادونه، چې غواړي د غورځنګ سره يوځای شي بايد لومړی خپل ځانونه د سيمه ييزو نظامي پکتونو او اتحاديو څخه په بشپړه توګه وباسي. غورځنګ په بيا دا خاطره د ځان سره ولري، چې دوی نور د ځان سره د خپلو شريکانو سره هېڅ راز تعهدات نه لري او د دريمې نړۍ د هېوادو مخالف نه دي([۹۲])".

دغه اشاره مهمه وه، ځکه دواړو ايران او پاکستان د افغانستان سره ګډ سرحدونه درلودل او مشترکې ستونزې يې هم درلودې او حتی اوږده جنجالونه. د پاکستان او افغانستان اړيکې تقريبا خړې پړې وې او دا د پښتونستان د ستونزې له کبله او د ايران سره هم دغه اړيکې د بلوچستان د ستونزې له سببه ښه نه وې([۹۳]). د خلق رژيم اظهارات په کابل کې د پاکستان او ايران له خوا ښه ونه انګېرل شول. دواړو هېوادو د هغه پېژندګلوی تر يوې اونۍ پورې شاته وغورځوله([۹۴]). ايران دغه خلقي رژيم د ۱۹۷۸ کال د مې په شپږمه نېټه په رسميت وپېژاند او پاکستان يوه ورځ د ايران څخه دمخه دا کار وکړ.

دوارو ایران او پاکستان په کابل کې د نوي رژیم د راتګ نه تشویش درلود، چې دا به نور هم ډېر ماسکو ته نږدې شي. د تره کي حکومت کوښښ وکړ، چې د پاکستان ویرې لرې کړي. په دې ډول هغه وخت، چې ده قدرت ترلاسه کړ، نو تره کي په لومړي مطبوعاتي کنفرانس کې بیان ورکړ، چې د پښتنو مسئله تر څېړنې لاندې ده او دده حکومت غواړي" چې یو سوله ایز او دوستانه حل د خپلو پاکستاني وروڼو سره د خبرو سر راوباسي[۹۵]" هغه د خپل حکومت تعهد د یوه سوله ییزه حل لپاره د پاکستان سره بیا تکرار کړ[۹۶]. یو دغه شان تعهد د حفیظ الله امین له خوا هم د ناپېلیو بهرنیو چارو د وزیرانو په غونډه کې، چې د ۱۹۷۸ کال د مې په میاشت کې په هاوانا کې جوړه شوې وه، شوی و[۹۷]. د افغانستان ډله ددغو هېوادو له خوا د شك سره یوځای و. د یوه خلقي رژیم ظاهرېدل په کابل کې، چې د شوروي طرفدار دی د اسلام اباد لپاره د تشویش خبره وه. د یوه لوړ پوړي پاکستاني مامور سره، چې د نیویارك تایمز سره ې خبرې کړې وې، ویلي و:" د ټولو عملي مقاصدو او اهدافو لپاره شوروي اوس د پاکستان سره سرحدي لري. د امریکا متحده ایالاتو ته پکار دي، چې دوی باید خپل ځانونه د نړۍ په دې ګوټ کې په تاریخي لحاظ دوباره عیار کړي...[۹۸]".

ایران هم د نوي رژیم په هکله، چې په کابل کې رامنځ ته شوی و، شك کاوه. سره له دې هم، چې دې تراوسه د ناپېلتوب د غورځنګ سره نه و یوځای شوی. نیویارك ټایمز د یوې

ایراني منبع په حواله لیکي: "تهران احساس کوي، چې د ښاغلي تره کي بیانیه د ناپیلتوب په هکله پوچه او مزخرفه وه. له دې کبله، چې روسان په کابل کې نقش لوبوي او همدا چې خپله تره کي د کمونست حزب مشر دی(۹۹)". ددې اندېښنو په رڼا کې، چې د ایران او پاکستان له خوا د افغانستان په هکله هغوی ته پېښې شوې خلقي رژیم ښایي، غوښتل چې ځینې ډاډګیرنې د ناپیلتوب د غورځنګ څخه ترلاسه کړي ترڅو چې دغه هېوادونه د مقاومت قواوې تشویق نه کړي، چې د دوی د سرحدونو څخه تېرې شي او نوې حکومت چپه کړي.

ایراني نماینده د هاوانا د مشرانو په غونډه کې د افغانستان په هکله څه یادونه ونه کړه(۱۰۰). پاکستان نماینده د مشرانو په غونډه کې کله چې یې د خپلو پخوانیو زړو دوستانه اړیکیو یادونه کوله وویل: "پاکستان په دوامداره ډول د ګاونډیتوب د هغو اړیکیو د غوره کولو هڅه کړې ده، چې هغه به د افغانستان سره سوله ییز ګډ ژوند پر اساساتو بنا وي... موږ د افغانستان سره هېڅ سیاسي اختلاف نه لرو(۱۰۱)". هغه بیا هم اشاره وکړه" متاسفانه، هغه دوه اړخیزه اعتماد، چې موږ یې هیله لرو د (۱۷۰۰۰۰) مهاجرینو د هجوم له سببه چې پاکستان ته یې پناه راوړې ده، له خنډ سره مخامخ شوی دی(۱۰۲)".

پرته له دغو سیمه ییزو او دوه اړخیزو مسایلو څخه چې افغانستان د هاوانا د مشرانو په غونډه کې راپورته کړل، خو په دغه شپږمه مشریزو غونډه کې یې دیپلوماسي باعتباره او

اهمیت لرونکی نه و او د پخوانیو غونډو په نسبت یې عمل لږ و. ددې منزل لپاره مهم علت دا کېدای شي، چې افغانستان خپل اعتبار د یوه مخکښ ناپېیلي هېواد په توګه له لاسه ورکړی و. هغه موقف چې افغانستان د هاوانا د مشرانو په غونډه کې غوره کړ د ناپېیلي افغانستان زبات د شوروي بلاك احساسات ښکاره کړل. دا د تره کي له بیانیې نه ښکاره کېدله. کله چې ده داسې اشاره وکړه:" که چېرې په خپل ځان کې د نقد روحیه وګورو، نو نه شو کولای چې د غورځنګ دننه یو داسې تمایل پیدا کړو، چې دغه غورځنګ دې د سوسیالست او امپریالست بلاك سره یو ډول او برابره فاصله ولري. که چېرې مجموعا د دواړو بلاکونو مختلف حالتونه د غورځنګ د اهدافو په هکله په پام کې ونیسو، نو دا به زموږ په نظر غیر واقعي وي، چې دواړه بلاکونه د امپریالېزم د ستونزو، استعمار، اپارتاید، سولې، دموکراسۍ او اجتماعي عدالت په حالاتو کې برابر وګڼو(۱۰۳).

دغه بیانیه د ناپېلتوب د تېرې پالیسۍ د لارې څخه ښکاره سرغړونه وه. د افغانستان دپلوماسي د هاوانا د مشرانو په شپږمه غونډه کې یې زیاتره د شوروي بلاك ګټو ته خدمت وکړ. نسبت دې ته چې افغانستان ته یې کړی وي، کوم چې په نړیوالو مهمو مسایلو کې یې کوم مستقل نظر نه درلود. افغاني نماینده ګانو د هاوانا د مشرانو په غونډه کې د شوروي اتحاد او نورو شرقي اروپایي هېوادو موقف تکرار کړ. په د ډول د افغانستان هغه پخوانۍ څېره، چې د ناپېلیو هېوادو د مخکښ په څېر ې عمل کړی و، په بشپړ ډول خرابه شوه.

# د امین د رژیم ظهور

حفیظ الله امین د PDPA په منځ کې یوه قوي قوه وه، چې د ۱۹۷۸ کال د اپریل د کودتا څخه وړاندې هم څرګند و. کله چې ببرك کارمل اخراج شو او په چکوسلواکیا کې افغاني سفیر وټاکل شو، نو تره کي او امین د PDPA د خلق د ګروپ لوړ پوړي مشران و، چې په یوه ردیف کې راتلل. لکه څنګه چې مخکې تشریح شول. د ځینو اساسي مسایلو په سر د امین او تره کي ترمنځ تند مخالفتونه رامنځ ته شول. امین ډېر هوښیار و او خپل موقف یې په حزب کې ټینګ کړ او د خپل ځان لپاره یې حمایت په وسله والو قواوو کې هم حاصل کړ.

د تره کي او امین ترمنځ شدیده مبارزه روانه وه. د ۱۹۷۹ کال د مارچ په اته ویشتمه نېټه حفیظ الله امین صدراعظم شو او همدا شان په اتلس کسیزه کابینه کې د بهرنیو چارو وزیر وټاکل شو او دا کابینه د تره کي له خوا اعلان شوه کوم چې دی تراوسه د انقلابي شورا رئیس و(۱۰۴). امین ددې سره مینه نه درلوده، چې افغانستان دې د شوروي بلاك په لور وروا وړي، مګر د تره کي بیا دا غوښتنه وه. په مشابه ډول د ناپېلتوب د پالیسی د دوام په هکله تره کي دا غوښتل، چې افغانستان به ناپېلتوب پالیسی ته دوام ورکړي، خو د کیوبا په څېر چې د شوروي بلاك سره به په فعال ډول سره مرسته

کوي. حال دا چې امین غوښتل، چې د شوروي بلاك څخه لرې پاتې شي او یوازې د دوستۍ اړیکې د ټولو هېوادو سره ټینګې کړي. امین په یوه مصاحبه کې، چې د خارجي ژورنالستانو سره یې د ۱۹۷۸ کال د اکتوبر په پینځه ویشتمه نېټه وکړه. وویل: موږ د امریکا د متحده ایالاتو څخه وغوښتل، چې د سیمې چارو ته پاملرنه وکړي او زموږ سره مرسته وکړي(۱۰۵)".

د امین پېشنهادونه واشنګټن ته چې زیاته اقتصادي مرسته لاس ته راوړي او د امریکا سوړ ځواب د میل په واسطه په لاندې ډول لنډ شوی دی:

د هغو ستونزو څخه چې امین ورسره مامخ و، چې د امریکا مرسته ترلاسه کړي، یو یې هم ایدیالوژیکي مسئله وه. دی یو مارکسیست و، چې اساسي ټولنیزو او اقتصادي ریفورمونو ته متعهد و، چې په افغانستان کې یې پلي کړي... خو د امرکیا متحده ایالاتو په دوامداره توګه د کمونستي مشرانو سره خپل طبیعي بدبیني پرته له دې، چې د دوی ملت خواهي په نظر کې ونیسي، ښودلې ده... له دې کبله تاریخ د امین د هغو ټولو هڅو، چې امریکا ته قناعت ورکړي، چې د افغانستان د انقلاب سره کمك وکړي، ترڅو چې د شوروي د پراختیا غوښتنې هڅه په سیمه کې شنډه کړي، خو تاریخ د امین پرخلاف و(۱۰۶).

امین د هغه تړون څخه بې برخې پاتې شو کوم چې د ۱۹۷۸ کال د ډسمبر په میاشت کې د افغان- شوروي د

دوستي تړون په نوم امضاء شو. د خپل بهرني پالیسي د بیانیو په وخت کې ده په دوامداره ډول د تړون په هکله داسې ویل، چې دا تړون به مسالو ته څه تغییر ور نه کړي[۱۰۷]. د ۱۹۷۹ کال د مارچ په میاشت کې ده خپل ځان په حزب او وسله والو قواوو کې مضبوط کړ. د ۱۹۷۹ کال د مارچ او دسمبر په اوله کې هغه سرکوب کوونکي ګامونه، چې د خلق د رژیم د مخالفینو پر ضد پورته شول، د شوروي د خبرې منابعو له خوا د امین د لاس کار وبلل شول اولیګ کولین شوروي متخصص د ۱۹۸۰ کال د مارچ په میاشت کې ولیکل: "امین او دده ګروپ د تره کي د ډېر ژر باوري څخه ګټه واخیستله او دده په شا کې یې یوه د خلکو ضد او مضره دسیسه جوړه کړه او صادق وطنپرستان او انقلابیون یې ښکار کړل[۱۰۸]".

په همدغه وخت کې د امین او تره کي ترمنځ مبارزه روانه وه. د ۱۹۷۹ کال په سپتمبر کې کله، چې تره کي کابل د هاوانا په لور پرېښود، ترڅو چې د ناپیلیو مشرانو په شپږمه غونډه کې ګډون وکړي، نو امین په بشپړه توګه د حکومت واك په لاس کې درلودل. د تره کي د راتګ په وخت کې، چې د ماسکو له لارې د ۱۹۷۹ کال د سپتمبر په څوارلسمه نېټه د امین او تره کي د ملګرو ترمنځ وسله واله نښته وشوه. د ۱۹۷۹ کال د اکتوبر په شپاړسمه نېټه د کابل راډیو داسې اعلان وکړ، چې په هندي مطبوعاتو کې نقل قول شوی و، چې تره کي په رسمي توګه د خپلو حکومتي او حزبي دندو څخه د صحي معاذیرو له کبله ګوښه شو[۱۰۹]. وروسته بیا د ۱۹۷۹

کال د اکتوبر په میاشت کې دا اعلان وشو، چې تره کي د هغې سختې او اوږدې ناروغۍ له امله، چې ورپېښه شوې وه، مړ شو. امین اوس د واك واګې په لاس کې لري. ځینې کړې په دې باور دي، چې د تره کي لنډ تم کېدل په ماسکو کې کله چې له هاوانا څخه راوګرځېد، نو د ماسکو سره په پټه د یوې توطیې په جوړولو کې همراز شو، چې امین د بلادسیر په توګه استعمال کړي او دی به د شورشیانو په مقابل کې د ناکامې عامله وګڼي. چې د خلقي حکومت په مقابل کې د مخالفت سبب شوی دی([110]). امین په دې توطیه پوه شو او د تره کي پلانېې دمخه خنثی کړ.

د حفیظ الله امین واکمني د یو راز زیاتېدونکیو شورشویانو د فعالیت سره مخامخ شوه. ماسکو، چې د امین څخه غمجن و بله لاره یې نه درلوده، یوازې دا چې خپل نظامي مرسته د نوي حکومت سره زیاته کړي، ترڅو چې وکړای شي ددې خرابې اوضاع سره مقابله وکړي. امین په خپل وار سره هڅه وکړه، چې د خلکو مرسته ځان ته جلب کړي، نو له دې سببه یې هغو خلکو ته عمومي بخښنه اعلان کړه، کوم چې د تره کي د رژیم په وخت نیول شوي و، خو دی هم په دې بریالی نه شو، چې د خلکو پاملرنه ځان ته راواړوي، بلکې په خپل دې هدف کې ناکام شو.

امین د خپل خارجي پالیسی په بیانیو کې ډېر په لوړ اواز د افغانستان د تعهد خبرې د ناپېلتوب غورځنګ په هکله کولې. د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په شپاړسمه نېټه ده وویل" د

شوروي هېڅ يوه اډه به په افغانستان کې جوړه نه شي. ځکه چې موږ ورته اړتيا نه لرو(١١١)". د ١٩٧٩ کال په دسمبر کې ده د امريکا متحده ايالاتو ته د ملګرتوب پېشنهادونه وکړل. همدارا کله چې يې د انقلاب څخه د دفاع د ملي سازمان د تاسيس غونډه د ١٩٧٩ کال د دسمبر په پينځمه نېټه افتتاح کوله. نو ده وويل "موږ هيله من يو، چې د امريکا متحده ايالات په خپل موقف باندې، چې د افغانستان په وړاندې يې نيولی دی، تجديد نظر وکړي او خپلې اړيکې به د ښو هيلو مطابق پراخې کړي(١١٢)"

امين د ١٩٧٩ کال د دسمبر په مياشت کې د دوو اونيو په جريان کې ډېرې د ملګرتوب نه ډکې اشارې امريکا ته وکړې. پرتاب وايديک متعقد دی، چې "ځينې مهمې بيانيې د افغان امريکا د اړيکيو په هکله داسې جوړې شوې وې، چې د شوروي د رنجش سبب شوې(١١٣)".

دا چې امين يو مارکسيست او هم نشنلسټ سړی و، نو ښايي دا حرکت يې د يوې انګېزې بڼه ولري او ده غوښتل، چې د افغانستان پخوانی ناپيلتوب حالت په واقعي ډول بېرته راژوندی کړي. سيليګ هريسن، چې امين يې د ١٩٧٨ کال کې دوباره ليدلی و، امين داسې تشريح کوي:

" ما دې د يوه ډېر قوي نشنالېست په څېره ومونډ، چې دی په ښکاره سره دې ته حاضر نه و، چې د يوې بې واکه نانځکې نقش ولوبوي. دده مطمئن حالت چې په ډېرو غيرو ثبت شوې تبصرو کې منعکس شوی و. دا و چې دی په دې پوهېده. چې

ځنګه روسان کنټرول کړي... خکه چې دوی ده ته اړتیا لري. تر هغه زیات چې دی و دوی ته اړتیا ولري...([114])".

داسې ښکاري، چې دا ضد شوروي خبره وه نه ضد نشنلستي. چې امین یې تقویه کړي. چې د امریکا سره نږدې اړیکې و ته وده ورکړي.

د امین د لنډمهالې واکمنۍ په وخت کې کابل ټایمز په خپل سرمقالو کې نظر ورکړ. چې امین غواړي. چې د مستقل افغانستان څېره په بین المللي چارو کې ژوندۍ کړي.

له دې نظره، چې سوء تفاهم. چې امریکایي د اپریل د انقلاب په هکله لري او هغه لرې کړای شي، کابل ټایمز ولیکل: "د امریکا متحده ایالاتو خپله مرسته کمه کړه له کوم چې د هغږغلط تعبیر څخه یې سرچینه اخیستې وه، چې زموږ انقلاب ګواکې د شوروي په مرسته بریالی شوی دی([115])". دا اخبار زیاتوي:

" دا دلیل په لومړي سر کې د افغانستان د خلکو لپاره سپکاوی دی... دویم څل دا زموږ په داخلي امورو کې مستقیما مداخله ده. په دې ډول موږ غواړو، چې د امریکا خلکو ته خبر ورکړو، چې د افغانستان خلک او د افغانستان د خلکو حکومت د امریکا د متحده ایالاتو خلکو ته ډېر زیات احترام لري او د دوی هر راز مرستې ته ښه راغلاست وایي او که چېرې دا پرته له کوم قید او شرط نه زیات شي. لکه د شوروي ورونو مرسته ښه به وي. موږ غواړو. چې نور هم زیات اطمینان ورکړو، چې موږ ارزو لرو، چې صمیمانه اړیکې ولرو

نه یوازې دا چې د امریکا سره بلکې د ټول جهان سره او دا د هغې مسالمت امېزې پالیسۍ په اساس، چې موږ غوره کړې ده([116]).

برخلاف د امین د دوستانه پېشنهادونو، چې متحده ایالاتو ته کېدل، خو دده رژیم کاملا د شوري په مرستې باندې تکیه درلوده.

# د شوروي مداخله په افغانستان کې

د تره کي د حکومت له منځه تلل د شوروي د پرستېژ او حیثیت لپاره یو زورور ګوزار و([117]) او ماسکو د یوې سختې ستونزې سره مخامخ و، چې څنګه به د امین حکومت په واك کې وساتي. شورویانو پرېکړه وکړه، چې نور زیات تجهیزات او نظامي شیان افغانستان ته ورولېږي([118]). د داخلي مقاومت فشار او د امین د حکومت ناکامي، چې هغه مهار کړی دده د اشارو سره د امریکا په لور دوه برابر شوې په داسې یو دید سره چې ځان ته حرکت ورکړي، چې افغانستان د شوروي بلاك څخه وباسي او دا هغه انکشافات و، چې په ماسکو کې په جدیت سره تر کتنې لاندې و

شوروي اتحاد دا نه شوه منلی، چې افغانستان د دوی له لاسه ووځي. په پای کې د ۱۹۷۹کال د دسمبر په پينځه ويشتمه نېټه ماسکو خپلې قواوې افغانستان ته ولېږلې، چې د امين د پرځېدو سبب شوې. ببرك کارمل د امين پرځای کنېناست، کوم چې د چکوسلواکيا څخه ددې کار لپاره راغوښتل شوی و. کارمل پرچمی، چې د شوروي کنترول ته يو تابع سړی و، نوی صدراعظم او د افغانستان د انقلابي شورا مشر وټاکل شو او دا وخت د ۱۹۷۹ کال د دسمبر اووويشتمه نېټه وه. د ۱۹۸۰ کال په جنوری کې اخبارونو راپور ورکړ، چې د شوروي قواوو شمېر په افغانستان کې د ۸۰۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰۰ پورې دی.

د ببرك کارمل د رژيم ظهور، چې د شورويانو له خوا يې ملاتړ کېده اخرنی ګوزار و، چې د افغانستان د ناپېلتوب پاليسی ته يې ورکړ. کارمل او د شوروي خبري رسانيو د شوروي د قواوو شته والی په افغانستان کې افغان ـ شوروي د دوستی د تړون د څلورمې مادې په اساس بلل، کوم چې په ۱۹۷۸ کې امضاء شوی و(۱۲۰).

د شوروي د قواوو دوامداره شته والی دا چې د ببرك کارمل مزدور رژيم په واك کې وساتي، د افغانستان د ناپېلتوب خبرې ته يې اخرنی ګوزار ورکړ. د ۱۹۷۸ کال د اپريل د مياشتې کودتا د افغانستان د ناپېلتوب خبره له همغه لومړي سر نه خرابه کړه. بله ضربه هغه وخت رامنځ ته شوه، کله چې افغانستان د دوستی يو تړون د شوروي سره د ۱۹۷۸

کال په دسمبر کې لاس لیک کړ. خو د شوروي مداخله په افغانستان کې چې په ۱۹۷۸ کال د دسمبر په میاشت کې ترسره شوه او په دوامداره توګه د شوروي عسکرو شته والی پاتې شو، ددې سبب شوه، چې د افغانستان د ناپېلتوب موقف په خطر کې واچوي.

د حکومت تغیر د افغانستان د ناپېلي غورځنګ په عضویت کې په دوامداره ډول څه تاثیر نه درلود. افغانستان په ډېرو او مختلفو هغو غونډو کې، چې د ناپېلیو هېوادو له خوا جوړ دي، د شوروي د مداخلې نه وروسته هم برخه واخیسته افغانستان د ناپېلو هېوادو د بهرنیو چارو د وزیرانو په هغه غونډه کې، چې ۱۹۸۱ کال د فبرورۍ په میاشت کې په ډهلي کې جوړه شوه. ګډون وکړ. د وزیرانو د بیورو د انتظام په هغه غونډه کې، چې د ناپېلیو هېوادو له خوا په هاوانا کې د ۱۹۸۲ کال په مې ـ جون کې جوړه شوې وه، په هغه فوق العاده غونډه کې، چې د هماهنګۍ د بیرو له خوا د ۱۹۸۲ کال په جولای کې جوړه شوې وه، ګډون وکړ او د ۱۹۸۳ کال د مارچ په میاشت کې یې د هېوادونو د مشرانو په هغه کنفرانس کې ګډون وکړو چې د ناپېلیو هېوادو له خوا په نوي ډهلي کې جوړ شوی و. د افغانستان نماینده په دوامداره توګه په دې تاکید کاوه، چې دده خارجي پالیسي د ناپېلتوب د اساساتو سره پوره ورته والی لري.

د مشرانو په هغه غونډه کې، چې په نوي ډهلي کې د ۱۹۸۳ کال د مارچ په میاشت کې جوړه شوې وه، سلطان علي

کشتمند چې د افغانستان د دموکراتیك جمهوریت د وزیرانو دشورا رئیس و، خبرې وکړې او د ببرك کارمل یوه بیانیه چې د خارجي پالیسۍ د ماهیت او لاربښودنې پرنسیپونه یې تعریف کړي و، نقل قول کړه. ددې وینا مطابق افغانستان اوس او په راتلونکي کې به یو ناپیلی هیواد پاتې شي. موږ به په ژوره او فعاله توګه د مثبتو قواعدو او فعال ناپیلتوب سره مرسته وکړو(۱۲۱). ده دا راز د ډیرې نږدې همکارۍ او ناپیلو هیوادو د غورځنګ د عمل یووالی، د هغه د اهدافو او قواعدو د عملي کېدو ډډ وکړ او لا یې د بین المللي تشنج په لږوالي کې د ډیر اهمیت وړ وبلل، چې د سولې د حفاظت او د ملتونو ترمنځ د تعاون سبب ګرځي. د شوروي عساکرو په هکله ده وویل، چې دا د افغانستان په غوښتنه ترسره شوي دي او دا د دوستۍ د هغه تړون مطابق راغلي دي، کوم چې د دواړو هیوادو ترمنځ لاسلیك شوی و. دا د مجموعي ځان دفاع د هغه مشروع حق څخه اجرا کېږي، کوم چې د ملګرو ملتو د چارتر د یو پنځوسمې مادې په اساس وجود لري. د شوروي قواوې به یوازې هغه وخت په شا شي،کوم وخت چې ټولې مداخلې زموږ د هیواد په داخلي چارو کې بندې شي(۱۲۲).

د صدراعظم کشتمند بیانیه ددې لپاره وه، چې د شوروي قواو شته والی په خپل هیواد کې په ځای وښيي، نو هغه دا د ۱۹۷۸ کال د دسمبر د پینځمې نېټې د افغان ـ شوروي د دوستۍ د تړون په اساس قانوني وګڼلې، چې لږ څه د خندا وړ وي. د تړون څلورمه ماده د دوه اړخیزو مشورو څخه خبرې

کوي. کوم وخت چې پوښتنې د امنیت، استقلال او یا د مځکې د تمامیت د موضوع په اړه د دوو هېوادو ترمنځ راپورته کېږي. دې مادې ته مراجعه کول د دوامدارې همکارۍ وده په نظامي ساحه کې په اساس د هغو مناسبو تړونونو ښیي، چې د دواړو خواو ترمنځ سرته رسېږي او دا یوازې هغه شی و، چې ډېر پخوا موجود و. د مثال په توګه د شوروي له خوا افغانستان ته د وسلو او مهماتو تهیه. د تړون لسمه ماده هم ښه روښانه نه ده او په عمومي توګه عامه ده. په خاص ډول کله چې مشورو ته مراجعه کېږي. په ټولو مهمو بین المللي مسئلو کې. چې د دواړو هېوادو ګټې متاثره کوي د سلطان علي کشتمند هغه هڅه، چې د ملګرو ملتو د چارټر د ۵۱ (یو پنځوسمې) مادې نه یې استفاده کوله بې ارتباطه وه. ځکه ددې مادې په اساس د ذاتي فردي یا د ځان د مجموعي دفاع حق یوازې په هغه حالت کې صحیح دی، کوم وخت چې د ملګرو ملتو د یوه غړي په مقابل کې "مسلحانه حمله" شوې وي. داسې وسله واله حمله د افغانستان په هکله سرته نه وه رسېدلې.

تاپېیلي هېوادونه په دې پوهېدل، چې د شوروي مداخلې د افغانستان په داخلي وضع کې یو ښکاره بدلون راوړی دی، چې د هغه بهرنی پالیسی هم له دې سبب بې تاثره نه شي پاتې کېدای. د ۱۹۸۱ کال د فبرورۍ د بهرنیو چارو د وزیرانو کنفرانس او د هغه سیاسي اعلامیې د افغانستان وضع په خاص تشویش سره له نظره تېره کړه. که څه هم چې د شوروي

اتحاد نوم په خاص ډول وانه خیستل شو او هم د افغانستان پیوستون د ناپېلیو هېوادو د پالیسۍ سره تر پوښتنې لاندې راغی، خو دا په ګوته شوه، چې د شوروي شته والی په افغانستان کې په دغه پالیسۍ باندې ناوړه اغېزه کولای شي. خو د اعلامیې د یوه سیاسي حل لپاره ږغ وکړ، چې هغه به دې بنا وي، چې "خارجي قواوې ووځي او بشپړ احترام دې د استقلال، حاکمیت، د ځمکې د تمامیت او د افغانستان د ناپېلتوب ځېرې ته وشي او د عدم مداخلې او عدم تجاوز د پرنسیپ جدي مراعات دې وشي". په ټولو دولتو ږغ وشو، چې احتیاط وکړي او داسې ګامونه باید پورته شي، چې داسې شرایط رامنځ ته کړي، چې د لاز ثبات وړ وي او یو رنګې متوازن اړیکې د سیمې د دولتو ترمنځ خلق کړي، چې "د ناپېلتوب د مسالمت امېز ګډ ژوند احترام، حاکمیت، ملي استقلال، د ځمکې تمامیت، عدم مداخله او عدم تجاوز د یو بل په داخلي چارو په اساساتو بنا وي". د مشرانو کنفرانس، چې په نوي ډهلي کې د ۱۹۸۳ کال په مارچ کې جوړ شو، هغه شی چې د ۱۹۸۱ کال د کنفرانس په وخت کې وبل شوي وو، تکرار کړل او د یوه بیړني سیاسي حل هیله یې وکړه، چې دا به د "ناپېلیو هېوادو د غورځنګ له پرنسیپونو او ایډیالونو سره پوره ورته والی ولري".

ددې ضمني اشارې مانا دا وه، چې د ناپېلیو هېوادو غورځنګ په دې پوهېږي، چې اوضاع به د افغانستان دننه او چارچاپېره کې داسې وده کړې ده، چې د ناپیلتوب مفکورې

سره ضديت لري. هېڅ شك نشته، چې د يوه خارجي قوت له خوا د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله شته ده. دغه مداخلې دا کار د افغانستان لپاره ستونزمن کړی دی، چې په جدي توګه د ناپېلتوب قواعد په خپلې بهرنۍ پالیسۍ کې ولري.

## ماخذونه:


١ ج. س. بهارګاوا، تر افغانستان وروسته د سویلي امنیت (مساچوست، ۱۹۸۳)، ۳۳ مخ.

۲ د ناپېلیو هېوادو د دولتونو یا حکومتونو د مشرانو کنفرانس، بلګراد، ۱۹۶۱، سپتمبر ۱_۶، (بلګراد، ۱۹۶۱) ۸مخ.

۳ د کابل تایم په سالنامه کې ي بیان شته، ۱۹۷۰ (کابل، ۱۹۷۰)، ۳۹۲مخ.

۴ د ۱۹۷۸ کال د اپریل بدلون په افغانستان کې د افغان حکومت د رسمي بیان او یا د شوروي اتحاد د خبري وسایلو له مخې د ثور انقلاب او یا د اپریل انقلاب تفسیر شوی او بلل شوی دی، په داسې حال کې چې لویدیځ خبري وسایل او یا پوهان هغه کودتا بولي. که څه هم دا دواړه شرحې او تفسیرونه بېلابېلې ماناګانې لري، خو زموږ په نظر کې د یوه حقیقت له مخې به هم د "کودتا" اصطلاح وکارول شي.

۵ ك. د. کپور، په سویلي اسیا ک د شوروي ستراتېژي (نوی ډیلي،۱۹۸۲)، ۲۹۰ مخ.

۶ هانا نګران، "د ۱۹۷۸ کال د اپریل افغاني کودتا: د بین المللي امنیت انقلاب"، اوربیس (فلادلفیا)، پسرلی، ۱۹۷۹، ۹۷ مخ.

۷ بیورلي میل، انقلابي افغانستان: بیا کتنه (لندن، ۱۹۸۲)، ۵۲ مخ.

۸ لوئیس دوپري، د افغانستان په باب یو یادداشت، (د أمریکایي پوهنتونو ساحوي دفتر، د ALLFS راپورونه، ۱۹۷۴، ۷مخ

۹ لوئیس دوپري. افغانستان تر خلق لاندې، د کمونیزم ستونزې (واشنګټن)، جولای او اګست، ۱۹۷۹، ۲۹ مخ

۱۰ فرید هیلیدي. "انقلاب په افغانستان کې"، نیولایف ریویو، نوامبر ـ دسمبر، ۱۹۷۸، ۲۹ مخ

۱۱ دوپري، پورته اتمه ګڼه، ۷ مخ

۱۲ د "افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند ځخه را اخیستنه د کارګرې طبقې مخکښان"، طریق الشهاب، (بغداد)، جولای، ۱۹۷۶

۱۳ میل، پورته اوومه ګڼه، ۵۵ مخ

۱۴ نګران، پورته شپږمه ګڼه، ۹۹ مخ

۱۵ پ. ب. سنها، "افغاني انقلاب او تر هغې وروسته"، د بهرنیو چارو راپور یا رپورټ (نوی ډیلي)، جولای ۱۹۷۹، ۱۱۱-۱۱۲ مخ

۱۶ دوپري، پورته اتمه ګڼه، ۸-۹ مخونه

۱۷ میل، پورته اوومه ګڼه، ۵۹ مخ

۱۸ د ترکي رسمي سوانح په کابل تایم کې، ۱۹۷۸، اکتوبر ۳۰ (وروسته بیا د تره کي سوانح تر عنوان لاندې ذکر کېږي)

۱۹ لویدیځ پوهان دا نظریه ملاتړ کوي

۲۰ کلدیپ نایر، د افغان په باب رپوټ، وګورئ میل، پورته اوومه شماره، ۵۹ مخ

۲۱ بهاء بهاني سین ګوپتا، افغاني مشخصات (نوی ډیلی، ۱۹۸۲)، ۳۰ مخ

۲۲ د افغانستان د حکومت، د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د حکومت د انقلابي دندو اساسي کرښې (کابل، ۱۹۷۸)

۲۳ د عراق د اژانس سره د تره کي مرکه، چې په کابل تایم کې اقتباسي شوې ده، د جون لسمه، ۱۹۷۸

۲۴ اساسي کرښې، پورته ۲۲ ګڼه

۲۵ د شېرمې گنې د فرمان لپاره کابل تایم وګورئ، ۱۹۷۸، د جولای ۱۷
۲۶ همدا اثر، د جولای ۳۰، ۱۹۷۸
۲۷ فريد هيليدي، "په افغانستان کې انقلاب او جګړه"، نيولفت ريويو، ۱۱۹ ګڼه، جنوري ـ فبروري، ۱۹۸۰، ۲۴ مخ
۲۸ د زيات تفصيل لپاره وګورئ ميل، پورته اوومه ګڼه، ۱۰۹-۱۱۰ مخونه
۲۹ ولسوالي د څو کليو مجموعه ده
۳۰ ددغو کمېټو لپاره تفصيلي سپارښتنې د شپږمې ګڼې د فرمان په لومړۍ ضميمه راغلې دي. وګورئ کابل تايم، د جولای ۱۷، ۱۹۷۸
۳۱ همدا اثر، د اګست ۱۵، ۱۹۷۸
۳۲ د اوومې ګڼې د فرمان لپاره وګورئ همدا اثر، د ۱۹۷۸ کال د اکتوبر ۱۸
۳۳ مهر د ناوې ولور ته وايي.
۳۴ نانسي پ. نيو ويل او ريچارد، س. نيو ويل، د افغانستان لپاره مبارزه (ايتاکا، ۱۹۸۱)، ۷۴ مخ
۳۵ پښتونولي د افغاني لاربوونو قانون (کود) دی.
۳۶ د اتمې ګڼې فرمان د بشپړ متن لپاره وګورئ کابل تايم، د دسمبر ۲، ۱۹۷۸
۳۷ همدا اثر، د ۱۹۷۹ کال د جولای ۱۸
۳۸ دوه جريبه يو ايکړ مځکه کېږي
۳۹ کابل تايم، د جولای ۱۸، ۱۹۷۸
۴۰ همدا اثر
۴۱ همدا اثر، د اکتوبر ۲۷، ۱۹۷۸
۴۲ همدا اثر، د جون ۸، ۱۹۷۸
۴۳ همدا اثر، د جون ۸، ۱۹۷۸
۴۴ کابل تايم، د مې ۱۳، ۱۹۷۸

۴۵. همدا اثر
۴۶. همدا اثر
۴۷. همدا اثر
۴۸. همدا اثر
۴۹. همدا اثر
۵۰. کابل ټایم، د جون ۲۳، ۱۹۷۸
۵۱. همدا اثر، د جولای ۳۰، ۱۹۷۸
۵۲. همدا اثر
۵۳. همدا اثر، د نوامبر ۱۳، ۱۹۷۸
۵۴. د تفصیل لپاره وګور باختر (کابل) د سپتمبر ۱۷، ۱۹۷۸
۵۵. کابل ټایم، د مې ۱۴، ۱۹۷۹.
۵۶. همدا اثر، د ۱۹۷۹ کال د اپریل ۲
۵۷. همدا اثر، د فبروری ۱۹، ۱۹۷۹.
۵۸. د ملګرو ملتو د عمومي اسامبلې رسمي رپوټونه (GADR) ۳۳ جلسه، اتلسمه غونډه، ۱۱ مخ
۵۹. باختر، د جنوري ۱۰، ۱۹۷۹.
۶۰. GADR، پورته ۵۸ ګڼه، ۱۲ مخ
۶۱. د تفصیل لپاره وګورئ همدا اثر، ۱۰-۱۲ مخونه
۶۲. کابل ټایم، دمې ۲۰، ۱۹۷۸
۶۳. همدا اثر، د نوامبر ۲۰، ۱۹۷۸
۶۴. د معاهدې د بشپړ متن لپاره وګورئ، سوویت ریویو (نوی ډیلی)، د دسمبر ۲۱، ۱۹۷۸، ۳۱-۳۴ مخونه، دغه راز وګورئ کابل ټایم، د دسمبر ۹، ۱۹۷۸
۶۵. د اکتوبر د انقلاب د ۶۱ کلیزې په مناسبت د حفیظ الله امین وینا، له نګران څخه اقتباس شوی، پورته شپږمه ګڼه
۶۶. د شوروي سوسیالستي جمهوریتو اتحاد، د شوروي اتحاد خبرونه او نظریې (نوی ډیلي)، د دسمبر ۶، ۱۹۷۸، ۵ مخ

۶۷ سین گوپتا، پورته ۲۱ ګڼه، ۳۶ مخ
۶۸ کابل ټایم، د دسمبر نهمه، ۱۹۷۸
۶۹ د افغان ـ شوروي د معاهدې د بشپړ متن لپاره لومړی ضمیمه وګورئ
۷۰ د بشپړ متن لپاره د لیونارد شپیرود "شوروي تړونونو لړۍ" وګورئ. دویم ټوک (واشنګټن، ۱۹۵۰)
۷۱ کابل ټایمز، د دسمبر ۹، ۱۹۷۸
۷۲ و پ. وایکدیک، "افغاني ناپېلتوب. بدلېدونکي مخونه" بین المللي څېړنې (نوی ډیلي، ۲۴۸ مخ
۷۳ په باختر کې نقل شوی، د دسمبر ۶، ۱۹۷۸
۷۴ په کابل ټایم کې نقل شوی، د مارچ ۱۰، ۱۹۷۹
۷۵ په هاوانا کې د ناپېلیو هېوادو د دولتونو یا حکومتونو د مشرانو د شپږم کنفرانس غونډه خطابیه وینااوې، سپتمبر، ۳-۹، ۱۹۷۹ (هاوانا، ۱۹۸۰)
۷۶ نیویارک ټایم، د مې ۵، ۱۹۷۸
۷۷ دریو مدلیټن، "افغانان څنګه د شوروي د نړیوالې ستراتېژۍ سره جوړ دي" همدا اثر، د جون ۲۴، ۱۹۷۸
۷۸ USICA، د شوروي سوسیالستي جمهوریتونو د اتحاد له خوا د افغانستان د اشغال نړیوال ارزښت (n.d)، ۳ مخ
۷۹ کابل ټایم، د اپریل ۴، ۱۹۷۹
۸۰ ټایم اف انډیا (نوی ډیلي)، د فبرورۍ ۱۵، ۱۹۷۹
۸۱ د تفصیل لپاره وګورئ کابل ټایم، د ۱۹۷۹ کال د فبرورۍ ۱۵
۸۲ همدا اثر، د فبرورۍ ۲۱، ۱۹۷۹
۸۳ همدا اثر
۸۴ ټایم اف انډیا، د فبرورۍ ۲۴، ۱۹۷۹
۸۵ کابل ټایم، د مې ۱۹، ۱۹۷۹
۸۶ همدا اثر، د اګست ۴، ۱۹۷۹

۸۷ د تفصیل لپاره څلورم فصل وګورئ
۸۸ خطابیه ویناوې، پورته ۷۵ ګڼه، ۷۸ مخ
۸۹ همدا اثر، ۸۲ مخ
۹۰ همدا اثر
۹۱ همدا اثر
۹۲ همدا اثر
۹۳ د پښتونستان او همدا شان د بلوچستان دواړه ستونزې اساسا قومي او اتینکي خصوصیت لري. د پښتونستان خلك د افغانستان او پاکستان دپولې دواړو خواو ته ژوند کوي. همدا شان بلوڅان هم په ورته ډول د افغانستان او ایران د پولې دواړو خواوو ته اوسېږي. د بلوڅو مساله د پښتونستان په څېر دومره غالبه نه ده.
۹۴ د تفصیل لپاره وګورئ میل، پورته اوومه ګڼه، ۱۴۵ مخ
۹۵ کابل ټایم، د مې ۶، ۱۹۷۸
۹۶ اساسي کربښې، پورته ۲۲ ګڼه، ۳۳-۳۴ ګڼه
۹۷ کابل ټایم، د مې ۲۱، ۱۹۷۸
۹۸ ویلیام بوردرز، "د افغانستان نوی رژیم پاکستان اندېښمن کوي"، نیویارك ټایم، د مې ۲۰، ۱۹۷۸
۹۹ د نیکولاس ګیج، "ایران له افغانستان څخه د خلیج په لار د تېرېدو د ګواښ څخه ویرېږي"، همدا اثر
۱۰۰ د تفصیل لپاره وګورئ، خطابیه ویناوې، پورته ۷۵ ګڼه، ۳۰۱-۳۱۳ مخونه
۱۰۱ همدا اثر، ۵۶۶ مخ
۱۰۲ همدا اثر
۱۰۳ همدا اثر، ۸۲ مخ
۱۰۴ سین ګوپتا، پورته ۲۱ ګڼه، ۳۶ مخ
۱۰۵ کابل ټایم، د اکتوبر ۲۸، ۱۹۷۸
۱۰۶ مې، پورته اوومه ګڼه، ۱۴۴ مخ

۱۰۷ کابل ټایم، د فبروري ۲۱، ۱۹۷۹
۱۰۸ اولیک گولووین،"د انقلابي افغانستان دوستان او دښمنان"، نیو ټایم (مسکو)، د مارچ ۱۲، ۱۹۸۰، ۷-۹ مخونه
۱۰۹ ټایم اف انډیا، د سپتمبر ۱۷، ۱۹۷۹
۱۱۰ کیور، پورته پښځمه ګڼه، ۳۰۷ مخ
۱۱۱ کابل ټایم، د دسمبر ۱۷، ۱۹۷۹
۱۱۲ همدا اثر، د دسمبر ۵، ۱۹۷۹
۱۱۳ واېدیک، پورته ۷۲ ګڼه، ۲۵۱ مخ
۱۱۴ سلیګ هریسن، "ایا مسکو د افغاني تیتو څخه ویرېږي؟"، نیویارک ټایم، د جنوري ۱۳، ۱۹۷۸
۱۱۵ کابل ټایم، د دسمبر ۲۰، ۱۹۷۹
۱۱۶ همدا اثر
۱۱۷ کیور، پښځمه ذکر شوې ګڼه، ۳۰۹ مخ
۱۱۸ فاینینشیل ټایم (لندن) د سپتمبر ۱۹، ۱۹۷۹
۱۱۹ زلمی خلیل زاد، "افغانستان او د بهرني امرکیایي پالیسی کړکېچ"، سروایول، (لندن) جولای ـ اګست، ۱۹۸۰، ۱۵۶ مخ
۱۲۰ په کابل د شوروي پوځیانو د حضور په اړوند د بېلابېلو نظریو لپاره وګورئ الف. ج نوراني، "افغانستان او د قانون حاکمیت"، ریبو (جینوا، جون ۱۹۸۰، ۳۷-۵۲ مخونه
۱۲۱ د وزیرانو د شورا رئیس سلطان علي کشتمند، د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت، د ناپېیلو هېوادو د دولتونو یا حکومتونو د مشرانو په اووم کنفرانس کې د افغاني هیات مشر، نوی ډیلي، د مارچ ۷-۱۱، ۱۹۸۳ (نوی ډیلی)، ۲۳-۲۴ مخونه
۱۲۲ همدا اثر، ۲۲-۲۳ مخونه

## شپږم فصل:

# نتيجه

ناپېلتوب د افغانستان د بهرنۍ پالیسۍ يوه عمده اصل دی. افغانستان د ناپېلتوب د غورځنګ له مؤسسينو او د هغې د اصولو کلك عملي کوونکی دی. حتی په ۱۹۵۰ يمو کلونو کې د "ناپېلتوب د غورځنګ" د منځ ته راتلو څخه لا ډېر دمخه افغانستان په ډېره جدي توګه د بې طرفۍ او مثبتې بېطرفۍ کرښلاره تعقيبوله، چې د ناپېلتوب همدا اوسني اصول جوړوي. د ناپېلتوب اصولو ته د هغه وفاداري د تاريخي، جغرافيايي، اتنيکي (قومي)، کلتوري او سياسي عواملو تابع ده، چې په ښه توګه د کورنيو او باندنيو عواملو په حيث يې تصنيف او تصريح کولی شو.

کورني او بهرني عوامل په زیاته اندازه د یوه هېواد بهرنۍ پالېسۍ اغېزمنه کوي. په کورنۍ سطحه کې جغرافیایي شرایطو اقتصاد، کلتوري چاپېریال او سیاسي سیستم هغه زورورې قواوې دي، چې د بهرنیانو او ګاونډیو په وړاندې د یوه هېواد دبهرنۍ پالیسۍ چوکاټ برابروي. په ورته ډول د نورو هېوادو کړنلارې او پالیسۍ هم د یوه ځانګړي هېواد په متقابل عکس العمل باندې اغېزه کوي. کوم عکس العمل چې دا هېواد یې ځرګندوي د هماغـ ـورو هېوادو له پالیسۍ او رویـ ـحـه منشاء اخلي، نو پـ ـ ـول د یوه هېواد د بهرنۍ پالیسۍ په ټاکنه او وده کـ ـ ـي او کورني عوامل سره نږدې اړیکې لري.

د افغانستان له خوا د مثبتې بېطرفۍ د پالیسۍ جدي تعقیب او په وروستي وختو کې د ناپېلتوب د کړنلارې غوره کول داسې څه نتیجه نه ده، چې په سملاسي توګه راوتلې وي. دا د دوو پېړیو څخه د زیاتې مودې تاریخ لري، چې د افغانستان جیوستراتژیك موقعیت، د هغه کلتور او تمدن ورسره اړیکه مومي او دا د هغه د بهرنیو کړنلارو او پالیسۍ په جوړولو کې اساسي توکي دي.

افغانستان په تاریخي لحاظ یو آزاد او مستقل هېواد دی او هغه هېڅکله هم حتی د یوې لنډې مودې لپاره د کوم یوه بهرني حکومت تابعیت ته غاړه اېښې نه ده. دغې ملي خپلواکۍ د یوه آزاد خیال او فکر په هڅونه اغېزه لرلی او په بهرنیو او کورنیو ستونزو کې د همدې خپلواك نظر زېږنده ده.

افغـاني واكمنـانو خپلواكـه بهرنـۍ پاليسـي چلولـې ده او افغـاني كلتـور لـه بهرنـۍ مداخلـې پرتـه او د بـاندنيو قـواوو د نفـوذ څخـه دبـاندې پرمـخ تللـې دی، نـو پـه دې ډول د خپلـواك احسـاس لـه املـه آزاد فكـر پيـدا او زمـوږ ملـت د خپلـواك نظـر لارې تـه وده وركړې او يې پـه بهرنـۍ پاليسـۍ كـې هم منعكـس كـړې ده.

يـوه بلـه كلتـوري ځانګړتيـا دا ده، چـې افغـان نسـل او يـا دافغـان اولـس ډېر زړور، سـرتېر او رډ ويونكـي دي. دغـه نـژادي خصوصيـت يـوه ملـي مشـخصه ده، چې ښايـي د هـېواد لـه پولـو څخـه د يرغلګرو پـه شړلو كـې يـې د پېړيـو راهيسـې اساسـي رول درلـود. دا د افغانـانو اصلـي آرزو ده، چـې آزاد او خپلـواك وي. د آزادۍ او خپلواكـۍ دغـې مينـې د افغانسـتان د خپلواكـۍ بهرنـۍ پاليسـي د لېوالتيـا د ښوولـو لپـاره لاره موندلـې ده.

دا ټول عوامـل د افغانسـتان لـه خـوا د يـوې خپلواكـې بهرنـۍ عنعنـوي پاليسـۍ د تعقيـب پـه تـرڅ كـې جـوت شـوي وو. د افغانسـتان جغرافيـايي سـتراتژيك موقعيـت ددې سـبب شـوی، چې هغـه لـه شـوروي اتحـاد، هنـد، پاكسـتان، چيـن او ايـران سـره ګډې پولـې پيـدا كـړي. د دويمـې نړيوالـې جګړې دمخـه دا خـاوره د اوږدې زمـاني لپـاره د سـترو طـاقتونو يـانې تـزاري روسـيې او برتـانوي هنـد د سـيالۍ پـه ډګر بـدل شـوې وه او ددې نړيوالـې جګړې وروسـته كلونـو كـې د سـترو ځواكونـو (سـوپـر پـاور) د رقـابت شـاهد ده.

افغانسـتان د يـوه معـاصر دولـت پـه تـوګه هغـه وخـت تاسـيس شـو، چـې برتـانوي قـوت پـه هنـد كـې مـخ پـه پراختيـا روان و.

تزاري روسيه هم په منځنۍ آسيا او همدا شان په اروپا کې دا مهال په پراختيا لګيا وه. افغانستان په تاريخي لحاظ د برتانوي هند او تزاري روسيې ترمنځ د سنډويچ په بڼه را ايسار و. هغه د يوې خپلواکې پاچاهۍ په حيث د دواړو سترو طاقتو لپاره د سيالۍ ور وګرځېد او هر يوه غوښتل، چې دا هېواد د خپل ځان د نفوذ ساحې ته راوکاږي.

د افغانستان پر سر د روس او انګليس سيالي په ځنډ نه منونکې توګه روانه وه. هم روس او هم انګرېزي هند هره ګړۍ هڅه کوله، چې دغه په وچه پروت سلطنت تر خپل نفوذ لاندې راولي، خو د دوی دغه ناوړه دسيسې او طرحې کاميابې نه شوې. افغاني واکمنان په دې پوهېدل، چې د يوه ستر طاقت سره پيوستون به هرومرو د بل قهر او غضب راوپاروي. په کابل کې واکمن مشران په ښه توګه د افغانستان په تاريخي، جغرافيايي او ستراتژيك مجبوريتونو پوهېدل او د هغو حساسيت ته ځير وو. دغه عاقلانه کړنلاره د دواړو ځواکونو يانې روسيې او بريتانيا د پرمختګ په مقابل کې د افغاني ساره عکس العمل څخه جوتېدله.

د حالاتو دا شان استقرار په نه بدلېدونکې او نه شلېدونکې توګه د شلمې پېړۍ تر پيل پورې په ځای پاتې و او دا هغه وخت و، چې بريتانيا او روس دواړه د دنيا غټ قدرتونه وو. بيا هم د دوی په وړاندې د عثماني امپراتورۍ قيام د دوی د فوقيت په وړاندې يو ګواښ و. روسيې او بريتانيې دواړو د دې ستونزې په باب له يو بل سره تفاهم وکړ او په نتيجه کې د

ورسلیز د تړون (۱۹۰۷) په اساس دواړه موافقې ته ورسېدل، چې د یو بل سره مخالفت لږ کړي. د همدې تړون په نتیجه کې و، چې روسیې او بریتانیا دواړو افغانستان د یوه خپلواك ملك په حیث ومانه، همدا شان دواړه غټې طاقتونه په دې سلا شول، چې د افغانستان پر سر له یو بل سره کړکېچ ونه کړي. د کابل د بېطرفی او خپلواکی لپاره دا یو ستر بریالیتوب و.

د کابل لپاره وروستی پرمختیاوې ډېرې هڅونکې وې. د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته تزاري حکومت د ۱۹۱۷ کال د اکتوبر د انقلاب په نتیجه کې راوپرزول شو. تر دې انقلاب وروسته د روسیې له خوا د ټولو ګاونډیو هېوادو سره د ښه ګاونډیتوب او دوستانه اړیکو د ټنګېدو اعلان وشو. لینن په خاص ډول افغانستان ته اشاره وکړه. په ۱۹۱۹ کال کې امان الله خان د افغانستان پاچا شو. هغه د افغانستان بهرنۍ پالیسۍ ته نوی لوری ورکړ او هغه یې نوره هم پرته له دې، چې له بریتانیا او شوروي سره په لیکه ودرېږي، مستقله او خپلواکه وګرځوله.

د امان الله خان د واکمنۍ په لس کلنه موده (۱۹۱۹_۱۹۲۹) کې افغانستان له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره خپلې اړیکې اصلاح کړې. د کابل او مسکو ترمنځ په ۱۹۲۱ کال کې د دوستۍ یو تړون لاسلیك شو، چې په عین حال کې د افغانستان د خپلواکۍ او بېطرفۍ د سیاست رسمیت پېژندنه پکې درج وه. افغانستان هڅه وکړه، چې افغانستان د بریتانیا له نفوذ څخه آزاد کړي. د دریم افغان او

انګلیس جنګ په نتیجه کې (۱۹۱۹) د برتانوي هند او افغانستان ترمنځ تړون وشو او د هغې پر اساس بریتانیا د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژندله، نو په دې ډول د شاه امان الله د سلطنت په زمانه کې افغانستان د روس او انګلیس د سیالۍ او امپراتورۍ منګولو څخه آزاد شو.

په دې زمانه کې افغانستان له نورو هېوادو په تېره بیا له لویدیځ سره خپلې اړیکې پراخې کړې. افغاني دیپلوماتانو د نړۍ بېلابېلو پایتختونو ته سفر وکړ او د امان الله خان شخصي پیامونه یې له دغو هېوادونو سره د نږدې اړیکیو د ټینګېدو او وړاندې بیولو لپاره له ځانونو سره واخیستل. په ۱۹۲۱ کال کې د امریکا له متحدو ایالتونو سره د ملګرتیا د اړیکو په ټینګولو باندې زیات ټینګار وشو او په همدې وخت کې افغاني هیات په واشنګټن کې د هغه هېواد له مقاماتو سره خبرې اترې وکړې او د امریکا سوداګرو او سرمایه لرونکیو څخه یې هیله وکړه، چې خپلې پیسې په افغانستان کې د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره په کار واچوي، خو د امریکا له خوا د افغانستان دې غوښتنې ته سملاسي ځواب ورنه کړل شو او د هغوی هیله ترسره نه شوه.

په ۱۹۲۱ کال کې له شوروي سره د افغانستان د دوستۍ د تړون د لاسلیک کېدو له امله د دواړو هېوادو ترمنځ سیاسي او اقتصادي مناسبات زیات شول. پوره یوه لسیزه وروسته د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ، بېطرفۍ او نه تېري بله معاهده هم په ۱۹۳۱ کې لاسلیک شوه، چې په هغې کې د

شوروي اتحاد لـه خوا د افغانستان بېطرفانه موقف پـه رسمي توګه ومنل شو. ددې موافقې پـه اساس افغانستان د شوروي اتحاد لـه خوا د کلـه ناکلـه احتمالي يرغل څخه خلاصى ومونـد او کابل کولى شول، چې د هېواد دننـه د خپل هېواد د اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا د هڅونې لپاره اقدام وکړي.

پـه ۱۹۳۳ کـال کې ظاهر شاه د افغانستان د پاچا پـه توګه انتخاب شو. ده عنعنوي، بېطرفانـه او ددوستۍ پاليسي پـه هماغـه شان پرېښودلـه. حتى هغـه پـه دې لار کې نور هم د وړاندې ګام کېښود او پـه خپلـه بهرنۍ پاليسۍ کې نور هم خپلواک حالت غوره کړ. پـه ۱۹۳۰ مو کلونو کې بريتانويان پـه هند کې د زياتېدونکي آزادي غوښتونکي مقاومت او مبارزې لـه املـه پـه رنګ رنګ ستونزو اختـه وو، نو پـه نتيجه کې پـه افغانستان باندې د برتانوي هند لـه لوري خطر او مخامخ ګواښ پـه ډېره اندازه لـه منځه ولاړ.

د دويمې نړيوالې جګړې پـه اوږدو کې (۱۹۳۹-۱۹۴۵) شوروي اتحاد د امريکا متحدو ايالتونو او بريتانيا سره د محور پـه قواوو کې ګډ شو. افغانستان ددې جګړې پـه مهال يو بېطرفه دريځ او پوره ناپېلتوب وساته. د جګړې د پېښېدو دمخـه افغانستان د جرمني پـه باب، چې پـه هېواد کې يې سرمايه ګوزاري درلوده، اندېښمن و، خو کلـه چې جرمني د متحدينو د قواوو پـه خلاف د محور پـه قواوو کې ودرېدلـه، نو افغانستان د جرمن پـه لور پـه يو څه لږه اندازه مراوده غوره کړ.

د دويمې نړيوالې جګړې په اوږدو کې د کابل کلکه بېطرفي په دې کې ګټوره شوه، چې د ګاونډيو هېوادونو او د متحدينو له قواوو سره دوستانه اړيکې ټينګې کړي. د ۱۹۴۱-۱۹۴۲ کلونو په اوږدو کې افغانستان بيا هڅه وکړه، چې د امريکا د متحدو ايالتونو سره د ډيپلوماتيکې اړيکې منځ ته راشي. ددې مودې څخه وړاندې هم په تهران کې امريکايي سفير په کابل کې د امريکا د سفير په حيث باورليك ورکړل. د ۱۹۴۲ کال په جولای کې و. افغانستان له امريکا سره مخامخ ډيپلوماتيک اړيکي د سفارت په سويه تاسيس کړې.

د ساړه جنګ په اوږدو کې چې د شوروي اتحاد او د امريکا د متحدو ايالتونو ترمنځ جريان درلود، دواړو هېوادو لټه کوله، چې په دنيا کې د خپل نفوذ ساحه پراخه کړي او په دې اړوند له يو بل سره اصلي سيالان وو. د امريکا متحده ايالتونو د ناتو، سنټو او سياتو (NATO, CENTO, SEATO) د پوځي تړونو د جاري کولو له لارې د دريمې نړۍ يو شمېر نوي خپلواك شوي هېوادو په خپلو پوځي دوه اړخيزو او څو اړخيزو اتحاديو کې له ځان سره يوځای کړل. دغه راز واشنګټن په نړۍ کې د کمونيزم د کلابند کولو رول غوره کړ.

د ساړه جنګ په مهال هندي مشرانو ددې نظريې پلوي کوله، چې د هغو پوځي معاهدو او تړونونو څخه ځان لرې وساتي، چې د ستروځواکونو تر قيموميت لاندې دي. دا خبرې لاهغه وخت مجسم شوې، چې هند د بريتانيا تر استعماري

جغ لاندې و (۱۹۴۰). د ۱۹۴۷ کال په جولای کې د خپلواکۍ تر ګټهولو وروسته، ډیلي په جدي توګه د پوځي بلاکونو او اتحادیو څخه ځان ګوښه کړ او همدا پالیسي یې مخ ته بوتله. په دغه لومړني ګام کې د هغه دا پالیسي مثبته بیطرفي او یا د زبرځواکونو څخه په یوه برابر د لیرې والي پالیسي وبلل شوه، خو دغو مبهمو نومونو او اصطلاحاتو ددې پالیسۍ اصلي او حقیقي مانا او محتوا نه شوای څرګندولی، نو په دې ډول د پوځي قدرت د بلاکونو څخه د ځان د لیرې ساتلو پالیسي او د یوې خپلواکې بهرنۍ کړنلارې تعقیبولو ته د ساړه جنګ په دوران کې د ناپېلتوب سیاست وویل شول او په دې دوره کې دا شان پالیسي د ناپېلتوب په نامه مشهوره شوه.

افغانستان (چې په تېر وخت کې یې په جدي توګه د ناپېلتوب پالیسي چلوله)، د آسیا او افریقا د نورو هغو نویو خپلواک شویو هېوادونو سره یوځای ددې پالیسۍ ممثل او عملي کوونکي ګرځېدی او هوډ یې وکړ، چې دا پالیسي وساتل شي.

په هماغه اندازه، چې د سترځواکونو ترمنځ سیالي سختوالی وموند، په همدې شان ناپېلو هېوادو هم دا وغوښتل، چې د ناپېلتوب غورځنګ ته پیاوړتیا ورکړي. کله چې هند د لومړي ځل لپاره د آسیایي اړیکو د کنفرانس کوربه و (د ۱۹۴۷ کال د مارچ میاشت)، افغانستان نه یوازې په دې کنفرانس کې برخه واخیستله، بلکې خپله همکاري یې

نورو هېوادونو ته وغزوله. کابل په دې اړتیا ټینګار وکړ، چې ناپېیلي هېوادونه دې په خپلو منځو کې اړیکې کلکلې کړي، ترڅو زبرځواکونه ددې فرصت پیدا نه کړي، چې نوي خپلواک شوي هېوادونو د خپل نفوذ مربوطې ساحې ته راوکاږي.

د ۱۹۴۱ کال په سپتمبر کې د ناپېیلیو هېوادونو د مشرانو غونډه په بلګراد کې جوړه شوه او د هغې په ترڅ کې د ناپېلتوب غورځنګ (Non-Aligned Movement) (NAM) په بین المللي چارو کې د یوه قوت په توګه تاسیس شو. په منځ مهاله موده کې افغانستان داسې وځلېد، چې د (NAM) د داعیې فعاله ننګه کوي او د نورو هېوادو لکه هند، مصر او یوګوسلاویا سره یې همکاري وکړه، چې دا غورځنګ کامیاب کړي. په عین حال کې افغانستان د دواړو ستروځواکونو سره دوستانه اړیکې وساتلې.

برتانویان د ۱۹۴۷ کال په اګست کې له هند څخه ووتل او په نتیجه کې د هند نیم قاره په دوو برخو ووېشل شوه. افغانستان له پاکستان سره ګډه پوله لري. د دیورنډ د کرښې مساله، چې وروسته تري د پښتونستان مساله راولاړه شوه، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تخریش او خپګان غوره عامل ګڼل کېږي. افغانستان دا ادعا کوي، چې د دیورنډ د کرښې هغه خوا د اوسني پاکستان په ساحه کې پراته پښتانه قبایل په افغانستان پورې اړه لري. پاکستان افغاني دلیل نه مني او ددې سیمې د ورکولو څخه انکار کوي. د ۱۹۵۰ مو کلونو راپه دې خوا پاکستان نه یوازې د امریکا تر سرپرستۍ لاندې

پوځي بلاکونو کې داخل شوي دي، بلکې د امریکا د متحدو ایالتونو څخه یې پرېمانه اقتصادي او پوځي مرستې ترلاسه کړي دي.

افغانستان د پاکستان له لوري د خپلې خاورې تمامیت ته یو ګواښ احساس کوي، ځکه چې هغه د امریکا یو متحد دی او د هغه سره په پوځي ډګر کې یووالی لري. د کابل مقاماتو له شوروي اتحاد سره تماس نیولی، چې ورته د وسلو مرسته ورکړي، چې د پاکستان له لوري د یوه احتمالي برید په صورت کې له ځان څخه دفاع وکړي او یا د هغه سره د مقابلې ورتیا ومومي. د شوروي اتحاد پوځي او اقتصادي مرستې هېڅکله ددې سبب نه شوې، چې افغانستان خپله بېطرفانه او ناپېیلې پالیسي بدله کړي. دا د افغانستان ملي ګټه ده، چې خپل سرحدونه او پولې وساتي.

همدا شان افغاني مشرتابه له امریکا سره هم د مرستې په باره کې تماس ونیو. واشنګټن په خپل جهاني ستراتېژۍ کې د شوروي اتحاد د کلابند کولو لپاره افغانستان ته ډېر ارزښت ورکوي، ځکه افغانستان د جیوستراتژیك یا ستراتژیك جغرافیایي موقعیت لرونکی دی، خو د امریکا متحدو ایالتونو د افغانستان په مساله کې ژور فکر ونه کړ. هغه په دې خیال و، چې د کابل واکمنان یوه ناپېیلې بېطرفانه پالیسي چلوي، نو په دې توګه به هغه په اسانۍ د امریکا ښکار نه شي، چې خپل بلاك ته یې د شوروي په خلاف راوکاږي. په عین حال کې امریکا په همدې نږدې وخت کې د افغانستان

دوه ګاونډيـــان، ايـــران او پاکســـتان د شـــوروي پـــه خـــلاف خپـــل پـوځي بـلاك تـــه رااړولـــي وو او هغـــوی تـــه يـــې دوکـــه ورکـــړې وه، چې په خپلې لومې کـې يـې بند کـړي، خـو دا افغانســتان و، چـې پـــه عملـــي ډول يـــې ددې تـــړون مخـــالفت وکـــړ او د امريکـــا ســتراتيژي يــې پــه دې کــې شــنډه کــړه، چــې افغانســتان خپلــو پوځي تړونونو تـه راوکـاږي.

د افغانســتان ډپلوماســـي د نـــاپېيلـــو هـــېوادو د مشـــرانو پـــه غونـــډو کـــې د بلـــګراد څخـــه نيولـــې (۱۹۶۱) بيـــا تـــر قـــاهرې (۱۹۶۴)، لوســـــاکا (۱۹۷۰)، الجزيـــــرې (۱۹۷۳) او کولمبـــــو (۱۹۷۶) پـورې ډېره عـالي وه. کـابل پـه دې غونـډو کـې يـوازې د يوه ننداره چي په توګه نـه و، بلکـې افغـاني اسـتازيو پـه قـاطع ډول د نـاپېيليـو هـېوادو پاملرنـه د غـوره نړيوالـو مسـالو او کشـالو پـه لـور اړولـې وه. حتـی د نـاپېيليـو هـېوادو د بـهرنيو چـارو د وزيرانـو پـه غونـډه او د انسـجام پـه بـيرو کـې افغانسـتان تـل د دغسـې غونـډو پـه بريـالي جـوړېدو کـې د مرسـتې ثمرنـاك لاس اوږد کـړی دی. افغانســتان د (NAM) د يــو موســس غــړي پــه تــوګه همېشــه ددې غورځنـګ د اصولـو جـدي ملاتـړ تـه دوام ورکـړی دی.

افغانسـتان د نـاپېلتـوب پـه غورځنـګ کـې تـش د يـوه کتلسـت «عـاطل غـير فعـال» پـه تـوګه رول ترسـره کـړی نـه دی. هغـه پـه غـوره نړيوالـو مســالو کـې لکـه بـې وسـلې کـول، ديتـانت، نړيوالـه سـوله او نـــوی اقتصـــادي نړيـــوال نظـــم پـــه هکلـــه رغنـــده پيشـــنهادونه وړانـدې کـړي دي. افغـاني اسـتازي يـوازې بېکـاره اورېدونکـي نـه وو، بلکـې پـه ټولـو بحثونـو کـې يـې فعالـه برخـه اخيسـتې او

ارزښتمن وړاندیزونه یې کړي دي. افغانستان د نورو ناپېیلو هېوادو سره لکه مصر، سریلانکا، زمبیا، یوګوسلاویا، تانزانیا او نورو هڅه کړې، چې د رایو په اتفاق داسې اعلامیې ترتیب کړي، چې د هر ډول ابهامونو څخه خالي وي.

کله چې د ناپېیلو هېوادو د مشرانو شپږمه غونډه په هاوانا کې جوړه شوه(۱۹۷۹)، نو په دې مهال په افغانستان کې غوره سیاسي بدلون راغلی و. د ۱۹۷۸ کال په اپریل کې کمونستي حکومت دیوې کودتا له لارې واك ترلاسه کړ. که څه هم نوي رژیم د ناپېلتوب د پالیسۍ سره خپله وفاداري تکرار او اعلان کړه، خو په عمل کې د هغې څرګندونې زیاتره شوروي پلوه وې.

په هاوانا کې افغاني استازي د ناپېیلو هېوادو د مشرانو په دې غونډه (د ۱۹۷۹ کال د سپتمبر میاشت_ کې په دې کې پاتې راغی، چې د تېر وخت په شان خپل اغېزمن او نوښت ګر رول ترسره کړي. نوي افغاني رژیم زیاتره خپل ځان شوروي پلوه او مسکو ته ډېر نږدې وښود. په دې مشریزه غونډه کې نوي رژیم د ستروځواکونو په مقابل کې د ناپېیلو هېوادو د کړوړو په اړه د نوي توپیري دریځ لار غوره کړه. دغه رژیم د شوروي د بلاك او د (NAM) د نظریو ترمنځ یووالی وښود او دا د افغانستان په عنعنوي ناپېلې پالیسۍ کې یو څرګند بدلون راتلل و.

د ناپېلتوب په وړاندې د افغاني کړو وړو بدلون او له شوروي سره د افغاني کمونستي رژیم د اړیکیو د نږدې کولو

پالنه په هماهنګ ډول وده وموندله. د ۱۹۷۸ کال د اپریل تر کودتا څو میاشتې وروسته کابل له مسکو سره (۲۹) موافقې لاسلیك کړې. کله چې کمونستي رژیم د افغاني خاورې دننه د کلك مقاومت سره مخامخ شو، نو دا وخت دغه نوي افغاني کمونستي رژیم هڅه وکړه، چې د هېواد دننه د خپل دریځ د ټینګولو او کنټرول په منظور له شوروي اتحاد څخه د پراخه وسلو د مرستې غوښتنه وکړه، نو په دې ډول افغانستان ته د شوروي وسلو، وسله والو قواوو او نورو شوروي پرسونل بهیر روان شو. د ۱۹۷۸ کال د دسمبر په پنځمه نېټه د افغان ـ شوروي معاهده د دواړو هېوادو د متقابلو اړیکیو په برخه کې یوه سرچینه ګڼل کېږي. ددې معاهدې له امله د کابل او مسکو مناسبات د ۱۹۲۱، ۱۹۲۶ او ۱۹۳۱ کلونو د معاهدو په پرتله بېلابېلو سطحو ته اوچت کړل. د ۱۹۷۸ کال د دسمبر د معاهدې سپارښتنو په مستقیمه توګه افغانستان د شوروي په محور کې داخل کړ. که څه هم کابل په رسمي توګه د وارسا په پکت او تړون کې شامل نه و او نه یې هم له شوروي سره کوم نظامي تړون لاس لیك کړی و، خو بیا هم د ۱۹۷۸ کال افغان ـ شوروي د معاهدې سپارښتنو یقیناً افغانستان د عنعنوي ناپیلې پالیسۍ څخه ګوښه کړ. دې معاهدې دا وښودله، چې افغانستان دېته چمتو دی، چې د ناپېلتوب خپله عنعنوي پالیسي پرېږدي او د شوروي په کمپ کې داخل شي.

کمونستي رژیم په وار وار دا اعلان کړه، چې مخکنیو افغاني رژیمونو د ناپېلتوب ربتیني او سوچه پالیسي نه چلوله، په داسې حال کې چې نوی رژیم د ناپېلتوب اصیله پالیسي وړاندې بیايي. په افغانستان کې د ۱۹۷۸ کال د اپریل وروسته حاکمه ډلې زیاتره شوروي پلوه دریځ خپل کړی و او د خپلواکۍ او ناپېلتوب عنصر پکې نه لیدل کېده.

قدم په قدم د افغانستان په عنعنوي ناپېیلې پالیسۍ کې خرابوالی راغی. وروستی ګوزار هغه وخت پرې وشو، چې د ۱۹۷۹ په دسمبر کې وسله والو شوروي لښکرو مداخله او یرغل وکړ. د ۱۹۷۹ کال د دسمبر راهیسې په افغانستان کې د (۱۲۰۰۰۰) شوروي پوځیانو حضور د افغانستان بېطرفانه او ناپېلی موقف ته وروستی ګوزار ورکړ. که څه هم د ۱۹۷۸ کال د اپریل له کودتا څخه وروسته په افغانستان کې نویو رژیمونو یانې د تره کي، امین او ببرک کارمل د رژیمونو په قدرت کې راتللو سره هر یوه قسم یاد کړی، چې ناپېلتوب ته وفادار دي، خو په عمل نوې حاکمه ډلې په نړیوالو مسالو کې شوروي پلوه دریځ غوره کړی دی.

په دې تاکلیو شرایطو کې چې د ناپېلتوب پالیسۍ ته د افغانستان په کلکه وفادارۍ کې کمزوري راغلې، نو دا په کار دی، چې نور ناپېلي هېوادونه په دې کې مرسته وکړي، چې د افغانستان ناپېیلی حالت بیا اعاده شي. ناپېیلي هېوادونه باید له افغانستان څخه د شوروي قواوو وتل تامین کړي. کله چې د افغانستان څخه بهرنۍ شوروي قواوې ووځي او نارمل

حالت په افغانستان کې راشي، نو دا مهال ناپېيلي هېوادونه باید زبرځواکونو په تېره بیا شوروي اتحاد ته په ډاګه ووایي، چې د افغانستان په کورنیو چارو کې مداخله ونه کړي. باید افغانستان ته زیاتې مرستې ورکړل شي، چې په شوروي باندې یې اتکا کمه شي.

د افغانستان مساله نورو هېوادونو ته هم د عبرت یو درس دی، چې څنګه یو زبرځواك صرف په خپل پوځي قوت د یوه واړه هېواد ناپېيلی موقف له منځه وړي. د ناپېلیتوب د غورځنګ (NAM) د یوه موسس او مخکښ په توګه د افغانستان مخکینی فعال نقش او غورځنګ ته د هغه کلکه وفاداري پخپله یو ریکارډ دی. د ناپېلیو هېوادو منسجمې او جدي هڅې به وکړای شي په اساسي او اغېزمنه توګه د افغانستان څخه د شوروي د لښکرو وتل تامین کړي. د افغانستان د ناپېيلي دریځ بیا ژوندي کول به یو ځل بیا هغه د ناپېيلتوب اصولو ته په یوه وفادار او فعال غړي بدل کړي. هغه به هم د ناپېلتوب د غورځنګ ګټې او هم خپلې ګټې خوندي وساتي.

د افغانستان د مسالې حل باید ددې واقعیت په رڼا کې ترکار لاندې ونیول شي، چې هغه د هند د ټولې نیمې قارې امنیت ته ګواښ رامنځ ته کوي. د افغانستان ناکراري به د سویلي او سویل ختیځې آسیا سوله په کراره پرې نه ږدي.

# د افغانستان او روسيې ترمنځ تړون

د (۱۹۲۱) کال د فبرورۍ (۲۸) مه چې د (۱۲۹۹) لمريز د کب له لسمې نېټې سره سمون خوري.

**لومړۍ فقره**

دواړه محترم ژمن لوري د يو بل خپلواکي مني، ژمن دي چې هغې ته درناوی ولري او په خپلو منځو کې به له سم او صحيح سياست څخه کار اخلي.

**دويمه فقره**

د تړون دواړه محترم لوري ژمن دي، چې له دريم دولت سره به په داسې پوځي- سياسي تړون کې نه ورتاله کېږي چې له ژمنو لوريو څخه د يوه په تاوان وي.

**دريمه فقره**

د محترمو ژمنو لوريو سفارتونه او قونسلګرۍ له نړيوالو دودونو سره سم دمساوي او متبادلو سياسي امتيازاتو درلودونکي دي.

لومړی تشریح: له هغې جملې څخه:

الف: د دولتي توغ (بیرغ) هسکول

ب: د سفارتونو او قونسلګریو د ثبتو شویو اجزاو ساتنه.

ج: د لیکنو رالیکنو او د ځریو (قاصدانو) د خدمتي کړنو خوندیتوب او هر ډول متبادلې مرستې.

د: په تلیفون، بې سیم، تلګراف او سیم واله تلګراف د سیاسي نمایندګانو له حقوقو سره سمې خبرې اترې.

د دواړو محترمو ژمنو لوریو د سفارتونو او قونسلګریو ودانۍ له هېواده د بهر امتیاز لرونکې دي، خو د هغو کسانو لپاره چې خایي حکومت یې رسماً د خپل هېواد له قانون څخه سرغړوونکي وګڼي، پناه ځای کېدای نه شي.

دویمه تشریح: د دواړو محترمو ژمنو لوریو سفارتونه د نظامي آتشه تبادله (ملیترونو اتشې).

**څلورمه فقره**

دواړه محترم ژمن لوري د افغانستان په خاوره کې د شوروي اتحاد د سوسیالستي جمهوریت د پنځو قونسلګریو په پرانېسته او د روسیې په خاوره کې د افغانستان د دولت د اوو قونسلګریو، چې له هغې جملې څخه د روسیې په منځنۍ اسیا کې په پنځوو قونسلګریو متبادله اتفاق کوي.

تشریح: پر نوموړو قونسلګریو سربېره د افغانستان او د روسیې دولتونو ترمنځ د نورو قونسلګریو او قونسلخانو

پرانیسته او ځای په هر ځانګړي مهال د محترمو ژمنو لوریو تر ځانګړې موافقې وروسته ټاکل کېږي.

## پینځمه فقره

د روسیې قونسلان (قونسلګرۍ) د هرات، مزار شریف، کندهار، غزنی او میمنې په ښارونو کې ټاکل کېږي او د افغانستان د دولت جنرال قونسلګري په تاشکند او د افغانستان د دولت قونسلګرۍ د قازان په پطروګراد، خوقند، سمرقند، مرو او کراسناودسک کې ټاکل کېږي.

تشریح: په روسیه کې د افغانستان د قونسلګریو او په افغانستان کې د روسیې د قونسلګریو د حقیقي پرانیستنې د وخت ترتیب د ژمنو لوریو د ځانګړې موافقې له مخې ټاکل کېږي.

## شپږمه فقره

روسیه له خپلې خاورې څخه د افغانستان هر ډول آزاد او بې محصوله ټرانزېټ تېریدل مني که هغه پخپله په روسیه کې له دولتي ادارو څخه وپېري او که بلاواسطه یې له بهرنۍ خاورې څخه وپېري.

## اوومه فقره

دواړه ژمن لوري د ختیزو ولسونو ازادي د خپلواکۍ په بنسټ او د هر ملت د عمومي غوښتنې سره سم له هغو ولسونو مني.

## اتمه فقره

د اوومې فقرې د څرګندونې له مخې د دې تړون دواړه ژمن لوري، د بخارا او خېوې د دولتونو رښتينې خپلواکۍ او آزادي په هر حکومتي ډول، چې د هغو دولسونو د غوښتنې سره سمه وي، منې

## نهمه فقره

د شوروي اتحاد د سوسياليستي روسي جمهوري حکومت د ولسمشر ښاغلي لېنن له خوا د کړې ژمنې د ترسره کولو لپاره، چې د افغانستان د دولت د ښاغلي خودمختار وزير سره شوې ده، د روسيې دولت منې، چې د عدل او انصاف او د هغو ولسونو د ازادۍ غوښتنې بسنت ته په پاملرنې سره چې په هغو ځمکو کې مېشت دي، په برید پولې پرتې ځمکې چې په تېره پېړۍ کې په افغانستان پورې اړه درلود، افغانستان ته وسپاري. د هغو سيمو د دايمي مېشتو ولسونو د اکثريت د رايو ټاکل او د خوښې څرګندتيا د دواړو دولتونو د ځانګړيو موافقو له مخې د دواړو خواوو د وکيلانو په وسيله ترسره کېږي.

## لسمه فقره

د دواړو محترمو ژمنو لوريو ترمنځ د دوستانه اړيکيو د ټينګښت لپاره د شوروي اتحاد سو، يالېستي روسي جمهوري حکومت منې، چې د افغانستان دولت ته نقدي او نورې مالي مرستې ورکړي.

## يوولسمه فقره

دا تړون په دري او روسي ژبو وکښل شو او د دواړو متنونه مساوي حقونه لري.

## دولسمه فقــره

دا تـړون د دواړو محـترمو ژمنـو لوريـو د حکومتونـو تـر اثبـات وروسـته قـانوني بـڼه خپلـوي او د تصديـق پـاڼو مبادلـه پـه کـابل کـې ترسـره کـېږي. ددې مطلـب د ثبـوت لپـاره د دواړو خـواو مختـارو وکيلانـو دا تـړون لاسـليك کـړی دی او پخپلـو مـهرونو يـې مـهر کـړي دي.

د متـن ليکنــه د مسـکو پــه ښار کـې: د (۱۹۲۱) ميـلادي د فـورال (۲۸) مـه او د (۱۲۹۹)هـ ش د کـب لسـمه.

## اضافي فقـره

ددې تـړون د لسـمې فقـرې پـر بنسـټ د شـوروي اتحــاد د سيوسيالسـتي روسـيې جمـهوري حکومـت د افغانسـتان خپلـواك دولت تـه لاندې مرسـتې ورکـوي:

۱ـ کلنـی وړيـا مـالي مرستې يـو ميليـون روبـل پـه طـلا، نقـرې يا شمش طـلا.

۲ـ د کشـك، هـرات، کندهـار او کـابل د تلـګراف جـوړښت.

۳ـ پـردې سـربېره د شـوروي اتحـاد د سوسيالېسـتي روسـيې جمـهوري دولـت چمتوالـی ښيـي، چـې خپـل کـار پـېژانـدي او نـور متخصصـان د افغانسـتان د حکومـت پـه واك کـې ورکـړي.

دا مرسـتې ددې تـړون تـر کـېدو دوه مياشـتې وروسـته د شـوروي اتحـاد د سوسيالېسـتي روسـيې د جمـهوري حکومـت لـه خوا افغانسـتان تـه ورکـول کـېږي. دا اضـافي فقـره د تـړون د نـورو فقرو پـه څېر هماغـه قـانوني اعتبـار لـري.

# د افغانستان او د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو ترمنځ د دوستۍ، ښه ګاونډیتوب او همکاري د تړون متن

## لومړۍ ماده

دواړه محترم ژمن لوري رسماً د دواړو هېوادونو ترمنځ د پخې او ژورې دوستۍ د ټینګولو او د هر اړخیزو مرستو د پراختیا پخه اراده د یو بل په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې، مساوي حقوقو، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا ته د درناوي پر بنسټ اعلاموي.

## دویمه ماده

دواړه محترم ژمن لوري به په خپلو منځو کې د دوه اړخیزو ګټورو اقتصادي، علمي او تخنیکي مرستو د پراختیا لپاره هڅه کوي. ددې لپاره به هغوی صنایعو، ترانسپورت. مخابراتو، کرکیلې، له طبیعي منابعو څخه ګټې اخیستنې، د صنایعو پراختیا، د انرژۍ تولید او نورو اقتصادي برخو ته وده او پراختیا ورکوي او د ملي کدرونو په روزلو او د ملي اقتصاد د پلان ګوزارۍ په پراختیا کې به مرسته کوي. دواړه

لوري په سوداګرۍ ته د مساواتو د اصولو او د متقابلې بشپړې ګټې پر بنسټ پراختیا ورکوي.

## دریمه ماده

دواړه محترم ژمن لوري به د مرستو په پراختیا او د تجربو په تبادلې سره د علومو، فرهنګ، هنر و ادبیاتو، پوهنې، روغتیایي خدمتونو، مطبوعاتو، راډیو او ټلویزیون، سینما، توریزم، سپورټ او نورو برخو کې مرستې کوي. دواړه لوري به د دولتي ارګانونو، عامو سازمانونو او علمي ـ کلتوري موسساتو ترمنځ د مرستو په پراختیا سره د دواړو هېوادونو د ولسونو د ژوندانه، کار تجربو او لاس ته راوړنو سره د لاژورې اشنایي په موخه کوي.

## څلورمه ماده

دواړه محترم ژمن به د ملګرتابه او ښه ګاونډیتوب په دود او د ملګرو ملتونو د دستور په بنسټ د دواړو هېوادونو د امنیت د تامین او د ځمکنۍ بشپړتیا په موخه په خپلو کې سره مشورې کوي او د دواړو خواو په موافقه به مناسبت تدبیرونه نیسي. د دواړو محترمو ژمنو لورو د دفاعي ځواک د پیاوړتیا لپاره به په پوځي برخه کې د مرستو پراختیا ته د اړوندو تړونونو په بنسټ، چې د دواړو ترمنځ شوي دي، دوام ورکوي.

## پنځمه ماده

د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت د شوروي د سوسیالیستي جمهوریتونو د سولې سیاست ته د ټولو هېوادونو او ولسونو سره د دوستی او همکاری ټینګښت ته په پاملرنې سره په درنه سترګه ګوري. د شوروي اتحاد سوسیالیستي جمهوریتونه د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د ناپېلتوب سیاست ته، چې د نړیوالې سولې او امنیت د ساتنې مهم عامل دی، په درنه سترګه ګوري

## شپږمه ماده

له محترمو ژمنو لوریو څخه هر یو رسماً اعلاموي، چې په نورو پوځي ترونونو او یا اتحادیو کې به ګډون نه کوي او د هېوادونو په ډلو ټپلو او یا په هغو عملیاتو او کړنو کې به ونډه نه اخلي. چې له محترمو ژمنو لوریو څخه د یوه په ضد وي

## اوومه ماده

دواړه محترم ژمن لوري به په آینده کې هم د نړیوالې سولې او د ولسونو له امنیت څخه د دفاع او د نړیوال کړکیچ د کمولو په عملي د غور. د اسیا په ګډون د نړۍ ټولو سیمو ته د هغې په رسولو. د دولتونو ترمنځ د ګټورو همکاریو د ځانګړیو طریقو په عملي کولو او په سوله ییزه توګه د اختلافي مسایلو د حل کولو په لاره هېڅ ډول هلې ځلې ونه

سپموي. دواړه به په کارنده توګه د ذروي وسلو په ګډون د بې وسلې د اغېزناك نړيوال کنټرول سره مرسته کوي.

## اتمه ماده

دواړه محترم ژمن لوري به د اسيايي هېوادونو ترمنځ د همکارۍ د پراختيا، د سولې او ګاونډيتوب د اړيکو د ټينګولو، د متقابل باور او په اسيا کې د دې وچې د ټولو دولتونو د ګډو هڅو پر بنسټ د اغېزناك امنيتي سيستم له رامنځ ته کېدو سره مرسته کوي.

## نهمه ماده

دواړه محترم ژمن لوري به د ټېري کوونکيو ځواکونو د پلمو په وړاندې او د استعمار او نژاد پالنې تر وروستۍ لمنځه وړنې پورې، چې په هر ډول راڅرګندېږي خپلې پرله پسې مبارزې ته دوام ورکوي. دواړه لوري به د خپلواکۍ، حاکميت او ټولنيز پرمختګ په لاره کې د ولسونو د نيااو مبارزې په ملاتړ کې يو له بل او له نورو سوله دوستو هېوادونو سره مرسته کوي.

## لسمه ماده

دواړه محترم ژمن لوري به د دواړو لوريو په ګټو پورې د اړوندو مهمو نړيوالو موضوعاتو په برخه کې په خپلو کې سره مشورې کوي.

## یوولسمه ماده

دواړه محترم ژمن لوري په ډاګه کوي، چې د هغوی ژمنې د اوسنيو نړيوالو تړونونو په اړه ددې تړون له مندرجاتو سره ټکر نه لري او ژمنه کوي، چې ددې تړون په خلاف به کوم نړيوال تړونونه نه کوي.

## دولسمه ماده

هغه مسايل، چې د دواړو محترمو ژمنو لوريو ترمنځ ددې تړون د تفسير يا ددې تړون له موادو څخه د کوم يو د پلي کولو په اړه رامنځ ته کېږي، د دواړو لوريو په ترتيب او يا د دوستۍ، ښې نيتۍ او متقابل درناوي په روحيه به حل کېږي.

## ديارلسمه ماده

ددې تړون د کولو له ورځې به دا تړون د شلو کالو لپاره اعتبار ولري. که چېرته له دواړو محترمو لوريو څخه يو د ياد شوي وخت تر ختمېدو شپږ مياشتې دمخه د تړون د فسخې په اړه څرګندونه ونه کړي، نو دا تړون به د نورو پينځو کالو لپاره اعتبار ولري. هغه مهال به اعتبار نه لري، چې له دواړو محترمو ژمنو لوريو څخه يو ددې پينځوو کالو تر پای ته رسېدو شپږ مياشتې دمخه د هغه د فسخې د هيلې ليکلی يادښت وکړي.

## څوارلسمه ماده

که چېرته له دواړو محترمو ژمنو لوريو څخه يو د تړون د شلو کالو د اعتبار په موده کې له دغه وخت دمخه ددې تړون د فسخې هيله ولري بايد د هغې د فسخې له نېټې څخه شپږ

میاشتې دمخه بل محترم ژمن لوري ته د فسخې د لېوالتیا په اړه لیکلی خبر ورکړي او تړون په ټاکلې نېټې ملغي وګڼي.

**پینځلسمه ماده**

دا تړون باید تصویب شي او د تصدیق شویو اسنادو د تبادلې تر ورځې وروسته، چې د کابل په ښار کې به ترسره شي، اعتبار ولري.

دا تړون اوه نسخې هره یوه په دري او روسي ژبو ترتیب او د دواړو متن مساوي اعتبار لري.

مسکو ښار

د ۱۹۷۸ میلادي کال د دسمبر پینځمه نېټه.

PROPERTY OF ACKU 12209

PROPERTY OF ARIC

**دوکتور محمد امین واکمن** په ۱۹۶۶ کال کې د افغان سوسیال دیموکرات گوند (افغان ملت) د موسسینو غړی و. دی ۱۹۷۹ کال مرچ راهیسې دڅغه گوند سرمنشي او د ۱۹۸۷ کال نه تر **۱۹۹۵** کاله پورې د گوند رئیس و. دکتور واکمن د کابل پوهنتون نه په ژورنالزم کې لیسانس اخیستی او خپله ماسترۍ، ماستر آف فلاسفي او دکتورا (Ph.D) یې د نوي ډهلي د جواهر لال نهرو د پوهنتون د بین المللي مطالعاتو له پوهنځي نه په سیاسي علومو، دپلوماسي او بین الدول روابطو کې ترلاسه کړې ده.



ده د ۱۹۷۸ کال د ثور د کودتا څخه مخ کې په هېواد کې رسمي ماموریتونه کړي دي. دی څوا د اطلاعاتو او کولتور په وزارت کې د نشریاتو مدیر، په جوزجان کې د اطلاعاتو او کولتور مدیر او د دیوې د ورځپاڼې چلونکی و. ده په کابل، ترکیې، هند او امریکې کې د راډیو د نطاقۍ دندې سرته رسولي دي. دکتور واکمن د افغانستان د حقې قضیې له پاره د نړۍ ۳۶ هېوادونو ته سفر کړی او په ۱۹۸۰، ۱۹۸۳، ۱۹۸۸، ۱۹۹۱، ۱۹۹۳ او ۱۹۹۷ کلونو کې په مډرید، د پرتگال په الیوفیرا، ماډرید، سوئي، بون او نیویارک کې د جهاني سوسیال دیموکراتانو په نړیوالو لویو غونډو (کنگرو) او په توکیو کې د نړۍ وال عامه خبرې وسایلو په بین المللي کنفرانس کې برخه اخیستې. مهمې ویناوې کړې او مطبوعاتي کنفرانسونه یې ورکړي دي. دی له پښتو او فارسي برسېره په انگلیسي، اردو او ترکي ژبو پوهېږي. د هېواد په مطبوعاتو کې یې یو زر او دوه سوو نه زیاتې مقالې خپرې شوې او د افغانستان د څلور لارو پر سر او سوسیال دیموکراسي د کتابونو مولف او ناشر دی.

د افغانستان، ناپیلتوب او سترو ځواکونو په کتاب کې د دویمې نړیوالې جگړې څخه دمخه په سیمه کې د انگلیس او روس د سیالۍ سره د افغانستان د بهرني سیاست او د دویمې نړیوالې جگړې څخه وروسته د سترو ځواکونو (امریکا او شوروي اتحاد) سیالي او مقابله شرحه شوې ده. دکتور واکمن دا څېړې چې څرنگه د افغانستان د ساحې ورو کوالی، په وچه کې پروت او منزوي هېواد او فرهنگي محافظه کارۍ سره سره یې وکړای شول، چې خپله خپلواکي، د خورې بشپړوالی او ملي واکمنې د سترو ځواکونو د فشار پر ته وساتي او بوې کلکې بېطرفي لارې ته وفادار پاتې شي. دا کتاب هغه عوامل، چې د هغو له امله افغاني مشران دې ته وهڅېدل، چې د ناپیلتوب له غورځنگ سره ځان یوځای کړي، څېړي او هم د ناپیلتوب سره د افغانستان همکارۍ او د هغې له پیل څخه وروسته په هغه کې د افغانستان نقش په تفصیل سره بیانوي. په دې کتاب کې د ۱۹۷۸ کال سیاسي بدلونونه او ورپسې پرمختیاوې، چې په ۱۹۷۹ کال کې په افغانستان باندې د شوروي اتحاد د یرغل نه وروسته د افغانستان خپلواکې او ناپیلي موقف ویجاړ شو او د افغانستان بهرني سیاست د شوروي بلاک په لور په ښکاره توگه منحرف شو، څېړل شوي دي. دا سیاست چې د هېواد له بطرفانه تاریخي دریځ څخه ښکاره بدلون ښیي، دا سې بحران رامنځ ته کړ، چې د هند نیمه قاره یې هم له خطر سره مخامخ کړه. په دې کتاب کې وربانډې په تفصیل بحث شوی دی.